خپلې خبرې ، کله ستا ، کله دَبل لیکمه
هسې دا خلق وائی زه ګینې ناول لیکمه

# دَ پښتو ناول

# سلمان لیونے


**مصنف**

**پرویز شیخ**

**(ایم اے اردو ، انگلش )**

Ex.Subject specialist in English
& Principal (r)




**ټول حقوق محفوظ دي**


د کتاب نوم : سلمان لیونے

لیکوال : پرویز شیخ

اشاعت : فروری 2013

کمپوزنګ: حبیب الرحمن (صافی)

شمېر: (200)

پرېس: اعراف پرنټرز محله جنګی پېښور
03125945568

بیعه: ( 200) روپۍ

**د موندلو درکونه**

یونیورسټی بک ایجنسی پېښور

یونیورسټی بک شاپ

دانش کتب خانه ډهکی نعلبندی پېښور

## تړون :

دَ نوموړی شاعر، ادیب کالم نګار
تنقید نګار په پښتو او پښتنو مئین
دَ ښاغلی پروفیسر هدایت الله صیب
په نوم

پرویز شیخ
0343-9643320

www.pukhto.net



## ړومبې باب

دَ زرمینې په تلو باندې سلمان ته داسې محسوسه شوه لکه چې دَ هغۀ دَ بدن نه روح اوتې وی او هغه یو بې روحه ډهانچه پاتې شوې وی ، لکه چی دَ هغې تلو سره دَ هغه دَ ژوند ټول امیدونه او ارمانونه ختم شو او هغه سره هیڅ پاتې نشو ، لکه چې دَ هغۀ دَ ژوند ټوله هنګامه او ټول سازونه بے سُره شو ـ یو خوا دَ هغۀ په زړۀ دَ مایوسۍ تیرې وې ، بل خوا دَ هاستهلوپه چاپیریال کښې مکمله خاموشی او چپه چپیا وه ـ البته دغه خاموشۍ به کله کله دَ جامن په اونه کښې دَ چنچڼو په چغار ، دَ څوکیدار په اخ ټخ او دَ سلمان په ساړو اسویلو ماتیده او دَ ژوند دَ آثارو څۀ نښخه پته به لګیده ـ سلمان باقی پاتې ټول وخت په خپله کمره کښې تیر کړو هغه لا پروت وو چې دَ مازیګر زیړو پلوشو دَ کړکۍ په چودو کښې سرونه دننه کړل او هغه ته یې په مسکا مسکا دَ بهر دَ پُر کیفه موسم دَ کتو بلنه ورکړه ـ

هغۀ دَ هغوی بلنه قبوله کړه ، په مزه مزه دَ کټ نه پاڅیدو ، دَ کمرې نه بهر اووتو ، په پوړو لاندې کوز شو او په چمن کښې په یوه کرسۍ کیناستو ـ دَ نمر دَ پلوشو طلائی جال په رومانی فضا خور شوې وو ـ اسمان لکه دَ شین رنګی شیشی بالکل صفا ښکاریدو ـ البته چرته چرته پکښې دَ وریځې سرې ټاکۍ دَ سور ګلاب دَ شیندلی پاڼو غوندې ښکاریدې ـ دَ اسمان په لمنه کښې دَ وریځې زیړې ټوټې

لکه دَ سرو زرو دَ غونډارو ښکاریدې ـ پاس په فضا کښې تپوسان خورې وزرې لکه دَ جاسوسی طیارو ګرځیدل ـ دَ هغوی نه لږ لاندې توتاکرکی سانتې په سانتې اوختل را اوختل او دَ هغوی نه لاندې دَ سپینو کونترو سیلونو دَ فضا په سمندر کښې مستې کولې ـ په چمن کښې دَ هغهٔ په خوا کښې رنګینې لولکې ، تنترکې او دَ رنګ وبو قافلې په ګډا او په مستې وې۔

داسی معلومیده چې فطرت دا ټوله ښودنه دَ هغه دَ پام بدلې او خوشحالې دَ پاره کړې ده هغه به یو یو څیز ته کتل خو نه یې په خوله خندا راتله ، نه یې په مخ مسکا خوریده او نه یې په سترګو کښې ځلا راتله ـ هغه نه صرف دَ فطرت نه مرور وو بلکه دَ خپل قسمت نه هم ګیله من وو ـ هغه ډیره شیبه ناست وو ـ بیا غلې غوندې پاسیدو او په دروند وجود او درنو قدمونو خپلې کمرې ته روان شو ـ په خپله کمره کښې په بیډ کښې سملاستو او بالخت ته یې ډډه اووهله ـ هغهٔ ته په دغه خیالونو کښې دَ خپل ژوند کتاب مخکښې شو او پرانستې شو ـ هغه دَ خپل ژوند دَ تاریخ ړومبې پاڼه لوستل شروع کړه ـ

سلمان دَ بالاکوټ سوګړې کلی دَ اختر بابو ځوې وو ـ اختر بابو په قام ګوجر وو او دَ هغهٔ مور کشوره ابې هم پښتنه وه او دَ هغهٔ ښځه میمونه هم ـ دَ پیشې په لحاظ سره هغه دَ سوګړې په پرائمری سکول کښې نائب قاصد وو ـ دَ هغوی په کور کښې به ګوجری ژبه



www.pukhto.net



هم ویلې کیده او پښتو ژبه هم ـ په دې وجه به اختر بابو ، دَ هغهٔ کشر ورور صنوبر او سلمان او دَ هغوی زنانهٔ به دواړه ژبې ویلې ـ اختر بابو ، اتهم جماعت پاس وو خو دومره قابل او تجربه کار وو چې دولسم پاس هلکانو هم ورسره تعلیمی مقابله نشوه کولې ـ دَ تعلیم او تجربې سره سره انتهائی ایماندار ، مخلص او محنتی سړې وو ـ دَ سکول دَ استاذانو نه علاوه دَ کلی خلق هم ترینه خوشحاله وو ـ چې کله به دَ استاذانو او دَ هلکانو دَ والدینو ترمینځه څهٔ ماته ګوډه راغله نو هغه به ترمینځه شو او معامله به یې ختمه کړه ـ دې نه علاوه دَ سکول دَ هلکانو داخله ، دَ هغوی رخصتی او دَ هغوی اسناد به هم دَ هغه په ذریعه کیدل ـ دې سره سره به یې هلکانو څخه باقاعده کلاسونه اخستل او که چرې یو استاذ ، دوه به په څهٔ وجه سکول ته دَ تلو نه پاتې شو نو دَ هغوی کلاسونه به یې هم اخستل ـ په کلی کښې به یې خلقو له خطونه درخواستونه ، منی آرډرې او پارسلې هم لیکلې او دَ هغوی منډه ، تړړه به یې هم کوله ـ په دې وجه هغه په کلی کښې دَ اختر بابو په نوم مشهور شو ـ دَ هغهٔ ځوی سلمان لا پاپلې کولې چې په غیږ کښې به یې سکول ته راوستو او دَ هلکانو په ګوهره کښې به یې پریښودو ـ هم دغه وجه وه چې هغه لا داخل نه وو چې دَ دویم جماعت کتابونه یې ختم کړل ـ

چې کله دَ هغهٔ سبق پوخ شو او لاس یې اوچلیدو نو دَ پنځو کالو په عمر کښې په اول جماعت کښې داخل شو او په میاشت کښې

دننه دننه دویم جماعت ته ووختو ۔ اختر بابو دَ خپل ژوند ټول امیدونه او ارمانونه دَ خپل ایکی یو ځوی مستقبل سره تړلی وو ۔ هغه غوښتل چې دَ هغه ځوې اعلیٰ تعلیم حاصل کړی او لوې افسر ترینه جوړ شی ۔ دَ هغهٔ مشاهده صحی وه ځکه چې دَ استاذانو دَ وینا مطابق دَ هغهٔ آئی ، کیو (I,Q) دَ155 نه بره وو ۔ هم دغه وجه وه چې دَ ډبل پروموشن په وجه دَ اتهو کالو په عمر کښې یې نه صرف پنځم جماعت پاس کړو بلکه په ټول کلاس کښې اول را اووتو ۔ چې څنګه هغه فطری قابل وو دغه رنګې یې قسمت هم بل مشال وو ځکه چې هم په دغه کال دَ هغوی پرائمری سکول مډل شو او هغه او دَ هغهٔ ملګری هم په دغه سکول کښې په شپږم جماعت کښې داخل شو۔ هغه طبعی لحاظ سره لکه دَ لوخې لوئیدو او ذهنی طور دَ خپل عمر نه ډیر مخکښې په بره ختو ۔ دَ شپږم جماعت پاس کولو نه پس هغهٔ لا په اووم جماعت کښې سبق ویلې چې اختر بابو دَ هغهٔ په باره کښې ښهٔ ښهٔ خوبونه لیدل شروع کړل ۔ اوس هغه دَ خپل ځوی دَ قابلیت او دَ هغهٔ دَ تابناک مستقبل نه مطمئن وو ۔ هغهٔ به په زړهٔ کښې وې چې هغه لسم جماعت په ښهٔ نمبرو پاس کړی نو په کالج کښې به ورته داخله هم ملاؤ شی او وظیفه هم ۔ کله کله به هغهٔ خپلې ښځې میمونے سره دَ هغهٔ دَ تعلیم په باره کښې خبرې کولې او په دغه پُرامیده او خوږو خبرو به هغوی خپل زړونه خوشحالول۔

دَ روژې میاشت وه ، ښائستی محال وو ، سړی بهر کارونوله تلی



www.pukhto.net



وو ، واړهٔ سکولونو ته تلی وو او زنانه په کورونو کښې په خپلو خپلو کارونو کښې اخته وې چې ناګهانه زمکه اوړ کیده او یوه زبردسته زلزله راغله ۔ داسې زلزله چې زمکه لکه دَ ټال تله راتله او هغې سره ټوله ابادی او اونې ، غرونه هم تلهٔ راتله ۔ لوې لوې ابادۍ راپریوتې او لکه دَ کولالی لوښو ټیکرې ټیکرې شوې ۔ ځینې ځایونو کښې زمکه اوشلیده او غونډې ابادۍ په زمکه کښې ننوتې ۔ دې خونړۍ زلزلې دَ بالا کوټ او خواؤ شا سیمونه واخله تر کشمیره پورې لویه تباهی اوکړه ۔ په دغه تباهۍ کښې دَ نورو ځایونو او سکولونو نه علاوه دَ سوګړۍ مډل سکول هم شامل وو ۔ دَ سوګړۍ دَ سکول زمکه اوشلیده ، دیوالونه لاندې لاړل او چهتونه یې کیناستل ۔ چی کله دَ حکومت له خوا دَ زلزلې دَ تباهکارۍ اعلان اوشو او عوامو ته دَ متاثرینو دَ امداد دَ پاره اپیل اوشو نو دَ خیبر نه تر کراچۍ پورې ټول خلق دَ امدادی سامان سره وراورسیدل او دَ بالا کوټ نه تر کشمیره پورې په دغه متاثره کرښه خوارهٔ شو ۔ په زرګونو خلق پکښې شهیدان شو ، په زرګونو ټپیان شو او په سرونو پکښې ژوندی ژاړ غیب شو۔ په شهیدانو کښې دَ سکول د نورې عملی سره سره اختر بابو هم شامل وو په ټپیانو کښی دَ نورو وړو نه علاوه سلمان هم وو او دَ سکول نه بهر په لاپته کسانو کښې دَ نورو نه علاوه دَ سلمان مور میمونه هم شامله وه ۔ سلمان په هوش کښې نه وو راغلې چې دَ هغهٔ دَ پلار لاش دَ سکول دَ نورو استاذانو او وړو سره دَ ملبې نه را اوویستلې شو او ښخ

کړې شو ـ چې کله هغه په هوش کښې راغی او زخمونه یې ښۀ شو نو دَ هسپتال نه جین شو چې کلی ته راغی نو دَ کلی جغرافیه بدله وه او چې کورته ورغی نو دَ کور نقشه بدله وه ـ دَ هغوی دَ کور دیوالونه او چهت غورځیدلې او ټول کور دَ ملبې یو لوې ډهیرې ښکاریدو ـ دَ هغه دَ ترۀ صنوبر کور هم لوټې لوټې شوې وو ـ هغه دَ وران کور په ملبه کیناستو او مور پلار پسې یې چغې وهلې خو چا هم جواب ورنکړو ـ بیا روستو هغۀ ته اوویلې شو چې دَ هغۀ پلار او دَ صنوبر ښځه او وړه لور شهید شوی دی او دَ هغۀ ترۀ صنوبر او دَ هغۀ نیا کشوره ابۍ زخمیان دی خو دَ مور پته یې نه لګی چې چرته ده ـ

هغه دَ مور، نیا او ترۀ لټون پسې سیول هسپتالونه، ملټری هسپتالونه اوکتل خو هغوی یې اونه موندل، بیا روستو دَ چا په نښخه پته یو ایمرجنسی هسپتال ته چې ورغی نو هغوی یې اوموندل خو مور یې اونه موندله ـ بیا یې دَ کلی په لارو کوڅو او په غرونو کښې دَ هغې لټون اوکړو خو پیدا یې نکړه ـ چې ناامیده شو نو کورته واپس راغی دَ خپل کور ملبې ته ارم شو ـ په وړو وړو لاسونو به یې کانړی، لوټې یو خوا بل خوا غورځولې او خپلې هلې ځلې یې کولې ـ هلته دَ صدرِ پاکستان په اپیل باندې دَ اقوام متحده ممبر ملکونو خپلې امدادی عملې پاکستان ته را اولیږلې چې هغې کښې دَ ډاکټرانو، نرسانو،ماهرینو او صحافیانو نه علاوه سُراغرسان سپی هیوی مشینری، دوایانې، هیلی کاپټرې او نور امدادی سامان هم



www.pukhto.net



شامل وو ـ دَ راتلو سره هغوی دَ علاقې سروې اوکړه او خپل خپل کار یې شروع کړو ـ څۀ ورځې پس دَ هغۀ ترۀ، دَ ترۀ لور او دَ هغۀ نیا هم دَ هسپتال نه راغلل او دَ خپل کور په ملبه کیناستل ـ یو خوا یې خپلو مړو پسی ژړل بل خوا یې په خپلې تباهۍ ژړل ـ دَ ملک سماجی کارکنانو او دَ سیاسی جماعتو مشرانو دَ ملک په هر ښار او هر بازار کښې ځاې په ځاې امدادی کیمپونه او دَ چندې مرکزونه جوړ کړل ـ ځاې په ځاې به په لوډ سپیکرو دَ چندې او امدادی سامان دَ پاره اعلانونه او تقریرونه کیدل ـ دَ خلقو دَ انسان دوستۍ جذبه دې حد ته رسدلې وه چې ګڼ شمیره ښځو دَ خپلو غاړو، لاسونو او غوږونه کالی اوویستل او په چنده کښې یې ورکړل ـ ډیرو خلقو دَ خپو نه څپلۍ اوویستلې، دَ اوږو نه یې څادرونه او دَ سرونو نه یې ټوپۍ کوزې کړې او دَ امدادی سامان ډهیروته یې اوویشتلې ـ دا ټول سامان به په ټرکونو کښې اچولې کیدو او دَ متاثرینو دَ امداد دَ پاره به لیږلې کیدو ـ

په ملکې امدادی ډلو کښې داسې بے رحمه او انسان دشمنه کسان هم وو چابه چې دَ متاثرینو دَ امداد په ځاې دَ هغوی دَ خوراک او امدادی سامان ګاډی لوټ کول، دَ مړو اعضاء به یې پریکول، دَ مړو زنانهٔ دَ غاړو، لاسونو او غوږونو نه به یې طلائی زیورات ویستل او دَ چا دَ لاسونو او غوږونو نه به چې دَ سرو بنګړی او والۍ نه وتې نو لاسونه او غوږونه به یې ترینه پریکول ـ دې نه علاوه دَ روپو او کالو په لالچ کښې به یې دَ هغوی بکسونه، صندوقونه او الماری لټولې او

چې څۀ بـه يـې موندل هغه به يې په يو خاص ځاې کښې ايښودل او بيـا بـه يـې اوړل ۔ عامو خلقو ته د دے معلومات هغه وخت اوشو چې کـلـه دَ فـرانـس مـا هـريـنو دَ سُراغرسان سپو په ذريعه دغه سامانونه او کسـان اونيـول او دَ اليـکټـرانک او پـرنـټ ميـډيا په ذريعه يې دَ هغوی کـارکـردګـی عـوامـو او حـکـومـت تـه پـه ګـوته کړه ۔ دا ملکی او بين الاقـوامـی امدادی ټيمونه ټول په ښارونو ، بازارونو او سرکاری ځايونو کښـې لګياوو او دَ سوکړې غوندې ديهاتی علاقو او بانډو ته هله لاړل چې هـلـتـه کار ختم شو ۔ بهر حال امدادی سامان او دَ خوراک پيکټې بـه هلـتـه دَ ګاډو او هيلی کاپټرو په ذريعه رسيدې ۔ سلمان په خپل کار کښـې لـګـيـا وو چې يو غير ملکی امدادی ټيم هلتـه اورسيدو او خپل کـار يـې شروع کړو ۔ سُراغرسان سپی چې خوشې کړی شو نو هغوی دَ سلمان دَ کور په وران کنډر کښې ډير په تيزۍ سره خوارۀ شو ۔ دَ کور نـه چـاپيـره اوګـرځيـدل او چې ښۀ مطمئن شو نو دَ يوې ټوپنې دَ پاسه اودريـدل او هـلـتـه يې پنجې اووهلې ۔ چې دَ سپو کار ختم شو نو بيا دَ سړو کار شروع شو ۔

دَ مـا هـريـنـو پــه نـګـرانـۍ کښې دَ يو شاول پـه ذريـعـه ډير پـه احتيـاط مبـله غورځول شروع شو۔ يوه شيبه پس مشينری لرے کړې شـوه او دَ سړو په ذريعه ملبه غورځول شروع شو ۔ چې ملبه کمه شوه نـو دوه غټ ګټان ښکاره شو ۔ دے سره هغوی دَ چا چغے هم ووريدې ۔ دوارو مـا هـريـنـو يـو بـل تــه اوکـتـل او مسکی شو ۔ کيده کيده چې دَ



www.pukhto.net



ګټـانـونـه اخـوا ديـخـوا مـلبـه هـم لرې کړې شوه نو دَ يو کړومب خولـه ښـکاره شوه ۔ دے سره يو نسوانی اواز هم ووريدے شو ۔ چی دَ وتو لاره پيـدا شـوه نـو يـوه زنـانه ترينه په تـرُيخيدو ، ترُيخيدو بهر را اووته ۔ دا زنـانـه دَ سـلـمـان مـور ميمونه وه ۔ هغه دومره کمزورې شوې او مانده شوې وه چې سلمان په مشکله اوپيژنده ۔ دَ هغې ژوندی پاتې کيدل دَ مـعـجزې نـه کم نه وو ځکه چی يو کم څلويښت ورځې پس دَ ګټانو ، کاڼو او ملبې نه بالکل صحی سلامته را اووته ۔ چا رښتيا ويلې دی " چی اجـل يـې نـه وی نـو سـر يې دَ کانی لاندے کړه نه مری "۔ دا متل ځـکـه رښتـيـا ثـابـت شو چې هغه هم روغه جوړه وه او دَ هغې خورين منګې هم صحی سلامت وو خو هغه دومره کمزورې شوې وه چې نه ګـرځيـدې شوه او نه اودريدې شوه ۔ هغې له زر زر خوراک ورکړې شو ۔ چې کـلـه هـغـه پـه ګـيډه مړه شوه نو حوصله يې برابر شوه ۔ دَ هغے تـصـويـرونــه هـم واخستـې شو او دَ هـغـۀ دوو ګټـانو تصويرونـه هم واخستـې شـو ۔ چـی کـله په پی ټی وی دَ هغې متعلق خبر او دَ هغې تـصـويـر راغـلـۍ نـو خلقو د دے خبر دَ تصديق نه انکار اوکړو خو چې دَ هغې انټرويو راغله نو خلقو دَ هغے سلامتۍ ته معجزه اوويله او د دې خبـر تـصـديـق يـې اوکـړو ۔ هـغـې په خپله انټرويو کښې اووې چې دَ زلـزلـې راتلو نه مخکښې هغه دَ هغې کور سره خوا کښې دَ چينې نه اوبـۀ راؤړلـو دَ پـاره تـلـې وه ۔ هغې اووې " چې ما منګې په ډنډ غوپه کـړو نـو پـه ديـکښـې زمـکـه اوړيـده " او زلزله راغله ۔ زه اويريدم او

دواړه لاسونه مې په زمکه اولګول ـ زۀ لا په خپل ځان ووم چې دَ بره غر نه دوه ګټان ډیر په تیزئ سره په زغړیدو زغړیدو زما په طرف راروان وو ـ ما چې ګټانو ته اوکتل نو خپل مرګ راته یقینی ښکاره شوه ، دَ خولې نه مې یوه چغه اووته یا الله خیر ـ دې سره مې سترګې پټې کړې او دَ خپل مرګ انتظار مې کوو ـ زۀ لا په دغه انتظار ووم چې یو ګټ رانه شاته اودریدو او بل مخې ته ـ دَ چینې یوې غاړې او بلې غاړې ته دواړه په داسې انداز اودریدل چې یو بل ته سلامی شول او غاړې یې ورکړې ـ دویمی جهټکې سره زمونږ دَ کور دیوال اوچهت په ګټانو راغئ او زه پکښې په مینځ کښې ګیره شوم ـ په دې دومره ورځو کښې دَ اولړې نه علاوه ماته هیڅ تکلیف نه وو ـ دَ اولړې ختمولو دَ پاره به ما دَ چینې اوبه څکلې او په هغې لا تراوسه ژوندئ یم "ـ

دې نه پس هغه په هیلی کاپټر کښې کینولې شوه او لوې هسپتال ته یوړلې شوه ـ هلته دَ هغې مکمل چیک اپ اوشو او هغه روبصحت ثابته شوه خو چې کله دَ خپل خاوند دَ مرګ نه خبر شوه نو د ډیر خفګان نه پرې سر اوګرځیدو او بې هوشه شوه ـ ډاکټرانو دَ هغې بې هوشی دَ هغے دَ کمزورئ وجه اوګڼله او فوری طور دې ورته ډریپونه اولګول ـ چې هغه به هوش کښې راغله او دَ خپل خاوند مرګ به وریاد شو نو بیا به بې هوشه شوه ـ په دې دې کښې هغې پوره لس ورځې په هسپتال کښې تیرې کړې ـ په یولسمه ورځ چې هغه دَ هسپتال نه فارغه شوه نو کلی او کور ته راغله ـ په کلی کښې


www.pukhto.net



دَ یو بل دَ خولې نه دَ هغې دَ خاوند دَ مرګ تصدیق اوشو خو په ګڼو قبرنو کښې دَ هغۀ دَ قبر صحی معلومات چاته هم نه وو ـ بیا به مور او ځوې ګرځیدل ، هر قبر ته به اودریدل او دعا به یې ورته کوله ـ هغې دَ خاوند دَ مخه یو څو ورځې دَ وران کور په اوچو کانړو کښې تیرې کړې خو چې خوند یې اونکړو نو خپل ضروری سامان یې راواخستو ، ځوې یې دَ لاسه اونیوو او پیښور ته یې مخه اوکړه ـ په راتلو کښې یې خپل لیور صنوبر او خپلې خوابنخې ته صرف دومره اووې چې " د دې هلک دَ سبق دَ پاره یو څو ورځو له به پیښور ته مور کره لاړه شم " ـ هغې ته دَ خپل خاوند په مرګ دومره صدمه رسیدلې وه چې ذهن یې کار پریښې وو ـ څو څو ځله دَ کلی لیدلې کتلې لارو کوڅو کښې تیروته خو اخر دا چې اډې ته اورسیدل او دَ پیښور په ګاډی کښې کیناستل ـ چې پیښور ته اورسیدل نو دَ خپل آبائی کلی نوم ترینه هیر شوې وو ـ صرف دومره ورته پته وه چې دَ ځناور غونډې نوم یې دې ـ چې چاته به یې دغسې وې نو هغه به یو شیبه او خاندل بیا به یې ورته وې " هاؤ هاؤ . . . میلوګان " چا به ورته وې ګیدړ کلې ، چابه ورته پیشونګړی ، چا به ورته وې پړانګ ، په دې دې کښې مور او ځوې په دغه ټولو کلو کښې اوګرځیدل خو نه یې مور پلار پیدا کړل ، نه دَ هغوی کلی کور ، او نه دَ هغوی څۀ ننښخه پته ـ چې په ګرځیدو ګرځیدو ستړی شو او دَ هر څۀ نه ناامیده شو نو عارضی طور یې په سراج بانډه کښې په یو داسې کور کښې پناه واخسته چې نه

یې دَ پـنـائی دیوالونه وو او نه دَ کوټې ور۔ دَ کوټې دَ چهت نیمه حصه پریـوتـې وه نیـمـه ولاړه وه ۔ چې شپـه یې پکښې تیره کړه نو صبا له مـور او ځـوې لاړل ، دَ یـو ځـاې بـل ځـای نه یې دَ جهاړو او زغنو پولۍ راؤړی او ځان ته یې شپول اووهو ۔ بیا یې نیمګړې کوټه ښه صفا کړه او پـه هـغـې کښـې یـې دَ ملاستې دَ پاره اوچ واخهٔ او پلاله واچوله ۔ دَ هغـے دا خیـال وو چې سـلـمـان چرته په سکول کښې داخله واخلی او تعلیمی کال یې ضائع نشی ۔ په دې غرض هغې سلمان ځان سره کړو اودَ هغـه دَ داخلـه دَ پاره یـو هائی سکول ته لاړه ۔ هلته یې دَ سکول هیـډ مـاسټر ته خپله او دَ سلمان ټوله قیصه اوکړه او په اخره کښې یې ورتـه دَ هـغـه دَ داخلـې خـواسـت اوکـړو ۔ هغـه تریـنـه تپوس اوکړو " سرټیفیکیټ درسره شته ؟"

میـمـونـه :۔ نـه صیـب سرټیفیکیټ نشتـه ، سکول لاړو تباه شو او هر څهٔ پکښې تباه شو۔

هیـډ مـاسټـر:۔ چې سرټیفیکیټ نیشتـه نو زهٔ یې په څهٔ ثبوت داخل کړم ۔ دا نه کیږی بی بی ۔

میـمـونـه :۔ صیـب تـه زمـا په خوله یقین اوکړه چې دې هلته په اووم جماعت کښې داخل وو۔

هیـډمـاسټر:۔ بی بی دا په زبانی جمع خرچ باندې نه کیږی ، زهٔ به دَ ده پـه کوائف کښې څهٔ لیکم ۔ سرټیفیکیټ راؤړه ۔ دې نه بغیر داخله نه ملاویږی ۔


www.pukhto.net



میـمـونـه :۔ صیب ټسټ ترینه واخله که ستاسو په معیار برابر اوختو خو ټیک ده ګینی بیا داخله مهٔ ورکوه ۔

هیـډ مـاسټـر:۔ نـه کیـږی بـی بی نه کیږی ۔ بغیر سرټیفیکیټ داخله قانونًا نشـی مـلاویدې ۔ او که اول جماعت کښې یې داخلوې نو بیا به یـې پـه دغـه پـرائـمـرۍ سـکـول کښې داخل کړو ، میمونې چې دَ اول جـمـاعـت دَ داخلې ووریدل نو ځوې یې دَ لاس نه اونیوو او روانه شوه ۔ دې نـه پـس څـو څـو ورځې په څو څو سکولونو اوګرځیدل خو خوند یـې اونـکـړو او دَ ټـولـو دغـه یـوه خبـره وه چې سرټیفیکیټ راؤړۍ نو داخله به ورکړې شی ګینې ټول عمر به هم داسې ګرځۍ ۔

سلمان چې د داخلې نه پاتې شو نو دَ خپلې مخې خاوند شو۔ مـور بـه یـې چـې سـحـر دَ یو بل خدمت له لاړه نو هغهٔ به ټوله ورځ په لارو کـو څـو او پـولـو پټـو کښـې لوړغۍ کولې ۔ چې سحر به دَ کوره اووتـو نـو ماسخوتن به په داسې وخت راغۍ چې مور به یې په انتظار انتظار اودهٔ شوې وه ۔

هـغـې چـې دَ سـلـمـان حالت ته اوکتل نو دا یره ورسره ملګرې شـوه چـې هسـې نـه آواره شـی او دَ سبـق نـه کـناره شی نو کلی ته یې واپـس دَ تلو اراده اوکړه خو سلمان د دې علاقې په ماحول کښې داسې ننوتې وو چی دَ کلی تلو ته یې زړهٔ نه کیدو ۔

☆☆☆☆☆☆

☆☆☆

## دویمه برخه

سراج بانړه او طوری بانړه دواړه نزدې نزدې وې او هغه دَ چا خبره چې دَ یوې بانډې دَ مټ ګزار بلې بانډې ته رسیدې شو۔ سراج خان او طورې خان خپلو کښې تربوران وو او دَ دواړو کورونو زمکې او پولې پټې دَ یو بل پولو پټو سره لګیدلې او جنګیدلې وې۔ دَ دواړو بانړو خلق دَ خپلو خپلو خانانو زمیدار، دهقانان، خدمتګاران، نوکران، ټوپک ماران او کسب ګر وو۔ دَ دواړو بانړو خلق غریب او بې وسه وو۔ نه یې خپلې زمکې وې، نه مینې او نه حجرې۔ هغوی به خپل مړې ژوندې او غم ښادی دَ خپلو خپلو خانانو په حجرو کښې کوو۔ سراج بانړه، دَ سراج خان په نوم نومیده۔ سراج خان ډیره موده مخکښې مړ شوې وو خو بانړه لا هغسې دَ هغهٔ په نامه چلیده۔ دَ سراج خان دوه ځامن وو، دَ مشر نوم عالمګیر خان وو او دَ کشری نوم اورنګ زیب خان وو، عالمګیر خان په کلی کښې وو او دَ پلار دَ مرګ نه پس دَ خپلې کورنۍ دَ خانۍ په ګدۍ ناست وو۔ دَ کلی مړے ژوندې به یې هم کوو او دَ خپل جائیداد خصمانه به یې هم کوله۔ دَ هغه کشر ورور اورنګ زیب خان په هلکانه تعلیم دَ پاره جرمنی ته تلې وو۔ دَ تعلیم پوره کولو نه پس یې هلته وادهٔ اوکړو او هم دَ هغه ځاې شو۔ دَ عالمګیر خان درې ځامن وو۔ دَ مشر نوم اسلم خان وو چې په اسلام آباد کښې دَ ډیفنس په محکمه کښې لوې افسر وو او دَ خپل بال بچ



www.pukhto.net



سره هلته اوسیدو۔ دَ دویم نوم عالم خان وو چې په فوج کښې ډاکټر او دَ عُهدې په لحاظ کرنل وو۔ هغه دَ پنډۍ په CMH کښې ډیوټی کوله او دَ بال بچ سره په آفیسرز کالونی کښې اوسیدو۔ دَ دریم نوم شیردل خان وو چې دَ امپورټ ایکسپورټ کاروبار یې کوو او په ډیفنس کالونۍ پیښور کښې اوسیدو۔ دَ عالمګیر خان رور اورنګ زیب خان او دَ هغه بال بچ به ورکوټی اختر له کلی ته راتلل۔ میاشت دوه به یې تیرې کړې او بیا به تلل۔ چې کله به دا ټول خانان کلی ته راغلل نو په کلی کښې به ډیر رونق جوړ شو۔ چې ټول به په حویلۍ کښې راجمع شو نو بې اختره به اختر جوړ وو۔ عالمګیر خان او اورنګ زیب خان دَ رورلۍ نه علاوه دَ نورو رشتو په وجه یو بل ته نور هم نزدی وو۔ دَ عالمګیر خان په دواړو ځامنو کرنل عالم خان او شیر دل خان باندې دَ اورنګ زیب خان دوه لونړه وادهٔ وې۔ دغه رنګې دَ اورنګ زیب خان په ځوی انجینر سجاد باندې دَ هغه لور وادهٔ وه۔ دَ جائیداد ټول امدن به عالمګیر خان له تلو او اورنګ زیب خان ترینه چرې هم تپوس نه وو کړې البته چې څومره زمکه به هغهٔ واخسته نو نیمه به یې په خپل نوم انتقال کړه او نیمه به یې دَ خپل رور په نامه باندې۔ چې کله به اورنګ زیب خان او دَ هغه بچی کلې ته راغلل نو عالمګیرخان به هغه په نوې اخستې شوې زمکه اوګرځوو او دَ هغه نظریاتی مرسته به یې حاصله کړه۔ دغه رنګې طوری بانړه دَ طوری خان په نامه یادیده۔ اګر چهٔ هغه هم لکه دَ سراج خان ډیر مخکښې

مړ وو خو بانډه لا هغسې دَ هغه په نوم چلیده ـ طورې خان دَ حکیم خان ، سلیم خان او ندیم خان پلار وو۔ دې درې وانړو رونړو جائیداد تقسیم کړې وو او کورونه او حجرې یې بیلې کړې وی البته دَ مشرۍ حجره حکیم خان ته پاتې وه او دَ هغهٔ په خرچه به چلیده ـ دَ دوی په رونړو کښې څوک هم سرکاری افسر نه وو البته په عوامی سطح باندې هر چا پیژندل ـ حکیم خان دوه ځله پرله پسې کونسلر پاتې شوې وو۔ سلیم خان دوه ځله دَ ازاد امیدوار په حیث دَ ایم پی اے سیټ ته ولاړ وو او دواړه ځله ناکامه شوې وو۔ ندیم خان دَ ښهٔ اسپو او ټانګو شوقی وو۔ دَ حکیم خان پنځه ځامن وو او پنځه وانړه په پنځو لارو روان وو۔ دَ هغهٔ دَ ځامنو نومونه باالترتیب داسې وو، راج ولی ، سید ولی ، ګل ولی ، خان ولی او شاه ولی ـ دې ټولو وادونه کړی وو او ټول بیل بیل وو۔ په خپل جائیداد کښې یې ځان له خپل خپل کورونه او حجرې جوړې کړې وې او هر یو خپل غونډارې زغړه وو۔ حکیم خان هغوی له شل شل جریبه زمکه ورکړې وه او نوره ټوله هغه سره وه ـ هغه عوامی مشر وو۔ دَ هغه په حجره کښې به هر وخت شل دیرش کسه میلمانهٔ وو۔ دَ هغهٔ په نوکرانو کښې دَ یو ډیوټی دا وه چې هر سحر به یې دَ سیند ځنګل ته رهړه بوتله او مازیګر به یې دَ خشاک نه ډکه راوسته۔ دا ټول خشاک به روزانه شنه په شنه سوزیدو او بلې ورځې ته نه پاتې کیدو۔ دَ حکیم خان ښځه ډیره مخکښې مړه شوې وه ـ دَ هغهٔ دَ کور مشری به دَ هغهٔ لور تبسّم کوله ـ دَ کور اخلې پخلې به



www.pukhto.net



خدمتګارو کوو، دَ هغې کار صرف هغوی ته ښودل او دَ هغوی نه کار اخستل وو خو چې کله هغه وادهٔ شوه نو حکیم خان په ګڼو اینګیاندو کښې دَ خدمتګارو لاس ته کیناستو ـ دَ تبسّم دَ واده نه پس دَ هغې ډیوټی دَ زرغونې مور صبرو ته اوسپارلې شوه ځکه چې په ټولو خدمتګارو کښې هغه قابل اعتماد هم وه او دَ کار په سمون هم پوهیده ـ بله دا چې په دې کور کښې او د دې کور په خدمت کښې دَ هغې دَ ژوند لویه برخه تیره شوې وه ـ هغه لا جینۍ وه چې د دې کور د بیبیانو خدمت به یې کوو۔ په دې کور کښې هغه لویه شوه ، پیغله شوه او چې وادهٔ شوه نو بیا به هم خدمت دَ پاره راتله ـ زرغونه لا وړه وه چې هغې سره به راتله ، هغه هم په دغه کور کښې پیغله شوه او چې کله وادهٔ شوه نو سراج بانډې ته لاړه ـ دَ سراج بانډې او طوری بانډې ترمینځه دَ شاملات زمکه وه چې دَ هغې یو سرخکته کاټیالې سره لګیدلې وو او بل سریې پوخ سړک سره ـ په دې زمکه به دَ دواړو بانډو زمیدارو ، دَ غنمو ، اوربشو ، او شولو درمندونه اچول ، غوبلې به یې کولې او وړی به یې ټکول ـ دې نه علاوه دَ بهوسو بهوسارې به هم پکښې ترلې کیدې او دَ پلالې پوګ ، مکیانو او ټانټو ټوپونه به هم پکښې پراتهٔ وو۔ دَ شاملات یو اړخ ته سراج بانډه ، بل اړخ ته طوری بانډه او سرونه یې پوخ سړک او کاټیالې سره لګیدلی وو۔ د دې شاملات ټوله رقبه څلورپنځوست ( 54 ) جریب وه ـ د دې یو سرته دَ شنډې توت یوه غټه ، ګوره او دَ زمانو زړه اونه وه چې دَ تنې نه یې

پټکې نـه شـو تاویدې ـ دَ هغې ښاخونه او څانګې تر لرې لرې خورې شـوې وې ـ پـه دغـه اونـه کښـې بـه چـڼچڼو ، کوړ کوړو ، ښاروګانو او کـارغـانـو جالې جوړولې او دَ اوړی په غرمه کښې به دَ هغې دَ سیوری لانـدې دَ دواړو بـانـډو مشـران په کټونو کښې برینډې خیټې پراتۀ وو ـ چا به پړی غښتل ، چابه کوری جوړول ، چا به کټ بونۀ ، چا به دَ مړزو او چڼچڼو جالونه جوړول ، چابه دَ کټونو لنګې غښتلې ، چابه خبرې کـولـې او ځـوک به په اودۀ کښې خنیدل ـ نری یخه هوا به چلیده او دَ اودو دَ خنیـدو مـقـابـلـه به کیده ـ دغه مشرانو به ډیرې خوږې خوږې خبـرې کـولـې ـ دَ هغـوی پـه مـوضـوعـاتو کښې دَ پخوانی مشرانو ، خانـانـو ، بـزرګانو ، پیرانو ، مفرورانو پیریانو او دَ علاقې دَ پهلوانانو نه عـلاوه دَ غـوا غـوی ، میښـی سـنـډا ، مـار لـړم ، چـرګ چرګوړې ، مړز تـنـزرې ، یـوې جـغ ، مـالـه غاښور ، لور چاقو ، تبر ترخزۀ ، یوم چاری دَ زمیـداری او دَ زمیـداری دَ اوزار خبـرې بـه هم کیـدې ، خپلې خپلی پیښـې کـړمې ، مشاهدې او تجربې به بیانیدې او اوریدې شوې ـ یوه مـوضـوع به بلې موضوع کښې په غیر ارادی انداز ننوته ، مخکښې بـه تـله او خبره به دَ چرته نه چرته رسیده ـ دغه رنګې به دَ یو کس علم بـل ته او دَ بل بل ته منتقل کیدو او دَ اوریدونکو په علم او پوهه کښې بـه اضـافـه کیـده ـ دغـه ټـول مشـران دَ عزت وړو وو خو په تیره تیره د ریـخان بـابـا ، زریـن ، ممتاز ، ملا محمد اعظم ، محمد اکبر او ګل زاده کـاکا دَ علم خزانې او دَ مشاهدې او تجربې کارخانې وې ـ دَ هغوی او دَ


www.pukhto.net



هغـوی دَ ګپ شپ پـه وجـه بـه مـحـفـل خـوږ ، ترځکون ، رنګین او نـمـیـکـن وو دریـخان بـابـا بـه اکثـر دَ خپلې مشاهدې او تجربې خبرې کـولـې ـ زرین به دَ مړز ، بُولارې ، دوګزې ، دَجال او تپچې خبرې کولې ـ محمد اکبر او ګل زاده به اکثر دَ میښې او سنډا خبرې کولې ـ ممتاز بـه دَ اپسـې او تـانـګـې او مُلا محمد اعظم به دَ ګړے ، ګنو ، دَ فصل او ځاروو خبـرې کولې ـ زرین ډیر خوش مزاجه او زنده دل سړې وو ـ دې نـه علاوه خدای ډیر خوږ اواز ور کړې وو ـ کله به چی دغه ټول په خبرو سـتـړی شـو نـو هغـه بـه د "یَه قربان" چغه اووهله ـ دَ هغه اواز کښې هغه جادو وو چې هر طرف ته به مکمله خاموشی خوره شوه ـ فطرت بـه خپـه نیـولې او ډبـډې شو او دَ هغه اواز ته به غوږ غوږ شو ـ دَ ټپو په اخـره کښـې بـه ملا محمد اعظم ، ممتاز ته اووې " داسې معلومیږی چې زرین کره بیا اوږۀ خلاص شوی دی " دَ هغه دغه پټه خبره به ټولو وورېده او ټول به په خندا شو ـ

چـی کـلـه بـه دَ نمر تپش لږ کم شو نو یو یو کس به خپل خپل کټ اوچتوو او کور ته به تلو ـ په کور کښې به یې دَ ګړې شربت په سر راواړه وو ، کـچـنـی بـه یـې واغوستل او خپل خپل کار له به روان شو ـ هلـتـه بـه په کاتیاله کښې وړو ټوله غرمه لامبل ، دَ شګو غونډاری به یـې جـوړول او دَ یو بل غونډارو سره به یې جنګول ـ چی په لوبو لوبو کښـې بـه یـې ګـرمـی اوشـوه نـو اوبو ته به یې ورټوپ کړې ـ چا به په چـړ کښـې ډانـډو کی وهل ، چابه ډب کښې لامبو او کښ وهو او چا به

پکښې ایلې کوو ـ تر لوړ مازیګر پورې به دَ هغوی دغه شغل وو ـ بیا بـه یې جامې واغوستلې ، کورونو کښې به یې چاې ، شربت او څکو او دَ لوبو دَ پاره بـه دَ شـاملات ډاګ تـه روان شو ـ هلتـه بـه هغوی مختلفې لوبې کولې خو کله نه چې په ملک کښې دَ کرکټ لوبه عـامه شوې ده نو نورې لوبې ختمې شوې او دَ کرکټ لوبه پخه شوه ـ بیلې بیلې ډلې به بیلې بیلې لوبې کولې ـ دلته به دا لوبې کیدې او هلتـه بـه دَ پیـغلو سیلونه دَ ډلو په شکل کښې ګودرته رامات شو ـ دَ دوارو بانډو پیغلې به منګی په سر ګودر ته تلې ـ هلته به یې منګی پـه غـاړه کینښودل او پـه ازاده فـضـا کښې بـه یې خپلې مستۍ او خوشحالۍ کولې ـ چا به پائنڅې اوچتې کړې ، دَ ګودر په خورو ، سپینو اوبو کښې بـه سپینې او پستې خپې ګرځیدې ـ چابه دَ پائنڅو سره سره متې اونغښتې او پـه اوبو کښې بـه یې دَ خپلې خوښخې کانۍ لټول او غونډول ـ چابه لولکو پسې منډې وهلې او چا به جنتی تنتڕکو پسې ، چا به خپلو کښې توقې مسخرې کولې او چا بـه دَ خپلـو مـئینـو قیصې کولې ـ دا ټولې جنیکۍ به تر ناوخته پورې دغلته وې ـ چې کله به دَ هغوی میاندو تنورونه لمبه کړل نو بیا بـه یې زر زر خپل خپل منګی ډک کړل ، دوه ، دوه به یې په سر کړل او یـو یـو بـه یې پـه اړخ کښې اونیوو ـ چې کورونو ته به روانې شوې نو منـګی پـه سر بـه یې خپلو کښې دَ منډې مقابلې کولې او په خندا خوشحالۍ به خپلو خپلو کورونو ته تللې ـ دا پیغلې که زلمی وو دا دَ



www.pukhto.net



دې خاؤری بچی وو په ساده حسن حسین وو ، د دې خاؤرے نازنین وو ـ ماسخوتن بـه ټول زلمی دَ شاملات په ډاګ کښې راغونډ شو او دَ ټنګ ټکور پروګرام بـه شروع شـو ـ دې ټنګ ټکور تـه بـه دَ نزدې کورونو جینکۍ هم په کوټو کیناستې او دَ هغوی سندرې او سوې لوې ټپې بـه یې اوریدې ـ دَ کـومـو جینـکو کورونه چې لرې وو نو هغوی به دَ میلمنو په حیث راتلې او نورو سره به په کوټو کیناستې ـ هرې پیغلې به دَ خپل مئین اواز پیژندو ـ چې هلته به دَ هغوی دَ خولو نـه دَ سوې لوې ټپو اوازونـه وتـل نـو دلتـه به دَ هغوی دَ خولو نه ساړۀ اسویلی وتل ـ په دغه سندر غاړو کښې به دَ نورو نه علاوه علی زیب هم وو او په پیغلو کښې به دَ نورو جینکو نه علاوه زرغونه هم وه ـ

★★★★★

## دریمه برخه

ویلې کیږی چې دَ کونډې ځوې نیم بادشاه وی ـ که دا متل ربښتیا وی نو بیا خو دَ میمونې ځوې سلمان نیم نه بلکه پوره بادشاه دې ځکه چې دَ پلار سیورې یې دَ سرنه پورته شوې دې او دَ هغه مور پـه ځوانـه ځوانۍ کښې کـونډه شوې ده ـ هغـه بوغرکے شو خو دَ بادشاهۍ څۀ نښخې ، پټې پکښې ښکاره نشوې ، هڅ که دَ بادشاهۍ نه مراد جنګجوئی ، جنګخوئی او مهم جوئی وی نو دا صفت په هغه کښې تر دې حده پورې وو چې که دَ هغه دَ همځولی په سر کښې به جغه وه خونه یې ترینه یره کیده او نه یې ترینه سترګه سوزیده ـ په نۀ

څۀ خبره به يې دَ ځان نه لوي هلک ته بډې راخکلې ، پنډې به يې ورته وهلې ، دَ هغۀ نه به چاپيره تاويدو او دَ هغه دَ غوږ نه به يې په ګوته لاړې تاؤلې ـ چې دۀ به ورسره تـُنګه وا چوله نو هغه به هم مجبوراً ورته متې اونغښتې ، لاسونه به يې وا چول او دواړه به ليچې برليچې شول ـ که هغه به لاندې وو او که باندې ګټه به په هر حال کښې دَ هغۀ وه ـ نه هار منلو والا وو او نه ميدان پريښودو والا وو. هغه به ترينه ځان خلاصوو او دۀ به په ملاستې دَ ګريوان نه نيولې وو او تر هغې به يې نيولې وو چې ګريوان به يې ورله تر لمنې پورې سيرې کړو. په پرزولو پرزولو کښې به يې ځان هم دَ شيرې دَ خوراک کړو او هغه هم او که چا لاروی به په خلاصی کښې پرق ورکړو نو بيا راشه که تودېږې ـ هغه سره به اونختو او تر کوره پورې به ورپسې وو. که هغه به ځان پسې ورپورې کړو نو دۀ به پورې ور په کانړو او لوټو ويشتو. هم دغه وجه وه چې يوه پائنځه به يې وه بله به يې نه وه ـ يو لستوڼې به يې وو بل به يې نه وو ـ که روستې لمنه به يې وه نو مخکښې به نه وه او که مخکښې به وه نو روستې به نه وه ـ هر وخت به يې ګريوان شليدلې او تندې ژوبل وو.

که دَ بادشاهي نه مقصد بې غمي او لا پروائي وی نو دا خبره هم صحی ده ـ په دې صفت کښې خو هغه نيم بادشاه نه بلکه شهنشاوو ځکه چې غم خو هغه هډو پيژندو هم نه او دَ لا پروائۍ يې دا حال وو چې نه يې په ځان څۀ کار وو او نه يې په جهان ـ سحر به چې



www.pukhto.net



دَ کوره اووتو نو مابښام تياره به کورته تلو ـ دا دومره لويه ورځ به يې چرته او کوم ځای تيرولو ؟ ظاهره چې په لارو او کوڅو کښې اوستا ، زما پټو کښې ـ چې په کومه به لاړو نو تلې به وو او چې کله به راغی نو راغلې به وو. نه چا منعې کولې شو او نه يې دَ چا منل ـ په اولږه ، مړه او پټه بربنډه يې هيڅ پروا نه وه ـ که دَ بادشاهي نه مراد بادشاه ګردی وی نو په دې صفت کښې خو لاثانی وو. ټوله ورځ به يې په پردو پولو پټو ، سپو کوترو او دَ مرغو بچو پسې منډې وهلې ـ په پردو خرو به يې سورلی کوله او په زغل کښې به يې نورو ملګرو سره سيالی کوله ـ څو څو ځله دَ خرو نه پريوتو ، څو څو ځله يې لتې ورکړې ، څو څو ځله دَ خرو خاوندانو اووهو خو د دې هر څۀ باوجود دَ خپل عادت نه نه اوختو ـ په پردو باغونو به ورغی ، کچه الوچې ، کچه کور، کچه شلتالان به يې شوکول ، څه به يې خوړل او څۀ به يې غورځول ـ که بادشاهی عيش وعشرت او خوش معاشی ته ويلې کيږی نو په دې کښې هم لاجوابه وو. دَ کوټک نه تر اټکه او دَ ککړ نه تر سکړه پوړې به دَ ډمو او هجړاګانو تماشې پسې نورو ملګرو سره ګرځيدو او داسې نه چې صرف تماشه به يې کوله بلکه ډمو او ډمانو سره به دننه بهر کيدو ـ دَ هغوی په ميک اپ او ګهونګرو ګانو تړلو کښې به يې هغوی سره پوره پوره تعاون کوو. هغوی ته به يې دَ چايو ، قهوې پيالی هم ډکولې او که هغوی ته به دَ سګريټو ، تماکو ضرورت وو نو تر دوکانه پورے منډه به يې هم کوله ـ که بادشاه مشر

ته ویلې کیږی نو دا خبره هم صحی وه ـ په هره ښادی، کښې به نابللې مشر وو ـ خلقو ته به یې مجمې اینښودے ، دَ اوبو جګ ګلاس به یې ګرځول ، وارهٔ به یې شرل او سپی توکری به یې وهل ـ

که دَ بادشاهۍ نه مراد حکم چلول وی نو دا خو دَ هغه خاص صفت وو او په دې صفت کښې خو یکتا وو ـ په خپلی مور به یې داسې حکم چلولکه یو حاکم چې په محکوم چلوی ـ او چې لږې سترګې به یې بدلې کړې نو بیا به دَ هغه هر خواهش پوره کیدو ځکه چې دَ کونډې ځوې وو او دَ کونډې ځوې نیم بادشاه وی ـ

★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★

★★★★★★

★★★★

★★★

★★

★



www.pukhto.net



## دویم باب

زرغونه دَ طوری بانډې دَ کونډې صبرو ابۍ مشر اولاد وو ـ دَ هغې نور رونړه خویاندې دَ هغې نه کشرې وې ـ دَ هغې پلار پوردلې کاکا پلار په نیکهٔ دَ طوری بانډې دَ خانانو نوکر او دهقان وو ـ دَ هغې مور صبرو هم دَ هغوی خدمتګاره وه ـ دَ خانانو په کور کښې لویه شوې ، پیغله شوې او دَ هغوی دَ کوره پوردلی ته وادهٔ شوې وه ـ دَ وادهٔ نه پس به هم هغې دَ خانانو دَ کور خدمت کوو او دَ پوردلی دَ مرګ نه پس خو دَ هغوی پخه خدمتګاره شوه ـ دَ هغوی خدمت به یې کوو او دَ هغوی په خیر ، خیرات به یې خپل بچی پالل ، علی زیب دَ سراج بانډې دَ میرقدم کاکا کشر ځوې وو ـ دَ علی زیب نه علاوه دَ هغه دوه ځامن نور هم وو ـ دَ مشر نوم شاه زیب او دَ مینځنی نوم خان زیب وو ـ میرقدم کاکا دَ سراج بانډې ، دَ عالمګیر خان زمکه کرله او ښهٔ درنه زمیداری یې کوله ـ شاه زیب او خان زیب وادونه کړی وو او دَ بال بچ پلاران وو ـ دَ علی زیب دَ وادهٔ خبرې روانې وې چې دواړه رونړه ترینه بیل شو ـ کور دَ خانانو وو خو هغوی خپلو کښې تقسیم کړو ، درې توتې شوې ، دیوالونه پکښې اووهلې شو او بیل بیل کورته بیل بیل ور اولګیدو ، دَ علی زیب کور په مینځ کښې پاتې شو او رونړه ترینه یو خوا او بل خوا ته پاتې شو ـ هغوی خپل بال بچ پالل او علی زیب خپل مور پلار ـ هر یو خپلی متې وهلې او خپل خپل غونډاری یې

زغرووـ نه یې یو بل سره تعلق پاتې شو او نه دَ یو بل په سترګو لګیدل ـ دَ هغوی دَ بیلیدو او لا تعلقۍ په وجه دَ علی زیب وادهٔ کال دوه نور هم اوزانګیدو ـ دَ علی زیب او زرغونې نیو که دَ مخکښې نه شوې وه ـ دَ هغه پلار غوښتل چې په خپل ژوند دَ هغهٔ وادهٔ اوکړی او خپل ځوې په خپلو سترګو دَ وادهٔ په پالنګ ختلې اووینی ـ دَ جړې بارانونه شروع وو چې دَ هغهٔ دَ وادهٔ نیټه کیښودې شوهَ دَ وادهٔ سامان کورته راغۍ ، جوړې جامې او غوړی وریژې هم راغلې ـ نیټه هم راغله ، ډولی هم راغله خو دَ علی زیب مور پلار خپل ځوې په پالنګ ختلې په غړیدلو سترګو اونه لیدو او نه یې خپله اینګور دَ ناوې په حیث په خپل کور کښې اولیده ځکه چې دَ وادهٔ نه پنځه ورځې مخکښې دَ شپې دوه بجې داسې دَ شړق باران شروع شو چې کوټه کیناسته او ښځه او خاوند دواړه پکښې په ابدی خوب اودهٔ شو ـ دَ هغوی دَ مرګ نه پس دَ علی زیب دَ وادهٔ غوړی روژې ، دَ هغوی دَ مرګ په دریمه پخې شوې ـ هغهٔ دَ وادهٔ نیټه بدلول غوښتل خو دَ کلی مشران رامخکښې شو، هغهٔ له یې تسلی ورکړه او دَ نیټې بدلولو نه یې منعې کړو ـ دَ هغه وادهٔ په ټاکلې شوې نیټه په داسې انداز اوشو چې نه پکښې ډوډۍ پخه شوه ، نه میلمانهٔ راغلل، نه پکښې ډزې اوشوې ، نه پکښې دَ " الا " چغه اووته ، البته هغه په پالنګ اوختو او ډولۍ راغله ـ

زرغونه دَ علی زیب د مینې دنیاوه ـ هغه دنیا چې په هغې



www.pukhto.net



کښې دَ ژوند ټولې خوشحالۍ او سکالۍ وی ـ هغه دنیا چې دَ هغې حصول دَ هغه دَ ارمانو ارمان ، دَ امیدونو جهان او دَ جهانو جهان وو ـ دغه رنګې هغه دَ هغې دَ مینه کائنات او د دغه کائنات شهزاده وو ـ دَ وادهٔ نه مخکښې دواړه دَ یو بل په مینه روک لیونی وو ـ دَ وادهٔ نه پس دَ مینې لیونی وو خو اورک نه وو ـ دواړه په یو نغری ، یو تالی یو شکور او په یو کور کښې دَ یوبل مخې ته موجود وو ـ په یو بل به یې سترګې لګیدې ، په سترګو ، سترګو کښې به یې یو بل ته خاندل او دَ مینې په ټال به یې زانګل ـ کله کله به هغوی په خپل وادهٔ او په خپلو وجودونو شکن من شو او دا به یې وې چې دا غیر یقینی کار څنګه اوشو ـ دَ هغه روڼه شاه زیب او خان زیب او دَ هغوی ښځې او بال بچ نه هغه سره په وادهٔ کښې کیناستل او نه یې دَ هغهٔ مبارکی اوکړه ـ هغوی دَ خپل خفګان وجه دا اوښودله چې هغه دَمور پلار دَ مرګ په وجه دَ واده نیټه ولې بدله نه کړه ـ حالانکه هغوی نه دَ هغوی دَ ګور کفن په خرچه کښې برخه اخستې وه او نه یې دَ خیر ، خیرات په خرچه کښې ـ دَ وادهٔ نه پس علی زیب بیخی تش لاس پاتې شو ـ او دې حد ته اورسیدو چې زمیداری یې پریښوده او دَ خانانو مزدوری به یې کوله ـ سحر به دَ خانانو پټو ته مزدورې له تلو ، تر غرمې پورې به یې کار اوکړو او بیا به ټوله ورځ کور پروت وو ـ او دَ ښځې په کټو به یې خپله مینه ماتوله ـ که دَ هغهٔ لړه ګزاره کیدې نو خپله مزدوری به یې هم دَ هغې په مینه قربان کړې وه ـ

★★★★★

## دویمه برخه

میمونې به چې خپل ځوی ته، دَ هغهٔ کړو اوړو، دَ هغه لاپروایۍ، بې راهروۍ او دَ هغه عادات وکردار ته کتل نو نیمه نه پاتې کیده ـ هغې به چې دَ حال په آئینه کښې دَ هغه مستقبل ته اوکتل نو دَ هغې دَ امیدونو، ارمانو او خوبونو شیش محل به دَ هغهٔ دَ بدعملۍ په وجه چوری چوری شو ـ هغه سلمان چې دَ مور دَ غېږ نه به نه اخوا کیدو اوس دَ مور خواله هم نه راځی ـ هغه سلمان چې دَ مور خبره به ورته خدائی حکم ښکاریدو اوس دَ هغې یوه خبره هم نه منی ـ هغه سلمان چې دَ مور تکریم وتقدیس به ورته دَ ټولې دنیا دَ میاندو نه بالاتر ښکاریدو اوس ورته د لارې کوڅې بنه هم نه ښکاری۔ هغه سلمان چې دَ هغهٔ دَ پاره مور پلار دَ افسرۍ خوبونه لیدل اوس دَ ملنګۍ په جامه کړځی ـ هغه سلمان چې تعلیمی میدان کښې دَ خپل عمرنه مخکښې روان وو۔ استاذان دَ هغه دَ قابلیت په صفت نه سترلې کیدل، څو څو ځله یې دَ هغهٔ دَ تابناک مستقبل پیش ګوی کړې وې اوس بیخی لیونې ښکاری۔ دا دَ چا دَ لاسه ؟ دَ چا دَ لاسه هغه داسې شو ؟ دَ چادَ لاسه دَ هغه تابناک مستقبل دَ تیرو ګړنګونه ښکاری ؟ . . . ظاهره خبره ده چې دَ معاشرې دَ لاسه . . . دَ معاشرې دَ معمار دَ لاسه ـ دَ معمار قوم، معلم الاخلاق، مردم ساز او کردار ساز دَ لاسه ـ . . . دَ سکول دَ یو ذمه وار او مشر استاذ د لاسه ـ که هغهٔ دَ



www.pukhto.net



هغهٔ دَ مور په خواست غور کړې وې، هغه یې داخل کړې یا دَ یو پرائیویټ سټوډنټ په حیث یې دَ کلاس اخستو اجازت ورکړې وې، هغه له یې تسلی ورکړې وې دَ هغه په سر یې دَ شفقت لاس اینښې وې او دَ خپل بچی په سترګه یې ورته کتلې وې نو هغه به چرې هم داسې بې لارې شوې نه وې ـ اوس هغه داسې بې سره شوې دې چې دَ کلی خلق په خپلو ماشومانو یریږی چې دَ هغهٔ غوندې نشی ـ

دَ کلو خلقو چې دَ هغه بدعملۍ ته اوکتل نو دَ خپلې پوهې، مشاهدې او تجربې په رڼا کښې یې دَ هغهٔ متعلق نورې نورې پیش ګوۍ شروع کړې ـ چابه وې لوې بدمعاش به ترینه اوخیژی ـ چابه وې ناترسه ظالم او اجرتی قاتل به ترینه جوړ شی ـ چا به وې لوې غل او ډاکو به ترینه جوړ شی ـ چا به وې پوډری به ترینه جوړ شی او په یوه کنده کښې به مردار شی ـ چابه وې دې به لیونې کیږی ـ دَ هر سړی خپل خپل خیال وو خو په دې ټول متفق وو چې اخره به یې خرابه وی ـ

دَ هغهٔ په سر دَ هغهٔ مور له څو څو ګیلې راغلې خو دومره په سرختلې وو چې دَ هغې یوه خبره یې هم په غوږونه لګیده ـ هغې په پسته او خوږه ژبه او په زار او قربان څو څو ځله هغهٔ پوهـ کړو خو دَ هغهٔ نه غوړمنګې جوړ شوے وو۔ دَ نصیحت یو څاڅکې هم ورپورې نه انختو ـ چې په دې اونشوه نو بیا ورته دَ پښتو هغه متل رایاد شو چې چرته ډب وی هلته ادب وی ـ چې دَ خلقو دَ ګیلو نه ډیره تنګه

شوه نـو بيا ئې وريسې په دې غرض چو كه راواخسته چې يو څو ګزاره يې لاندې باندې اووهى او دَ ادب پوليې ته يې سم كړى ـ چې هغې پرې چو كه اوچته كړه او ډب يې وركوو نو هغه په هوا كښې چو كه اونيوه او تـر هغـې يې ورسره زور آزمائى كوله چې چو كه يې ترينه واخيسته او پـه ميـنـځ يـې دوه ټوټې كړه ـ بيا يې هغې ته په فاتحانه انداز اوكتل او دواړه ټوټې يـې لرې كړې ـ دې نه پس دَ يوې بلې ګيلې په جواب كښې پـرې هغـې لاس اوچـت كـړو ـ چې پـړق يـې وركوو نو هغۀ ترينه لاس اونيوو ـ دې نه پس هغې خپلې مخې ته پرينښودو ، دَ خلقو ګيلې به يې اخستې او په خپل زړه به يې تيرولې او غوټه كولې ـ

د دنيـا ټـول غـمـونه په ميمونے پنډ شوى وو ـ يو خوا دَ هغې دَ مينې خاوند مړ شو ـ بل خوا يې كور وران شو خو دَ ټولو نه لوې غم دَ سـلـمـان بې ادبى ، ګستاخى او بې راهروى وه ـ هغې به په زړۀ كښې وې چې هغه ولې دَ خاوند په لاره لانه ړه ـ هغه ولې دَ ګټانو او دَ كور دَ مـلـبې نه صحى سلامته اووته ـ هغه ولې ژوندى پاتې شوه ـ شايد د دې بـدې ورځې دَ ليـدو دَ پـاره ؟ هغه به كور په كور ګرځيده او دَ يوې سـوال ګـرې پـه حيـث بـه يـې دَ هـغـۀ دَ پـاره زړې اوريمنې جامـې راغونډولې ـ هغه به يې دَ هغۀ دَ بدن په ميچ پرې كولې او په ګوتو به يې ګنډلې ـ چې هغه به جوړه واغوستله او بهر ته به اووتو نو د رنګ سـاعـت كښـې بـه يـې هـغـه پـه جنګ جهګړو او پرزولو كښې ريخې ريخې كړه او په زانګيدلو چيړانګو كښې به كورته راغى او بله جوړه



www.pukhto.net



بـه يـې واغـوسـتـه ـ دَ هـغـه مور به چې دَ هغۀ حالت ته اوكتل نو لرې لـرې اوښـكې به يې په مخ راغلې خو په خوله به يې ورته هيڅ نه وې او نــه يـې ويـلـې شـو ـ كيـده كيـده چې يو وخت داسې راغى ـ چې دَ سـتـرګو اوښكې يې هم اوچې شوې دَ پردى خدمت نه هم پاتې شوه او دَ خوراک څخاک نه هم ـ بيا به ټوله ورځ په سورى كوټه كښې پرته وه ـ كـلـه بـه يـې دَ كـوټې چهت تـه كتل او كله دَ كوټې په سورى برخه كښې اسمان ته ـ داسې معلوميده چې هغه دَ چا په انتظاروه او دَ هغۀ دَ راتلو لارې سارى ـ

سـلـمـان چې دَ مور دَ ډب ، پړق ، ووړه مكوه او نامنعې نه ازاد شـو نـو نـور هم دَ خپلې مخے شو ـ بيا به كله كله په شپو شپو بهر او دَ يـوبـل پـه در وو ـ يو ځل هغه درې ورځې پس كورته راغى ـ مور چې هغه ته اوكتل نو په سترګو كښې مسكى شوه خو دَ هغې مسكا په هغۀ ظاهره نشوه ـ دَ راتلو سره يې مورته اووې "مورې ډوډى شته"؟ هـغـې هـغۀ ته په خوله هيڅ اونه وې خو د لاس په اشاره يې ورته ځاې پـه نښـخـه كـړو ـ هـغۀ چې دَ اشارې ځاې ته اوكتل نو دَ يوې كاسې دَ پاسـه ډوډى پـرته وه هغه چې ډوډى اوچته كړه نو كاسه دَ تركارى نه ډكـه وه ـ مـعـلـومـه نه ده چې هغه دَ څو ورځو اوږې وو ـ ډوډى ته اړم شو او دومره په توندى سره يې خوړه چې دَ شخوند وهلو ضرورت يې نه محسوسوو ـ يوه نوړى به يې لاتيره كړې نه وه چې بله به يې جوړه كـړې وه ـ چـې ډوډى يـې اوخوړه نو په خوله يې لاس اووهو او مورته

یې اووې "مـورې اوبـۀ" مور دَ هغۀ په حکم دَ پاڅیدو هڅه اوکړه خو پاڅیـدې نشـوه ـ دَ څـو څـو ځله کوشش نه پس یې سر اوچت کړو او کینـاستـه خـو سر یې ټینګ نه کړې شو او سر یې دَ پلالې په بالخت پریـوتـو۔ سلـمان چې هغې ته اوکتل نو هغه بې دمه پرته وه ـ هغه تریـنـه تپوس اوکړو" ولې مورې، ناجوړه یې ؟" هغې ورته په خوله هیـڅ اونـه وې خو دَ لاس پـه اشاره یې ورته اووې چې "نا" هغۀ چې دَ هغې پـه تـنـدی لاس کیښـودو نـو هـغـه لکه دَ اوچ لرګی دَ حرارت او حدت نـه عـاری وو۔ هغـه ته چې دَ هغې دَ بیمارۍ احساس اوشو نو اویـریـدو او پـه یره یـره یې دَ هـغـې نه تپوس اوکړو" ډا . . .ډاکټر درله راولـم مورې ؟ چې هغې ورته "وو"، "نا" اونه کړو نو په خپله پاڅیدو او ډاکټـر پسې روان شو۔ هغه په دواړو بانډو کښې هر چا پیژندو۔ چې دَ ډاکټـر کـلینک ته ورغی نو هلته ډیر رش وو۔ خو هغه نه دَ رش پروا اوکړه او نـه دَ خپـل نـمبـر ـ ډاکټـر لـه نیـغ ورغـی ، هغه یې دَ لاس نه اونیـوو او ورته یې اووې " ډاکټر صیب دا سامان دې راواخله او ماپسې راځه"

ډاکټر (خاندی) څۀ دی لیونیه ؟

سلمان :۔ ډاکټر صیب مورِمِ ناجوړه ده ، راځه چی ځو ۔

ډاکټر :۔ یره سلمانه ، تۀ په رشتیا لیونې یې ۔ ورشه مور دې دلته راوله ۔

سلمان: هغه سرنشی اوچتولې نو دلته ئې څنګه راولم۔

ډاکټر: چې هغه نشی راتلې نو زۀ هم نشم درتلې ، تۀ دې خلقو ته لږ



www.pukhto.net



اوګـوره ؟ دوی پـه ځاې پریږدم او تاسره لاړ شم ؟ څه ګله زۀ دومره اوزګار نه یم ـ چرته بل ډاکټر له ورشه ـ

سـلـمـان ( پـه ژړا شی او په ژړا کښی وائی ) " چی نه راځی نو مه راځه خو کـه زما مور مړه شوه نو زۀ به یې تانه تپوس کوم "۔ دې سره هغه تـه ګـوری ، دَ دهـمـکـۍ ګـوتـه ورتـه خوځوی او په یو شغ دَ کلینک نه اوځـی ـ هـغـه چی کور ته اورسید نو مور ته یې اووې ، "مورې ډاکټر وې دوکان ته یې راوله راپاځه مورې چې هلته ورشو "

دَ سـلـمان دَ تلو نه پس معلومه نه ده چې د ډاکټر په زړۀ کښې څـنګه رحم راغی ـ هغۀ پسې هغه هم په موټر سائیکل سور شو او دَ هـغـۀ کور ته ورغی ـ هغۀ چې دَ هغې سرسری معائنه اوکړه او هغې نـه یـې تپـوسـونـه کول نو هغه ته معلومه شوه چې هغه خبرې نشی کولې ـ ډاکټر چې دَ هغې خوله او مرۍ چیک کړه نو سر یې اوښندو، خپـل سامان یې راغـونـډ کـړو او روان شـو ، سـلـمان چی هغه په تلو اولیـدونـو ورمنډه یې کړه او ورته یې اووې " ډاکټر صیب مورِمِ څنګه ده تاخو ورله نه ستنه اووهله اونه دې ګولۍ ورکړې "۔

ډاکټر صیب:۔ هغې ته د دارو ضرورت نیشته ـ هغې ته د دعاضرورت دې ـ

سـلـمـان:۔ ولـې نیشتـه ډاکټر صیب ، په پیسو مۀ یریږه ما سره شته ـ دارو ورکړه ـ هغه دومره کمزورې ده چې سر نشی اوچتولې ـ

ډاکټر :۔ سلمانه بچې خفه نشې ـ ستا دَ مور په مرۍ کښې بوغمه ده

۔ هغې ته دَ کولۍ ضرورت نشته ځکه چې څۀ خوړلے ځکلے نشی۔ هغې تـه دَ ستـنـی ضـرورت هـم نیشتـه ځـکه چې هغه دَ لږ ساعت میـلـمـنـه ده ۔ څـه ورشـه بـچـی کینه ورسره او دعا ورته کوه " دې سره هغه په موټر سائیکل خپه واړوله او روان شو۔ سلمان په چغو چغو په ژړا شـو او په ژړا ژړا مورله ورغی۔ هغۀ دَ مور په سینه سر کیښودو۔ دَ هغې مخ ، تندې او لاسونه یې ښکل کړل او ورته یې اووې "مورې تۀ زمانه خفه یې ؟ مورې ته ولې خفه یې ؟ مورې تۀ خبرې ولې نه کوې؟ مـورې چی ته لاړه شی نو زۀ به څۀ کوم ...مورې خفه کیږه مه...زۀ بـه بیـا ورانې نه کوم ...چاسره به جنګ جهګړے نه کوم ...ستا هره خبـره بـه منم ... چی ته څۀ وایې هغه به کوم ... مورې زما سبق ستا ارمـان دې زۀ بـه ستـا دا ارمان پوره کوم "۔ بیا لاسونه اوچت کړی ، بره ګوری او وائـی " یاالله تـه زمـا مور ښه کړې ، یاالله ته یې زمانه جدا نه کـړې ۔ میـمـونـه ستـرګې اوغـړوی او دَ هغه سر پسې لاس غزه وی ۔ سلـمـان چې دَ هـغـې پـه نیت پوهـ شی نو خپل سر ورته ټیټ کړی ۔ هغه دَ هغۀ په سر لاس اړدی او شونډې رپوی ۔ سلمان خپل سر دَ هغې پـه سیـنـه کیـږدی ۔ هـغـه دَ هغه سر اومخ ښکلوی ...دَ هغه لاسونه ښـکـلـوی ...دَ هـغې لاس لا دَ هغه په لاسونو پروت وی چې دَ کوټې پـه سـوری کښـې بـره اسـمـان تـه ګوری ۔ دَ هغې سترګی پـه اسمان لـګیـدلـې وی بیـا شونډے رپوی ۔ مسکی شی او مخ دَ هغه په طرف کـوږ کـړی ۔ دَ هـغـې لاس دَ سـلـمـان دَ لاسونو نـه اوخویـږی او لاندې



www.pukhto.net



پـریـوځـی ۔ سلمان چې هغې ته اوګوری نو یوه تندری چغه اووهی او په چغو چغو په ژړا شی ۔ په ژړا کښې وائی " مورې ته چرته لاړې " دَ هـغۀ چغې سره دَ محلت ښځې او سړی لکه دَ مچ میږو را اوچلیږی ۔ دَ هـغـې پـه بـې څو کـه مرګ باندې ښځې او سړی ژاړی ۔ په دې ژړا او انـګـولا کښـې زریـن هـم راشـی ۔ هغـه هم پـه ژړا شی او پـه ژړا کښې سـلـمان ته وائی " سلمانه ، ستا د بدعملۍ دَ لاسه ستا مور زړۀ چاودې لاړه ۔ ستا دَ ورانۍ دب بنیادی ته اووتو "۔

Pukhto.Net

★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★

★★★★★★

★★★★

★★★

★★

★

## دریم باب

وخت تیریدو سره دَ علی زیب او زرغونے مینه نوره هم زیاتیده ۔ هغۀ به چې څه اوګټل نو هغې ته به یې لاس کښې کیښودل ۔ هغې به دَ هغۀ یوه یوه روپۍ شمارله او په کولالۍ خزانه کښې به یې اچوله ۔ په دغه لړه مزدورۍ کښې خدای دومره برکت واچوو چې څۀ موده پس یې پرې یوه چیلۍ واخسته ۔ دغه چیلۍ ډیریده ډیریده چې شلور ، پنځه سره بکرابکرۍ ترینه جوړ شو۔ څۀ موده پس یې هغه ټول خرڅ کړل ، دَ زرغونے والۍ یې هم خرڅې کړې او یوه غوا یې پرې واخسته ۔ چې غوا راغله نو بیا به هغه مزدوری هم کوله او غواله به یې ګیاه هم کوله ۔ دغه رنګې زرغونے به په کور کښې پۍ هم خرخول او ماسته هم ۔ څۀ موده پس هغه دَ زرغونې ګوتمې هم خرڅې کړې۔ دَ پیو او مزدورۍ پیسې یې ورسره کړې او یوه بله غوا یې پرې واخسته ۔ دَ هغوی دَ وادۀ لا دوه کاله نه وو شوے چې په کور ورته دوه غوا اودریدے او دَ یو نوې میلمه د راتلو امید هم پیدا شو ۔ ښځې او خاوند به د دې نوې میلمه ذکر اکثر دَ ماسخوتن هغه محال کوو چې دواړه به نغرۍ ته ناست وو۔ دواړو دَ هغه راتلو ته سترګې نیولې وې او دَ هغۀ دَ راتلو ورځې به یې شمارلې ۔ ورځ په ورځ به دَ هغوی خوشحالی زیاتیده او دواړو به اکثر وې چې دا هر څۀ دَ هغۀ دَ مخه دی ۔ اخر دا چې یو وخت داسې راغی چې دَ انتظار لمحې



www.pukhto.net



ختمې شوې او دَ هغوی نوې میلمه دې نوې دنیا ته راغی ۔ هغه لا پټې سترګې پروت وو چې دَ هغوی بله غوا هم لنګه شوه ۔ ښځه او خاوند دَ ډیرې خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائیدل چې یو خوا خدای یو خائسته ځوی ورکړو بل خوا یې دَ هغۀ دَ رزق وسیلې نورې هم زیاتې کړې۔ علی زیب په خپل واده ډوډۍ نه وه ورکړې خو دَ ځوی په اوومه یې ښه درنه او زړه پورې ډوډۍ هم ورکړه او دَ مشرانو او مُلیانو په خوښخه یې دَ هغه نوم عادل زیب کیښودو۔ دَ اوومے ډوډۍ له دَ کلی دَ ګوتې ګوتې مشران هم راغلل او زنانه هم خو دَ هغه رونه ، دَ هغوی ښځې او بال بچ رانه غلل۔ ویلې کیږی چې ډیر خوارۀ صحت دَ پاره هم ښه نه وی او مینې دَ پاره هم ۔ هم دغسې اوشوه۔ دَ عادل زیب راتلو سره دَ هغوی په مینه کښې کمې راغی ۔ دواړو دَ خپلې مینې نه لړه لړه برخه هغه له ورکړه او چې څومره به وخت تیریدو هومره به دَ هغوی په پیرزونه کښې اضافه کیده ۔ دغه رنګې څه موده پس دَ هغوی دَ مینې لویه برخه هغۀ ته منتقل شوه ۔ هغه لا خړپوسې کولې او پاپلی ته یې ځان جوړه وو چې دَ زرغونے په وینا دَ هغه دَ سنت پروګرام جوړ شو۔ دې دَ پاره هغه دَ کوره پیسې واخستې او بازار ته لاړو چې ښځې او هغه له څۀ جوړې جامې او پالنګ هم راؤړی او څۀ شیرینی هم ۔

دَ سحر نه غرمه شوه ۔ دَ غرمې نه ماسپخین شو خو نه علی زیب راغی او نه دَ هغۀ له خوا څۀ خیر خبر، تر مازیګره پورې هغه

رانه غی۔ خو په بازار دَ یوې لوې چودنې او دَ هغهٔ دَ مرګ اواز راغی۔ ۔ زرغونې چې دَ هغهٔ دَ مرګ خبر ووریدو نو سمه لیونۍ شوه ۔ بورقه یې په سر کړه او خاوند پسې تله چې دَ هغه لاش راغی۔ ۔ هغې چې دَ هغهٔ ټوټې ټوټې لاش ته اوکتل نو په ځان پوهـ نشوه په شا پریوته او بې هوشه شوه ۔ شاه زیب او خان زیب اګر چه دَ هغه په وادهٔ کښې نه وو ناست ، نه یې دَ هغوی مبارکی کړې وه او نه یې دَ خپلې اوندارے مخ لیدلې وو خو چې کله علی زیب مړ شو نو دواړه دَ هغه په لاش غوړیدل او ژړیدل ۔ دَ هغوی دَ رورولۍ دَ مینې او خلوص اندازه دې نه لګی چې دَ هغهٔ په دریمه کښې یې دَ هغهٔ لنګه غوا سره دَ بچې حلاله او خیرات کړه ۔ دَ هغهٔ په څلویښتی۔ کښې یې دَ هغهٔ تندی۔ لنګه غوا سره دَ څخې حلاله کړه او ښه درونډ خیرات یې ورپسې اوکړو ۔ دَ دواړو کلو خلقو د علی زیب په رونړو شابشی اووې او ښهٔ په درناوی رخصت شو۔

زرغونې به چې دَ خپل کور تالان ته کتل نو ډکې سترګې به سرګردانه ګرځیده او په زړهٔ زړهٔ کښې به خټکیده خو په خوله یې هیڅ نه وې او نه یې ویلې شو ځکه چې دا هر څهٔ هغوی دَ هغې خاوند پسې خیرات کړل او که هغې پکښې لږ څه ویلې وې نو بیا به دَ خپلو خپلوانو او دَ کلی دَ مشرانو په نظر کښې سپکه شوې وه۔ هغه په تاوان نه وه ۔ دا هر څهٔ هغه ګټلې وو او هغهٔ پسی لاړل ۔ هغه دَ لنګو غواګانو او دَ هغوی په کچه څخا ، څخو باندې خفه وه ۔ چې دَ



www.pukhto.net



هغې دَ صلاح مشورې نه بغیر دَ هغې ډکې غولانزې غواګانې دَ موګونه پرانستې شوې او حلالې شوې۔ د دغه غواګانو په پیو دَ هغې دَ کور هنډۍ کونډۍ او هټۍ بټیارۍ روانه وه چې څلویښتی اوشوه او میلمانهٔ لاړل نو دواړه رونړه هغې کره ورغلل ، په کټونو کښې کیناستل او هغې ته یې دَ هغې دَ خاوند په باره کښې دعا اوکړه۔ د دعا نه پس شاه زیب اووې " اورندارې څلویښتی دَ خیره ختمه شوه میلمانهٔ ډیر زیات وو خو خدای مو حیا راوسته ، ټول ښهٔ ماړه شو او ټول ښهٔ خوشحاله شو۔ ټولو ورته ښهٔ دَ زړهٔ دَ خلاصه دعا اوکړه ''۔

زرغونه :۔ دا ښهٔ ده چې خدای مو حیا راوسته ۔ هغوی هم ښهٔ ماړهٔ او خوشحاله او تاسو هم خوشحاله شوی۔

شاه زیب:۔ اورندارې ته به غواګانو پسې خفه یې خو خفه کیږه مه ۔ دا دَ هغه نه ښهٔ نه وې او که ته وای نو زهٔ به خپله لنګه غوا راولم او تاته به یې په موګی اوتړم خو زما کور هم ستا دَ پاره څهٔ پردې نه دې۔ چې څهٔ دې پکار وی اواز کولې شې۔

خان زیب :۔ اورندارې که ته غوا پسې خفه یې نو زما هم توره چرګی۔ فارمی۔ غوا تندی۔ لنګه ده اوس به یې راولم او تاته به یې په اخور اوتړم۔

زرغونه :۔ نه لالا زهٔ به ولې خفه کیږم ۔ دا دَ هغه مال وو او هغهٔ پسې لاړو ۔ زهٔ خوشحاله په دې یم چې په ما یا زما په خاوند دَ چا احسان پاتې نشو۔

شاه زیب دَ هغے دَ غیږ نه عادل زیب اخلی په خپله غیږ کښې یې کینوی او وائی " اورنداريِ که رشتیا راباندې وایې نو هغه خو تیره کړه ۔ دَ هغهٔ نه زیات زهٔ په دې یتیم ماشوم او په تا خفه یم ۔ څه یره چې مونږ له یې خدای راکوی نو تاسو له به یې هم درکوی ۔ چې څهٔ زمونږ در غریبی ده هغه مو وریسې اوکړه او نور تاوان ته هم تیاریو۔ احسان درباندې نه کوو۔ هغه مو رور وو او ته مو اورنداریې ۔

خان زیب :۔ نه یره رورولی کښې دَ احسان خبره نه وی ۔ دغه لس شل زره روپۍ که پرې زمونږ اولګیدې نو څهٔ دومره لویه خبره نه ده ۔

زرغونه :۔ لس ، شل زره روپۍ ؟

شاه زیب:۔ هاؤ اورنداريِ ، دولس زره روپۍ دَ دهٔ لګیدلې دی او پنځلس زره روپۍ زما لګیدلی دی او دَ کولال دَ دیګونو درې زره روپۍ لا په سر پرتې دی ۔ دا ټولې دیرش زره روپۍ جوړیږی ۔

زرغونه :۔ دیرش زره روپۍ ؟

خان زیب:۔ دې کښې دَ ګور کفن او سقاط خرچه نه ده جمع شوې۔

زرغونه :۔ هغه پرې لا تیرې دی ؟ هغه څومره دی ؟

خان زیب:۔ هغه دومره نه دی ۔ ټولې ټالې اته زره روپۍ دی ۔ دَ ګور کفن سودا مو دَ فیض الله دوکاندار نه راؤړې ده ۔ هغه پیسی لا مونږ نه دی ورکړې ... دا څهٔ دومره مسله نه ده ۔ که تا سره نه وی نو زهٔ به یې ورکړم ۔

زرغونه :۔ نه لالا تاسو تکلیف مهٔ کوی ، ستاسو هم وارهٔ وارهٔ بچی



www.pukhto.net



دی ۔ دَ هغهٔ د ګور کفن پیسې به زه ورکوم ۔ دا ټولې اته زره روپۍ شوی۔

شاه زیب :۔ هن رشتیا ، دوه زره روپۍ ما دَ مړی ډاټسن له ورکړی دی ۔ دا ټولې څلویښت زره روپۍ شوې ۔

زرغونه :۔ څلویښت زره روپۍ ؟

شاه زیب:۔ وه نیک بختې تانه چا غوښتې دی ، که درسره اوشوې نو رابه یې کړې او که اونشوې نو وی دې۔

خان زیب:۔ هاؤ یره دا دَ ګور خبره ده ۔

شاه زیب:۔ زهٔ درنه ځم ، که څهٔ ضرورت وی نو ویلې شی ۔

زرغونه :۔ نه لالا هیڅ نیشته ۔ ځی ورځی ۔

شاه زیب :۔ ښه نو لاړو درنه ۔ سلام علیکم ۔

زرغونه :۔ په مخه مو ښه ، شاه زیب او خان زیب دواړه اوځی ۔

★★★★★

## دویمه برخه

دَ مور دَ مرګ نه پس دَ سلمان په ژوند کښې لوې انقلاب راغی ۔ هغه به سحر وختی دَ مور قبر له تلو او تر ناوخته پورې ورته ناست وو، دَ هغې قبر ته به یې کتل او ژړل ۔ هغه دَ ګور سامان راغونډ کړو یوه بوجۍ کښې یې بند کړو او یوې ګوانډې جمالې ببو کره یې کینښودو۔ بیا به یې ورځ بهر تیروله او شپې له به هغوی کره تلو، هغه مور سره وعده کړې وه چې هغه به ورانې نهٔ کوی ، جنګ جهګړې به



Pukhto.Net پښتو

نه کوی او خپل سبق به وائی ـ وخت تیریدو سره هغه دغه دواړه وعدې پوره کړې نه یې ورانې کوو، نه یې جنګ جهګړې کولې نه یې په چا اواز کوو، نه یې چا سره ملګرتیا کوله ، نه یې چا سره لوبې کولې او نه یې چا سره ډله ټپله کوله ـ یواځې به ګرځیدو او ځان سره به ګونیدو، که چا به پرې اواز اوکړو نو هغه به نه اوریدو ـ که چا به ترینه څۀ تپوس اوکړو نو جواب به یې نه ورکوو ـ که چا به ورته ټونګه واچوله نو هغه به ترینه ځنګ اوکړو ـ چې چا به ډیر تنګ کړو نو دَ هغۀ کور ته به ورغی او دَ هغۀ مور پلار ته به یې ګیله اوکړه ـ هغوی به خپل ځوی اووهو او هغه له به یې دَلاسه ورکړه ـ د کلی خلقو له به دَ هغه په حالت رحم ورتلو ـ هغه به زیات وخت هدیره کښې تیره وو ـ دَ مور قبر ته به یې ډېره وهلې وه ، سترګې به یې پټې کړې وې او پټو سترګو به ځان سره لګیاؤ څۀ به یې وې ـ کله به یې ډکې راواخستو او په زمکه به یې کرښې ویستلې ـ هغه ډیره موده په دغه حالت کښې وو ـ بیا به په لارو ، کوڅو کښې او په ډهیرانو ګرځیدو ډک کاغذونه به یې غونډول او تش به یې پریښودل ـ څۀ به یې په ترخ کښې اوټومبل او څۀ به یې په لاسونو کښې اونیول ـ یو خوا ته به کیناستو او ټوله ورځ به یې هغه کتل ـ اوس دَ ځینې خلقو په مختلفو پیش ګویو کښې یوه صحی ثابت شوه چې " دې به لیونې کیږی " هغه ته به چې خلقو کتل نو غوږونو له به یې ګوتې اوړے او توبې به یې ویستلې ـ یوه ورځ هغه په لاره روان وو، یو کاغذ



www.pukhto.net



یې مخ ته نیولې وو او هغې سره په مشغوله وو ـ په دیکښې یو کانړې راغی او هغه په سر اولګیدو ـ هغۀ چی روستو اوکتل نو یو هلک منډې وهلې ـ هغه اوپیژندو چې دَ مامدی ځوې رحمتې دې خو هغه پسې یې دَ نیولو هڅه اونکړه ـ خپل لاس یې په سر کیښودو ، دَ هغوی کور ته ورغی او په ډکو سترګو یې دَ هغۀ مورګل برو ته اووې " یَه ببو دې ځوی ته دې ګوره کنه چې زۀ یې هیڅ بې هیڅه په سر په کانړې اوویشتم ـ

ګل برو: ـ ته هم ټک لاسکے یې ـ تا به ورته څۀ ویلې وی کنه ـ هسې خو ځوک ویشتل نه کوی ـ

سلمان : ـ قسم درته خورم چی ما ورته هیڅ نه دی ویلې ـ زۀ په لاره روان ووم چې دَ روستو نه یې راباندې دَ کانی ګزار اوکړو او په سر یې اویشتم " ـ ګل برو دَ هغۀ خوا له ورغله ـ دَ هغه دَ سر نه یې چې دَ هغه لاس لرې کړو او ورته یې اوکتل نو دَ هغه په سر کښې ډوغل جوړ شوې وو ـ دَ هغۀ ویښتۀ او لاس دَ وینو رنګ بنګ وو ـ هغې ورله په زخم غوړ مالوچ کیښودل او ورته یې اووې ، "خفه نشې بچی ، دې به کورته راځی او که نه ، داسې به یې اوټکوم چې ټول عمر به یاد لری " ـ

دے سره ترینه سلمان بهر اووتو هغه لا په لاره روان وو چې دَ روستو نه پرې ډاکټر سهیل راغی ـ هغه ورته موټرسائیکل اودرو او تپوس یې ترینه اوکړو " چرته روان یې لیونیه " ؟

سلمان:۔ تۀ خو راته لیونې مه وایه کنه ډاکټر صیب ۔ ته اوګوره رحمتی په سر په کانی اوویشتم " ډاکټر چې دَ هغه دَ سر نه پشم لرې کړو نو وې وئیل " اوهو هو ۔ دا خو لوې زخم دې ۔ راځه ما پسې کینه چې پټې درله اوکړم "۔

هغه ډاکټر پسې کیناستو چې کلینک ته اورسیدل نو ډاکټر دَ هغه دَ زخم ویښتۀ کټ کړل او دَ هغې صفائی یې اوکړه ۔ پوره پنځه ټکونه یې ترینه اوویستل او زخم یې ورله اوګنډو ، چې پټې یې ورله اوکړه نو بیائې ورله ستنه هم اووهله او ګولۍ یې هم ورکړې ۔ ډاکټر به خپل کار هم کوو او هغه سره به یې خبرې هم کولې ۔ په خبرو خبرو کښې ورته ډاکټر اووې " سلمانه بچې مور پسې خفه یې " ؟

هغه ورته په ډکو سترګو اوکتل او دَ جواب په ځائې یې دَ خولې نه "چپ" اوویستلو ۔

ډاکټر :۔ جنګ جهګړې مۀ کوه بچې ۔ اوس خو دې مور هم نیشته چې څوک ورته ګیله اوکړی ۔

سلمان :۔ دَ جنګ جهګړو او ورانۍ نه مې توبه ویستی ده۔

ډاکټر :۔ ډیر دې ښه کړی دې۔ مشران وائی چې جنګ دَ سپو کار دې۔ ته خو انسان یې او په انسانانو کښې څومره ښکلې او خائسته یې۔

سلمان:۔ اینې ته ګوره کنه ډاکټر صیب ، په والله که مالیدلې هم وو۔ بې ښې بې بدې یې راباندې دَ شانه دَ کانی ګزار اوکړو او پټو ته یې منډه کړه ۔ که ما ورسره جنګ کولې نو تختیدې رانه نشو۔ هلته به


www.pukhto.net



مې ترینه خپل بدل اخستې وو خو ما مې مور سره وعده کړې ده چې زه به چا سره نه جنګ جهګړه کوم او نه به ورانې کوم ۔

ډاکټر (مسکې شی ) دغه شان نر سړیه ۔

سلمان :۔ خو اوس مې دوی نه پریږدی ۔ چې په کومه لاره ځمه نو چغې وهی "لیونې راغی" ډاکټر صیب ، چې زه لیونې ووم نو دا ټول مې نیغ کړی وو خو اوس چې زۀ سم شوم نو دوی راپورې ځان مړی"۔

ډاکټر :۔ خیر دې بچې ، ته ګزاره کوه څه ورځه ۔ ډیر مۀ ګرځه لږ ارام اوکړه ۔

سلمان :۔ ډاکټر صیب ۔ ستا څومره پیسې شوې۔

ډاکټر :۔ (مسکې شی ) دَ سلمان دارو دُرمل وېړیا دی ، څه ګله څه۔

★★★★★

## دریمه برخه

دَ علی زیب دَ مرګ نه پس زرغونه بالکل یوازې شوه ۔ دَ هغې دَ تنهائی احساس دَ هغې نه زیات شاه زیب او خان زیب ته وو ځکه چې ځوانه جانه ښځه به په کور کښې دَ یو ماشوم ځوی سره پرته وه ۔ دَ هغې دَ غمه به هغوی له دَ شپې خوب نه ورتلو او په تیره تیره خو خان زیب دَ هغې دَ حیا په خاطر په خپل سر هم اړه نه لرله۔ هغه به ټوله شپه پټ په پټه دَ هغې دَ کور څوکۍ کوله هغې کره که لږ کرپ کروپ به اوشو نو زر به دَ کټ نه پاڅیدو او په دیوال به یې ورته سر اوچت کړو ۔ چې دَ هغې پوره جائزه به یې واخسته او تسلی

به يې اوشوه نو بيا به په خپل کټ کښې ملاستو ۔ ملاست به کور وو او غورېونه به يې دَ چاپيريال کش ، کړپ ته نيولی وو۔ څو څو ځله ورته ښځې په سختۍ سره ويلی وو۔ چې " پردی کور ته په ديوال سراوچتول ښه کار نه دې "۔ خو هغه به جواب ورکړو " واه پردې ولې دی ۔ دَ هغې حيا زمونږ دَ ټولو حيا ده ۔ زمونږ نه بغير دَ هغې نور څوک دی " ؟ دې سره به هغه چپ شوه او دَ هغهٔ په صله رحمۍ کښې به نوره هم اضافه اوشوه ۔ يو ځل دوه هغهٔ زرغونې ته اوورونه هم کړې وه چې د دوارو کورونو دَ مينځ ديوال که لرې کړې شي نو دواړه کورونه به يو انګڼ شی او دَ څوکۍ کړمې به ختمې شی خو زرغونې اونه منله او هغه ته يې صفا اووې چې "زما دَ څوکۍ غم مهٔ کوه ، زهٔ خپل تحفظ کولې شم "۔ دا خبره هغې دَ خان زيب ښځې دلبرو ته هم اوکړه او دلبرو ټکې په ټکی سره دَ مرچ مسالے خپل خاوند ته رسولې هم وه خو هغهٔ دَ ښځې خبرې سره اتفاق نه کوو۔ او نه دَ اورنداري خيال سره ۔ کله کله به دَ شپې په توره تياره کښې په ديوال وراوختو او دَ هغې اندازه به يې اخسته ۔ چې هغه به دَ هغهٔ په ښکالو پو هـ شوه نو په کټ کښې به کيناسته او دَ هغه نه به يې تپوس اوکړو ، " ولې لاله څهٔ دی " ؟ هغه به جواب ورکړو هيڅ نشته ، هسې څهٔ شک مِ راغلې وو۔ ښهٔ په قلاره سمله ، هيڅ نيشته زه ويښ يم "۔ چې دَ هغې عدت پوره شو نو په سر يې ډکې ډکې شکرۍ خاؤره راؤړه ۔ دَ کور ټولې سوړې يې ټپې کړې او ټول کور يې خاره کړو۔ دَ غولی لوره ، جوره يې هواره


www.pukhto.net



کړه او کندې کوندې يې ډکې کړې ۔ دا ټول کار هغې دَ سحر نه تر مازيګره پورې په يوا ځې تن اوکړو ۔ بيا يې اولامبل صفا جامې يې واغوستې ، اينه دنداسه او سرخڼه يې اوکړه ۔ هغه دومره ستړې شوې وه چې دَ ماښام ډوډۍ يې په پټو سترګو اوخوړه او چې څنګه کټ کښې سملاسته نو دَ ملاستې سره اودهٔ شوه ۔ هغه په درونډ خوب اودهٔ وه ۔ عادل زيب ورسره اړخ کښې اودهٔ پروت وو خو خوله يې لا هغسې دَ هغې دَ پيو په چينه پرته وه ۔ او په خوب کښې به يې هم کله کله خوله وهله ۔ دې سره به دَ هغهٔ دَ خولې دَ چُوس چُوس اواز په خاموشه فضا کښې خوريدو او دَ مينې او ايثار خوند به پيدا کيدو خو زرغونه د دې هر څهٔ نه بې نيازه وه ۔ هغې په خوب کښې دَ عادل زيب پلار سره خبرې کولې ۔ هغې ته داسې معلوميده لکه چې هغه هغې سره په اړخ کښې پروت دې او دَ هغې ستومانه بدن دَ خپل بدن په حرارت ټکوره وی ، کله کله به هغه دَ هغې دَ بدن حساس ځايونه هم لټول ۔ دې سره به هغه اوشرميده اوپه مسکا مسکا به يې دَ هغهٔ لاس دَ خپل بدن نه لرې کړو ۔ په دغه ټوقو ټقالو کښې دَ هغې سترګې اوغړيدې اوچې اړخ ته يې اوکتل نو دَ عادل زيب په ځاې ورسره بل سړې پروت وو۔ دَ هغهٔ دَ خولے فيډر دَ هغهٔ په خوله کښې وو او عادل زيب په بل کټ کښې اودهٔ وو۔ دَ هغې دَ مينې مسکا دَ قهر په سره لمبه کښې بدله شوه ۔ هغې ځان راغونډ کړو او چې لته يې ورکړه نو هغه يې دَ کټ نه لرې اوغورځوو۔ چې هغهٔ بيا دَ هغې کټ

له دَ ورتلو کوشش کوو نو هغه هم پاڅیدلې وه ـ دَ اوسپنې په ډنډه یې په سر داسې ګزار ورکړو چې ګزار سره را اوپړقیدو او په زمکه بې هوشه را پریوتو ، بې حسه ، بې حرکته ، دم ختلې او شرمیدلې ـ زرغونې دَ خپلې حیاله خاطره په خوله هیڅ اونه وې خو دَ خپې نه یې اونیوو او تنوره پورې یې راخکو ، بیا یې تنور سره اډه کړو ، په تنور اوخته ، په غیږ کښې یې اوچت کړو او په دیوال یې دلبرو کره ورواړه وو۔ تر غرمې پورې چپه چپیاوه البته ماسپخین دلبرو په دیوال سر اوچت کړو او هغې ته یې اووې ، "زرغونې خورې ښنګه یې"؟

زرغونه :ـ سلام کوم بابی ، ته ښنګه یې ، لالا مِ ښنګه دې ـ

دلبرو:ـ یَه خورې لالا دې بیګاه اوبه خورله تلې وو۔ پیریانو یرولې هم دې او وهلې هم ـ

زرغونه :ـ یَه بابی لالا مِ لا دې ـ دې دَ پیریانو ځاې ته ولې تلو ـ دا ښه ده چې دَ مرګه بچ شو۔

دلبرو:ـ دَ مرګه بچ شو خواوس هم په بې هوشی کښې چغې وهی چی " بیا به نه کوم "۔

زرغونه :ـ یَه بابی دَ انسان او پیری دشمنی چرته کیدیشی چی سم ګرځی نو هیڅ نیشته ـ دا ټول زمیدار په تیاره شپه کښې اوبه خورې کوی ، هغوی ته خو چا هیڅ اونه وې خو دهٔ به هم څهٔ کړی وی ځکه یې وهل اوخوړل ـ

دلبرو:ـ ستا خبره رشتیا ده خورې ، چې اوړه نهٔ خوری ، بوئې ترې نه


www.pukhto.net



ځی ، د دهٔ هم مخ دَ وینځلو نه دې ـ کله کله یې لاس خپې خاربښتیږی ـ کیدیشی څهٔ غلط حرکت یې کړی وی ـ

زرغونه :ـ څه خداې دې درته نور خیر پیښ کړی ـ دا به د دهٔ په نصیب پرته وه ـ لالا ته مِ زما دَ خوې پوښتنه کوه "۔

دَ خان زیب ښځه دَ هغهٔ په وهلو شک منه شوه خو هغې هم په اشارو کنایو کښې خبرې اوکړې او زرغونې هم بهوسو کښې اوبه بوتلې ، بهرحال خبره پته پاتې شوه او یو غوږ او بل غوږ ترینه خبر نشو۔

★★★★★

## څلورمه برخه

دَ سلمان دَ سبق شوق دَ لیونتوب حد ته رسیدلې وو خو نه ورسره کتاب وو نه کاپئ نه قلم پنسل او نه ورسره پیسې وې چی دغه لوازمات پرې ځان له واخلی ـ چې دَ ډهیرانونو اولارو کوځو کاغذونه یې اوکتل نو بیا به یې کله کله د فیض الله دوکاندار دَ ردی نه دوه څلور پاڼې واخستې او هغه به یې کتلې خو په دې باندې دَ هغهٔ سود نه کیدو ـ خپلو سوچونو او فکرونو کښې به ستړې ستومانه ، او زانګیدلې ګرځیدو ـ په دغه ګرځیدو ګرځیدو کښې هغه یو ورځ هغه سکول ته لاړو چرته چې هغهٔ ته داخله نه وه ورکړې شوې۔ هلته دَ سکول مخې ته دَ چولهو والا سره کیناستو او دَ سکول کمرو او وړو ته به یې په مایوسه نظر کتل ـ هغه ته دَ خپل سکول هغه تیر وخت رایاد شو چې کله کله به هغه دَ یو ګوتې په بهانه دَ سکول نه اووتو ،

ګونګړی به یې اوخوړل او بیا به په منډه منډه سکول ته ننوتو ـ هغه ډیره شیبه په دغه خیالونو کښې مراقبه وو۔ بیا یې په لاس زمکه صفا کړه او په ډکی یې په زمکه لیکل شروع کړل ـ چې ځومره به لیکل لاندې راتلل نو هغه به په بل لاس زمکه صفا کوله او روستو به ورپسې ترخیدو ـ هغه دَ وړو دَ چُهټی پورې هلته ناست وو او په دغه کار کښې مصروف وو۔ چې کله هلکان د سکول نه اووتل نو هغه هم پاځیدو او دَ هلکانو په یوه ډله کښې شامل شو ـ دې نه پس دا دَ هغهٔ معمول شو چې هر سحر به دَ سکول هلکانو سره سکول پورې تلو ـ چې هغوی به سکول ته دننه شو نو هغه به یو خوا ته کیناستو او په خوارو خوارو سترګو به یې هغوی ته کتل ـ چې هغوی به په سکول کښې دَ علامه اقبال دعا ویله چې :

لپ پہ آتی ہے دعا بن کے تمنّا میری
زندگی شمع کی صورت ہو خدایا میری

نو دَ هغهٔ دَ سترګو نه به اوښکې روانې وې ـ دَ هغهٔ خولې ته به راتلې او هغه به په ډډ اواز کښې ګونیدو او دغه دعا به یې ویله ـ دې نه پس به چې هغوی قومی ترانه شروع کړه نو هغه به هم ورسره ویله ـ چې ترانه به ختمه شوه او هغوی به خپلو خپلو کمرو ته لاړل نو هغه به هم غلې غوندې پاځیدو او یوې کړکۍ سره به غلې غوندې اودریدو۔ چې استاذ به خپل کار شروع کړو او په تخته سیاه به یې لیکل کول نو هغه به ورته دَ بهر نه په جالۍ کښې کتل خو دَ کلاس معلومات


www.pukhto.net



ورته نه وو ـ هغه خپل کوشش جاری اوساتو او آخر یې دَ اووم جماعت کمره معلومه کړه ـ بیا به کړکۍ سره ولاړ وو او دَ استاذ سبق به یې اوریدو۔ په دې دې کښې ډیرې ورځې اووتې او هغه ټول سبقونه هغهٔ یاد کړل کوم چې هغه اوریدلی وو۔ څهٔ موده پس پرې د جماعت هلکان پوهـ شو۔ هغوی به ورسره په اشارو او پس پسو کښې خبرې کولې او هغه پورې به یې خاندل ـ چې په جماعت کښې به پس پسې شروع شو نو دَ نورو هلکانو ذهنونه او خیالات به منتشر شو۔ اخر دا چې یو ځل یو استاذ اولیدو او دَ هلکانو نه یې دَ هغهٔ په باره کښې تپوس اوکړو ـ مخکښې خو هلکان خاموش وو خو چې هغهٔ په خپله خبره زور راؤړو نو یو هلک پاځیدو او ورته یې اووې چې " دا لیونې دې جی مونږ دَ کاره اوباسی ، دې نه پس پرې ټول استاذان خبر شو ـ هغوی پکښې بیا نورې نورې خبرې راوستی ـ چا وې دې زمونږ هلکان دَ کاره اوباسی ـ چاوې دې هلکانو پسې راځی ـ چا وې لیونې دې دهٔ نه څهٔ غواړی ، بل پکښې اووې لیونې دې او که سپلنې دې خوښه ټکول غواړی چې بیا په دې طرف رانشی ـ هم دغسې اوشوه ـ چې کلاس شروع شو او هغه ورته په کړکۍ کښې اودریدو نو دَ استاذ په اشاره څلور هلکان دَ کمرې نه بهر اووتل ـ هغه دَ استاذ سبق ډیر په غور سره اوریدو او دَ هغهٔ دَ خولې یوه یوه خبره یې په ذهن کښې کینوله چې په دیکښې څلور هلکان راغلل او هغه یې دَ مخکښې روستو نه ګیپ اونیوو۔ او په ډنګه ډولۍ یې سکول ته

بـوتـلو ۔ استاذان ورپسې دَ کمرو نه را اووتل ، لکه دَ یو خطرناک مجرم یې پـه ګیـره کښې واخستـو ۔ دَ هغـهٔ نـه یې هډو دَ تپوس ضرورت مـحسـوس نـه کړو او چوکې یې ورته اونیوې ۔ دَ هرګزار سره به هغه ټوپ وهـلـو خـو نـه یې چغه اوهله او نه یې ویش اوکړو ۔ چې هغوی پرې چوکې ماتې کړې نو بیا پرې په لتو شروع شو ۔ په دیکښې جان مـحمد استاذخبر شو ۔ هغه ساه نیولې په منډه منډه راغی۔ هغه یې د استـاذانـو دَ ګرفت نه ازاد کړو او ورته یې اووې " ځه بچې ځه، خفه نه شې" هغه پاځیدو خپلې جامې یې اوسنډلې او روان شو ۔ هغه دومره پـه تـنـدۍ روان وو لـکـه یـو مـاشوم چې بهر اووهلې شی او خپل مور پـلار تـه دَ فریاد کولو او دَ خپل بدل اخستو د پاره کور ته منډې وهی۔ چې خپـلې کـوټې ته اورسیدو نو دَ پلالې نه یې سپی پاره کړل او په خپـلـه پـکښـې ورنـنـوتو ۔ هغه دومره دړدیدلې وو چې دوه ورځې بې دمـه پـروت وو۔ بـله ورځ چې هغه پاځیدو نو ډاکټر سهیل له ورغی۔ هغـه اوزګـار وو او دَمریضانو په انتظار وو ۔ ډاکټر چې هغه اولیدو نو مسـکې شـو او پـه مسـکـا یې اووې " اشنا دا دومره ورځې چرته وې ، هډو ښـکاریدې نه ۔ ولې چرته تلې وې که ناجوړه وې ؟ (هغه له لاس ورکوی)'' اف فو فو . . . تانه خو لمبې خیژی ۔

سلمان :۔ ځکه خو تاله راغلم چې یوه ستنه راله اووهی۔

ډاکټـر:۔ ورشـه دغـه مـخامـخ ولـه کښې اودریږه ، مخ لاس اووینځه ۔ چې تبه درنه لاړه شی نو بیا راشه ، ستنه به درله اووهم ۔



www.pukhto.net



سلمان :۔ چې تبه رانه لاړه شی نو بیا دَ ستنې وهلو څهٔ ضرورت دې۔

ډاکټر:۔ دا بیا هم راتلې شی ۔

سلمان :۔ ډاکټر صیب ماله داسې ستنه اووهه چې دَ تبې راتلو حاجت پاتې نشی ۔

ډاکټـر:۔ داسې ستنې خو لا نه دی راوتې چې یو ځل یې اووهې او بیا یـې ضرورت نشی پیښیدې ۔ بیماری دَ انسان ژوند سره تړلې څیز دې ۔ چې انسان ژوندې وې نو مرضونه به پرې خامخا راځی۔

سلمان :۔ ماله داسې ستنه اووهه چې د دې هر څهٔ نه بې غمه شم۔

ډاکټر:۔ څهٔ مطلب ؟

سلمان :۔ په مطلب پو هـ نشوې ډاکټر صیب ؟

ډاکټر:۔ د دې نه خو به یو په مرګ خلاصیږې ګینې نه ۔

سلمان :۔ زهٔ هم درنه دغه غواړم ۔

ډاکټر:۔ خپل ژوند ختمول غواړې ؟

سلمان :۔ بالکل ، هم دغسې ۔

ډاکټـر:۔ ژونـد دَ خـدای نـعـمت دې بچې ۔ ناشکری مهٔ کوه ۔تهٔ ایله دَ تبې دَ لاسـه خپـل ژونـد ختـمـول غـواړې ؟ تـهٔ خو ډیر نر هلک وې دا دومره بُزدل ولې شوې ؟

سلمان :۔ که زما په ځای تهٔ وې نو ته به هم دې ته تیار شوې وې ۔

ډاکټر:۔ مور پسی خفه یې ؟

سلمان :۔ هغه ما پسې خفه ده ، ما غواړې ۔

Pukhto.Net

ډاکټر :۔ ته رشتیا لیونې یې ۔ ځکه خو درته خلق لیونې وائی چه روغ نه یې ۔

سلمان :۔ ډاکټر صیب ، دا دې خاطر خو که بیا دې ماته لیونې اووې نو ښۀ به نه وی ۔ زۀ په څۀ لیونې یم ؟ زۀ لیونې نه یم خو تاسو او دې ټولو خلقو لیونې کړم ۔ تاسو ټول لیونی یې۔ دا دنیا لیونی ده ۔ تاسو ټول لیونې یې . . .لیونی "۔

هغه قمیص اوباسی ، هغه ته شا کړی او ورته وائی " دا اوګوره ډاکټر صیب ، زۀ لیونې یم که دا خلق لیونی دی او تۀ دَ ټولو نه زیات لیونې یې چې ماته لیونې وائې "۔ ډاکټر چې دَ هغه ملا ته اوګوری نو په جذباتی انداز وائی " دا چا په چوکو وهلې یې ۔ ستا په ملا دا تغمې ؟ دا چا وهلې یې ؟

سلمان :۔ بے ښې ، بے بده ، هیڅ بې هیڅه یې راګیر کړم او په چوکو یې اووهلم ۔

ډاکټر :۔ چا اووهلې ؟

سلمان په خوله هیڅ اونه وې او چپه خوله په یو شغ دَ کلینک نه اووتو

★★★★★

## پنځمه برخه

دَ خان زیب نه پس شاه زیب زرغونې کره خپه اوړده کړه۔ په ورځ کښې به دوه ، درې ځله دَ عادل زیب لیدو دَ پاره ارو مرو دَ هغې کور ته ورتلو ۔ دَ عادل زیب مینه دَ هغه په زړۀ کښې ورځ په ورځ



www.pukhto.net



زیاتیده ۔ دَ هغۀ مینې دومره لیونې کړې وو چې کله به یې هغه په زړۀ را اووریدو نو ټکنه غرمه یا ماسخوتن تیارۀ به هم دَ هغۀ لیدو له کورته ورتلو او ځان سره به یې دَ هغۀ دَ پاره دَ خوراک او لوبو څیزونه هم اوړل ۔ چې ترڅو به یې هغه لیدلې نه وو یا به یې ورسره لوبې نه وې کړې نو دَ خپو تلی به یې هم سوزیدل او کټ کښې به یې ډډه هم نه لګیده ۔ دَ راتلو سره به یې هغه دَ مور دَ غیږې نه واخستو ، ښکل به یې کړو ، سینې پورې به یې اومږو ، ورسره به یې کله په زمکه او کله دَ علی زیب په ډبل بیډ کښې لوبې کولې ۔ زرغونې به چې دَ هغوی لوبو ته کتل نو خپل خاوند علی زیب به ورته مخکښې شو او هغې ته به داسې ښکاریده لکه دَ شاه زیب په ځای ورسره علی زیب لوبې کوی ۔ وخت تیریدو سره دَ هغۀ مینه دَ لیونتوب اخری حد ته اورسیده ۔ په کور کښې به یې خپل بال بچ ځان ته نزدې هم نه پریښودل او که ورنزدې به شو نو هغه اوچ ترق به یې ترینه اوویستلو چې په چغو اوژړا به یې مورله منډه کړه ۔ دیکښې ډیرې خبرې وې خو یوه پکښې دا وه چې هغه ډیر خائسته وو ۔ هر وخت به لکه دَ چینی ګوډاګی پاک او صفا ښکاریدو ۔ دویمه دا چې خپله وینه یې وه۔ دریمه دا چې یتیم وو او دَ مړ رور سترګې وې ځوک پردې نه وو۔ هغه دا غوښتل چې هغه ورله هغه مینه ورکړی دَ کومې نه چې هغه محروم پاتې شوې وو۔ دې دَ پاره هغۀ دَ زرغونې مور سره هم خبره کړې وه او د لافروزې ترور ته یې هم ویلې وو ۔ دَ هغۀ دَ خولې خبره

هغې تـه رسیـدلې وه خو هغې دواړو له جواب ورکړې وو چې هغه دَ علـی زیـب په امانت کښې خیانت نشې ـ کولې د دې صفا او واضحه جواب باوجود هم هغه ناامیده نه وو ـ خپلې هلې ځلې یې برابر جاری ساتلې وې ـ دَ هغې دَ غیرِ نه دَ عادل زیب په اخستو کښې او دَ هغې غیـرِ تـه پـه رسولـو کښـې دَ هغـه لاس ځـو ځـو ځله خطا شوې وو او زرغـونـې تـه دَ هغې احساس هم شوې وو خو هغې پرې خپه راخکله او دا یـې دَ هغـهٔ بې خیـالـی او لا پـروائـی اوګـڼـلـه خو دَ هغې ضبط وبرداشت هغهٔ دَ هغې اخلاقی کمزوری اوګڼله او دَ هغهٔ دَ مهم جولۍ پـه جرأت کښـې نـوره هـم اضـافـه اوشـوه ـ دَ هغهٔ ښځه مرجانه د ځو ورځـو راسې دَ خپـل کشر رور دَ وادهٔ په منډو تړړو کښې په طوری بانډه کښـې سـره دَ خپـل بـال بـچ مـصروفه وه ـ شاه زیب دا موقعه غنیمت اوګڼـله او هغه به وخت بې وختـه زرغونې کره راتلو او عادل زیب سره بـه یـې لـوبـې کـولـې ـ یـوه ورځ یې دَ عادل په لاس کښې دَ سلو روپو نـوټ کیښـودو ، هغه یې ښکل کړو او دَ مور غیـږې ته یې اورسوو ـ بله ورځ یـې هغـه له دَ پنځو سوو روپو نوټ ورکړو ـ ښکل یې کړو او مور لـه یـې ورکـړو ـ پـه دریمه ورځ یې د هغه په لاس کښې دَ زر روپو نوټ کیښـودو او دَ مـور غیـږې تـه یې اورسوو خو دَ هغهٔ دَ ښکلولو په ځاې یې دَ هغه مور ښکل کړه ـ زرغونه په خپـل خیال کښې وه ، هغه ورته ډکـې سـترګـې ولاړه وه او هـغـهٔ ښـکـلـولـه خو چې کله هغه کښې دَ حیـوانیـت جذبه راغله او سترګې یې بدلې شوې نو هغه روستو شوه



www.pukhto.net



او کـوتې ته یې منډه کړه شاه زیب ته ډیره ښه موقعه ملاؤ شوه ـ هغه هـم ورپـسـ ورمـنـډه کـړه هـغـې چـی ځان پسې ورپورې کوو نو هغـه وررسیـدلې وو ـ چې هغه ورتـه لاس اچوو نو هغې ورته په ژړا او سلګو کښـې اووې " تـه زمـا نـه څـهٔ غـواړې " ؟ هغهٔ دَ جذباتو په بهیر کښې جواب ورکړو "مینه"

زرغونه :ـ دَ پلار مینه که دَ رور ؟

شاه زیب :ـ دَ خاوند مینه ـ زهٔ تاسره وادهٔ کول غواړم ـ

زرغـونـه :ـ زهٔ تاسره وادهٔ نشم کولې لالا ـ ما وادهٔ ته مهٔ مجبوره وه ـ ما خپـل خاوند سره لوظ کړې دې چې زهٔ به دَ هغه په وفا کلکه ولاړه یم ـ ته تلې شې ـ

شاه زیب :ـ زهٔ تلو له نه یم راغلې ـ زهٔ به هله ځم چې زما مقصد پوره شی ـ

زرغـونـه :ـ پـه زور کـلـی نـه کیږی لالا ـ مړه مِ کړه ، ټوټې ټوټې مِ کړه ـ خون مِ دربخلې دې خو دَ علی زیب په امانت کښې خیانت نشم کولې ـ

شاه زیب :ـ مړو سره چا کلی کړی دی ، علی زیب خو لاړو مړشو ـ

زرغـونـه :ـ عـلـی زیـب مـړ نه دی ، ته ورته اوګوره هغه دې ولاړ دې او ستا شیطانی حرکتونو ته ګوری ـ

دے سره شاه زیـب ورلـه ورشـی ـ یـوه تـمبـه لرې کوی او بهرګوری ـ زرغونه ډیر په تیزی سره یوه خښتـه اوچته کړی ، په دواړه لاسه یې ښهٔ په توله کړی او دَ هغه روستې کپړی له یې راخلاصه کړی ـ دَ خښتې ګـزار دومـره سـخت وو چې هغه لکه دَ ګوزنی چرګ تاویدو، تاویدو او

په زمکه راپریوتو۔ او دَ راپریوتو سره بې هوشه شو ۔ هغه لا بې هوشه پروت وو چې عادل زیب په خړپوسو، خړپوسو راغې ، دَ هغه دَ پاسه اوختو او په سینه ورله کیناستو ۔ په هغه سینه چې هغه به ورپورې هغه مړلو ، زرغونې هغه ، دَ هغهٔ دَ سینې نه اوچت کړو ، په کټ کښې یې کینوو او هغه یې دَ خپې نه اونیوو بهر ته یې راخکو ۔ بیا یې دَ پنائی دیوال سره ډډه کړو او دَ مرجانې کور ته یې ورواړه وو۔

★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★★

★★★★

★★★

★★

★



www.pukhto.net



## څلورم باب

سلمان په دواړو بانډو کښې هر چا پیژندو خو کله چې په سکول کښې اووهلې شو نو بیا دَ خواؤ شا کلو هلکانو هم اوپیژندو او دَ سکول استاذانو هم ۔ وخت تیریدو سره او دَ نوې انکشافاتو کیدو سره هغوی په خپلو وهلو پښیمانه وو۔ دَ سکول په سټاف روم کښې به دَ هغه متعلق روزانه خبرې کیدې او دَ هغه په حالت به افسوس کیدو ۔ هغوی په دې شرمنده وو چې هغوی دَ هغه دَ وهلو نه مخکښې دَ هغه نه تپوس ولې اونکړو ۔ بیا به یو یو کس هغه سره دَ خپلې غائبانه همدردۍ اظهار کوو او دَ هغهٔ دَ شخصیت مثبت خصوصیات به یې بیانول " یو وې یره ډیر کلک هلک وو۔ دې دومره وهلو سره یې هډو ویش قدرې هم اونکړو " دویم وې "یره وهل یې نه وو پکار ، هسې یرول او دوړه دپکه پکار وه "۔ دریم اووې " هاؤ هغه غریب خو هسې هم لیونې وو ، په لیونی د خداې حق نه وی نو دَ انسان به پرې څهٔ وی " څلورم وې " یره څهٔ مو کړې وې د هغه دَ راتلو په وجه په کلاس ډسټربنس پیدا کیدو" جان محمد استاذ په کرسی کښې ناست وو څادر یې دَ ځان نه تاؤ کړې وو او دَ هغوی خبرې یې اوریدی ۔ چې دَ هغوې خبرې ختمې شوې نو یو پکښې اووې "جان محمد استاذ ته هم څهٔ اووایه کنه "

جان محمداستاذ دَ مخ نه څادر لرې کړو او وې وئیل "زهٔ به پکښې څهٔ

اوویم ګله"

اکرم استاذ:۔ دَ خپلی راۍ اظهار اوکړه ۔

جان محمد:۔ دَ خپلې راۍ اظهار خو دَ هغهٔ دَ وهلو نه مخکښې ما تاسو ته کړی دی ۔ چې دَ وهلو نه مخکښې ترینه تپوس اوکړې خو تاسو زما خبره اونه منله او بې تپوسه او بې وضاحته مو دَ هغه په وهلو شروع اوکړه ۔ اوس به درته دا اویم که زما خبره منې نو ټول په جرګه ورشې او معافی ترینه اوغواړې ۔

ټول : او هاؤ ، جرګه او معافی ؟

جان محمد استاذ :۔ ګورې چې څهٔ شوی دی هغه شوی دی اوس ترینه معافی اوغواړې چې خداې درنه راضی شی ۔ یو خودا چې هغه ماشوم دې ، بله دا چې ستاسو دَ وینا مطابق لیونې دې ۔ دا دواړه چې دَ اللہ د حق نه مبّرا دی نو ستاسو دَ زیاتی پرې څهٔ حق دې ۔ زمونږ کار دَ ماشومانو دَ تعلیم سره سره دَ هغوی شخصیت سازی هم ده ۔ دَ هغوی کردار سازی ، اخلاق سازی ، او دَ هغوی تعمیر کاری هم ده ۔ او دا تاسو چې ورته لیونې وائې نو ستاسو دا خیال او مفروضه هم غلطه ده ۔ که دَ حقیقت نه خبر شوې نو په خپله به درته معلومه شی چې هغه لیونې نه دې خو دې معاشرې ترینه لیونې جوړ کړې دې ۔ که دَ هغه صحی تعلیم وتربیت اوشی نو هغه دَ بابا ے قوم ، شاعر مشرق او دَ ډاکټر قدیر غوندې نو موې لیډر هم جوړیدیشی ، دا نشور هم جوړیدیشی او نو موړې سائنسدان هم جوړیدې شی ۔ ما چې هغهٔ



www.pukhto.net



ته دَ خپلې دوه دیرش کاله تجربې په رڼا کښې اوکتل نو دَ لیونتوب هیڅ اٰثار او نښخه پته پکښې نه وه بلکه هغه اوتر وو ، بالکل داسې لکه دَ چا نه چې څهٔ ډیر قیمتی څیز روک شی او دَ هغې په لټون کښې سرګردانه او پریشانه ګرځی ۔ ګورې کنه چې یو داخل هلک سکول ته نه راځی یا جماعت کښې دلچسپی نه اخلی او تختی نو مونږ سزا ورکوو او د دې سزا په حق کښې دا جواز پیش کوو چې دَ هغهٔ دَ غیر حاضرۍ او سبق کښې دَ عدم دلچسپۍ په وجه دَ هغهٔ مستقبل تباه کیږی او یو ناداخل هلک چې دَ سکول دَ احاطې نه بهر زمونږ دَ علم دَ رڼا نه مستفید کیږی نو هغهٔ له سزا ورکوو او د دې رڼا نه یې محروم ساتو ۔ هغه له دَ سزا ورکولو حق مونږ هیڅا ته حاصل نه دې چې مونږ هغه په کلاس کښې کینولې نشو نو سزا ولې ورکوو۔ که صبا دغه هلک چې دا تاسو ورته لیونې وایې دَ چاپه لمسه زمونږ دې ملګرو کښې یو کس ته جانی نقصان اورسوی نو بیا ؟ د ملک حالات تاسو نه پټ نه دی ۔ دَ دهشت ګردۍ نن ورک خوریږی او ترهه ګری زیاتیږی ۔ که دغه لیونې دهشت ګردو له په لاس ورشی نو یو خو دَ هغه مستقبل خراب شو ، بل دَ هغه د ورانکارۍ په وجه مونږ ته او زمونږ اداري ته هم خطره شته۔ که دَ هغه دَ شخصیت صحی آبیاری اونشی او هغه زمونږ دَ کردار سازۍ نه محروم پاتې شی نو یو خوا دَ اللہ په نزدې مونږ ګناهګار شو بل دَ انسانیت دَ خدمت نه محروم شو او دریمه دا که د دې ماشوم نه خودکش بمبار جوړ شی نو دَ



Pukhto.Net

هغهٔ د مستقبل سره سره زمونږ او زمونږ دَ ورو مستقبل هم خرابیږی ۔ نوره ستاسو خپله خوښخه ده ۔

اکرم استاذ :۔ مونږ هغه له سزا په دې وجه ورکړه چې په کړکی۔ کښې ولاړې سره په کلاس کښې ډسټربنس پیدا کیدو ۔

جان محمد استاذ:۔ د ډسټربنس ختمیدو دَ پاره کړکی۔ هم بندیدې شوه او نور بندوبست هم کیدیشو ۔ اکرم صیب خفه نشې ، په دې باره کښې به درته زهٔ یوه ذاتی واقعه بیان کړم او هغه دا چې د دې پیشې اختیارولو نه مخکښې ما تقریبا پنځه کاله د یو سپاهی په حیث په فوج کښې تیر کړی دی ۔ دَ فوج دَ کیمپ اصول دا دی چې دَ شپې دَ لسو بجو نه پس ټول بلبونه مړهٔ کیږی ۔ دا دې دَ پاره چې سپاهیان په وخت اودهٔ شی خوب یې پوره شی او سحر خپلې ډیوټی۔ ته تیار وی ۔ ما دَ یو پرائیویټ سټوډنټ په حیث په بی اے کښې داخله اخستې وه او خپل تیارې م کوو خو دَ رڼا دَ بندش په وجه ما دَ شپې پوره تیارې نشو کولې ۔ زمونږ بلاک ته مخامخ دC.O صیب دفتر کښې به بلب بلیدو او ډیوټی کلرک به په ټیلیفون ډیوټی کوله ۔ دَ دفتر کړکی۔ به پورې وې خو دَ شیشو نه به بهر رڼا وته ۔ چې لس بجې به زمونږ دَ بلاک بلبونه آف شو نو زهٔ به لاړم ، دَ کړکی۔ رڼا ته به بینچ کیناستم او خپله مطالعه به مِ کوله ، څو څو ځله حوالدار میجر اولیدم ، څو څو ځله صوبه دار میجر اولیدم خو په ما یې څهٔ اعتراض اونکړو ځکه چې ما دَ هغوی د اصولو خلاف ورزی نه وه کړې ۔ په



www.pukhto.net



دې دې کښې ما خپل امتحان پاس کړو او اوس د خپل علم دغه رڼا خوروم ۔ زهٔ تاسو ته دا ویم چې که چرې مونږ فرداً فرداً خپل خپل ګریوان کښې دَ ماضی کړمې او امیدونه رایاد کړو او دَ هغې اطلاق دَ خپلې معاشرې په غریبی او پریوتې طبقې اوکړو نو هر څهٔ به ټیک ټاک شی ۔

## دویمه برخه

سلمان چې دَ ډاکټر دَ کلینک نه اووتو نو معلومه نه ده چې چرته لاړو خو دَ کلی نه داسې غیب شو چې هډو دَ مړ ژوندی پته یې نه لګیده ۔ دَ هغه نه دَ میهتوارنلړ "سکالر جپسی" جوړ شوې وو ۔ دَ هغه متعلق به په ډاګ کښې د اونې لاندې یوه ګوته دوه مجلس خامخا کیدو او چا به څهٔ وې او چا به څهٔ وې ۔ یوه ورځ دَ معمول مطابق د هغه متعلق خبرې کیدې ۔ په خبرو خبرو کښې ملوکی اووې " یره ګمان دَ ایمان زیان دې خو دا امکان دې چې هغه مړدې ځکه چې ډیره موده اوشوه چې نه کلی کښې ښکاره شوه او نه هدیره کښې "۔

کوچی دَ هغه په خبره کښې را اودانګل او وې وئیل "نه یره ، دا ته لا څهٔ وی۔ هغه جک جوړ او ژوندې دې ۔ هغه بله ورځ ما خکته بورنګی۔ کښې لیدلې وو۔ منډې یې وهلې "۔

غفورے :۔ زهٔ درته پرونی۔ خبره کوم ۔ تیر ماښام ما دَ ګړنګی په شاړه کښې لیدلې وو۔ یو ګوډاګې یې یوې ډاګې پورې تړلې وو او تور د

ملیشې قمیص یې ورته اغوستې وو۔ هغه یې په لاس کښې نیولې وو او په خپل سُر کښې روان وو۔

جنت گل :۔ ته گوره ورته کنه ۔ داسې معلومیږی چې دغه هغه زما گوډاگې وو۔ ما دَ شولو په پټی کښې دَ مرغو یرولو دَ پاره گوډاگی جوړ کړې وو او خپل دَ ملیشې تور قمیص مې ورته اچولی وو۔ ته گوره ورته کنه هغه یې هم یوړو ۔ ما یې لا پټ په پټه لټون کوو چې . . .

غفورے دَ هغۀ دَ خولې نه خبره اخلی ، ” لټون پریږده هغه درنه لاړو اوس ورله بل جوړ کړه “۔

جنت گل :۔ ته گوره کنه ورته ، په ایمان چې د دې هلک خو لاس خپی خاربښتیږی ۔ هغه گوډاگې ترینه هم پاتې نشو ۔ څه بنه ده چې روک شو او خلاص شو ترینه “۔

شهباز :۔ روک نه دې هلکه ، هغه بله ورځ ما دَ مردان په اډه کښې لیدلې وو۔

جنت گل :۔ هغه زما گوډاگې ورسره وو ؟

شهباز :۔ نه یره هغه خو مې ورسره نه دې لیدلې ۔

جنت گل :۔ ته گوره ورته کنه ، داسې معلومیږی چې هغه یې چرته غورځولې دې ۔

هارون :۔ نه پوهیږم چې دا هلک انسان دې او که د انسان په جامه کښې پیرې دې ۔ پرون ما په چارسده کښې لیدلې وو۔

جنت گل :۔ هغه زما گوډاگې ورسره وو ؟


www.pukhto.net



هارون :۔ نه یره گوډاگې مې ورسره نه دې لیدلې ۔

جنت گل :۔ ته گوره ورته کنه ، یی۔ هغه یې چرته غورځولې دې۔

ممتاز:۔ تاسو که هر څه وای، خو یوه خبره مې ټول ووری، چې دې هلک کښې څۀ شته خالی نه دې گینې دومره ماشوم ته گوره او په دغه شاړه او جبو کښې گرځیدو ته گوره ؟

هغوی لا دا خبرې کولې چې دیکښې دَ سکول استاذان د ډلې په شکل کښې رابنکاره شو ۔ دَ هغوی دَ راتلو سره ورته ناست ټول خلق پاڅیدل او هغوی سره یې روغ جوړ اوکړو ۔ چې کیناستل نو جان محمد استاذ غاړه تازه کړه او وې وئیل ” سلمان سره لیدل غواړو“۔

زرین :۔ ولې استاذ جی ، خیر دې ؟

جان محمد استاذ:۔ هاؤ خیر دې خو یو څو ورځی مخکښې زمونږ دَ استاذانو او دَ هغۀ ترمینځه څۀ خوږې ، ترخې راغلې وې ۔ دَ هغې په باره کښې راغلی یو ۔

جنت گل :۔ ته گوره ورته کنه یی۔ هغه دَ سکول استاذان غریبانان هم ترینه خلاص نشو ۔

زرین :۔ هغه خو چې هغه دَ کلی نه اوتې دې نو لا عدم پته دې۔

جان محمد :۔ چا راته وې چې راغلې دې ۔ چا څۀ چې دَ سکول څوکیدار راته وې چې راغلې دې ۔ پرون مازیگر دَ سکول خواؤ شا گرځیدو هغه لیدلې دې ۔

عباس (یو شاگرد) ” هاؤ استاذ جی راغلې دې ، اوس یوه شیبه

مخکښې ما اولیدو چې کور ته روان وو۔

جنت گل :۔ هغه زما ګوډاګې ورسره وو؟

عباس :۔ نه هیڅ ورسره نه وو ، تش تور وو۔

جنت گل :۔ ته ګوره ورته کنه ، یې هغه یې چرته غورځولې دې۔

جان محمد :۔ ښهٔ به دا وی چې کور ته ورشو ۔

زرین :۔ ډیره ښه ده جی ۔ ځی چی ورشو۔

ناست خلق تول پاځی او دَ جرګې په شکل دَ هغه کور ته ورځی ۔ چې دَ هغهٔ کوټې ته ورشی نو دَ هغهٔ دَ ملاستې په ځاې په غوړیدلې پلاله کښې یـو لـنـګـه سپـی سره دَ بچو پرته وی ۔ دَ هغوی په ورتلو سره سپـی اوغـوریـږی خو چې یـو کس پرې دَ کانړې ګزار اوکړی نو سپی اویرېږی او سره دَ بچو منډه کړی ۔

زرین :۔ دا دَ هغه کور دې استاذ جی ( تول استاذان یو بل ته اوګوری)۔ پـه کـوټه کښې دَ کاغذونو او ردی څوځو ډهیری پراته وی خو سلمان نه وی جان محمد استاذ دَ یو ډهیری نه یو څو کاغذونه راواخلی، هغه ګوری او بیا زرین ته په چپه خوله ګوری ۔ زرین دَ هغه په مطلب پو هـ شی ۔ هغـه ورته وائی " استاذ جی دا کاغذونه به هغه دَ لارو کوڅو او ډهیـرانـونـو نـه راغونډول بیا به یو ځاې ، بل ځای کیناستو، دې ته به یـې کتـل او ځـان سره بـه ګـونیـدو خـو مونږ پرې نـه پو هیدو "۔ جان محمد استاذ تولو ته ګوری او وائی " داسې معلومیږی چې دا هلک دَ خپـل عمر نه ډیر مخکښې روان دې ۔ خداې دې مل شی او خداې دې



www.pukhto.net



کامیاب کړی ۔

تول :۔ آمین ۔

جـان مـحمد استاذ خپـل څادر اوغوړه وی ۔ هغه تول کاغذونه پکښې واچوی ، شا ته یې راواړه وی او هغوی ته وائی " ځی چی ځو "۔

★★★★★

## دریمه برخه

دَ سلمان خبره لا چلیده ، دَهغه متعلق به هره ورځ څهٔ نوې نـوې مـعلومات او حیران کن معلومات کیدل ، هغه به ریشلې کیدل او مـختلف بیانات او مشاهدات به دَ حرافات په شکل کښې مخې ته راتـلـل چې دَ پاخـه پرې دَ خان زیب خبره راغله چې پیریانو وهلې او یـرولـې دې ۔ دا خبـره لا تـنـګیـده چې دَ شاه زیب خبره هم ورسره غاړه شـوه ۔ دَ کلی مشران حیران وو چې تر اوسه داسې هیڅ قسمه واردات نـه دی شـوی نـو دوی سره څـنـګـه اوشو ۔ دَ خان زیب ، شاه زیب او زرغـونـې نـه علاوه په دې راز هیڅوک پو هـ نه وو بهرحال په زمیدارو کښـې یـره ، تـرهـه خـوره شـوه ۔ چې کله به څوک دَ شپې اوبه خور له تـلـل نـو ځـان سره به یې دَ یوم ، بیلچې نه علاوه چاقو چاړهٔ هم اوړه ۔ چې کـلـه به چرته بوټی اوشنیدو یا به یې خوا کښې پیشو ، ګیدړ تیر شـو نـو اوبـه خور به یې په ځاې پریښودو او کور ته به یې په منډه ځان اورسـوو۔ چې دَ هـغـهٔ پټـی به اوبهٔ نشو او محنت به یې ضائع شو نو هـغـه به دا کـوشش ووچی دَ بل پټی هم اوبهٔ نشی ۔ هغه به دَ دروغو دَ

يرې ، تـرهـې هغه تنسته خوره کړه چې دَ کوره به تر پټي او دَ پټي نه به تر کوره پورې اورسيده ـ په ډاګ کښې به دَ اوني لاندې ټوله غرمه دغـه خبـرې کيـدې ، دَ يـوې نـه دوه دَ دوه نـه بـه څلور جوړيدې هغه به خـلـقـو اوريـدې او بيـا بـه خـوريدې ـ د ريخان بابا دَ هغوی خبرو کښې برخـه نه اخسته ـ البته دَ هغوی ساه ختلې خبرې به يې اوريدې او په مُسکا مُسکا به يې دَ تسبو يوه يوه دانه اړوله ـ دَ کلي خلق دَ هغهٔ په بے حسۍ او لا تعلقۍ حيران وو او دَ سترګو ، روڅو په اشارو به يې دَ هغهٔ بې رحمي په ګوته کوله ـ دَ پيريانو خبره لا روانه وه چې دَ کانو او چـمـانو ويشتـل شروع شو ـ دا کار دَ پټو او جنګيو نه کلي اوکورونو ته را اورسيـدو ـ سـم دَ مـابښـامه به په پټو کښې په زميدارو او په کورونو کښـې بـه پـه ښځو او وړو کـانـي وريـدل ـ يوه غرمه شامتي يوه ډکه جـولـۍ کـانـي راؤړل ـ دَ ټـولـو مشـرانو مخکښې يې په ميدان کښې واړول او پـه غـصـه يـې اووې ، " مشرانو ، کشرانو ! تاسو ټول ووری دا ټـول کـانـي بيـګاه زما په کور راوريدلي دي " ـ د ريخان بابا چې دَ هغه خبـره وورېـده نـو مسکې شو او په مسکا کښې يې دَ تسبو دری څلور دانې په يو ځل واړولې ـ دَ هغهٔ مسکا په شامتي بده اولګيده ـ دَ قهر نـه سره لمبه شو خو دَ هغه دَ مشرۍ په خاطر يې خپله غصه قابو کړه او دَ ګيـلـې پـه طور يې ورته اووې "ـ ګوره د ريخان بابا چې زما په حال ژړا نشی کولې نو خندا را پورې مهٔ کوه ـ دا څهٔ چې ما سره شوی دی او کيـږي ، داسې نـورو سره هم کيديشی "ـ د ريخان بابا هغه له هيڅ



www.pukhto.net



جـواب ورنـکـړو ، ډډه يې واچوله ، په مخ يې څادر واچوو او اودهٔ شو ـ بلې غرمې له درې څلور کسانو ډکې ډکې جولۍ کانی راؤړل ، ناستو مشـرانـو تـه يـې اوښـودل او دَ نـورو کـانـو دَ پاسه يې واړول ـ ټول خلق حيـران وو چې دې پيـريـانـو سره هغوی څه زياتې کړې دې چې خپلو کـورونـو کښـې يـې نـه پـريـږدی ـ دَ کـلي خلق چې ډير تنګ شو نو د جمات استاذ ته کيناستل او هغه ته يې ټوله قيصه اوکړه ـ استاذ چې دَ هغـوی خبـره پـه غـور سره ووريـده نـو ورته يې اووې چې " ستاسو حالـت واقعي قابلِ رحم دې ، دې نه معلوميږي چې تاسو هغوی سره څهٔ زيـاتې کـړې دې او تاسو ته دَ خپلو عملونو سزا ملاويږي ـ دا نور څهٔ نـه دی دَ خداې عذاب دې ـ تاسو نه خداې ناراضه شوې دې ځکه چې تـاسو پټي اباد کړي دی او دَ خداې کور مو شاړ کړې دې ـ دَ پولې پټي او دَ فـصـل څـاروی غـم درسره شتـه او دَ نمونځ اودس غم درسره نيشتـه ـ دَ خپـل بـال بچ غـم درسـره شتـه او دَ پير ، فقيـر او دَ ملا ، مسکين غم درسره نيشته ـ تاسو دَ خداې مجرمان او د دين د احکامو نـه بـاغيان يئ ، او که تاسو داسې باغيان پاتې شئ نو ستاسو فصلونه او باغـونـه بـه تباه شي ـ ستـاسـو څاروی به هلاک شي او ستاسو په کـورونـو بـه دَ اور بـاران اوريـږي ـ ټـول تـوبې اوباسئ ، خپل عملونه صـحـی کـړئ ، خيـراتـونه اوکړئ ، او صدقې ورکړئ چې خداې درنه راضي شي او دا راغلې عذاب درنه لرې کړي ، تاسو ته ، ستاسو بال بچ او ببيـانو ته خير شي ـ دَ فصل او څاروو غم مهٔ کوئ دَ ځان غم اوکړئ

، ستاسو روزی په فصل کښې نه ده او نه ستاسو په ښاروو کښې ده بلکه روزی د اسمانه ده ۔ دَ اولږې نه به نه مری ، چاچې پیدا کړی یې ، دَ نیشت نه یې شتۀ کړی یې ، هغه ستاسو دَ روزۍ ذمه هم اخستې ده۔

★★★★★

## څلورمه برخه

شاه زیب ، خان زیب ، دَ هغوی ښځو او بال بچ زرغونې سره تعلقات ختم کړی وو۔ هلته فیض الله دوکاندار دَ پیسو خوله اچولې وه او دلته شاه زیب او خان زیب ترینه دَ یو بل په خولودَ پیسو غوښتنه کوله ۔ ټولو ته دَ هغې یو جواب وو چې " خورم یې درنه نه چې پیدا شی نو دربه یې کړم "۔ دَ هغې په دې جواب دَ چا هم تسلی نه کیده ځکه چې دیکښې دَ میعاد هډو څۀ پته نه لګیده ۔ دیکښې ورځې هم تیریدې شوې ، میاشتې هم اوکالونه هم ۔ دې جواب سره به دَ هغوی دَ غصې پاره نوره هم اوخته ۔ چې اونشوه نو یو ځل ورپسې فیض الله دوکاندار راغی۔ او په کور یې ورته هغه ناروا اووې چې نه دَ ویلو قابل وو او نه دَ اوریدو ۔ هغه دَ کوځې ورله ورغله او ورته یې په ډکه خوله اووې " یه روره ما سره خو هیڅ نیشته ۔ دومره څۀ راسره نیشته چې ځان له پرې سیر اوړۀ واخلم ۔ کور ستا مخکښې پروت دې ۔ راشه اوګوره هیڅ پکښې نیشته ۔ دَ خالی کور او اوچو دیوالونو ځوکی کوم او ستا او دَ یو بل خیر، خیرات او عشر زکوۀ ته ناسته یم ، چې دومره موده دې اوکتل نو لږ راته نور هم اوګوره ۔ زبرګه میاشت



www.pukhto.net



راروانه ده که چا څۀ راکړل نو په خپله به نهره تیره کړم او تا به مخکښې کړم ۔

فیض الله :۔ اوس خبره لاړه زبرګې میاشت ته اووته ۔ تاخو ماله زړه شین کړو ۔

زرغونه :۔ زړۀ دې شین مه شه روره ۔ دَ زبرګې میاشت پورې راته اوګوره ۔

فیض الله :۔ او که په زبرګه کښې دې رانکړې نو بیا ؟... (زرغونه چپ پاتې شی ) تاته ویم کنه ولې چپ شوې ؟ که زبرګه میاشت کښې دې رانکړې نو بیا ؟

زرغونې په خوله هیڅ اونه وې او ډکې سترګې ترینه ستنه شوه ۔ چې هغه ترینه روانه شوه نو هغه بیا خوله اوسپړده او په سپکو ډتو سر شو۔ هغې دَ هغۀ دَ پوچې وینا څۀ پروا اونکړه ، په غولی کښې خفه او ژړغونې اودریده او دَ کور سپیرو دیوالو ته یې په مایوسه نظر کتل ۔فیض الله لا هلته ولاړ وو چې دَ پنائی په دیوال دَ خان زیب ښځې دلبرو سر اوچت کړو او ورته یې اووې "یه ښځې ته مونږ له خپلې پیسې ولې نه راکوې "؟

زرغونه :۔ "درکوم ولې نه درکوم خو دَ زبرګې میاشت پورې راته صبر اوکړه "۔ مرجانې چې د دلبرو خبرې وورېدې نو هغه هم په دیوال اوچته شوه او وې وئیل " یه ښځې مونږ له به کله راکوې "؟

زرغونه ( هغې ته ګوری ) تاله به هم په زبرګه میاشت کښې درکوم۔

مرجانه :۔ په زبرګه کښې به په تا را اووریږی چې مونږ له به یې راکړې ؟ مالـه اوس راکـړه سـړې راته مرګِ حال پروت دې چی دارو درمل پرې ورله اوکړم "۔

دلبـرو :۔ زۀ خـو زبـرګـې تـه نشـم کـتـې ۔ بـس دې ډیر مِ درتـه اوکتل ، پیسی راکړه چې خاوند له پرې دارو اوکړم ۔

زرغونه :۔ چې نیشته راسره نو څۀ اوکړم ۔

مرجانه :۔ که ته ښځه وې نو خاوند به دې پردی کفن کښې نه ښخیدو

زرغـونـه :۔ بـابی چی ماته څۀ وائی نو وایه خو زما خاوند سره دې کار نیشته دَ خاوند پیغور به راته نکړې ۔

دلبرو :۔ یَه ښځې پیسې راکوې که نه ؟

زرغونه :۔ درته مِ اووې چې پیدا شی نو دربه یې کړم ۔

دلبـرو :۔ څۀ دې اووې چـې پیـدا شـی درسره نو رابه یې کړې ؟ ولی زۀ تـانـه سـوال کوم څۀ ؟ شابه پیسی راکړه ګینې اوس دې په سر په کانی اولم ۔

مرجانه :۔ "ته به ورته لا ګورې او زما هغه خو پرې ورغی "۔

دې سره پـرې مرجانې دَ کانی ګزار اوکړو ۔ دَ هغې ګزار خطا شو ، هغه پرې اونه لګیده خو کانړې په زغړیدو زغړیدو عادل زیب ته اورسیدو ۔ هغـه را واخستـو او لاس کښـې یې اونیوو ۔ زرغونې چې مرجانې ته پـه غصه اوکتل نو دَ شا نه پرې دلبرو دَ کانی ګزار اوکړو ۔ کانړې دَ هغې دَ مـلا په تیر اولګیدو او یو ټک یې اوکړو ۔ دَګزار سره هغه دَ غصې نه



www.pukhto.net



تـکه سرۀ او دَ دړد نه لنده اوږده شوه ۔ په ملا یې لاس کیښودو او دلبرو تـه یـې اوکـتـل ۔ هـغـې لا دلبـرو ته کتل چې دَ شانه پرې مرجانې ګزار اوکـړو او پـه روستـی ـ کپـره یـې اوویشتـه دَګـزار سره په هغې سترګی تـورې شـوې او پـه زمکـه راپریوته خو ډیره زر پاڅیده او په ادلو بدلو قـدمـونـو کـوټـی تـه روانـه شـوه ۔ دَ روانیدو سره پرې دلبرو او مرجانې غبـرګ ګزارونه اوکړل ۔ په یو ګزار هغه په اولی اولګیده او په بل ګزار عادل زیب په کونډۍ اولګیدو ۔ دَ لګیدو سره هغه په ژړا شو او په وړو وړو خپـو یـې مـور لـه منډه کړه ۔ هغې چې دَ ځوی چغې واوریدې نو خپـل دړدونـه تـریـنـه هیـر شـو ۔ هغه یې اوچت کړو او زانګیدلې یې کوټی ته اورسوو ۔ عادل زیب چغې وهلې "ما ، پاپی ، بی ۔ "

زرغـونـې هغه سینې پورې اولګوو او ورته یې اووې پاپی ۔ دې بی ۔ مۀ شه ځویه "۔

هغـۀ پـه کـونډۍ لاس ایښـې وو او ژړل یـې ۔ زرغـونـې هغه په غیږ کښـې سمـلـوو، دَ هـغـۀ پائنڅه یې اوچته کړه ۔ دَ هغه په کونډۍ یې خـوله کیښوده او دَ پوکو او دَ اوښکو ټکور یې ورکول شروع کړل خو دَ هغۀ چغې نه قلاریدې چې څومره به دَ هغه چغې زیاتیدې هومره به دَ هغـې دَ پوکو په تیـش کښې اضافه کیده ۔ دَ هغې دا پوکی تر هغې پـورې جاری ووچې دَ هـغـه چغې او دړدونه لږ قلار شو او سترګې یې اولـګـیدې ۔ هغې دَ هغۀ دَ کونډۍ نه خپله لوپټه څو څو قطه تاؤ کړه ، څۀ دَ پـوکـو ګـرمـائـش شو ، څۀ دَ هغې دَ لوپټې او څۀ دَ هغې دَ غیږ

حرارت شو ۔ دې ټولو په شریکه دَ هغۀ کونډې او بدن ټکور کړو او په دغـه ټـکور دَ هغۀ سترګې ورغلې ۔ هغه دَ مور په غیږ کښې اودۀ شو خـو پـه اودو کښـې یـې هـم سلـګـۍ وهـلې ، هغه دَ مور سینې پورې داسې انـختـې وو چې دَ هـغـې دَ بـدن یوه حصه ښکاریده ۔ دَ محلت ښځې چې دَ هغې پوښتنې له ورتلې نو مور او ځوی دواړه ډب ډوب پراتۀ وو او په مخ یې اوښکو لارې جوړې کړې وې ۔ ښځو چې هغوی پـه داسې حالـت کښې اولیدل نو په توبو توبو کورونو ته لاړې ۔ ورځ تیره شوه شپـه شـوه خـو هـغوی لا هغسې اودۀ وو او دَ یو بل بدن یې ټکوره وو۔ زرغونه پټې سترګې پرته وه چې په خوب کښې ورله علی زیب راغی ، دواړه ډیره شیبه چپه خوله ولاړ وو۔ بیا هغه مسکی شو او ورته یې اووې ، ” خبرې ولې نه کوې ، زمانه خفه یې “۔

عـلی زیب :۔ تانه خفه نه یم ، ستا په حال باندې خفه یم ۔ مامعاف کړه زرغـونـې ۔ دا ټولې کړمې تاته زما په وجه پیښیږی ۔ زمانه دا غلطی اوشوه چې ما ځان له په ژوند دَ ګور کفن بندوبست نه وو کړې ۔ په دې وجه زما دَ مرګ ټوله سزا تاته ملاویږی ۔

زرغـونـه :۔ داسې مـه وایه دَ عادل پلاره ۔ تا ډیر څۀ پریښې وو۔ تا ډک کـور پریښـی وو خـو چې تـۀ لاړې نـو هر څه لاړل ۔ چې څنګه تا وفا اونـکـړه دغـه شان ستا روپو ، پیسو او څارو هم وفا اونکړه او هر څۀ تا پسـې لاړل ۔ زۀ پـه دې خـفـه نه یم چې زۀ تش لاس پاتې شوم ، زۀ خفه پـه دې یـم چې تۀ په پردی کفن کښې ښخ شوې ۔ دَ عادل پلاره زۀ تاته



www.pukhto.net



ډیره شرمنده یم چې ستا دَ ګور کفن خرچه لا تر اوسه په ما پاتې ده۔

علی زیب :۔ زرغونې یوه خبره مِ منې ؟

زرغونه :۔ څه خبره ؟

عـلـی زیـب :۔ زۀ بیـا دنیـا تـه نشم درتلې ۔ زما په وفا خپله ځوانی مۀ خاؤرې کوه ۔ تۀ داسې چاسره واده اوکړه چې تا او عادل زیب خوشحاله ساتی ۔ چې تاسو خوشحاله یې نو زما روح به خوشحاله وی ۔

زرغونه :۔ څۀ دې اووې ، څۀ ؟ څۀ ؟

هغه ، هغۀ پسې په غصه پاځی ، پاڅیدو سره دَ هغې سترګې غـړیـږی او چې اخـوا دیخوا اوګوری نو هیڅوک نه وی ۔ په توره تیارۀ کښې مور او ځوې دواړه پراته وی ۔

★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★

★★★★★★

★★★★

Pukhto.Net پښتو

★

## پنځم باب

دَ کلی خلق دَ مُلا په خبرو مطمئن نشو ۔ ټول پاڅیدل، زوړنده سرونه روان شو او چپ چاپ دَ اوني لاندې په کڅو کښې پریوتل ۔ دَ هغوی په زړونو کښې ډیرې خبرې وې خو په دې نه پو هیدل چې خبره دَ کوم ځائې نه شروع کړی ۔ یو شیبه پس مامدې په کټ کښې کیناستو ۔ شامتی ته مخاطب شو او وې وئیل " یره شامتیه ، زما خو د استاذ دا خبرې خوښې نه شوې ۔ دومره بې سُره خبرې یې کولې چې نه یې خوند وو او نه یې رنګ وو۔ هلکه دَ خداې مسلمانه مونږ دَ کانو دَ باران نه پوزې له راغلې یو او تهٔ راته دَ اور دَ باران ټنګ اوروې ۔

شامتې :۔ هر سړې ځان ته ترخز وهی روریه ۔ پیشو دَ خدای دَ پاره منږک نه نیسی ۔

مامدې : زهٔ خو دا ویم چې دَ زمیدار نه لوې خیرات هیڅوک نه شی کولې انسانان خو لا پریږده چې دَ هوا مارغان ، څناور ، څاروی او چنجی هم دَ هغه محنت ته او دَ هغه لاس ته ناست دی ۔ دا ټیک ده چې روزی د اسمانه ده خو اسمان ته خو وازې خولې کیناستې نشو کنه ۔ دَ زمیدار په خواری محنت خو ټوله دنیا چلیږی ۔

شامتی :۔ ماخو په رومبو خبرو کښې او پیژندو چې سړې لاړو اوخویدو ۔ زما دا خیال وو چې دې به مونږ له څهٔ ثابت ، تعویز



www.pukhto.net



راکړی او څهٔ دم دُرخابه رابانډې چُف کړی او دا راغلې مصیبت به زمونږ نه لرې کړی خو نه ، نه هیڅ اونشو ، هیڅ ۔

مامدې :۔ داسې معلومیږی شامتیه چې دا څخی راړول به په ماشی؟

شامتې:۔ په خبره دې پو هـ نشوم روریه ۔

مامدې :۔ مقصد مِ دا دې چې دَ استاذ نه خو ناپوره شوه ۔ اوس مِ دا خیال دې چې پیریانو بابا پسې یوه منډه اوکړم او ځان سره یې راولم۔

شامتې :۔ وَه دَ نر بچیه څهٔ زبردسته خبره دې اوکړه ۔ دَ تلو راتلو خرچه دې په ما شوه او منډه په تا شوه ۔ هنّ دا سل روپۍ واخله او ځان رسوه ۔ مامدې دَ هغه نه روپۍ واخلی جیب کښې یې کیږدی او دَ تلو تیارې کوی ۔شامتې هغه ته وائی : یَه هلکه مامدیه ، دَ هغه ځاې درته معلوم دې ؟

مامدی ( خاندی ) " واه ، معلوم ولې نه دې ۔ هغه خو زما زوړ اشنا دې ۔ څو څو ځله ورله تلې یم ۔ دَ پارچاؤ په هدیره کښې په یوه کوډله کښې پروت دې ۔ ټوله ورځ خپل عبادت کوی "۔

جنت ګل :۔ تهٔ ګوره ورته کنه ، څومره ښه سړې دې ۔

مامدی :۔ ښه زهٔ درنه ورځم ناوخته کیږی ، سلام علیکم ۔

مامدې چې دَ پیریانو بابا له اورسیدو نو هغه ته یې ټوله قیصه ټکې په ټکې اوکړه ۔ پیریانو بابا چې دَ هغه خبره ووریده نو مسکې شو ، خپل کتابونه یې راواخستل او هغه سره روان شو ۔ نمرپه غرغره وو۔ دَ کلی خلق په ډاګ کښې ناست وو دَ هغوی خبرې یې کولې او دَ

هغوی لاړې یې سارلې چې هغوی را اورسیدل پیریانو بابا دَ شپیتو کالو خواؤ شا لوړ دنګ سړې وو۔ تور سوې لوې راخکلې مخ ، غټې زیړې سترګې ، تر ګیټو پورې لوې تور قمیص ، دَ قمیص دَ پاسه زیړ بخن واسکټ ، په سر برګه ټوپۍ او سر نه تاؤ شوې شین رنګی پټکې ، په اوږو پراتۀ په نکریزو سرۀ ویښتۀ ، سره اوږده ږیره چې دَ هغې سو کې سرې او مُنډان سپین وو ، په اوږه دَ مختلف رنګونو او ټوټو کندنما برګ څادر ، په غاړه کښې دَ تعویذونو او تسبو امیلونه ، په لاس کښې دَ ډمبر غټې سوټی ، دَ سوټی سرته دَ مختلف رنګونو ټکړې اوزانګیدلی زونډی ، په څنګ کښې اویزانده لوې ګوډې ، په خپو اوچې ، زړې څپلۍ ، دَ دواړو لاسونو په ګوتو کښې دَ چاندۍ ګتمې ، په ګتمو کښې شنۀ ، سرۀ او تور غمی ، دا وو دَ پیریانو بابا شکل وصورت ، شخصیّت او حیثیت ۔ دَ هغۀ هرکلی ته ټول خلق اودریدل ۔ دَ روغ جوړ نه پس هغه په کټ کښې په عزت کینولې شو او درې څلور بالختونه ورته ډډو ته کیښودې شو ۔ دَ کیناستو سره هغه خپله غاړه غوټه پرانسته ، یو کتاب یې ترینه را اوویستلو او هغې ته یې کتل ۔ یوه شیبه پس یې مامدی ته اووې چې دَ تور چیلی ګرمه وینه پکار ده ۔ دَ مامدی په وینا باندې جنت ګل دَ کور نه خپل تور چیلې راوستو ۔ هغه حلال کړې شو او دَ هغه ګرمه وینه هغه له راؤړې شو۔ پیریانو بابا یو ډکې په وینه کښې غوپه کړو او په یو سپین کاغذ یې دَ وینې یو څو کرښې راخکلې ۔ بیا یې کاغذ مامدی له



www.pukhto.net



ورکړو او ورته یې اووې چې په روانو اوبو کښې یې لاهو کړه خو هلته ایساریږه مه هسې نه چې څۀ نقصان درته اورسی ۔ مامدی هم هغسې اوکړل څنګه چې ورته هغه ویلې وو ۔ کاغذ یې په کاټیاله کښې لاهو کړو او ځان یې په یوه منډه هغه له را اورسوو۔ دَ هغه دَ راتلو نه پس دَ هغه توجه اونې او دَ اونې خاخونو ته شوه ۔ هغه باندې رچ اولګیدو ۔ هغه رچیدو او کټ جر کیدو او دَ خولو نه جب جوب شو ۔ یوه شیبه پس خپل زوړ حالت ته راغی۔ بیا یې ځان سره خبرې کولې ۔ سوال به یې هم په خپله کوو او جواب به یې هم په خپله ورکوو۔ بیا یې مامدی ته اووې " مامدیه ، پیرې م قابو کړې دې اوربل کړه او دغۀ چیلې اوریت کړه "۔ مامدې او دَ هغه ملګری اوربل کړی چیلې اورتوی او هغه ځان سره لګیا وی خاندی او وائی " څنګه بیا به کوې ، زۀ دې اورتوم او چیچمه چې دا خلق درنه خلاص کړم " هغه لا پیریانو سره لګیاوی خبرې کوی چې مامدې راشی او هغه ته وائی "باباجی ، چیلې اوریت شو "۔

پیریانو بابا:۔ یو پتون ترینه راؤړه چې دۀ نه ځان بې غمه کړم ،مامدی چی هغه له دَ چیلی پتون راؤړی نو هغه ورته اړم شی خوری یې ۔ بیا مامدی ته وائی " مامدیه ، دَ ټکړو نه یو غونډسکې جوړ کړه ، دَ خاؤرو تیلو کښې یې خوشت کړه ، یو سیخ کښې یې اومنډه او ماله یې راؤړه ۔ یو پیرې باغی شو اوتختیدو ، دې کورونو کښې پټ شو ۔ زۀ ورپسی ورځم چی هلته یې اوسیزم " هغه لا دَ چیلی په پتون اړم

وو چې دَ خاؤرو تیلو کښې خوشت غونډسکی په سیخ کښې پییلی راؤړې شو۔ هغه چی دَ تیلو غونډسکی ته اوکتل نو مامدی ته یې اووې، "مامدیه، دا مشال بل کړه"۔

مامدې:۔ ډیره ښه ده جی۔ مامدی چی مشال بل کړو او هغه له یې راؤړو نو هغه مشال لاس کښې اونیوو او هغه ته یې اووې "مامدیه، یو شیطان باغی شوې دې او هغه په دې کورونو کښې پټ شوې دې۔ زۀ ورځم چی هغه اوسیزم او تاسو د هغه دَ نقصان نه خلاص کړم۔ تۀ دوی ته اووایه چې په خپل خپل ځایونو کینی او زما دَ راتلو انتظار اوکړی۔ زما دَ راتلو پورې ثوک دَ خپل ځایه اونه خوځی۔ هسې نه چې د دغه شیطان په شکل شی او دَ هغه په ځاې دې لاړ شی۔

مامدې:۔ تاسو دَ بابا خبره وورېده کنه۔ تول په خپل خپل ځاې کینی۔ یوخوا بل خوا لاړ نشی۔ هسې نه چې دَ املوکو تول کښې راشی او دَ خر په ځاې کولال اوداغی۔

پیریانو بابا:۔ مامدیه، زما دې کتابو او دغه سامان ته خیال کوه او تول زما دَ راتلو پورې لاسونه اوچت کړی چی خداې په دغه شیطان برې راکړی، ډیر ظالم دې"۔ تول خلق لاسونه اوچتوی او دَ هغۀ دَ کامیابۍ دَ پاره دعا کوی۔ هغه بل مشال په لاس ډیر په قهر روانیږی او کلی کښې داخلیږی۔ یو یو کورته ورځی، زنانه په یوه کوټه کښې بند کړی او په نورو کوټو کښې مشال په لاس ګرځی او ځان سره ثۀ وائی۔ په دې دې کښې هغه په ټولو کورونو کښې اوګرځی۔ چې



www.pukhto.net



مشال اوسوزیدو او مړ شو نو دَ هغۀ کار ختم شو۔ دَ ماښام نه ماسخوتن شو، دَ ماسخوتن نه شومه دم شوه، دَ سحر اذانونه شروع شول خو دَ بابا ثۀ ښنخه پته اونه لګیده۔ چی دَ حی علی الصلواه حیی علی الفلاح ټکی راغلل نو خلق دَ جمات په ځاې کورونو ته روان شو۔ چې کورونو ته لاړل نو دَ هر کور زنانه په یوه یوه کوټه کښې بندې وې، چې هغوی پسې وروښه لری شو او هغوی خپلو خپلو کوټو ته ورغلل نو لویه تباهی او لوټ مارې شوې وو۔ دَ هغوی بکسونه، صندوقونه او الماری لرې کړې شوې وی او کالی او نغدې روپۍ ترینه اوړلې شوې وې۔ کور په کور چغې لړې او ژړاګانې شروع شوې۔ یو سړې راغی، ټول کلې یې لوټ کړو او روغ جوړ دَ کلی نه اووتو۔ دَ غرمې چې بیا په ډاګ کښې خلق راغونډ شو نو هر یو به پیریانو بابا ته کنځل کول او وئیل به یې چې زما دَ کور نه یې دومره دومره کالی او دومره روپۍ یوړې۔ جنت ګل شونډې زوړنده کړې وی او ځان سره لګیا وو "ته ګوره کنه ورته، پیسې، کالی هم لاړل او تور چیلې هم"۔ د ریخان بابا سترګې پټې کړې وی او د دغه ټولو کسانو ژړا فریاد یې اوریدو۔

زرین (د ریخان باب نه تپوس کوی) "بابا تا ثۀ اونه وې۔ تانه یې ثومره کالی او پیسی یوړې"؟

دریخان بابا:۔ مانه یې هیڅ نه دی اوړې۔ ماته دغه ټګ معلوم وو، ماکره چې راغی نو ما ورپسې لرګې راواخستو او دَ کوره مې بوت

اوویستلو ۔

زرین :۔ تاته دغه ټګ معلوم وو؟

دریخان بابا:۔ ماته هغه هم معلوم وو او دا پیریان هم خو هغه دَ چا خبره چې شیخ فریده ، خوله پټه بهتری ده ۔

زرین :۔ دا کانی ګینې پیریانو نه ویشتل ۔

دریخان بابا:۔ نه بالکل نه ۔

زرین :۔ دا څوک وو؟

دریخان بابا:۔ دا هر څوک چې وو خو پیریان نه وو او که رشتیا ریاندې وائې نو دا مونږ په خپله وو۔

زرین :۔ دا خان زیب او شاه زیب چا یرولی او وهلی وو۔ دا هم دروغ دی؟

دریخان بابا:۔ دا هر څوک چې وو خو پیریان نه وو ۔ که د دې ورانې ماشورې سرمِ درله په پنځه منټه کښې معلوم نه کړو نو زما نوم به دریخان نه وی ۔

زرین :۔ ښه څه معلوم کړه ۔

دریخان بابا :۔ داسې نه ، تاسو ، څلور پنځه کسان راپاسی۔ چې یو خوا ته کینو او په دې خبرې اوکړو ۔

زرین :۔ څلور ، پنځه ، څوک څوک ؟

دریخان بابا :۔ یو ته شه ، بل به خان زیب شی ۔ ورسره به شاه زیب او مامدی او شامتی شی ۔

هغوی شپږ، وانه پاڅی ۔ د ډلې نه بیل شی او لرې یو خوا ته کینی ۔



www.pukhto.net



دریخان بابا وائی " لوبه دَ خان زیب نه شروع شوې ده ۔ ته هلکه رشتیا رشتیا وایه چې تۀ چا وهلې یې ۔

خان زیب :۔ پیریانو ۔

دریخان بابا :۔ کوم ځاې یې وهلې یې ؟

خان زیب :۔ پټی کښې ۔

دریخان بابا :۔ چې اووهلې شوې نو بې هوشه شوې ؟

خان زیب :۔ بالکل ۔

دریخان بابا :۔ کور ته څنګه راغلې ؟

خان زیب :۔ دا معلومه نه ده ۔

دریخان بابا :۔ ستا ټوله خبره دروغ ده ۔ ستا په وهلو سره په ټول کلی کښې الفاؤ ، تلفاؤ او یره ترهه خوره ده ۔ ستا دَ لاسه ټول کلی پریشانه دې ۔ ټول کلې دې په عذاب کښې اچولې دې او ستا په وجه دا ټول کلی لوټ شو۔ تۀ رشتیا خبره ولې نه کوې ؟ ماته هر څۀ معلوم دی۔ خو زۀ ستا دَ خولې نه اوریدل غواړم ۔ که دروغ دې اووې نو ښه به نه وی صفا خبره اوکړه ۔

خان زیب :۔ چې هر څۀ درته معلوم دی نو کانی پرې کیږده خو زه پیریانو نه یم وهلې ۔

دریخان بابا :۔ دې نه معلومه شوه چې دې پیریانو نه دې وهلې (شاه زیب ته ) ښه شاه زیبه ته چا وهلې یې ۔

شاه زیب :۔ هر څوک چې وو خو پیریان نه وو۔

دریخان :۔ ښه دا مسله خو حل شوه چې دوی پیریانو نه دی وهلې اوس راځو کانو او چمانو له ، ښه شامتیه تاکره کانی چا ویشتل ۔
شامتی :۔ دا معلومه نه ده ۔
دریخان بابا :۔ تا چا کره ویشتل ؟
شامتی :۔ مامدی کره ۔
دریخان بابا :۔ ولې دې ویشتل
شامتی :۔ ده ما کره ویشتل ، مادۀ کره ویشتل ۔
دریخان بابا :۔ ښه مامدیه تا شامتی کره کانی ویشتلی دی ۔
مامدی :۔ بالکل مې ویشتلی دی ۔
دریخان بابا :۔ ولې دې ویشتل ۔
مامدی :۔ چې ده ما کره ویشتل نو ما به خو د دۀ کره ویشتل ۔
دریخان بابا :۔ د دې نه معلومه شوه چې مُشتې نمونځ خوارې "تاسو ټولو کښې غلا ده ، اوس که د دغه نورو کسانو نه تپوس اوشی نو دا خبره به بالکل صفا شی چې چمان تاسو په خپله ویشتل او بدنامول مو پیریان ( هغوی بیا کتهونو له راځی او کینی )
دریخان ( ټولو ته مخاطب شی ) تاسو ټول ووری چی دا چمان او کانی بل چا نه دی ویشتلې بلکه مونږ ټولو په خپله په یو بل ویشتلی دی۔
جنت ګل :۔ ته ګوره کنه ورته ۔ زما تور چیلې هم لاړو ، کالی هم لاړل او پیسی هم لاړې ۔
دریخان :۔ چې څۀ شوی دی ، هغه اوشو خو بیا دَ پاره خیال ساتی ۔


www.pukhto.net



اوس ټول پاځی ، د یو بل نه معافی اوغواړی ؟
ټول یو بل ته ورتر غاړوځی او دَ یو بل نه معافی غواړی ۔
زرین :۔ دا مسله حل شوه خو پیریانو بابا چی مونږ لوټ کړو د دې به څۀ کیږی ؟
دریخان بابا:۔ د دې هیڅ نه کیږی ۔ هغه روپۍ پیسې او کالی تاسو نه لاړل ۔ نه تاسو له کالی راتلې شی ، نه روپۍ او نه پیریانو بابا ۔ ګورۍ تاسو ته دَ جمات مُلا ډیرې ښه خبرې اوکړې خو تاسو ورله غلط رنګ ورکړو ۔ هغه تاسو ته وې چی خپل عملونه صحی کړۍ ، خیر ، خیرات ، عشر زکواة او صدقات ورکړۍ نو تاسو ترینه نورې نورې خبرې جوړې کړې ۔ هغه وې چې دَ خدای کور آباد کړۍ ، خدای به ستاسو کور آباد کړی ۔ دا ټولې خبرې هغه دَ ځانه نه دی کړې بلکه دا زمونږ دین او د دین احکام دی ۔ تاسو دَ هغه خبره اونه منله او هغه پسې مو ملنډې شروع کړې ۔ نتیجه یې دا شوه چې یو بوډا ، جانجې وانجې سړې راغی، ستاسو دَ کورونو حیا یې هم واخسته او ټول کلی یې لوټ کړو ۔ اوس که تاسو ټول توبې اوباسی ۔ دَ خپل استاذ نه معافی اوغواړۍ او دَ هغۀ دَ وینا مطابق خدای خوشحاله کړۍ نو خدای به تاسو خوشحاله کړی ۔ په دې خبره راپاسی ، دَ ماسپخین دَ نمانځه وخت دې چې ټول په جمع نمونځ اوکړو او توبې اوباسو۔ کیدیشی الله مونږ معاف کړی "۔
ټول په غونډه پاځی او نمانځه له روانیږی ۔

★★★★★

## شپږم باب

زرغـونـې دَ زبـرګـې میاشت راتلوته او دَ خلقو خیر، خیرات او صدقات ته سترګی ، نیولې وې ـ فیض الله دوکاندار او شاه زیب وخان زیـب زبـرګـې میـاشـت پورې ساه راخکلې وې ـ چې زبرګه میاشت را اوختـه نـو دَ هـغـې پـه ساه کښـې ساه او مخ کښې رڼا راغله او په زړهٔ کښـې یې دَ خلقو دَ خیر ، خیرات او عشر زکواة امید پیدا شو ـ په دې غـرض بـه هـغـې تیوله ورځ دَ کوځې ورلړې ساتو چې راؤړونکی ته په راتـلـو کښـې څهٔ تکلیف اونه رسی یا دَ پورې ور نه واپس نشی ـ پوره پـنـځـویشـت ورځـې هـغـې دَ خلقو دَ خیر ، خیرات لارې سارلې خو دَ هـغـې دَ کـور پـه لـور چا هم پینښه اونکړه ـ هغې په زړهٔ اوخوړه چې شایـد چـاتـه دَ هـغـې دَ غـریبـۍ او بـې وسۍ معلومات نیشته ـ چې اونشوه نو بیا یې په خپله بورقه په سر کړه ، عادل زیب یې په غیږ کړو او دَ کوره اووته ـ دَ واده نه پس دا دَ هغې ړومبې ځل وو چې دَ کوره بهر شـوه ـ هـغـې بـه داسې چرې هم نه وو کړی خو یو خوا نه به فیض الله څـو پـه څویمه هغې له پیغام رالیږو چې ځان تیاره وه ، ستا دَ پیسو په نیتـه کښـې دومـره دومـره ورځـې پاتې شوې ، بل خوا به دَ شاه زیب او خان زیـب ښـځـو دَ هـغـې دَ دیـوال چنې سره هوائی چغې وهلې چې ځان تیاره وه میاشت په ختمیدو ده ـ دَ هغې زړهٔ په نرو ډکو بانده وو او دَ هـغـوی هـرې چـغـې سره به دَ هغې زړهٔ تلو راتلو او خکته پورته به



www.pukhto.net



کیـدو ـ هـغـه دومـره یـریدلې وه چې دَ پانی کش او دَ ورګړب سره به دَ هـغـې زړهٔ رپیـدو ـ شپـه ورځ به په کوټه کښې دننه وه او دَ مرجانې او دلبـرو دیـوالـونـو تـه بـه یـې کتـل چې چرته بیا ورپسې په دیوالونو را اوچتـې نشـی ـ دَ عـلـی زیـب مـرګ هغې ته ډیر غمونه ، وسوسې او تـلـوسې ، پریښې وې ـ یو غم دَ هغهٔ جُدائی وه او نور ټول دَ هغې ذلت او رسوائی وه ـ هـغـې دا غـوښتـل چی هغه خپلې پورې راپورې په چپـه خـولـه ورکـړی خو څنګه او څه رنګه ؟ هغه دَ " څنګه " او " څه رنګه " دوو میرټونو په مینځ کښې ولاړه وه او ناسته پاسته او ګرځیدهٔ یې بې ارامه وو ـ

هـغـه دَ چا خبـره چې دَ قرض داری سترګې همیشه ټیټې وی ـ دغه حال دَ زرغـونـې هـم وو ـ فیـض الله دوکـانـدار دَ بښې نه سپکه کړه خو هـغـې ورتـه پـورتـه اونه کتل ـ مرجانې او دلبرو ورته دَ بدو ردو ویلو او پیـغـور نـه عـلاوه هغه او دَ هغې ماشوم ځوې په کانړو اوویشتو خو نه ورتـه هـغـې خبرې اوکړې ـ نه یې دَ هغوی دَ کنځلو جواب په کنځلو ورکـړو او نه یې پرې دَ یوې لوټې ګزار اوکړو ځکه چې دَ هغې سترګې ورتـه ټیټـې وې ـ نـه هـغـه بـې زړهٔ وه او نـه مـاشومه وه خو دَ هغې په خولـه کښـې دَ قرض لومه وه ـ هغې دَ مرجانې او دلبرو خلاف په تانړه کښـې رپـورټ هـم کولې شو ـ دَ خپلې بې عزتۍ او دَ شاه زیب او خان زیـب دَ زیـاتـی خـلاف یې دعوئ هم کولې شوه او په جیل یې هم دننه کـولـې شـو خو هغې دا نه غوښته چی دَ خلقو په نظر کښې سپکه او

قلندره شی ۔ دَ هغې په عزت حملې اوشوې ، هغې دواړه حملې په شا اوتمبولې خو دَ هغې دَ خوله نه یو غوږ او بل غوږ خبر نشو ۔ هغه په کانړو اوویشتلی شوه خو ویش قدرې یې اونکړو ۔ البته دَ بې وسی په اوښکو یې وس نه رسیدو ۔ هغه یې نه ستنولې شوې او نه یې اودرولې شوې ۔

هغه په دواړو بانړو کښې د ابښتې پوښتنې په بهانه اوګرځیده خو دَ هغې خوله سوال ته جوړه نشوه او د خپلې یاندې چا ورنکړې ۔ چې څنګه دَ کوره تشه اوتې وه ۔ هغسې تشه جولۍ او سره خوا راغله۔ دې نه پس دوه ، درې ځله بیا هم اووته خو خوند یې اونکړو ۔ دَ میاشتې په اخری ورځ فیض الله هم پیغام را اولیږو چې " ځان تیاره وه صبا له به درځم "، او مرجانې او دلبرو هم اورونې اوکړې ۔ دَ هغوی سرې په شاشوی او ښځې یې مخکښې شوې وې ۔ یو ځل دَ هغې په زړهٔ کښې راغله چې ورته جرنده وا چوی او مور کره لاړه شی خو بیا یې په زړهٔ کښې راغله چې آیا هلته دَ هغې په تګ به دَ هغوی قرضه ختمه شی ؟ ظاهره خبره ده چې چرې هم نه ۔ بله دا چې دَ یو کلی جهګړه بل کلی ته ولې یوسی او دَ هغې دَ بې عزتۍ سره سره دَ هغې دَ مور او رونړو خویاندو بې عزتې ولې اوشی ۔ چې دَ هغې ټول امیدونه ختم شو نو دَ کوځې ور یې هم پورې کړو او دَ کوټې هم ۔ مصله یې راواخسته او نمونځونه او نفلونه یې شروع کړل ذکر واذکار او تسبیحات یې شروع کړل او الله ته یې منت زاری او ژړا فریاد شروع



www.pukhto.net



کړو ۔ دَ هغې په کوټه کښې یو ه زړه چاټۍ پرته وه ۔ هغې به ژړل او په ژړا کښې به یې دعا غوښتله " چې یاالله زهٔ خو د دې خلقو دَ قرض نه ډیره تنګه شوم ۔ زما ټولې اسرې ختمې شوې او ته مِ اخری اسره یې ...ته مِ اخری امید یې ... یاالله ته مِ د دوی دَ محتاجۍ نه خلاصه کړې ...یاالله تا ته محتاجه ښځهٔ یم خو ستا دَ بندیانو دَ محتاجۍ نه پناه غواړم ... یاالله ته مِ ژړا وورې ، زما خو بل څوک نشته چې ژړا ورته اوکړم ... یاالله دا مخامخ چاټۍ دَ روپو ډکه کړې چې دوی له یې ورکړم او دَ دوی راباندې څهٔ احسان پاتې نشی ۔ یاالله تا نه بغیر زما هیڅ څوک مددګار نیشته ۔ ته مِ دَ غیبو نه مدد اوکړې او دا چاټۍ دَ روپو نه ډکه کړې "۔ بیا یې ټوله شپه دغه دعا غوښته چې ، "یاالله دا چاټۍ دَ روپو نه ډکه کړې "۔ هغې ټوله شپه الله ته ژړل او دغه دعا یې غوښته ۔ چې کله مطمئنه شوه نو خوشحاله شوه او کټ کښې سملاسته ۔ خپل ځوې یې ښکل کړو او سینې ته یې راجخت کړو۔ دَ صبا سترګه چې راخته نو دَ هغې سترګې ورغلې ۔ هغه په درونډ خوب اودهٔ وه چې فیض الله ورته وراوډبوو هغې چې دَ ور ډبار ووریدو نو په دې نیت خوشحاله خوشحاله پاڅیده چې هغه ته دَ کوځې ور لرې کړی ، کور ته یې راولی ، بیا دَ روپو ډکه چاټۍ راواخلی هغه ته یې مخکښې کیږدی او ورته اووائی چې " فیض الله روره ، ستا دَ احسان ډیره ډیره شکریه ، خفه نشی ، راشه د دې روپو نه خپلې روپۍ واخله او خپله مخه کوه ۔ هغې هم دغسې کول غوښتل خو دَ هغهٔ دَ

راواستونه مخکښې هغه چاټې له ورغله ـ هغه یې راواخسته او بهر
یې په غولی کښې کېښوده ـ هغې چی چاټې ته اوکتل نو هغه
بالکل تشه توره وه ـ البته دَ چاټې په خوله دَ نمر په رڼا کښې دَ جولا
سپینه کډې ځلیده او په دغه ریښمی پالنګ کښې یو جولا ناست وو
او دَ هغې دَ مایوسی تماشه یې کوله ـ هغه ورته ډیره شیبه لکه دَ بت
په غټو سترګو دم ختلې ولاړه او چاټې ته یې کتل ـ بیا یې یو آه
اوکړو او په دردناکه لهجه کښې یې اووې " یاالله زما دَ ټولې شپې دَ ژړا
فریاد داصله ؟ مادرنه څهٔ غوښتل او تا څهٔ راکړل ؟ زهٔ به دوی ته څهٔ
ویم؟ دوی له به څهٔ جواب ورکوم "ـ دې سره یې چاټې په دواړه لاسه
اوچته کړه او زمکې له یې راخلاصه کړه ـ چاټې درې وړې شوه او
هغه کوټې ته لاړه ـ هلته فیض الله په چغو لړو ټول خلق خبر کړل ـ دَ
هغه په چغو ځینې مشران راغلل او دَ هغې ورسره اودریدل ـ په دغه
مشرانو کښې یو دریخان بابا وو او نور دوه شامتې او مامدې وو ـ
دا ټول دَ علی زیب دَ کورنی تربوران وو او په خپلو کښې یې ستر پړده
نه وه ـ د ریخان بابا ور اوډبوو او دَ زرغونې نه یې کورته دَ راتلو اجازت
واخستو ـ زرغونې ورته ورلړې کړو او هغوی له یې کورته دَ راتلو
اجازت ورکړو ـ چی هغوی ټول په کټونو کښې کیناستل نو دریخان
بابا زرغونې نه تپوس اوکړو ، زرغونې بچې ته دَ فیض الله پیسی
منې؟
زرغونه :ـ منم یې ولې نه بابا خو څهٔ اوکړم چی نیشته راسره نو د


www.pukhto.net



کو مې ورکړم ـ مادَ زبرګې میاشتې نیته په دې غرض ورکړې وه چې
که چا خیر زکوة راکړو نو پیسه په پیسه به دوی له ورکړم خو هیڅا
هم څهٔ رانکړل ـ بیګاه مِ ټوله شپه الله ته ژړا اوکړه چی یاالله دَ غیبو نه
مِ سوب اوکړې چې دې ټولو له خپلې خپلې پیسې ورکړم ـ
دریخان بابا :ـ فیض الله خانه ، ستا دَ دې په خبره تسلی اوشوه ؟
فیض الله :ـ په خبرو مِ تسلی نه کیږی بابا ـ تسلی به مِ هله اوشی چې
پیسې راکړی ـ
دریخان بابا :ـ ته څهٔ وائې بچې ؟
زرغونه :ـ زهٔ به څهٔ اوویم بابا ـ ما خو ټوله شپه الله ته زاری اوکړه چې
هغه ته منظوره نشوه نو دهٔ ته به زاری منت کوم ـ
فیض الله :ـ ماته دَ زاری منت ضرورت نیشته ـ ماته دَ پیسو
ضرورت دې ـ ځوی له مِ دَ واده نیته ایښې ده ـ یادې پیسې راکړې او
که پیسې ورسره نه وی نو دَ کور فرنیچر دې پکښې راکړی ـ
زرغونه :ـ فرنیچر تانه منعې نه دې خو دغه یو ډبل بیډ دې او دوه
کرسی دی ـ
فیض الله :ـ په دې زما کار کیږی ـ
زرغونه :ـ ستا کار خو پرې کیږی خو دې نورو سره به څهٔ کوم ـ
فیض الله :ـ دغه ستا مسله ده ـ هغوی له لوښی ورکړه ـ
زرغونه :ـ ښه ده چې په دې درنه خلاصیږم نو یوسی ، دا هر څهٔ
یوسی خو ما پریږدی ـ بابا شاه زیب او خان زیب هم را اوغواړه او

کولال هم چی دا هر څه په خپلو کښې تقسیم کړی ـ
دریخان بابا:ـ ورشه مامدیه دغه ټول را اوغواړه چې دا قیصه ختمه کړو چی ټول راشی نو دریخان بابا دَ شاه زیب نه تپوس کوو ، " شاه زیبه تا دَ علی زیب په مرګ څومره روپۍ لګولې دی " ؟
شاه زیب :ـ اوولس زره روپۍ ـ
دریخان بابا :ـ خان زیبه تا څومره خرچه کړې ده ؟
خان زیب :ـ دولس زره روپۍ ـ
دریخان بابا:ـ فیض الله ستا دَ ګورکفن څومره خرچه ده ـ
فیض الله :ـ اته زره روپۍ ـ
دریخان بابا ( غفران کولال ته ) غفرانه ستا څۀ کیږی ـ
غفران :ـ زما یوه پیسه هم نه کیږی ـ دغه دَ لاس خپو خدمت مِ کړې دې ـ
دریخان بابا :ـ د دې څومره پیسی کیږی ؟
غفران:ـ دَ مړی دَ خدمت به څۀ پیسې وی ؟ زۀ کولال یم خو پښتو ویم او پښتو کوم ـ که نوره څۀ خبره نه وی نو زۀ به درنه لاړ شم ـ ډیر کار راته پروت دې ـ
دریخان بابا :ـ نه نیشته ، څه ورځه ، لوئې شې ـ
چې هغه لاړ شی نو دریخان بابا هغوی ته وائی " کولال خو لاړو دَ مینځ نه اووتو ـ زرغونه لور ستاسو پیسې منی خو نیشته ورسره ـ که تاسو دَ غفران خپله خپله قرضه بخی خو ډیره ښه ده او که نه بخی



www.pukhto.net



نو دغه کور ستاسو مخکښې پروت دې ـ دغه سامان دَ پیسو په نسبت خپلو کښې تقسیم کړی ـ
فیض الله :ـ کولال خو ځکه لاړو چې دَ هغۀ دَ لاس خپو خدمت وو او زما خو پرې دَ جیبه نغدې تلی دی ـ زۀ خپله قرضه نه معاف کوم ـ
دریخان بابا :ـ شاه زیبه ، علی زیب ستا رور وو ـ تا که دَ هغۀ په مرګ کښې څۀ خرچه کړې ده نو هغه ستا فرض وو ـ تۀ خپله قرضه معاف کوې ؟
شاه زیب:ـ رور تر هغې رور وی چې نوری دې ورسره شریکه وی ـ چې نوری بیله شوه ، رورولې ختمه شوه ـ زۀ خپله قرضه نه معاف کوم ـ
دریخان بابا :ـ خان زیبه ته خپله قرضه هغه ته بخې ؟
خان زیب :ـ زما او دَ لالا مِ یوه خبره ده ـ
دریخان بابا :ـ ټیک ده دا دَ کور سامان خپلو کښې دَ روپو په نسبت تقسیم کړی ـ
فیض الله پاځی ، دَ زرغونې کوټې ته ننوځی او ډبل بیډ ترینه را اوباسی ، بهر یې کیږدی او بیا دواړه کرسۍ را اوباسی ـ هغې سره یې کیږدی او وائی " ماته خپله قرضه را اورسیده ـ علی زیب زما په کفن کښې سملاستو ، زۀ به دَ هغه په ډبل بیډ کښې سملم "ـ هغه دواړه کرسۍ اوچتی کړی او کورته یې اوړی ـ په تلو تلو کښې وائی " مامدیه او شامتیه دا ډبل بیډ راواخلی خو خیال کوئ چې مات یې نکړئ " ـ

شامتې او مامدې ډبل بیډ اوچت کړی او هغه پسې روان شی ـ شاه زیب او خان زیب دَ زرغونې دَ کوټې نه دَ هغې دَ واده سامان سره دَ بکسونو ، برستنو او لوښو را اوباسی او په غولی کښې یې ډهیرې کوی ـ چې سامان را اوباسی نو دواړه ورته اودریږی او خپلو کښې پس پس کوی ـ بیا شاه زیب دریخان بابا ته مخ کړی او هغه ته وائی " چې ډبل بیډ او کرسۍ ترینه لاړې نو دا باقی پاتې سامان خو دَ لس زره روپو هم نه دې "۔

دریخان بابا :ـ دا که دَ هر څو دې خو تاسو یې په دغه روپو کښې قبول کړۍ ـ

شاه زیب :ـ دا خو سراسر زیاتې دی بابا، زه پکښې اونشوم ـ

دریخان :ـ څه ټیک ده ، ستا دَ وینا مطابق دغه په لس زره ځان ته اولګوۍ چې څۀ پاتې شی نو بیا به درکړی ـ

شاه زیب:ـ نه بابا ، بیا بیا پکښې نیشته ـ هم نن زمونږ فیصله اوکړه چې خبره ختمه شی ـ

دریخان بابا :ـ دې غریبې سره نور څه دی چې تاسو له درکړی ؟

خان زیب :ـ دا کور په سر پاتې شو ، په باقی پیسو کښې به دا راکړی۔

دریخان بابا :ـ پردې کور څنګه درکړی دا خو دَ خانانو دې ـ

شاه زیب :ـ که کور دَ خانانو دې خو دَ شپیتو کالو قبضه پرې زمونږ ده ـ او که دَ خانانو دې نو لا ښه ده ـ په دغه باقی پیسو کښې دې مونږ له راکړی ـ

دریخان بابا :ـ چې کور تاسو ته پریږدی نو دا غریبه به چرته ځی ـ



www.pukhto.net



شاه زیب :ـ د دې ځایونه ډیر دی ؟

خان زیب :ـ د دې دَ څۀ کمې دې ؟ ( زرغونه په خوارو سترګو دریخان بابا ته ګوری )

دریخان بابا :ـ ستاسو دا خبرې مِ خوښخې نشوې ( زرغونې ته ) "خفه کیږه مه لورې ، زما کور ستا کور دې "۔

شاه زیب او خان زیب لګیا وی دَ کوټې نه خمان ، چاټې ، منګی ، بکسونه ، لوښی هرڅۀ را اوباسی ـ بیا یې لکه دَ قربانۍ دَ غوښې دوه ډهیری کوی او وټ کټ یې اوباسی ـ دَ سامان په راؤخکلو کښې شاه زیب د کوټې نه یو غونډسکې بهر سامان ته اولی ـ عادل زیب چې غونډسکې اووینی نو دَ مور دَ غیږ نه پاسی او مور ته وائی "ما . . . بال" دې سره هغه په ورو ورو خپو غونډسکی پسې روان شی ـ چې غونډسکې په لاس کښې اونیسی نو شاه زیب ورپسې دَ کوټې نه راؤځی ـ غونډسکې ترینه واخلی او خپل کور ته یې لړه کړی ـ عادل زیب په ژړا شی او په چغو چغو مور له راشی ـ زرغونه چې هغه په ژړا اووینی نو دَ خولې نه یې یو آه اوخیژی او په ډکو سترګو اسمان ته ګوری ـ دَ هغې سترګې لا په اسمان لګیدلې وی چې دَ هغې دَ کوځې ورواوډبیږی ـ دې سره یو ماشوم دَ بهر نه راځی او دریخان بابا ته وائی " پولیس راغلې دې او زرغونې خور سره لیدل غواړی " ـ زرغونه خپلی اوښکې اوچوی او وائی " ما غواړی "؟

دریخان بابا :ـ دوی چا خبر کړل ؟

شاه زیب او خان زیب چې دَ پولیس نوم ووری نو دواړه خپلو خپلو کورونو ته دَ پنائی په دیوالونو ووړی او خاموشی شی ۔ زرغونه دَ کوټې ورله ورشی او پولیس ته سلام کوی بیا ورته وائی "تاسو ماته څه ویل غواړی صیب" ۔

اے ایس آئی ۔ دا دَ علی زیب کور دې ؟

زرغونه :۔ هاؤ جی ۔

اے ایس آئی :۔ ته دَ علی زیب بی بی یې ؟

زرغونه :۔ هاؤ جی ۔

اے ایس آئی : څوک مشر کشر دې نشته ؟

زرغونه :۔ کشر مې په غیبې دې او مشر کور دې ۔

اے ایس آئی :۔ مونږ ته اجازت دې کور ته درتلې شو؟

زرغونه :۔ هاو صیب ، بالکل ۔

اے ایس آئی په ګاډی کښې ناست یو سړی ته وائی " راځی صیب" دې سره هغه هم دَ ګاډی نه راکوز شی ۔ یو سپاهی ګاډی سره اودریږی او نور کور ته راشی ۔ اے ایس آئی چی دَ کور سامان ته اوګوری نو وائی " دا ولې "؟ دا هر څۀ ولې ګډوډ پراته دی ؟

دریخان بابا هغوی سره روغ جوړ کوی بیا وائی " دا هر څۀ د دې غریبی نه په قرض کښې لاړل ۔ راځی کینی جی ۔

اے ایس آئی :۔ په قرض کښی ولې لاړل ۔

دریخان بابا :۔ که تاسو کیناستی نو زۀ به درته ټوله خبره اوکړم " چی هغوی کینی نو هغه ورته ټوله قیصه اوکړی ۔ په اخره کښې ورته



www.pukhto.net



وائی " تاسو جی څنګه راغلی ؟

اے ایس آئی :۔" زمونږ د دې صیب بی بی سره څۀ کار دې ۔ زۀ دۀ سره راغلې یم " دې نه پس میلمه خپل تعارف کوی او وائی " زما نوم کریم خان دې ۔ زۀ ډی ۔ سی صیب سره په دفتر کښې پی اے ایم او دَ هغوی له خوا دلته په یو خصوصی مشن باندې راغلې یم ۔ ماته بیګاه درې بجے صیب فون اوکړو او دلته دَ راتلو حکم یې راکړو ۔ زۀ افسوس کوم چی په راتلو کښې لږ ناوخته شو ۔ ښه بی بی دَ علی زیب شهید دَ ګورکفن او دَ خیر خیرات دَ پاره سرکار څۀ پیسې رالیږلی دی ۔ اګر چه دا ستا دَ غم نعم البدل نشی جوړیدې خو دَ مهنګائی په دې موجوده دور کښې ستا دَ زخمونو پټی جوړیدې شی " ( هغه دَ سوټ کیس نه دَ زرګونو درې بنډله را اوباسی ، هغې له یې ورکوی او ورته وائی " دا درې لاکهه روپۍ دی بی بی ۔ دا کهره کړه او اوشماره" زرغونه روپۍ په لوپټه کښې واچوی ، دَ جولۍ په شکل یې نیسی او اسمان ته ګوری او وائی " یاالله ستا ډیر ډیر شکر دې چې تا په مونږ رحم اوکړو او زمونږ عزت دې اوساتو "۔

کریم خان :۔ ښه بی بی مونږ ته اجازت دې تلې شو ۔

زرغونه :۔ نه صیب ، چائے اوڅکی نو بیا به لاړ شی ۔

دریخان بابا :۔ صیب چې دومره تکلیف مو کړې دې نو لږ نور هم اوکړی ۔ دَ قرض په پیسو کښې د دې غریبی نه دَ کور سامان لاړو ۔ د دې فیصله اوکړی چې خپلی روپۍ ورکړی او خپل سامان ترینه واخلی ۔

اے ایس آئی : دا اسانه ده " هغه فیض الله او شاه زیب وخان راؤغواړی هغوی لـه خپـلی روپۍ ورکړی او دَ هغې سامان واپس کړی ۔ بیا هغوی ټول دَ هغې نه معافی اوغواړی او قیصه ختم شی ۔

★★★★★

## دویمه برخه

ویـلې کیـږی چې دَ چا هیڅوک نه وی ، بیخی یوائې وی نو الله یې مل وی ۔ د دې خبرې تصدیق هغه وخت اوشو چې زرغونه په ډک کـلی کښې او په ګڼ شمیره خپلو خپلوانو کښې دَ خپلی غریبۍ او بې وسۍ پـه وجـه بـالـکـل یوائې پاتې شوه ۔ ټولو خپلوانو ترینه لاس اخستـې وو او تـعـلـق یې ورسره پریښې وو۔ سپکې خبرې به یې هم ورپسې کولې او خپل واړه به یې هم ورکره نه پریښودل ځکه چې د هغـې نـه دَ غـریبـۍ بـوئې تلو او دغه بوئې په ټول کلی کښې خور شوې وو او هیچا نه غوښتل چې دغه وائرس هغوی ته منتقل شی ۔ پـه ډاګ کښـې بـه هـغـې پسې خبرې کیدې او خلقو به ورپسې نورې نـورې خبـرې تـړلـې ۔ چـا وې دا پیـریـانۍ ، چا وې جادوګره ده ۔ چا وې لیـونۍ ده ۔ چا وې کوډګره ده ۔ چا پکښې دا هم وې چی کله نه دا دې کـلی ته راغلې ده نو د دنیا ټول مصیبتونه او عذابونه په دې کلی نازل شوی دی ۔ ځینو پکښې دَ هغې پوره تاریخ را اوویستلو چې دَ وادهٔ نه مـخـکښـې یـې خـوابـنـخـې او سخر ګور ته اولیږل او دَ وادهٔ نه پس یې خاونـد اوڅټو ۔ چا چې دغه خبرې کولې هغه څوک پردی نه وو بلکه



www.pukhto.net



دَ هغې دَ خاوند خپل مین او تربوران وو۔

دَ هغې کور دَ هغې مخکښې تالا کیدو ، دَ هغې دَ وادهٔ سامان یوخوا بل خوا ویشلې کیدو ، ښهٔ تقسمیدو او خراب پاتې کیدو، هغې ورتـه پـه غـټـو غټو کتل ، هر څهٔ یې دَ نظره ویستل، په چپه خوله یې هر څهٔ لیـدل خو هیڅ یې نه وئیل او نه یې وئیلې شو۔ ډیر څهٔ ویلې شو او ډیر څهٔ یې کولې شو خو هغې ځان شرمول نه غوښتل ۔ هغه دَ خداې نه په دې خفه وه چې دَ هغې سوال ولې قبول نشو۔ کیدیشی دَ هغـې دَ صبـر امتـحـان لا پوره نه وه او دا هم ممکن وو چې دا امتحان نور هم اوږد شوې وې خو چې دَ هغې دَ ماشوم ځوی او دَ الله دَ نیازبین او مـعـصـوم نـه شاه زیب دَ لوږو غوندسکې واخستو ، کور ته یې لړه کـړو نو دَ هغې نه هم نور صبر او نشو او دَ الله نه هم ۔ هغهٔ خپل کرم دَ کـریـم خان پـه صـورت کښـې رااولیـږو ۔ هغه کرم او هغه رحم چې دَ هـغـې زړهٔ دَخـوشـحـالـۍ نـه ټـوپـونـه اووهل او دَ هغې بدحالی پـه خـوشـحـالـۍ کښې بدله شوه ۔ دَ غیبو خزانې ورته پرانستې شوې او دومـره څهٔ ورلـه راغلل چې دَ هغې دَ توقع نه زیات وو۔ مروره زرغونه او س نـه صـرف پُـخـلا شوه بـلـکـه دَ ډیرې خوشحالۍ نه یې خپه په زمـکـه نـه لـګیـده ۔ خپـل ځان ورته خوږ خوږ او درونـد ښکاریدو ۔ په شـونـډو یـې مسـکـا او په سترګو کښې یې ځلا راغله ۔ دَ هغې دَ کور سـامـان پـه کـور کښې پاتې شو او دَ هغې نه معافی اوغوښتلې شوه ۔ اوس هـغـې تـه دَ خپـل کـور پـه اوچـو ، سپیرو دیوالونو کښې ښکلا،

ځلا، مینه او کشش ښکاریدو ، کله کله به ورته دَ علی زیب هغه زړې ، تیرې هیرې ، سوې لوې تپې رایادیدې او چې دَ کور کار به یې کوو نو ځان سره به ګونیده ـ کله کله به هغې ته داسې معلومه شوه چې هغه دَ هغې شاته ولاړ دې او دَ هغې تپې اوری خو چې روستو به یې اوکتل او هغه به یې اونه لیدو نو سترګی به یې ډکې شوې ـ

دَ کلو هم عجیبه لیونې مخلوق دې۔ نه څوک په غریبۍ کښې پریږدی او نه په امیرۍ کښې ـ مخکښې به یې دَ هغې دَ غریبۍ خبرې کولې اوس دَ هغې دَ مالدارۍ خبرې کوی ـ دا خبره ټولو ته معلومه وه چې هغه شته منه شوې ده خو دا ورته معلومه نه وه چې دا پیسې څومره دی او دَ کومې راغلې ـ شامتې تر هغې دریخان بابا پسې لګیدلې وو چې دَ هغه نه یې دا راز معلوم کړو ـ کله چې ترینه هغه دَ روپو دَ تعداد په باره کښې تپوس اوکړو نو هغۀ ورته صحی تعداد اونه ښودو خو دومره یې ورته اووې چې په لاکهونو دی ـ دومره خبره دَ شامتی دَ پاره کافی وه نور کار دَ هغۀ خپل وو۔ دا خبره او دا راز دَ هغۀ په زړۀ ځاې نشو ـ او دَ هغه په زړۀ کښې تر هغې تاویدو چې یو برق یې اوکړو او په خوله یې راغی ـ هغه په ډکه ډله کښې اووې چی " دا پیسې دَ علی زیب دَ ګور کفن دَ پاره او خیر خیرات دَ پاره سرکار رالیږلی دی ـ دا معلومه نه ده چې څومره دی خو چالاته وې چې په لاکهونو دی "۔ د بهر خبره کورونو ته اورسیده او ټولې ښځې ترینه خبر شوې ـ چې کله به هغوی په تنورونو راغونډې شوې نو نورې خبرې به پاتې شوې او دا خبره به یې



www.pukhto.net



ریشله ـ په اخره کښې به یې په دې ختمه کړه "یۍ دَ هرچا خپل خپل نصیب دې ـ مونږ له دې خداې خپلې راکړی چې دریې لوئې دې "۔ دَ مامدی مور ببوګله ړومبۍ ښځه وه چې په ټانټه کښې یې وړې مات کړو او دَ ابښتنې پوښتنی دَ پاره زرغونې کره لاړه ـ دَ هغې او دَ هغې دَ ځوی دَ سرونو څوڅو بلاګانې یې په خپل سر واخستې او لایې اخستې چې دَ شامتی مور شاهی لعله ببو هم را اورسیده ـ هغې دَ راتلو سره دَ هغې او دَ هغې دَ ځوی نظر مات کړو او دَ نظر ماتی یوه کټوۍ یې دَ شاه زیب دَ ور مخې ته ماته کړه او بله دَ خان زیب د ورمخې ته ـ هغوی پسې رو رو بیا دَ نورو زنانهٔ سیلونه رامات شو۔ هغه به په خپل کور کښې میلمنه وه ـ دَ هغې زړۀ نه غوښتل چی هغوی ته سترې مشی اووائی خو چې هغوی به خپلې بورقې په خپله دَ سرونو نه کوزې کړې او دَ هغې خواله به راغلې نو هغه به هم ورپاڅیده او روغ جوړ به یې ورسره اوکړل۔ چې پیسې ورسره راغلې نو اوس دَ چا نوسۍ شوه ـ دَ چا لور شوه ،دَ چا بی بی شوه او دَ چا بابی شوه ـ دا ټولې هغه زنانه وې چې دَ ښځو په هره ډله کښې یې دَ هغې کردار کشۍ کړې وې اوشا په شا یې دَ بنی نه زیاته سپکه کړې وه خو اوس چې حالات بدل شو نو دَ هغوی زړونه او خولې هم بدلې شوې او دَ سپکو او پوچو په ځاې "زار وقربان " شروع شو۔

ډیرې پکښې داسې وې چې دَ خپلی یاندی به یې دَ هغې کور جهارو کوو ، لوښی به یې ورله وینځل ، جامې به یې ورله وینځلی او ځوې به

یې ورله لامبوو۔

## اووم باب

جان محمد استاذ ته دَ سلمان په حالت زار باندې سخته ذهنی او قلبې صدمه رسیدلې وه ۔ په دې وجه هغه دوه ورځې پرله پسې سکول ته لانه ړو، البته په دې دوران کښې هغه دا کار اوکړو چې دَ هغه ټول کاغذونه یې را واخستل او ځان ته یې مخکښې کېښودل۔ بیا به یې یو یو کاغذ راخستو ، هغه به یې دَ خاؤرو دوړو نه صفا کوو، دَ هغې ګونجې به یې دَ لاس په استری هوارول او یو خوا ته به یې ایښودو چې ټول کاغذونه یې صحی کړل نو بیا یې ترینه دَ ژبو په لحاظ سیټونه جوړ کړل ۔ دا سیټونه دَ اردو ، انګریزۍ ، پښتو او عربۍ ژبې وو۔ بیا یې یو یو سیټ له ترتیب ورکړو ، څلور فائلونه یې ترینه جوړ کړل او ځان سره یې کېښودل ۔ بله ورځ چې هغه سکول ته تلو نو په سائیکل یې ځان پسې روستو اوتړل او سکول ته یې یوړل ۔ هلته به په خالی پیرډ کښې یو خوا ته کیناستو او یو یو کاغذ به یې لوستلو ۔ دې نه علاوه هغه دَ سراج بانډې او طوری بانډې شاګردانو ته ویلې وو چې کله سلمان ښکاره شی نو هغه پرې خبر کړی۔

هلته دَ مامدی مور بېوګله او دَ شامتی مور شاهی لعله بېو به ورځ کښې دوه ، درې ځله زرغونې کره راتلې او هرې یوې به ورته خپله زړۀ سترې ویلې ۔ دَ مامدی مور به په هر ټوخی کښې دا ټنګ اوروو چې دَ هغې دَځوی لاس تنګ دې ۔ دَ شامتی مور په هر اینګی


www.pukhto.net



کښې دَ خپل ځوی دَ بې وسۍ اورونه کوله خو هغې په لږ عمر او په لږه موده کښې دومره څۀ ازده کړی وو چې هغوی یې سیند له تږې بوتلې او تږې راوستې شوې ۔

مامدې چې کله دَ مور دَ کارکردګی نه مایوسه شو نو یوه ورځ په خپله هغې کره ورغی۔ او دَ هغې په کور کښې یې هغې ته سترې مشې اووې ۔ زرغونې دَ هغۀ سترې مشی واخستل او تپوس یې ترینه اوکړو " لالا څنګه دې لار غلطه کړه "؟ هغه په خندا کښې جواب ورکړو ، " نه خورې لارمِ نه ده غلطه کړې ، بالکل په صحې لاره راغلې یم ۔ خدائیګو تا ته ډیر ملامته یم خو څه اوکړمِ دَ زمینداری کار کښې داسې بوخت یم چې سرګرولو ته اوزګار نه یم "۔

زرغونه :۔ زۀ دَ چانه ګیله نه کوم لالا ، خو اوس څنګه راغلې ؟

مامدی:۔ تانه څۀ پړده ده خورې ، مور به مِ درته ویلې وی ، لاس مِ تنګ دې ، چې څۀ هنی مونی راسره وه هغه رانه پیریانو بابا یوړه ۔ اوس دَ پولۍ پړق ته ناست یم ۔ ما به کال په کال دَ پنجاب نه دَ لوی اختر دَ پاره میښې راوستې او ښۀ مزدوری به مِ کوله ، سخ کال مِ لاس تش دې ۔ ما وې که لږې روپۍ دې راکړې نو زۀ به پرې دَ پنجاب نه میښې راولم ۔ صرف دَ یوې میاشتې دَ پاره راکړه ۔ ډیره ښۀ واره وی پکښې ۔ کسان ډیر دی او هر سرې روپۍ راکوی خو ما په خپل زړۀ کښې وې چې بل چاله ګټه ورکوم نو خپلې خورله به ورکړم ۔ خورې ستا پیسې به په پیسو وی او ګټه به دَ الله په توره نیمه وی ۔

زرغونه :۔ ستا څومره پیسې پکار دی ۔

مامدې :۔ تاسره څومره دی ۔

زرغونه :۔ ته ما پریږده خپله خبره کوه ۔

مامدې :۔ کم از کم شل لاکهه روپۍ ۔

زرغونه :۔ شل لاکهه روپۍ ، دومره ماسره نیشته ۔

مامدې :۔ خیردې لس لاکهه راکړه ، په دې به کار اوچلوو۔

زرغونه :۔ دومره نشم درکولې ۔

مامدی :۔ ښه پنځه لاکهه راکړه ۔

زرغونه :۔ زه تاله هیڅ نه شم درکولې ۔ ماسره چې څۀ دی نو دا دَ بل چا دی ۔

مامدی :۔ دَ چا دی ؟

زرغونه :۔ دا زما دَ یتیم څوی دی ۔ سرکار سره دې خداې ښه اوکړی چې په مونږ یې رحم اوکړو ۔

مامدې :۔ خورې زه تانه قرض نه غواړم بلکه په گټه درنه غواړم او هغه هم صرف دَ یوې میاشت دَ پاره ۔ چې اختر تیر شی نو حساب کتاب به اوکړو ۔ مول او سود دواړه به درکړم ۔

زرغونه :۔ نه روره خفه نشی ۔ زۀ تاله هیڅ نشم درکولې ۔

مامدې :۔ تش لاس مې مۀ لیږه خورې ۔ زۀ خو ډیر په امید راغلې ووم۔ څۀ خو راکړه ۔

زرغونه :۔ مامده روره ، تۀ هغه سړې نه یې چې زما دَ کوره دې دَ علی



www.pukhto.net



زیب ډبل بیډ اوچت کړو او فیض الله کره دې یوړو ۔ لږ خپل گریوان کښې اوگوره ۔ خور سره څوک داسې کوې لکه تا چې ماسره اوکړل؟ څه روره په مخه دې ښه ، زۀ تاله هیڅ نشم درکولې "۔

مامدې زوړنده شونډې دَ هغې دَ کوره اووتو ۔ دَ هغه دَ تلو نه پس شامتې راغی ۔ دَ راتلو سره یې هغې ته سلام اوکړو او په خندا خندا یې اووې ، بابی څنگه یې ؟

زرغونه :۔ ښه یم روره خوشحاله اوسې ۔

شامتی :۔ بابی مامدې څنگه راغلې وو۔

زرغونه :۔ مامدې پیسو له راغلې وو۔

شامتی :۔ وردې کړې ؟

زرغونه :۔ نه روره ورمې نه کړې ۔

شامتی :۔ ډیر دې ښۀ اوکړل ۔ دې دَ تک بچی نه دا ځائې هم پاتې نشو

زرغونه :۔ تا څنگه پیښنه اوکړه ؟

شامتی :۔ زۀ یوې خبرې له راغلې یم بابی خو "نه" به راته نکړې۔

زرغونه :۔ دا څنگه خبره ده چې "نه" پکښې نشم کولې ۔

شامتی :۔ بابی ماسره دَ سلیم خان لس جریبه زمکه په زمیداری ده۔ هغه څوی له واده کوی او دغه زمکه خرڅوی ۔ ډیره ښه زمکه ده بابی ، دَ گنو یو ونډ دې ۔ زما ورته زړۀ کیږی خو ما سره خپله پیسې نیشته خو په زړۀ کښې مې اووې چې راشه بابی پسې دې منډه کړه۔ چې بل څوک یې اخلی نو زۀ به یې هغې له واخلم ۔ دَ سلیم خان

زمیدار نه صحی دَ خپلی بابی زمیدار صحی۔ تیار فصل دې بابی، دا ځکه مِ درته اووې چی " نه " به راته نکړې ۔ ما ورسره خلاصه کړې ده خو صرف ستا " هاؤ " ته خبره بنده ده ۔ تهٔ ماله پیسې راکړه چې حجرې ته یې ورله یوسم ۔ کیدیشی هلته ترینه څهٔ خلاصې کړم۔

زرغونه :۔ تا ورسره په څو خبره کړې ده ۔

شامتې :۔ په پنځوست لاکهه روپۍ ۔

زرغونه :۔ پنځوست لاکهه روپۍ ؟ دومره ماسره نیشته روره ۔

شامتې :۔ تا سره څومره دی ؟

زرغونه :۔ ماسره که هر څومره دی خو تاله هیڅ نشم درکولې ۔ ځه روره زهٔ زمکه نه اخلم ۔

شامتې :۔ ګوره بابی دا دَ ګټې زمکه ده ، که صبا له .....

زرغونه :۔ ما درته اووې چې زهٔ زمکه نه اخلم ته تلې شې ۔

شامتې :۔ ځه څهٔ تهٔ راکړه ، څهٔ به ورسره زهٔ کړم ۔

زرغونه :۔ زهٔ تا له هیڅ نشم درکولی ۔ تهٔ تلې شې ۔

شامتې :۔ زهٔ خو بابی ډیر په امید راغلې ووم۔

زرغونه :۔ ما پسې ؟ شامتی روره لږ دې خپل ګریوان کښې اوګوره ۔ تهٔ هغه سړې نه یې چی زما دَ کوره دې دَعلی زیب ډبل بیډ اوچت کړو او فیض الله کره دې یوړو۔ ځه روره ځه "۔

شامتې شونډې بوسې کړی او روان شی ۔

★★★★★



www.pukhto.net



★★★

## دویمه برخه

سلمان سره دَ جان محمد استاذ ډیره همدردی پیدا شوې وه ۔ کیدیشی دیکښې یوه وجه دَ هغهٔ معصومیت او مظلومیت هم وی خو دې نه علاوه هغهٔ ته په دغه ماشوم کښې داسې یو څیز ښکاریدو چې هغه په ډیرو کمو ماشومانو کښې موندې شی ۔ هغه کوم څیز وو چې سلمان سره دَ هغه همدردی په مینه کښې بدله شوه ؟ او دَ هغهٔ په زړه او ذهن کښې هغه داسې کیناستو چې دَ هغه ټول کنټرولنګ پاور یې په خپله قبضه کښې واخستو ۔ هغهٔ ته داسې معلومیده چې دَ هغه نه یو ډیر قیمتی څیز روک دې او دَ هغې لټون پسې ګرځی ۔ دَ هغهٔ ښځې چی دَ هغهٔ پریشانۍ ته اوکتل نو څو څو ځله یې ترینه تپوس اوکړو ۔ اګر چه دَ هغه تلاش جاری وو خو هغې نه یې خبره پټه کړه او مختصر جواب یې ورکړو " هیڅ نیشته "۔

هغهٔ هغهٔ پسې خپل شاګردان هم لګولی وو او دا یې ورته ویلې وو چې هر چرته هغه اووینی نو هغهٔ پورې دې راولی او که هغوی راوستې نشو نو زبردستی دې ورسره نه کوی بلکه هغه له دې اطلاع ورکړی ۔ په دې غرض به هغه څو په څویمه دَ هغوی نه دَ هغهٔ تپوسونه کول او هغوی به په نفی کښې جواب ورکوو۔ دیکښې ډیره موده تیره شوه او چی څومره به ورځې تیریدې نو دَ هغې په نسبت به دَ هغه پریشانی زیاتیده ۔ کیده کیده چې اخر یوه ورځ به کلی کښې

په داسې حالت کښې اولیدې شو چې نه یې په سر ټوپۍ وه ، نه یې په خپو کښې پیزار وو او نه په اوږه څادر ، دَ مودو مودو زړې ، ریمنې او خیرنې جامې یې اغوستې وې او داسې ښکاریدو لکه چې په خاؤرو، ایرو کښې لوغړیدلې وی ـ دَ جان محمد استاذ شاګردانو چې هغه اولیدو نو وریسې ورغلل ـ هغه ته یې دَ جان محمد استاذ دَ خفګان او دَ هغوی دَ جرګې ټوله خبره اوکړه ـ هغه چې دا واوریدل نو دَ هغهٔ په مخ مُسکا او سترګو کښې ځلا راغله ، لکه چې دَ هغه دَ زړهٔ دَ یو لوې ارمان دَ پوره کیدو امکان وی ـ هغه دَ هغوی په خبره کښې هډولم لیټ اونکړو او هغوی سره ډله کښې سکول ته روان شو ـ هغوی لا سکول ته نه وو رسیدلې چې جان محمد استاذ له دَ هغه دَ راتلو زیرې اورسیدو ـ دَ سکول چُهټی شوې وه نور استاذان کورونو ته تلی وو خو هغه دَ ماسپخین دَ نمانځهٔ دَ پاره سکول کښې ایسار وو ـ هغه دَ هغه په لیدو دومره خوشحاله شو چې دَ خپل حیثیت یې هډو څهٔ خیال اونکړو ، ورمنډه یې کړه ، هغهٔ ته ورغاړه وتو او ځو ځو ځله یې دَ هغهٔ خیرن مخ ښکل کړو ـ بیا یې ترینه تپوس اوکړو " چرته تلې وې بچې ـ ګوره تا پسې مونږ کلی او کور ته دَ جرګې په حیث درغلی وو خو ته مو اونه موندلې "ـ هغهٔ چې دَ استاذ دَ خولې نه دَ بچی ټکې او دَ مینې ډکې خبرې واوریدې نو دَ هغهٔ یره اوتختیده او زړهٔ یې غټ شو ـ هغهٔ ورته په ترږی نظر اوکتل او ویې وئیل " استاذ جی ، زهٔ داخلې دَ پاره ګرځیدم ، دا ټولې علاقې مِ اوکتې ، هر سکول



www.pukhto.net



ته ورغلم خو داخله چا رانکړه ـ

جان محمد استاذ :ـ هغوی څهٔ وی ؟

سلمان :ـ هغوی وې چې سرټیفیکیټ راؤړه چی داخل دې کړو ـ چې مابه ورته وې سرټیفیکیټ نیشته نو هغوی به وې بیا داخله هم نیشته ـ په دې دې کښې مِ ټول سکولونه اوکتل خو چا داخله رانکړه ـ بیا راته یو استاذ اووې چی که په اول جماعت کښې داخلیږې نو راځه ګینې څه لار وهه ـ ما په زړهٔ کښې وې چې هلته په پردی کلی کښې په اول جماعت کښې داخلیږم نو په خپل کلی کښې به داخل شم ـ اوس دې دَ پاره دلته راتلم چې ستاسو دې شاګردانو اولیدم او ستاسو دَ راتلو خبره یې راته اوکړه "ـ بیا هغه ته دَ مظلومیت په نظر په نیم کخو سترګو ګوری او وائی " استاذ جی ، ماته به په اول جماعت کښې داخله ملاؤ شی ""؟

جان محمد استاذ :ـ بالکل ، تاته به داخله ملاویږی خو په اول جماعت کښې نه بلکه په اووم جماعت کښې "ـ

د سلمان زړهٔ دَ خوشحالۍ نه یو ټوپ اووهی او دَ دې پته ځکه اولګی چې دَ زړهٔ ټوپ سره دَ هغه بدن هم ټوپ اووهی او په مخ یې مسکا خوره شی ـ په ځان پوهـ نشی او په لاپروائی کښې اووائی " تهٔ رشتیا وائی استاذ جی ""؟

دَ هغه په معصومانه تپوس باندې هغه مسکې شی او هغه ته وائی " هاؤ بچې ، زهٔ رشتیا وایم "ـ دې سره هغه په سائیکل خپه اړوی او

Pukhto.Net

هغه ته وائی " راځه ماپسی روستو سور شه "۔
سلمان :۔ استاذ جی تاسو لاړشئ ، زۀ به بیا صبا له راشم ۔
جان محمد :۔ صبا پرېږده ، راځه ماپسی کینه ، کلی ته ځو۔
سلمان :۔ استاذ جی تاسو خپل کلی ته لاړ شئ اوزه به خپل کلی ته لاړ شم ۔
جان محمد :۔ په کلی کښې ستا څۀ دی ؟ راځه بچې ماپسې سورشه
سلمان یو نظر هغه ته اوګوری او بیا نورو هلکانو ته لکه چی دَ هغوی نه تپوس کول غواړی چی آیا هغه واقعی دومره خوش قسمته دې چې دَ استاذ غونډې یوې عظیمې هستئ سره په سائیکل کینی۔ هغه لا دغه شش وپنج کښې وو چی هغه ورته بیا اووې " شابه بچې په سائیکل کینه " سلمان چې هغه سره په سائیکل کیناستو نو دومره خوشحاله شو لکه چی دَ مغل بادشاه اکبر اعظم سره په پالکۍ کښې ناست وی ۔ هغه مسکې شو او هلکانو ته یې مسکا اوکتل ۔
جان محمد استاذ چې سائیکل روان کړو نو سلمان خپلو ملګرو ته په تندی لاس کیښودو لکه چې په لوې سفر روان وی او دَ دوباره ملاویدو او لیدو کتو امکان ډیر کم وی ۔
جان محمد استاذ چې کور ته اورسیدو نو د سائیکل ټلۍ یې اووهله۔ دَ هغه بال بچ چې دَ سائیکل ټلۍ ووریده نو دَ معمول مطابق ټولوورله رامنډه کړه ۔ چې ورلرې شو نو ټولو په یوه خوله هغه ته سلام اوکړو " ابو سلام علیکم " ۔ هغه دَ هغوی سلام واخستو او هغه ته یې اووې " راځه بچې "۔ سلمان چی هغه سره کور ته دننه


www.pukhto.net



شو نو ټولو ورسره روغ جوړ اوکړل ۔ دَ هغۀ ښځې ماه جبینې دَ خاوند دَ مخه هغه ښکل کړو او ځان سره یې کینوو۔ جان محمد استاذ خپلی ښځې ته اووې " دَ شازیې مورې ، سلمان له دَ وصیف یوه جوړه جامې راواخله او تۀ شازیے لورے ، تولیه ، صابن ، شیمپو او یوه جوړه چپل ورته په واش روم کښې کیږده ۔
دَ جان محمد استاذ درې لونړه او یو ځوې وو۔ دَ ځوې نوم یې وصیف وو او دَ لونړو نومونه یې بالترتیب شازیه ، رقیه او ذاکره وو۔ شازیه دَ ټولو نه مشره وه او په لسم جماعت کښې یې سبق ویلې۔ رقیه هغې پسې وه او په اتهم جماعت کښې وه ۔ هغې پسې وصیف وو او په اووم جماعت کښې داخل وو۔ ذاکره دَ ټولو نه کشره وه او په دریم جماعت کښې وه . سلمان چې واش روم ته لاړو نو هغوی ټولو یو بل سره پس پس شروع کړل ۔ دَ هغوی ګنګوسې ماه جبینې ښکاره کړو او دَ خاوند نه یې تپوس اوکړو " دَ شازیې پلاره دا هلک څوک دې "؟
جان محمد استاذ :۔ دا هغه اورکه مینه وه چې زه ورپسې ګرځیدم او نه پیدا کیده "۔ اوس اخر چې په ګوتو راغئ ، بیا ورته هغه دَ هغه متعلق یو څو غټې غټې خبرې اوکړې او په دې یې ختمه کړه چی څۀ ماته معلوم وو هغه مِ درته اووې نورې خبرې به درته هغه په خپله اوکړی ۔
سلمان چی اولامبل ، صفا جامې یې واغوستې ، سرځنه یې اوکړه او دَ واش روم نه را اووتو نو یو زبردست خائسته هلک ترینه اوتې وو۔ هغوی ټولو یو بل ته اوکتل او مسکې شو ۔ هغوی سره سلمان هم مسکې شو۔ ډوډۍ

تیاره ، ټول غونډ په یو پوړ کیناستل او ډوډۍ یې شروع کړه۔

## اتهم باب

زرغونه چې په سراج بانډه کښې دَ خپلو خپلوانو دَ زار وقربان نه ډیره تنګه شوه نو خپل ضروری سامان یې ځان سره واخستو، طوری بانډې ته لاړه او مور کره ډهیره شوه ۔ دَ هغې مور خپله ځوانی دَ حکیم خان دَ هغه دَ رونړو ، ځامنو او دَ هغوی دَ بیبیانو په خدمت کښې تیره کړې وه ۔ اوس هغه دَ عمر په لحاظ بوډۍ شوې هم وه او کمزورې شوې هم وه ۔ دَ زرغونې په ورتلو هغه ډیره خوشحاله شوه۔ یو خو دا چې لور او نوسې دَ هغې دَ سترګو وړاندې او دَ سینې لاندې شو او زړۀ یې جمع شو۔ بله دا چې هغه به خپل کار هغې ته پرېږدی او په خپله به په کور کښې ، دَ بال بچ خصمانه کوی ۔ هم دغسې اوشوه دَ هغې دَ ورتلو په صبا باندې هغې هغه ځان سره کړه ، حکیم خان کره یې بوتله او دَ هغۀ دَ کور په توره سپیه یې پوهـ کړه ۔ په خپله یې حکیم خان سره ملاؤ کړه او دَ هغۀ په مخکښې یې هغې له دَ هغۀ دَ کمرې چابیانې ورکړې ۔ هغې چې دَ هغۀ دَ کمرې حالت ته اوکتل نو زړۀ ورته راډک شو۔ په زمکه پروت هر یو ثیز زنګ او دَ خیرې کویلی نیولی وو۔ هغې خپله لوپټه پټکې کړه ۔ ټول سامان یې دَ هغۀ دَ کمرې نه اوویستو او ټول یې یو ځاې کښې ډهیرې کړو۔ بیا یې دَنورو خدمتګارو په مرسته هغه ټول سامان اووینځلو ۔ قالین یې پاس په چهت نمر ته خور کړو او کمره یې په واشنګ پاؤډرو باندې



www.pukhto.net



اووینځله ۔ او واش روم یې صفا کړو۔ بیا یې کمره اوچه کړه ۔ وینځلې شوې سامان یې اوچ کړو۔ په کمره کښې یې صفا شوې قالین خور کړو، پالنګونه یې پکښې کیښودل او وینځلې شوې اوچ سامان یې پکښې په سمون سمون کیښودو او دَ کمرې دَ سامان سیټنګ یې بدل کړو۔ ترماښامه پورې هغه په خپل کار کښې لګیاوه ۔ چې کله یې کمره سیټ کړه نو بیا یې پکښې سپرې هم اوکړه او اګربتۍ یې هم پکښې اولګولې ۔ دَ پرفیوم خوشبویۍ او دَ اګربتو لوګو په کمره کښې مستې وړمې خورې کړې۔ ماښام تیارۀ دَ معمول مطابق ټولې خدمتګارې خپلو خپلو کورونو ته لاړې خو هغه لا دَ حکیم خان په انتظار وه ۔

ماسخوتن چې هغه دَ خپلو میلمنو نه فارغ شو او کور ته راغۍ نو هغې ورته دَ کمرې ورلرې کړو ۔ هغه چې کمرې ته ننوتو او دَ هغې سیټنګ ته یې اوکتل نو مسکې شو ۔ یو خوا په کمره کښې خوشبوئې وه ، بل خوا دَ هغه جامې ، واسکټ استری شوې په هینګر کښې اویزانده وو۔ دَ هغۀ پیزار صفا شوې او پالش شوې وو۔ په فریم کښې لګیدلې دَ هغۀ تصویر په شوکیس کښې پروت وو او دَ ګلونو امیل ورته اچولې شوې وو۔ دَ هغۀ ټوتهـ برش ، ټوتهـ پیسټ ، اینه ، ګمنز او تولیه صابن په واش روم کښې په سمون سمون پراتۀ وو۔ هغه چې دَ کمرې او واش روم جائزه واخسته نو یو ځل بیا مسکې شو او هغې ته یې اووې " زرغونې تا خو زما دَ کمرې نقشه بدله کړه "۔

زرغونه (مسکۍ شی) داسې دې خوښخه نه ده خان جی ؟

حکیم خان :۔ څۀ کور ابادې جینۍ یې۔

زرغونه ( شرمنده شی ) خان جی ماته اجازت دې ، تلې شم ؟

حکیم خان :۔ هاؤ ، ځه ته ورځه ناوخته دې ۔

زرغونه :۔ ډیره ښه ده خان جی ، سلام علیکم ۔

دَ زرغونې دَ تلو نه پس هغۀ دَ کمرې ورپورې کړو ، په خپل کټ کښې سملاستو او دَ خپل ژوند متعلق یې سوچ کوو۔ دَ هغه سوچ دَ هغه دَ هلکانې نه شروع شو او تر اوسنی وخته پورې رااورسیدو۔ دَ هغۀ په خیال کښې ډیرې خبرې ، ډیر خلق او ډیرې ستونزې راغلې ۔ په دې کسانو کښې دَ هغۀ خداې بخلې ښځه هم راغله او دَ هغۀ بې ادبه ځامن هم ۔ هغه ځامن چې دَ هغوی په سترګو کښې نه شرم شته ، نه حیا ، نه دَ مشر لحاظ شته او نه په کشر دَ مینې اواز شته ۔ دَ هغۀ مشر ځوی چې وادۀ اوکړو نو په میاشت کښې دننه دننه بیل شو، دَ ګوجرانو کور یې ځان له جوړ کړو او هلته لاړو ۔ ګل ولی دَ وادۀ نه مخکښې ځان له بیل کور جوړ کړو او دَ هغۀ ډولۍ هلته لاړه ۔ دغه حال دَ سید ولی او خان ولی هم وو البته شاه ولی دَ پلار په کور کښې یو کال تیر کړو خو بیا هغه هم دَ ښځې په لمسه باندې ځان له کور جوړ کړو او هلته لاړو۔ هغه سره په کور کښې یوه ناوادۀ شوې لور تبسم پاتې شوه ۔ دَ هغې دَ وادۀ خبرې روانې وې چې مور یې مړه شوه ۔ څۀ موده پس چې هغه وادۀ شوه نو بیا



www.pukhto.net



بیخی یوا ځې پاتې شو۔ اوس په دې دومره لوی کور کښې دَ هغۀ هیڅوک نه وو۔ څو څو ځله ځامنو پسې ورغی او دَ هغوی دَ راوستو کوشش یې اوکړو خو یو کس هم دَ هغۀ په خبره غوږ او نه ګره وو۔ البته دَ هغۀ دَ ژوند پاتې شپې ورځې یې شمارلې او دَ هغۀ دَ مرګ اعلان ته غوږ ایښې وو۔ چې حجره کښې به میلمنو یا زمیدارو سره ناست وو نو پام به یې بدل وو خو چې کور ته به راغی او خوشې کور او خوشې کمرې ته به یې اوکتل نو خاطر به ئې دروند او روځی به یې خړې شوې۔ په کور کښې یې دَ صلاح ، مصلحت او دَ اښتنې پوښتنې او دَ زړۀ دَ خوږیدو هیڅوک نه وو۔ هغه ته خپلو یارانو، دوستانو څو څو ځله دَ بل وادۀ مشورې ورکړې وی خو هغه دا نه غوښتل چې دَ هغه دَ وادۀ په وجه دَ هغه دَ ځامنو او دَ هغه ترمینځه بدګمانی او بدظنی راشی ۔ هغه خپل ځان هیر کړې وو او بهر دنیا ته یې کتل۔ کله کله به چې هغه دَ عالمګیر خان کورنۍ ته کتل نو نیم ورته نه پاتې کیدو ۔ عالمګیر خان لکه دَ هغه سپین ږیرې شو ، دَ هغه رور اورنګ زیب خان سپین ږیرې شو ، دَ هغوی بال بچ پلاران شو او دَ هغوی لونړه دَ بال بچ میاندې شوې خو تړول یوه خوله او یو موتی وو او دَ هغۀ رونړه او ځامن دَ یو بل دشمنان دی او که دَ نور چا دی او که نه دی خو دَ هغۀ دی ۔ ټولو دَ هغۀ مرګ ته سترګې نیولې وې ځکه چې هغوی دَ شاملات تقسیم غواړی دَ هغه شاملات چې هغې کښې د دواړو بانډو زمیدار او غریب خلق کینی پاسی ، خپل کاروبار پکښې

کوی ، څاروی ، بهوساړې پکښې تړی ، درمندونه پکښې اچوی او ماشومان پکښې لوبې کوی ۔ دَ هغه رونړو او ځامنو هغه ته څو څو ځله اورونې کړې وې خو هغهٔ په دې وجه اونه منله چې دغه تقسیم شی نو دغه غریب خلق به څهٔ کوی او هغوی به چرته ځی ۔ دَ هغه رونړه او ځامن دَ جائیداد کټی ته اوړې سترګې ناست وو۔ فصل به لا پوخ نه وو چې هغوی به پرې دَ اړتهیانو او دوکاندارونه پیسې راخستې وې ۔ په غاړو ، پولو ،اونې بوټی به لا ځوانی۔ ته نه وې رسیدلې چې هغوی به خرڅ کړې وې ۔ سلیم خان دَ څلوېښت او ندیم خان دَ شل جریبه زمکې نه ځانونه خلاص کړل ۔ سلیم خان دَ الیکشن دَ پاره او ندیم خان دَ خوش معاشی۔ او فیشن دَ پاره ۔ دَ هغهٔ ځامنو به هم دغسې کړې وې خو هغوی پسې دَ زمکې انتقال نه وو شوې ۔ دَ هر اختر په ورځ به دَ سراج باندې او طوری باندې مشران کشران دَ اختر مبارکی۔ دَ پاره دَ هغهٔ حجرې ته راتلل خو نه دَ هغهٔ رونړه راتلل او نه دَ هغهٔ ځامن ۔ هغوی ټول به دَ اختر مبارکی۔ دَ پاره عالمګیرخان له دَ هغهٔ حجرې ته تلل ۔ حالانکه عالمګیرخان به په خپله هغهٔ له راتلو، دَ اختر مبارکی به یې ورکړه ، دروغ رنځور تپوس به اوشو ، پیالی۔ چائې به یې اوڅکله او بیا به لاړو ۔ داسې خیالات به اکثر دَ هغه په ذهن کښې راتلل خو نن شپه دَ هغې یلغار زیات وو۔ دَ هغهٔ زړهٔ دننه سورې سورې او زخمی زخمی وو۔ په دې سورو باندې او دې زخمونو باندې پټی۔ ایښوولا څوک نه وو او دَ ما لړې دوړولو والا ډیروو۔ دَ





زرغونې په راتلو باندې او دَ هغهٔ دَ کمرې په صفائی۔ باندې هغه ته خپله دَ وادهٔ شپه او خپله خدای بخلې ښځه رایاده شوه ۔ هغه ښځه چې دَ هغې په مینه او وفا باندې هغه تر اوسه کلک ولاړ وو او دَ هغې دَ مینې په خیالونو او یادونو باندې یې وخت تیره وو خو اخر ترکومې ۔ هغه ډیر شیبه کټ کښې پروت وو او دَ زرغونې متعلق یې سوچونه کول ۔ په دغه خیالونو کښې یو خیال دا هم وو چې که هغه ، هغې سره وادهٔ اوکړی نو دا خو به دَ هغهٔ خدای بخلې ښځې سره بې وفایې نه وی او که بې وفائی نه وی نو خلق به دَ هغه متعلق څهٔ وائی ؟ یعنی دا چې دَ لور په عمر خدمتګارې سره یې وادهٔ اوکړو او دَ هغهٔ ځامن به دَ هغه په باره کښې څهٔ وائی ؟ ۔ آیا هغوی به دَ هغهٔ وادهٔ برداشت کړی ؟۔ هغهٔ ټوله شپه په دغه خیالونو او وسوسو کښې تیره کړه ۔ دَ شپې دَ کم خوابی۔ په وجه صبا دَ هغهٔ طبیعت خټه وو۔ ورځ یې په اخوا دیخوا تیره کړه ۔ ماسخوتن چې دَ معمول مطابق هغه کورته زانګیدلې او ستومانه لاړو نو زرغونې په روڼ تندی هغه ته سلام اوکړو او دَ کمرې وریې ورته لرې کړو ۔ هغهٔ دَ سلام جواب ورکړو او په کټ کښې پټی سترګې پریوتو ۔ زرغونې چې دَ هغهٔ ناسازه طبیعت ته اوکتل نو په یره یره یې ترینه تپوس اوکړو " ولې خان جی طبیعت دې ناسازه دې ؟

حکیم خان :۔ هاؤ زرغونې ، سر مِ درووند دې ۔

زرغونه :۔ په سر درله زور کړم خان جی ؟



www.pukhto.net

حکيم خان :۔ نه ضرورت نشته ، ښۀ به شی ۔ څه ورځه تۀ هم ستړی يې ۔
زرغونه :۔ خان جی که بدنه ګڼې نو په سربه درله زور کړم ۔ هغه دَ هغۀ دَ جواب انتظار اونکړی او دَ هغۀ په سر دواړه لاسونه اړدی ۔ په تيرو لسو کالو کښې دا ړومبې ځل وو چی دَ هغه په سر باندې نسوانی لاسونه کيښودې شو۔ دَ هغې پستې ګوتې چې دَ هغۀ په سر اولګيدې نو دَ هغه دَ وينې په جمود کښې حرارت او نمود پيدا شو۔ دَ هغه وينه دَ هغې په مينه رنګ او په غورځنګ شوه ۔ کله چې دغه لاسونه او دغه ګوتې دَ هغۀ په اوږو کيښودې شوې نو دَ هغۀ دَ ژوند ټول غمونه او وسوسې دَ مينې نغمې شوې ۔ هغه تر هغې لګيا وه چې دَ هغۀ سترګی ورغلې او په مسکا مسکا اودۀ شو۔ سحر چی هغه پاڅيدو نو دَ هغه ستومانی ختمه شوې وه او دَ هغۀ بدن سپک شوې وو۔ هغۀ ته داسې معلومه شوه چې دَ زرغونې لاسونه دَ هر مرض علاج او دَ هر غم مداوا دی ، بيا دا دَ هغې معمول شو چې هر ماسخوتن به يې ورله سر او اوږې منډلې ۔ يو ځل هغه دَ لاس نه اونيوه او ورته يې اووې " راځه زرغونې ماسره کينه "۔ دې سره دَ هغې زړۀ دَ يرې نه په رپيدو شو او هغۀ ته مخامخ په قالين کيناسته۔
حکيم خان:۔ نه ، دغلته نه ، دلته ماسره په کټ کښې کينه۔
زرغونه :۔ نه خان جی ، زۀ دلته ښۀ يم ....که ...تاسو ...دمه شوی ې ... نو ...نو زۀ به درنه کور ته لاړه شم ۔
حکيم خان :۔ نه ، تۀ لا مه ځه ۔ زۀ تاته څۀ ويل غواړم ۔


www.pukhto.net



زرغونه ( په ساه ختلی انداز ) ما ...ما ...ماته خان جی ؟
حکيم خان :۔ هاؤ زرغونې تاته ۔ زرغونې که يوه خبره درته اوکړم نو خفه کيږی خو به نه ؟
زرغونه دَ هغۀ په اراده پو هـ شوه ۔ دَ هغې ساه ګډه وډه او لنډه اوږده شوه او په بدن يې زلزل راغی۔ هغۀ ډيره شيبه دَ هغې دَ جواب په انتظار وو خو چې هغې څۀ جواب ورنکړو نو بيا ئې اووې تا ماله جواب رانکړو " ؟
زرغونه :۔ ز ...ز ...زه به ...ولې ...ولې خفه کيږم ..خا ..خان جی۔
حکيم خان :۔ زرغونې ما ډيره موده په يوائې تن خپل ژوند ، دَ ژوند مسلو او حادثو سره مقابله اوکړه خو ...خو دَ دنيا غمونه ډير دی او زۀ يوائې يم ۔ زۀ په يوائې تن دَ هغوی مقابله نشم کولې ۔ آيا دَ ژوند په دې دروند پيټی اوږو کښې ته ماسره مرسته کولې شی ۔
زرغونه :۔ زۀ ستا په خبره پو هـ نشوم خان جی ۔
حکيم خان :۔ يعنی دَ ژوند دا بوجهـ کوم چې زما په اوږو پروت دې ما سره اوړې شې ؟
(زرغونه خاموشه وی )" ته جوړ بيا هم پو هـ نشوې "
زرغونه :۔ نه خان جی زۀ پو هـ نشوم ۔
حکيم خان :۔ زرغونې دوه ، دوه نيم کاله اوشو چې ستا خاوند مړ دې ، او تقريبا لس کاله اوشو چې زما ښځه مړه ده ۔ تۀ دَ خپل خاوند په ياد کښې شپې صبا کوې او زۀ دَ خپلې ښځې په ياد کښې دَ هغې په


Pukhto.Net

خیالـونـو کښې وخت تیروم ۔ ستا غمونه زما دَ غمونو نه زیات دی او زمـا غمونه ستا دَ غمونو نه زیات دی ۔ راځه چې دواړه خپل غمونه دَ ښځې خاوند په شکل کښې یو بل سره شریک کړو ( هغې ته ګوری)

زرغـونـه :۔ خان جی ماخو چرې هم تاته په دې خیال نه دی کتلې او نه مِ چرې زړهٔ کښې داسې راغلی دی ''۔

حـکیـم خـان :۔ ستا خبره بالکل صحی ده ۔ مونږ دواړو یو بل ته چرې هـم په دې نظر نه دی کتلې ، خو دې کور سره ستا ترون ډیر زوړ دې، تهٔ د دې کـور په هر څهٔ پوهـ یې ۔ بله دا چې تهٔ ځوانه یې ، خائسته یې او تـاتـه او ستـا ځـوی تـه دَ تـحـفظ ضرورت دې او ماتـه دَ سکون ۔ کوم تـحـفـظ چې زهٔ تاله درکولې شم ، هغه بل څوک نشی درکولې او کوم سکـون چې تهٔ ماله راکولې شې هغه بل څوک نشی راکولې ۔ مونږ دواړه دَ یـو بـل مـحـتـاج یو ۔ او دا څهٔ غیر اخلاقی یا غیر شرعی کار نه دې . . .زهٔ تـا مـجبـوروم نـه او نه درسره زبردستی کوم ۔ ته په دې خبره سـوچ اوکـړه ، مـور سره دې صلاح اوکړه ، که بده درته ښکاره شوه نو خپه پرې کیږده او که مناسب او جائز درته ښکاره شوه نو ډیره ښه ده۔

زرغـونـه :۔ خـان جی زهٔ خـو ستـاسو په ټکړو لویه شوې او ستاسو په زړه ، نـوې پته شوې یم ۔ زهٔ ستا خدمتګاره کیدیشم خو ستا دَ بی بی دَ مقام خوبونه نشم لیدې ۔

حـکیـم خان :۔ زهٔ ستا دَ خیالاتو او هغې سره ستا دَ مینې قدر کوم خو زرغـونـې مـاتـه هم دَ سکون ضرورت دې ۔ مونږ دواړو له دَ خپل خپل



www.pukhto.net



ژوند متعلق سوچ پکار دې ۔

زرغـونـه :۔ زهٔ په دې یریږم خان جی چې خلق ترینه نورې نورې خبرې جوړې نکړی ۔

حـکیـم خـان :۔ دَ شک ، شبهې دغـه ټولې خبرې په وادهٔ پټیدیشی او دغـه ټولې خـولـې تـپـیـدیشی ۔ ته سوچ اوکړه ، مور سره دې صلاح اوکـړه چی ښهٔ مطمئنه شې نو بیا راشه او که زړهٔ دې نه غواړی نو بیا مهٔ راځه ۔

زرغونه :۔ ولې خان جی زه ستا خدمت له هم نشم راتلې ؟

حـکیـم خـان :۔ زمـا ستا خبرې سره اتفاق دې هسې نه چې خلق ترینه نورې نورې خبرې جوړې کړی ۔

زرغونه :۔ خان جی ، زما دَ ځوی به څهٔ حیثیت وی ؟

حـکیـم خان :۔ چی مونږ دواړه ښځه او خاوند شو نو هغه به زما ځوې شی ۔ ځه لاړه شه ناوخته دې ۔

دې سره زرغـونـه دَ هغـهٔ دَ کـمرې نه اوځی ۔ هغهٔ ځان پسی ورپورې کـړی او سمـلـی ۔ زرغـونـه چـی کـورتـه اورسیده او پـه خپل کـټ سـمـلاستـه نـو هـغـې هم لکه دَ حکیم خان دَ خپل ژوند په باره کښې سـوچ شروع کړو ۔ دَ خپل ماشوموالی ، پیغلتوب ، واده ، دَ علی زیب او فیـض الله او شاه زیـب وخـان زیـب ټولـې خبرې هغې ته مخکښې شـوې۔ هـغې ته دَ علی زیب هغه خبره هم رایاده شوه کومه چې هغهٔ ورتـه پـه خـوب کښـې کړې وه چی '' زهٔ بیا دنیا ته نشم درتلې ۔ زما په

وفـا خپله ځواني مۀ خاؤرې کوه ـ تۀ داسې چا سره وادۀ اوکړه چې تا او عـادل زیـب دواړه خوشـحالـه ساتی ـ چې تاسو خوشحاله یې نو زما روح به خوشحاله وی"ـ

زرغـونـې دَ حکـیـم خـان خبره پـه اشارو، کنایو کښې مور ته اوکړه ـ هغه چې دَ هغې په خبره پو هـ شوه نو سحر دَ زرغونې په ځاې هغـه حکیم خان کره لاړه او دَ هغۀ نه یې ټول معلومات اوکړل ـ هغه چې دَ هغـۀ پـه اراده پـو هـ شوه نو کور ته راغله، ماسخوتن یې هغه نـاوې کـړه او حـکـیـم خان کره یې بوتله ـ هغه مُلا او ګواه راوستل او دَ هغوی په وړاندې دَ هغوی نکاح اوشوه، او خواړه او خوړلې شو ـ

★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★

★★★★

★★★

★★

★



www.pukhto.net



## نهم باب

دَ جـان مـحـمـد استـاذ پـه منډو ترړو او اثر رسوخ سلمان په اوم جماعت کښې داخل شو ـ دَ هغه څو څو تعلیمی کالونه ضائع شوی وو ـ ګرچه هغه ته د دې ډیر افسوس وو خو دَ هغه په تسلی او ډاډ هغۀ خپـل زوړ سبق بیـا شروع کړو ـ هغه او وصیف به لکه دَ دوو رونړو یو ځـائې سکول ته تلل او په یو بینچ به کیناستـل ـ سلمان فطرتی قابل هـم وو او مـحـنـتـی هم ـ هغه په لړو ورځو کښې دَ نورو هلکانو نه ډیر مـخـکښـې لاړو ـ وصیف نه قابل وو او نه محنتی وو ـ هغه په کلاس کښې دَټولو هلکانو نه تعلیمی لحاظ سره کمزورې وو خو دَ سلمان په کـوشـش به یې سرړکوو او روان وو ـ چې دَ سکول نه به راغلل، ډوډی بـه یې اوخوړه نـو دَ مـعـمـول مطابق به ټول په پوړ کیناستل او خپل هـوم ورک بـه یې کوو ـ شازیه، رقیه او ذاکره به دَ پوړ یو سرته ناستې وې او سلـمـان او وصیف بـه دَ پوړ بل سر ته ـ جان محمد استاذ او ماه جبینې به چې هغوی ته کتل نو مسکی مسکی به کیدل او په زړونو کښـې بـه خـوشـحـالـیـدل ـ وخت تیـریدو او دَ هغوی په مینه، محبت کښـې اضـافـه کیده ـ اوس هغه د دې کور یو فرد وو ـ داسې فرد چې دَ هغۀ په وجه په ټول کور کښې خوشحالی راغلې وه ـ چې یوې لمحې لـه بـه دَ هـغـوی دَ سترګو نه پناه شو نو هریو به دَ بل نه دَ هغۀ تپوس کـوو ـ جان محمد استاذ په هغه خاص نظر ساتو ـ کله کله به یې پټ

پـه پتـه دَ هغه تخلیقی صلاحیتونو ته کتل او ځان سره به یې پټ پټ خانـدل چې پـه دومـره لږ عـمـر کښـې هغه دومره اوښیار ځنګه دې ـ سلـمان هغه اورکه ملغلره وه چې هغه له ډیر په ګرانه په ګوتو ورغلې وه ـ هغه غوښتل چې دغه بریښنا همیش دَ پاره دَ هغه په کور کښې وی ـ هغه به هله سکول ته تلو چې مخکښې به یې هغه تیار کړو او چې کـلـه به دَ سکول نه راغی، نو دَ خپل بال بچ نه مخکښې به یې دَ هغـه تپـوس کوو ـ په هغه ورځ هغه څومره خوشحاله وو چې سلمان ورته دَ استاذ جی په ځاې ابّو اووې او دَ هغهٔ ښځې ته امّی اووې ـ ویلې کیږی چې مینه دَ مینې نه ولاړیږی ـ هم دغه وجه وه چې شازیے ته به یې خور بی بی ،رقیے ته به یې خورجی ،ذاکرے ته بی منهّی او وصیف تـه به یې بهائی ویلې ـ دغه رنګې هغوی ټولو به هغه ته بهیّا ویلې ـ هغهٔ کښې یو صفت دا هم وو چې هغه به دَ ټولو ډیر عزت کووخو په تیره تیره دَ جان محمد استاذ خو به په خپو کښې لوغړیدو ـ هغه به لا ناسـت نـه وو چې دَ هغهٔ دَ خپو نه به یې څپلی ویستلې ، هغه به یې صـفا کولې او پالش کولې ، دَ هغهٔ په خپو لاس به یې زور کوو او که دَ هغـه بـه څـهٔ پـکـار وو نـو دَ هغهٔ دَ خولې نه به لا خبره نه وه اوتې چې هغـه بـه هغـه کـار کـړې وو ـ دَ هـغـه پـه وجـه پـه کـور کښې تعلیمی سرګرمـی زیاتـې شـوې وې او اکثـر به په تعلیمی موضوعاتو بحث کیـدو ـ کله کله به دې بحث دَ ډیبیټ (Debate) شکل اختیار کړو او ترخې خوږې به هم پکښې راغلې خو بیا به ډیره زر قلاره قلاری شوه ـ



www.pukhto.net



کـله کله به هغوی خپلو کښې دَ خوشخطی او املا مقابلې هم کولې ـ دا مقابلې به دومره خوندورې او دلچسپې وې چې جان محمد استاذ او دَ هـغـهٔ ښـځـې بـه ورتـه غلې غلې کتل او په مسکا مسکا به یې دَ هغـوی جائزه اخستـه ـ وصیف په دې ټولو کښې کمزورې وو ـ په دې وجـه دَ هغهٔ په زړهٔ کښې دَ سلمان خلاف عناد پیدا شو ـ یوه ورځ هغه وصیف تـه امـلا ویـله ـ یو یو ټکې به یې ورته درې څلور ځله ویلې او هغـه بـه لیـکـو ـ چې املا ختمه شوه او هغه چیک کوله نو په ټوله امـلا کښـې یې یو ټکې هم صحی نه وو ـ هغه به په خندا خندا دَ هغهٔ یـو یـو ټـکـې کـراس کوو او مخکښی به تلو ـ په دې دې کښې دَ هغه ټولـه املا غلطه شوه ـ هغه ورله په ټوله املا کراس راخکو او دَ پاسه یـې پـرې اولیـکـل "سـب غـلـط" ـ دَ هغـه دا جرأت پـه وصیف بد اولـګیـدو او پـه مـخ یې ترینه ناصافی یو شړق اوویستلو ـ دَ شړق اواز چې شازیے وواریدو نو هغه ته یې په غصه اوکتل او ورته یې اووې "دا څهٔ کـوی ، ولې لیونې شوې یې څهٔ"؟ سلمان په مخ لاس کیښودو خو هغه ته یې هیڅ او نه وې ـ دَ شازیے په جواب کښې وصیف اووې " هاؤ لیونې شوې یم ـ ته ورته اوګوره چې ماله یې ټوله املا غلطه کړه "ـ

شازیه :ـ ستا املا غلطه وه ځکه یې کراس کړه ـ

وصیف :ـ څـه مـړې ته هم ورسره شه ـ ډیرمِ ښهٔ اوکړل "دې سره یې دَ هـغـهٔ دَ بیګ نه ټول کتابونه او کاپی را اوویستلې څهٔ یې ورله کراس کـړې او پـه څـهٔ یـې ورله سیاهی واړوله ـ شازیے چې دَ هغه حماقت ته

اوکتـل نـو دَ لاس نـه يې اونيـوو او ورتـه يـې اووې " سم کينه سم "۔ دَ هغـوی په شور ژوږ دَ هغوی مور هم راغله او دَ راتلو سره يې اووې ، " دا ولې هلکه ، پيريان دربانديې راغلی دی څۀ "۔

شازيـه :۔ تـه ورتـه اوګوره کنه امّی ، دَ بهيّا کتابونه او کاپۍ يې کراس هم کړی او سياهی يې هم پرې توې کړه "۔

ماه جبينه :۔ دا ولی هلکه ، دا دې ولې اوکړل ۔

وصيف :۔ ولې ده چې زما کاپی کراس کړه ۔

شازيه :۔ دۀ خو ستا املا کراس کړه ځکه چې ټوله غلطه وه ۔

مـاه جبيـنـې چې دَ سـلـمـان کتابونو او کاپيو ته اوکتل نو هغۀ ته يې اووے " خيـر دے بـچـې خفه کيږه مه ، زۀ به يې اووهمه "۔ بيا ټولو ته وائـی " يَـه جيـنـکـو پـلار مـو درنـه خبر نشی ګينې په وهلو به يې مړ کـړی "۔ جـان مـحـمـد اسـتـاذ د دې واقـعـې نـه خبر نشو خو دَ سکول استاذانو چې کله دَ هغۀ کاپۍ چيک کولې نو هغۀ له يې سزا ورکړه ۔ پـه سکول کښې دَ هغوی دَ ناستې پاستې ځايونه هم بدل شو ۔ او تلۀ راتـلـه يې هم ځان ، ځان له شو خو هغه د دې نه خبر نشو ۔ دې باندې دَ وصيف حـوصـلـه نوره هم زياته شوه او په نه څۀ خبره به يې پرې ګزار کـوو۔ حالانـکـه هغه دَ چا خبره چې هغه دَ هغۀ دَ يو لاس دَ زور هم نه وو خو هيڅ يې ورته نشو ويلې ځکه چې دَ لوندو ختو لړې اوبۀ بهانه وی ۔ يـو ځـل يـې دَ هـغـۀ دَ سر نه اوچ په اوچه ټوپۍ لرې کړه ۔ او چې سـکـول ته سرتور سر لاړو نو استاذانو اووهو ۔ بله ورځ يې ورته دَ تالی



www.pukhto.net



څـټ پيغور ورکړو خو هغه سره د دې هم دَ هغه خبره زړۀ ته وانه چوله او کـورتـه لاړو ۔ هغـوی چې ډوډۍ ته کيناستل نو وصيف به ډوډۍ هـم خـوړه او ځان سره به يې غلې غلې " څـټ څـټ " هم ويلې ۔ په دې خبـره دَ هـغـه او سـلـمـان نه علاوه بل څوک نه پو هيدل ۔ چې دَ هغه دَ څـټ څـټ تـکـرار زيات شو نو پلار ورته په غصه اووې " ډوډۍ خوره مـره ، څۀ څټ څټ دې جوړ کړی دی "۔ دَ څو ورځو راسې سلمان چپ وو۔ پـه چپـه خوله به يې خپل کتاب کتو او په چپه خوله به يې خپل ليـکـل کول ۔ جان محمد استاذ ته دَ هغه دَ چپ احساس اوشو او هغه تـريـنـه څـو څـو ځـلـه تپـوس اوکړو خو دَ هغه دَ هرې خبرې په جواب کښـې به هغه مسکې شو او خبره به يې اخوا ديخوا کړه ۔ چې دَ هغه نـه مـطمئن شو نو دَ هغه چپ والے يې دَ زمان ومکان ، عمر او دَ حالاتو مـطـابـق دَ هغۀ دَ مزاج تغير وتبدل او بدلی اوګڼله ۔ سلمان به وصيف سره دَ خولې ګډولو کوشش کوو خو هغه به ترينه ځنګ کوو ۔ يوه ورځ پـه سـکـول کښـې دَ اردو استـاذ دَ هلکانو نه زوړ سبق اورولو ۔ په دغـه هـلـکـانو کښې دَ نورو نه علاوه وصيف هم شامل وو۔ هغه چې سبـق تـه اودريـدو نـو يـو ټـکـې يـې هم نشو ويلې ۔ استاذ ورته چوکه اونيـوه او ښـه چـغـے يـې ترينه اوويستلې ۔ هغۀ پسې دَسلمان وار وو۔ چې هـغـه پاڅيدو او کتاب يې پرانستو نو په هغه سبق سياهی توې شـوې وه او ټکی ورته نه ښکاريدل ۔ بهرحال هغه کتاب مخ ته اونيوو او سبـق يـې شـروع کـړو ۔ اسـتـاذ چـې دَ هـغـۀ سبق ووريدو نو ډير

خوشحاله شو۔ دَ هغهٔ خوا له ورغی، هغهٔ ته یې شاباش اووې او په ملا یې اوټپوو، خو چې دَ هغه کتاب ته یې اوکتل نو دَ هغهٔ سبق په سیاهی ککړ شوې وو۔ هغه ترینه تپوس اوکړو " دا سبق تاته ښکاری "؟

سلمان :۔ نه جی نه ښکاری خو دا ټول کتاب ماته زبانی یاد دې۔

استاذ د ازمینښت دَ پاره دَ هغهٔ نه نور سبق هم وورووو۔ دے نه علاوه څهٔ سبق یې په تخته سیاه اولیکو۔ استاذ دَ هغه دَ قابلیت او کارکردګی نه ډیر متاثره شو۔ هغه له یې لس روپۍ انعام ورکړو او دَ هغهٔ په حق کښې دَ هغهٔ په وینا هلکانو لاسونه هم اوپړقول۔ چې چُھټی شوه نو وصیف دَ ټولو نه مخکښې دَ کلاس نه اووتو او ځان یې کورته اورسوو۔ بسته یې کور کښې کیښوده، په ور کښې اودریدو او دَ سلمان دَ راتلو انتظار یې کوو۔ چې هغه کورته اورسیدو او په وردننه کیدو نو هغه نه پریښودو او ورته یې اووې، " مونږ کره به نه راځے"۔ سلمان هغه ته برند برند اوکتل او ورته یې اووې، " ولې به نه درځم، دا یو اځې ستا کور نه دې"۔

وصیف :۔ چی زمانه دې نو دَ چا دې ؟

سلمان :۔ دا دَ ابّو او امّی کور دې۔

وصیف :۔ هغوی زما ابّو، امّی دی، ستا خو نه دی، څه مړه ځان له مور پلار او کور پیدا کړه"۔ دَ هغوی په شور ژوږ ما جبینه او دَ هغې لونړه هم راغلې۔ او هغه ته یې اووې " دا ولې هلکه، دې ولې کور نه پریږدې ؟



www.pukhto.net



وصیف :۔ دهٔ استاذ ته زما په سر، شکایت کړې دې او دَ دهٔ په شیطانت زه اووهلې شوم، ته زما دې لاسونو ته خو لږ اوګوره ؟

ماه جبینه :۔ دا ولې سلمانهٔ بچے ؟

سلمان :۔ امّی، قسم په خدای که ما استاذ ته هیڅ ویلې وی۔ دې دروغ وائی۔

وصیف :۔ که دروغ وایم او که رشتیا خو کورته به نه راځې څه روک شه۔

سلمان :۔ امّی دهٔ ته ګوره کنه۔ دې خو ما کورته نه پریږدی۔

ماه جبینه :۔ څه بچې نن ګزاره اوکړه، چرته بل ځائې شپه اوکړه۔ چې د دهٔ غصه سړه شی نو بیا به راشې"۔

سلمان هغې ته دَ مظلومیت په سترګو ګوری لکه چی ورته وائی " امّی بل کوم ځائې شپه اوکړم"؟ خو هغه ترینه مخ واړه وی، ورپورې کړی او لونړ ته وائی " یه جینکو ګورۍ پلار مو درنه خبر نشی ګینې دا هلک به په وهلو مړ کړی"۔

سلمان ته چې دَ کور دروازه بنده شوه نو ډیره شیبه ولاړ وو خو چې بیا هم چا ورته کورته دَ تلو ست اونکړو نو دَ هغه ځائی نه واپس شو۔ ورځ یې بهر په ګرځیدو، ګرځیدو تیره کړه او شپه یې دَ کلی نه بهر په یوه جنګۍ کښې دَ ښاروو په اخور کښې تیره کړه۔ جان محمد استاذ ته دَ هغه دَ تلو پته څکه اونه لګیده چې هغه دَ بورډ ډیوټی له تلې او څو څو شپې یې بهر راغلې۔ دَ سلمان دَ زړهٔ ارمان

پوره شو۔ هغه ته په سکول کښې داخله ملاؤ شوه خو دَ شپې تیرولو ځای یې اورک شو۔ بله ورځ چې دَ سکول چُهټی شوه نو دَ جماعت چنو سره غاړه شو۔ هغوی سره یې دَ ماښام وظیفه هم غونډه کړه او په جماعت کښې یې ورسره شپه هم اوکړه ۔ چې هلته یې پرله پسې درې شپې اوکړې نو ځلورمې شپې ته هغوی پرې نښودو ۔ هغه یې دَ سکول څوکیدار سره په سکول کښې اوکړه ۔ نن دَ میاشتې اخری تاریخ وو او دَ سکول دَ رول مطابق دَ بزم ادب پروګرام وو۔ په پروګرام کښې دَ هغهٔ نوم هم لیکلې شوې وو۔ چې سکول شروع شو او دوه پیریډونه اوشو نو دَ بزم ادب تیاری شروع شوه ۔ ټول هلکان په ګرؤنډ کښې جمع شو۔ لوډ سپیکر او ډیس وغیره اولګیدل ۔ هلکان کیناستل ۔ دَ سکول استاذان او پرنسپل هم راغی او په خپلو خپلو کرسو کیناستل۔ دَ پروګرام شروع دَ معمول مطابق دَ تلاوت کلام پاک نه اوشوه ۔ دې نه پس یو نعت اوویلې شو او بیا رنګا رنګ پروګرام شروع شو ، چې په هغې کښې مزاحیه ډرامګی هم وې ، اقوال زرین هم وو او په مختلفو موضوعاتو تقریرونه او شعروشاعری هم اوشوه ۔ چې دا هر څه اوشو نو بیا دَ سلمان وار راغی ۔ هغهٔ شروع دَ کلمې نه اوکړه او بیا ئې اووې " زهٔ به تاسو ته دَ پښتو یو نظم اوویم ۔ زما دَ نظم عنوان دې " دَ مور په قبر ژړا " دے نه پس یې په خوږ او دل سوزه اواز نظم شروع کړو۔ ۔



www.pukhto.net



اے مورې ، اے مورې ، اے مورې
ژړا مې ولې نه اورې ، نوا مې ولې نه اورې
اے مورې ، اے مورې
چې زهٔ به په ژړا شوم نو ستا اوښکې به بهیدلې
اے مورې تا به خپلې او زما اوښکې اوچولې
اوس زهٔ چې درته ژاړمه ، ته ولې نه راګورې
اے مورې ، اے مورې
اے مورې تاته یاد شی چې مونږ لوبې به کولې
په دغه لوبو ، ټوقو کښې به ماتهٔ تښنولې
راپاڅه چې بیا اوکړو لړې لوبې ټوقې نورې
اے مورې ، اے مورې
دَ خپلو امیدونو ، ارمانونو په تکل کښې
انختې په وندر کښې یم دَ غوانو په غوبل کښې
کړیږمه ، دړدیږمه ، لمبې شولې راپورې
اے مورې ، اے مورې
دنیا ده لیونی څکه یې زهٔ هم لیونې کړم
حالاتو ، حادثاتو ، نه دَ ستا نه دَ هغې کړم
ترڅو به تیروومه ،دَ دنیا دا ستغې سپورې
اے مورې ، اے مورې

دَ هغهٔ په اواز کښې دومره سوز وګراز وو چې دَ ټولو استاذانو



Pukhto.Net

او هلکانو دَ سترګو نه دَ اوښکو لړۍ روانې وې ـ بعضې استاذانو داسې هم وو چې هغوی لکه دَ ماشومانو په چغو چغو په ژړا شو ـ په دغه ژړا کښې بزم ادب ختم شو او هلکان او استاذان خپلو خپلو کورونو ته روان شو ـ هغوی پسې سلمان هم روستو روان شو ـ هغه ته معلومه نه وه چې هغه کوم خوا ته تلل غواړی خو چې په ځان پوهیدو نو دَ جان محمد استاذ دَ کور مخې ته ولاړ وو ـ هغه ډیره شیبه ولاړ وو ـ بیا یې غلے غوندے وراوډبوو ـ دَ ور په چودو کښې هغه ته چا اوکتل خو ور یې ورته لرې نه کړو او واپس شو ـ یوه شیبه پس هغه بیا ور اوډبوو ـ چې دَ چا دَ راتلو ښکالوې ووریده نو بیګ یې دَ شانه کوز کړو، په درشل یې کیښودو او په دروند وجود او درنو قدمونو رو رو روان شو ـ

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

★



www.pukhto.net



## لسم باب

زرغونې حکیم خان له دومره مینه ورکړه چې دَ هغهٔ نه صرف دَ مودو تنده ماته شوه بلکه دَ خپلې زړې ښځې مینه ترینه هیره شوه ـ دغه شان دَ هغهٔ مینې دَ هغې نه دَعلی زیب مینه هیره کړه ـ دواړو ته په دې افسوس وو چې هغوی دَ ژوند یوه قیمتی برخه ولې عبث تیره کړه ـ اوس هغه دَ هغهٔ دَ کور بی بی وه او هغه دَ هغې سرتاج وو ـ دَ هغهٔ هغه یاران، دوستان چې هغه له یې دَ وادهٔ مشوره ورکوله رښتونی ثابت شو ـ اګر چه دا دَ هغه دویم وادهٔ وو او دَ هغه دَ پاره څهٔ نوې تجربه نه وه خو دَ رومبی وادهٔ په وخت کښې دَ هغهٔ هلکانه وه، ځوانی وه او دَ شهوانی تقاضے نه علاوه دَ ژوند نور غمونه دَ نیشت برابر وو ـ اوس چې هغه دَ ژوند، عمر او حادثو سپیړو اووهو نو هغه ته عملی طور معلومه شوه چې ښځه دَ سړی نه صرف جامه ده بلکه دَ ژوند سهاره هم ده ـ پرده هم ده او پرده دار هم ده ـ مشیره هم ده او مشره هم ده ـ وکیله هم ده او موکله هم ده ملګرے هم ده او نرسه هم ده ـ

اګر چه هغه وادهٔ پټ په پټه کړې وو خو دَ اوښانو غلا په تیټه نه کیږی ـ په صبا ترینه دَ هغه ځامن هم خبر شو او ټول کلې هم ـ دَ هغهٔ ځامن چې دَ پلار دَ وادهٔ نه خبر شو نو په ګډو وډو سر شو ـ دَ هغوی ټولې خبرې به وخت په وخت هغهٔ له او دَ هغهٔ ښځی له

رارسیدې ۔ هغوی به په یو غوږ اوریدې او په بل به یې ویستې ۔ حکیم خان دَ هغوی دَ دوړو دپکو هډو څه خیال نه ساتو بلکه دَ هغوی دَ قصده به یې عادل زیب دَ لاس نه اونیوو، حجرے ته به یې بوتلو ، هلته به یې ورسره لوبې کولې او نوکر به یې اولیږو هغه له به یې دَ لوبو او خوراک څیزونه راؤړل ۔ کله کله به ئې ځان سره په ټانګه کښې مخکښے کینوو او دَ بازار چکر به یې ورکړو ۔ ښۀ ډیر څیزونه به یې ورله واخستل او کور ته به یې راوستو ۔ چې مور به ترینه تپوس اوکړو دا درله چا واخستل نو هغه به په نیمه ژبه اووے " دا ...ما ...بابا ...دے سره به هغه په خندا شوه او په مخ کښې به یې دَ وینے ځلا شوه ۔ دَ هغه زړۀ جمع او ذهن مطمئن وو خو دَ هغه دَ ځامنو ، زړونه او ذهنونه منتشر وو۔ په کلی کښې به ورپورې دَ کلی خلقو ټوقې کولې ۔ چا به ورته په خندا خندا کښې وې " هلکو شپږم رور مو مبارک شه " چا به ورته وې " تاسو خو دَ اوښ په شا سپو اوخوړی، خانی خو درنه لاړه کشر خان ته پاتې شوه "۔ څۀ دَ هغوی زړونه دَ مخکښې نه ډک وو او څۀ پکښې دَ خلقو خبرو شکوک وشبهات پیدا کړل ۔ دَ هغوی ذهنونونو او خیالونو کښې به دا راتله چی " غریبی ، غریبی نو اخر به اووریږی "۔ هسې نه چې دغه پاتې زمکه دغه هلک پسې انتقال کړی ۔ دَ هغوی ترونو هم هغوی سره دَ همدردی ښۀ پوره اظهار اوکړو او ندیم خان خو په ډاګه اووې ۔ "چی مور میره شی نو پلار پلندر شی "۔ سلیم خان هم دَ هغۀ دَ خبرې تائید اوکړو او دَ کلی



www.pukhto.net



دوه څلور کسان هم دَ هغۀ هم نوا شو۔ دې خبرو سره په هغوی اوربل شو خو په دې نه پوهیدل چې څۀ اوکړی ۔ دَ پوهیدو چل ورته پټ په پټه ډیرو کسانو اوښودو خو دَ سیدنور کاکا خبره " چې ګوجر ازاره وې نو کټا کټې ورله ازار کړه "، دَ هغوی مغزو ته پریوته ځکه چی دَ هغۀ دَ وینا مطابق به نه سیخ اوسوزی او نه کباب او چې هغه دَ مینځ نه اوځی نو بیا به یې پلار سره روغه جوړه اوشی او دَ کوهی خته به په کوهی اولګی ۔ دے کار دَ پاره دَ هغوی کشر رور شاه ولی سینه اوټپوله او دَ پلار کور ته یې خپه اوړده کړه ۔ ښځه او خاوند په داسې وخت کور ته ورغلل چې پلار یې دَ معمول مطابق بهر وو۔ هغوی ځان سره دَ میټهائی ډبلې هم یوړو او دَ خندا ډکې خولې هم ۔ دواړو دَ هغوی مبارکی اوکړه او دَ خپلې خوشحالی اظهار یې اوکړو ۔ شاه ولی په خندا خندا کښې اووې " تۀ که مخکښې هر څۀ وی ، د دې کورنو کره وې که خدمتګاره خو اوس د دې کور بی بی یې ۔ مونږ ته پته وه چی زمونږ پلار به بل واده کوی خو په دې ډیر خوشحاله شو چې دَ بلې په ځائې تۀ راغلې ۔

زرغونه ( په مسکا ) کشر خان زۀ مخکښې هم ستاسو خدمتګاره ووم او اوس هم ستاسو دَ حکم تابعداره یم ۔

شاه ولی ( په خندا ) چې تابعداره یې نو ښۀ څرے چائے راباندې اوڅکوه چې دا مغزۀ مو یوټک اوکړی او ځاې له راشی ۔

زرغونه ( خاندی ) داسې چاے به درباندې اوڅکوم چی شونډې به دې

اونخلوی او دَ خبرو نه به پاتې شې ( دے سره تول خاندی )
پـه دغـه خندا خندا کښې عادل زیب دَ شاه ولی خوا له راشی او هغه له لاس ورکوی ـ شاه ولی ( ځان ناجانه کړی ) بی بی دا ماشوم څوک دې۔
زرغونه ( خاندی ) دا ستا کشر رور دې ـ
شاه ولـی :ـ ښـه ښـه لکه دا کشر خان دې ، شاه ولی هغه په دواړه لاسه اوچت کړی او پـه کټ کښې یې ځان سره کینوی ـ بیا هغه سره لګیا وی او دَ هغهٔ په ژبه کښې خبرے کوی ـ چې چائے اوڅکلې شی نو شاه ولی او دَ هغهٔ ښځه هغې له سلامی ورکړی او کور ته لاړ شی ـ دې نه پس بـه هغـه څو پـه څویمه هغې کره په څهٔ ناڅهٔ بهانه راتلو ـ عادل زیب لـه بـه یې دَ لوبو څیزونه هم راوړل او هغه سره به یې شیبه نیمه لوبې هم کـولې ـ بیا خبره دې له راغله چې عادل زیب هم دَ هغوی شـو۔ تـولـه ورځ بـه یې دَ هغوی په کور کښې دَ هغوی ورو سره لوبې کـولې او ماښام تیارهٔ به هغهٔ یا دَ هغهٔ بال بچ راوستو ـ زرغونه دَ هغه پـه خلوص شک منـه شـوې وه خو دَ هغهٔ دَ خلوص اغراض ومقاصد ورتـه معلوم نه وو۔ بهر حال هغې دا معلوم غوښتل چې اوښ په کوم اړخ چـو کیـږی ـ دَ شاولـی متـعلق تولې خبرې هغې خپل خاوند ته کـړې وې ـ هغه اوریدلې وې ، ساه یې ورته راخکلې وه او سترګې یې پرې لګیدلې وې ـ

★★★★★★


www.pukhto.net



★★★

## یوُلسم باب

زرغـونـے دَ شاه ولی دَ مشکوک حرکات وسکنات په باره کښې خپل خاوند حکیم خان ته څو څو ځله دَ خپلې خدشے اظهار کړې وو ـ هغه به دمعمول مطابق مُسکې شو خو په خوله به یې هیڅ اونه وې۔ چـی اونشـوه نـو بیـا یـې تـولے خبرے په خپل زړهٔ تیرولے او هغه ته ئی هیڅ نه وی ـ هغې سره دا یره ملګرې شوه چی هسې نه دَ هغه په زړهٔ کښـې دا راشی چی هغه دَ پلار او ځوی په مینځ کښې ناچاقی له هوا ورکـوی ـ البتـه خپـل ځوې به یې دَ نظر لاندې ساتو او چې لږ به اخوا دیـخـوا شـو نـو خدمتـګاره بـه یې ورپسې اولیږلـه او کور تـه بـه یې راوستـو ـ هغې ته لا تراوسه دا معلومه نه وه چې دَ شاه ولی دلچسپی دَ هغے په ځوی کښې ده او که دَ هغه په ذریعه لکه دَ شاه زیب هغې ته ځـان رسـول غـواړی ـ بهـرحال چې دَ خاوند نه مایوسه شوه نو دواړه قسـمـه خطـروتـه ذهنی طور تیاره شوه ـ دَ شاه ولی خلاف دَ هغې په رویـه کښـې بـدلـی بلکه سخت والې راغی۔ چی کله به هغه هغوی کـره ورغـی۔ او زرغـونـے بـه هغـه اولیـدو نـو خپل ځوې به یې دَ لاسه اونیـوو او خپـلې کمرې ته به یې بوتلو ـ چې هغه به کمرې ته دَ ورتلو او هغهٔ سره به یې دَ ملاویدو کوشش کوو نو هغې به په څهٔ انه ، بهانه اجازت نـه ورکـوو۔ شاه ولی چې څو څو ځله دَ هغې دَ دُرشل نه واپس شـو نـو دَ هغـهٔ پـه زړه کښـې راغـلـه چې زرغونه دَ هغهٔ په نیت پو هـ

شوې ده ۔ اخر دا چې هغې کړه یې تلل بند کړل او په نوې منصوبو یې سوچ شروع کړو ۔

هغه دَ چا خبره چې چرګان او ماشومان دَ بهر تلو نه ځوک منعې کولې شی داسې به اووایو چې چرګان خو په پنجره کښې هم بندیدیشی خو ماشومانو سره به څۀ کوو ؟ که هغوی پنجره کښې بندیدیشوې نو زرغونے به خپل ځوې په خپله کمره کښې بند کړې وې او دَ بهر هوا به یې پرې هم نه وې لګولې ۔ هغه دَ شاه ولی او دَ هغۀ وړو سره داسې بلد شوې وو چې په کور کښې پرې ساعت نه تیریدو او چې دَ هغې سترګې به لرې اخوا دیخوا شوې نو هغه به په یو طرف اوتې وو او هغوی کره به یې ځان رسولې وو۔ په کور کښې به خدمتګارو هم لوبوو او مور هم خو هغه کور نه خوشحالیدو ۔ دَ هغوی دَ غیرو نه به یې ځان اوخویوو او بهر ته به یې منډه کړه ۔ زرغونه دَ هغۀ دَ پاره ډیره پریشانه وه هغې ته دَ داسې ماشوم ضرورت وو چې کور او بهر هغه سره لوبې هم کوی او هغه دَ نظر لاندې هم ساتی ۔ هغې خاوند ته ځو ځو ځله په دے غرض خوله جوړه کړه خو دَ ویلو جرأت یې اونکړے شو۔ ځو ځو ځله یې دغه خبره دَ هغے خولې له راغله او ځو ځو ځله واپس شوه ۔ حکیم خان پو هـ شو چې دَ هغې په زړۀ څه خبره شته خو ویلې نشی ۔ هغه مسکې شو او تپوس یې ترینه اوکړو " ولې په زړۀ دې څۀ دی "۔

زرغونه ( مسکې شی ) خان جی یوه خبره مِ منې ؟



www.pukhto.net



حکیم خان :۔ یوه خبره ؟ د دې مطلب خو دا شو چې یوه اومنم نو بیا که نورې نه منم پروا نشته ؟

زرغونه :۔ خبرې دوه دی ۔

حکیم خان ( مسکې شی ) دَ یوې نه دوه شوې ؟ ښه وایه څۀ ویل غواړې ؟

زرغونه :۔ رومبۍ خبره دا ده چې عادل دَ کشر خان وړو سره بلد شوې دې۔ خو دَ هغه نه زما یره کیږی او په خپل ځوی یریږمه چې څۀ نقصان ورنکړی ؟

حکیم خان :۔ دا خبره خو ځو ځله تا مخکښې هم کړیده ۔

زرغونه :۔ ما کړې ده خان جی خو تاسو جواب نه دې راکړې ۔

حکیم خان :۔ دَ جواب ضرورت نیشته ۔ ستا ځوی زما ځوې دې او ما تا سره ستا او دَ هغۀ دَ تحفظ وعده کړې ده ۔ دَ هغۀ دَ پاره ما پوره پوره بندوبست کړې دې ۔ په کور کښې ورته څۀ ویلې نشی او دَ بهر دَ پاره ما دَ یو نوکر ډیوټی لګولې ده ۔ هغه پرې نظر ساتی او ماله وخت په وخت خبر راکوی ۔

زرغونه :۔ اوس هغه دَ خیره لوی دی ، کور نه ایساریږی ، که داسې یو ماشوم پیدا شی چې هغۀ سره کور او بهر لوبې کوی او دَ نظر لاندی یې ساتی نو ډیره به ښۀ وی ۔

حکیم خان :۔ زه خو ویم چې داسې یو ماشوم پکار دې چې لوبې هم وسره کوی او سکول ته ورسره ځی راځی ۔

دَ زرغونے زړۀ دَ خوشحالئ نه یو ټوپ اووهی ۔ هغۀ ته اوګوری ، په خندا شی او وائی " که داسې اوشی نو ډیره به ښۀ وی "۔

حکیم خان :۔ چی ستا خوښخه ده نو هم داسې به کیږی ۔ ښه که بله خبره نه وی نو زۀ درنه حجرے ته ورځم که څوک میلمه راغلې وی ؟

زرغونه هغه ته په غټو غټو ګوری او وائی " خان جی ته په میلمه خوشحالیږې که خفه کیږې ۔

حکیم خان :۔ ولے پرې نه خوشحالیږم ۔ میلمه خو دَ خدائ رحمت دې

زرغونه :۔ نه پوهیږم چی دَ خدائ نعمت دې او که رحمت دې خو . . .

( هغه په دواړه لاسه خپل مخ نیسی او شرمیږی ۔سترګی خکته کړی او په خندا کښې وائی " ستا هم یو میلمه راروان دې "۔

حکیم خان (خاندی) ته رشتیا وائی زرغونے ؟

زرغونه :۔ بالکل رشتیا ۔

حکیم خان :۔ "بیا خو صبا له ځان تیار کړۀ چې ډاکټرے له دې بوځم چی ستا مکمل چیک اپ اوکړی او دوایانے درکړی "۔

زرغونه هغه له هیڅ جواب ورنکړی ، مسکئ شی او په مسکا مسکا دَ کمرې نه بهر اوځی ۔

★★★★★

## دویمه برخه

سلمان چې دَ جان محمد استاذ دَ کوره بے نوا روان شو نو هغه دومره مایوسه وو چې دَ دنیا او دَ دنیا دَ خلقونه یې زړۀ موړ شوې وؤ ۔ دَ



www.pukhto.net



هغه دَ ژوند لارې ټولې کړې او ازغینې وې ۔ چې کومې لارې نیغې او بې خطره وې نو هغه ورته معلومې نه وې او کومې چې ورته معلومې په هغې چا تلو ته نه پریښودو ۔ چې دَ چا لمنه به یې اونیوه نو هغه به لمنې له ځنډ ورکړو او هغه به بے یارومددګار پاتې شو۔

هغه ډیر شیبه دَ سړک په غاړه ولاړ وو اودا خیال یې کوو چې چرته لاړ شی ۔ بیا یې سرټیټ کړو او په یو طرف یې مخه اوکړه ۔ چې څۀ ټوټه مخکښې لاړو نو خپه نیولې شو او دَ نیمې لارې نه بیا واپس شو او په بل طرف روان شو۔ دوه څلور ځله هغۀ دغسې اوکړل بیا اخر چې دَ سراج بانډې په سړک روان شو ۔ خپې یې ځان پسی راخکلې او دَ سړک یوه جی او بله جی یې وهله ۔ هغه په خپل خیالونو کښې روان وو چې یو موټر دَ هغۀ نه مخکښې شو او اودریدو ۔ هغه چې وراورسیدو نو دَ ګاډی نه یو اواز راغی " چرته ځې هلکه "؟ سلمان چی ګاډی ته اوکتل نو هغې کښې حکیم خان ناست وو ۔ هغه ورته اووې " خان جی سلام علیکم "۔

حکیم خان :۔ راخیژه ګاډی ته ، سلمان چې ګاډی ته اوخیژی او هغه سره کینی نو عادل او دَ هغه مور اووینی ، سلمان مسکے شی او هغې ته وائی " خورجی سلام علیکم "۔

زرغونه :۔ وعلیکم السلام ۔

سلمان ( عادل ته ) عادله چرته تلې وی ۔

حکیم خان :۔ دوی ډاکټر له تلی وو خو تۀ چرته تلې وې ۔

سلمان :۔ چرته به لاړ شم خان جی خو بس په دے خواؤ شا کلو کښې گرځیدم خپلې خپې مِ هم ستړې کړې او دا لارې مِ هم ستړې کړې۔

حکیم خان :۔ اوس څۀ کاروبار کوې ؟

سلمان :۔ هیڅ نه کوم خان جی ... دے نه پس سلمان هم چپ شی او حکیم خان هم تر کلی پورې بله خبره اونکړی ۔ چی کلی ته اورسی نو هغه دَ کور دَ گیټ مخې ته گاډی اودروی ، چی هغوی دَ گاډی نه کوز شی نو حکیم خان سلمان ته وائی " دَ گاډی نه دا سامان را اوباسه او کور ته یې یوسه "۔ سلمان دَ گاډی نه دوایانې او څۀ میوه دانه بهر اوباخی او زرغونے پسې کور ته روان شی ۔ دې نه پس هلته ښۀ په پخه پریوتو ۔ دَ هغه کار عادل زیب لوبول وو ، کله په کور او کله بهر ۔ عادل زیب په لږو ورځو کښې هغه سره دومره بلد شو چې بیا دَ هغۀ نه ، نه اخوا کیدو او چې لږ به ترینه څنگ وختې شو نو بیا به یې ورپسې ژړل ۔ څۀ ورځے پس دَ حکیم خان او زرغونے په وینا یې هغه دَ کلی یو پرائمری سکول ته بوتلو ۔ چې هغه به یې سکول کښې په ټاټ کینوو او هغه به ترینه بهر وتو نو هغه به هم ورپسې را اوتو ۔ بیا دَ استاذانو په وینا به ورسره په نرسری کښې په ټاټ تر چُهټې پورې ناست وو۔ چی کله به چهټی شوه نو هغه به یې کور ته راوستو خو هغه دومره نیازبین شوې وو چې دَ کور نه به یې په شا سکول ته بوتلو او دَ سکول نه به یې په شا کور ته راوستو ۔ دَ سلمان ملگری مخکښې روان وو۔ نهم او لسم جماعتونو ته اورسیدل او هغه دَ



www.pukhto.net



مخکښې نه روستو روان وو دَ اووم نه نرسری ته اوخویدو او دَ پیو ماشومانو سره په ټاټ کیناستو ۔ هغه خپل تعلیم دَ استاذانو نه پټ ساتلې وو۔ هغه به دَ عادل زیب لاس کښې پنسل ورکړو ۔ بیا به یې دَ هغۀ لاس خپل لاس کښې اونیوو او په کاپی کښې به یې دَ هغۀ په لاس خط لیکلو ۔ استاذانو چې دَ هغۀ قابلیت ته اوکتل نو هغوی په اول جماعت کښې دَ داخلې مشوره ورکړه خو هغه چپ پاتې شو۔

په کور کښې به سلمان عادل زیب سره لوبې هم کولې او په لوبو کښې به یې ورته سبق هم ښودو۔ دَ هغوی لوبو ، مینې ، محبت او سبق ته به چی زرغونے کتل نو ځان سره به مسکی مسکی کیده ۔ دَ عادل زیب دَ مخه هغه په سلمان ډیره مهربانه وه ۔ دَ هغه به یې ډیر خیال ساتو او دَ پیروزونې ځیزونه به یې ورکول ۔ سلمان په ظاهره ډیر خوشحاله وو۔ خو چی کله به ځان له شو او خپل مستقبل ته به یې اوکتل نو په چغو چغو به یې اوژړل ۔

★★★★★

## دریمه برخه

جان محمد استاذ ته دَ سلمان په تلو باندے ډیر خفگان رسیدلې وو۔ دَ هغۀ دا خیال وو چې هغه په خپلې مرضی بے تپوسه او بے اجازته تلې دې خو چی کله یې دَ هغه متعلق دَ خپلې کشرې لور ذاکرے نه پټ په پټه تپوس اوکړو نو هغې پرې هډو بونه وانه چول او ورته یې دَ هغۀ دَ وهلو او دَ وصیف دَ زیاتی تِوله خبره ټکې په ټکې

اوکړه ۔ بیا یې ورله دَ هغهٔ دَ کتابونو بیګ راواخستو او هغه ټولے کاپۍ او کتابونه یې ورته اوښودل کومې چې هغه کراس کړې وې او په کوم چې هغه ډکه مشوانۍ سیاهی توې کړې وه ۔ دې سره سره ورته هغې دا هم اووې چې هغهٔ ځکه لاړو چې وصیف ورته ورنیولې وو او کورته یې نه پریښودو ۔ جان محمد استاذ به دَ هغهٔ دَ کراس شوو کاپیو په سیاهی لړې شوې دَ کتابونو یوې یوې پاڼې ته په ځیر ځیر کتل او بیا به یې اړوله ۔ هغهٔ ته داسې محسوسیده چې دغه بیلې بیلې لړلې شوو پاڼو کښې دَ سیاهی په پړده کښې هغه سلمان سره خبرې کوی او دَ ګیلې په طور ورته هغه دَ وصیف یو یو زیاتې په ګوته کوی ۔ هغهٔ دَ هغهٔ ټولې ګیلې په خپل ځان اومنلې او په مُسکا مُسکا یې دَ هغهٔ دَ پُخلا کولو کوشش کوو چې هغه دَ سیاهی دَ پړدې نه اووتو او لاړو غیب شو ۔ هغهٔ ته په دې ډیر افسوس وو چې هغه دَ بورډ ډیوټۍ له ولې تلو ۔ هغهٔ په زړهٔ کښې خپل ځان دَ هغهٔ مجرم ګڼلو او دا به یې وې چې دَ هغهٔ دَ غفلت په وجه دَ هغهٔ روښانه مستقبل دَ جهالت په تیرو کښې دَ بدلیدو خدشه ده ۔ که هغه دَ بورډ ډیوټۍ له نه وې تلې نو هغه سره به دغسې کار چرې هم نه وو شوې۔ دا خبرې به هغه زړهٔ ته اچولې او زړهٔ به یې پرې خوړو ۔ دَ هغهٔ ښځې او بال بچ ته دَ هغهٔ دَ خفګان احساس شوې وو او هم په دې وجه هغوی دَ هغهٔ مخې له ډیر نه راتلل او نه یې ترینه دَ تپوس جرأت کولې شو هغهٔ د خپل بال بچ په هوم ورک کښې لکه دَ مخکښې غوندې



www.pukhto.net



دلچسپی نه اخسته ۔ حالانکه ښځې ورته څو څو ځله ویلې وو چې ورو سره دَ هغوی په هوم ورک کښې مدد اوکړی ۔ چې هغوی به ورله کتاب یوړو او هغه نه به یې دَ یو ټکی دَ معنې تپوس اوکړو نو هغه به ورته کله وې په سر مِ درد دې او کله به یې ورته وې په سترګو مِ تیارهٔ ده ۔ هغه ته داسے محسوسیده لکه چې هغه له یو ډیر قیمتی څیز په لاس ورغلے وو خو دَ خپل غفلت په وجه یې دَ لاس نه اووتو او روک شو۔ په دے وجه یې نه په سکول کښې زړهٔ لګیدو او نه په کور کښې ۔ دَ ښځې خو پرې سیورې هم بد لګیدو ځکه چې دَ هغهٔ په غیر موجودګۍ کښې هغې دَ هغهٔ دَ قیمتی سرمایے دَ تحفظ اونکړې شو ۔ دَ هغهٔ خفګان ته چې ښځې اوکتل نو یوه ورځ یې ترینه په یره یره تپوس اوکړو چې ”اخر هغه کومه خوبی ده چې ستا دَ ګل غوندې ځوې کښې نیشته او هغه پردی هلک کښې وه“۔ جان محمد استاذ چې دَ هغې خبره وورېده نو دَ قهره مسکې شو او هغی ته یې اووې ’ پردې هلک ؟ هغه پردې نه وو۔ په دوی کښې او هغهٔ کښې دومره فرق دې چې دوی مِ طبعی اولاد دې او هغهٔ مِ روحانی اولاد دې“۔ دې نه پس هغه خاموش شو ، بله خبره یې اونکړه او نه یې هغه بلې خبرې ته پریښوده ۔ هغهٔ صرف دَ خپلې رائے اظهار اوکړو خو هغې سره دَ بحث په موډ کښې نه وو ۔

دَ هغه خپل یو انداز وو، خپل اصول او خپل تاثرات وو۔ هغه په خپل سکول کښې دَ علم ، پوهې ، تجربې ، مشاهدې او پیشې په

لحاظ دَ نورو استاذانو نه ډير مخکښې وو۔ دَ قيافه شناسۍ متعلق دَ هغه دومره تجربه ، مشاهده او تجربه وه چې يو ځل به يې په غور سره چاته لاندې باندې اوکتل نو په رومبی نظر به يې دَ هغهٔ دَ اندورنی صلاحيتونو ايکسرۍ اوويستله او دَ خپل دماغ په محافظ خانه کښې به يې محفوظه کړه ۔ هغه به دَ شاګرد آئی ، کيو ، دَ ټسټونو په ذريعه نه کوو بلکه دَ هلک دَ قيافے نه او دَ هغهٔ دَ کړو وړو نه به يې معلومه وو۔ دَ هغه په ټوله نوکرۍ کښې يو هلک داسے راغلے وو چې هغه يتيم هم وو او غريب هم ۔ هغه لا ايله دَ درے ، درے نيمو کالو وو چې دَ سکول په وړو کی ګيټ کښې به ولاړ وو او دَ سکول دَ وړو او استاذانو تماشه به يې کوله ۔ هغه په هغه وخت کښې په پرائمری سکول کښې استاذ وو۔ هغهٔ چې دَ هغه ماشوم اندازه واخسته نو دَ هغه په مخ او تندی کښې ورته دَ هغهٔ دَ قابليت او دَ روښانه مستقبل نښخے ښکاره شوې ۔ هغهٔ دَ هغه ماشوم مور سره دَ هغهٔ دَ سکول په باره کښې خبره اوکړه ۔ دَ هغهٔ مور دَ خپلې بے وسۍ په وجه دَ هغهٔ سبق ته تياره نه وو خو هغه ورسره تر هغې ټسوله چې هغه يې دَ هغهٔ سبق او تعليم ته جوړه کړه ۔ هغهٔ دَ خپله جيبه هغه له دَ سکول يونيفارم کتابونه ، کاپۍ او نور متعلقه لوازمات واخستل او هغه يې ځان سره سکول کښې داخل کړو ۔ هغه ماشوم دومره قابل اوختو چې دَ اول جماعت نه تر پنځمه پورې په هر جماعت کښې اول رااووتو ۔ چی پنځم يې پاس کړو نو جان محمد استاذ هم په ترقی



www.pukhto.net



هائی سکول ته لاړو او هغه ماشوم يې هم هلته داخل کړو ۔ هغهٔ دَ هغهٔ تعليمی بنياد دومره مضبوط کړې وو چی دَ لسم جماعت په امتحان کښې په بورډ کښې يې اول پوزيشن واخستو او سکالر شپ باندې کالج کښې داخل شو ۔ په دولسم جماعت کښې يې هم بورډ ټاپ کړو۔ په کالج کښې ورته دَ سکالر شپ او داخلے پيش کش اوشو خو دَ جان محمد په مشوره فوج ته په کميشن لاړو ۔ اوس هغه ماشوم په فوج کښې دَ ميجر شاه جهان په نوم يادېږی ۔ دَ يو لوې جرنيل لور سره يې وادهٔ اوکړو او دَ بال بچ پلار دې۔ هغه ميجر شاه جهان اوس هم هغهٔ ته ماشوم ښکاری ۔ کال په کال د " سلام ټيچر ډے " په تاريخ دَ هغهٔ سلام له سره دَ ښځے او بال بچ په خپله راځی او دَ هغهٔ شکريه ادا کوی ۔

دَ قابليت کومے نښخے چې په شاه جهان کښې وی دَ هغهٔ نه زياتے په سلمان کښې موجود وې ۔ په دے وجه هغه غوښتل چې که دَ هغهٔ مکمل تعليم ، تربيت او رهنمائی اوشی نو دَ ملک وقوم يو بهترين وګړے ترينه جوړيدېشی ۔ هغه په دے وجه پريشان وو چې دَ جهالت او ترهه ګرۍ په تيرو کښې روک او بے لارې نشې او ټول ژوند يې خراب نشی ۔

★★★★★★★

★★★★★

★★★

## دولسم باب

دَ الیکشن شپې ورځې وې ۔ سیاسی پارټیو دَصوبائی او قومی نشستونو دَ پاره دَ امیدوارانو نامزدګی شروع کړې وې۔ سلیم خان دَ صوبائی سیټ دَ پاره یوې سیاسی پارټئ سره ترون کړې وو او دَ صوبائی نشست دَ پاره دَ یو امیدوار په حیث دَ هغه نامزدګی شوې وه ۔ دَ نامزدګی نه پس هغه خپل ټول خپل ، خپلوان په اعتماد کښې اخستل غوښتل ۔ دې دَ پاره هغه مشر رورله په جرګه ورغے او دَ هغه نه یې دَ خوږو ترخو معافی اوغوښته او هغه یې پُخلا کړو۔ دې نه پس عالمګیر خان له دَجرګې په شکل ورغے او دَ هغهٔ نه یې دَ هغهٔ او دَ هغهٔ دَ زمیدارو دَ مرستې حاصلولو کوشش اوکړو ۔ هغه په خپل کوشش کښې کامیاب شو او عالمګیر خان نه صرف دَ مکمل تعاون یقین دهانی بلکه هغه سره یې ملا کلکه اوتړله او دَ هغه کامیابی یې خپله کامیابی اوګڼله ۔ سلیم خان چې دَ هغه نه مطمئن شو نو بیا یې دَ پارټئ لیډر سره یې لیدل کتل اوکړل او دَ دواړو ترمینځه بنه زړهٔ پورې خبرې اوشوې البته دَ پارټئ دَ پاره یې ترینه دَ پنځوس لاکهه روپو دَ چندې مطالبه اوکړه ۔ سلیم خان دَ صوبائی نشست دَ پاره دَ نامزدګی په وجه دا مطالبه په سر ، سترګو قبوله کړه او په لس ، دولس ورځو کښې یې دَ چندې ورکولو وعده اوکړه ۔

چې دَ هغهٔ نه واپس شو نو دَ پیسو دَ پاره یې هلې ځلې شروع





کړې ۔ شل لاکهه روپۍ ورسره خپلې وې او شل لاکهه یې دَ خپلو زمیدارو نه په ګانه او اجاره رااخستې ۔ بله ورځ یې دَ پارټئ مشر له شلویښت لاکهه روپۍ چنده ورکړه او دَ لاس لاکهه روپو یې ورسره زر تر زره ورکولو وعده اوکړو۔ دَ ځامنو په مشوره هغهٔ دَ شاملات دَ تقسیم او دَ هغے دَ خرڅولو خوله واچوله ۔ عالمګیرخان هم دَ حکیم خان دَ شاملات تقسیم ته تیار نه وو خو چې سلیم خان ورته دَ جرګې په خوله دَ خپل مالی مشکلاتو او دَ الیکشن دَخرچے خبره اوکړه نو هغهٔ اومنله خو دا شرط یې پکښې کیښودو چې دَ شاملات دَ تقسیم نه مخکښې به ټول حق داران راغونډ شی او په دې به خبرې اوکړی ۔ دَ جمعے په ورځ په شاملات کښې کټونه واچولی شو او دَ دواړو کورنو یوه غونډه اوشوه ۔ په غونډه کښې دَ خانانو نه علاوه دَ خانانو زمیدارو او مزدورانو هم برخه واخسته ۔ دَ غونډې مشری دَ جامع مسجد پیش امام مولانا مدثر شاه ته حواله شوه ۔ دَ غونډې شروع دَ معمول مطابق دَ تلاوتِ کلام پاک نه اوشوه ۔ دَ تلاوت نه پس مولانا صیب دَ صبر او برداشت په باره کښې یو څو خبرې اوکړی ۔ دَ شاملات دَ تقسیم محرک سلیم خان وو او دا جرګه هم دَ هغهٔ په خواهش راغونډه کړې شوه نو مولانا صیب هغه ته اوې "ښه سلیم خان ته چې څهٔ ویل غواړې ، نو د دې ناستو خلقو په مخکښې صفا صفا اووایه" سلیم خان پاڅیدو مخکښې یې دَ مولانا صیب او دَ هغهٔ دَ راتلو شکریه ادا کړه بیا یې دَ خپلو ، خپلوانو او تربورانو مننه اوکړه



www.pukhto.net

چې دَ هغه په وینا ټول راغلل بیا مولانا صیب ته مخاطب شو او هغهٔ تـه یې اووې " مولانا صیب ، لکه څنګه چې تاسو ټولو ته معلومه ده زه ستـاسو په مرستـه او ستاسو په تعاون دَ صوبائی نشست دَ پاره دَ یو امیـدوار پـه حیث نامزد شوې یم ۔ مولانا صیب تاسو ته به شاید دا هم معلومه وی چې په الیکشن په لا کهونو روپۍ خرچه کیږی ۔ ما سره چې څهٔ په کور کښې وو هغه مِ دَ پارټۍ په چنده کښې ورکړل ۔ اوس ما سره په کور کښې دوه اٰنے نیشته نو خرچه به دَ کومې نه اوکړم ۔ زهٔ دا ویـم چې شامـلات تقسیم شی نو زهٔ به خپله برخه خرڅه کړم او په هغې به دَ الیکشن خرچه اوکړم ۔ بس دا خبره ده مولانا صیب ۔

مولانا صیب :۔ عالمګیرخان تاسو څهٔ ویل غواړی ؟

عـالـمګیـرخان :۔ هاؤ جی ۔ ګوره سلیم خانه ۔ تهٔ مونږ دواړو کلو په شریکه نامزد کړې یې ۔ ستا دَ کامیابۍ دَ پاره مو دعاے خیر کړې ده او ښه پـه کـلـکـه او نـره درسره ولاړ یـو ۔ که په دوه ، درے لاکهه روپو کار کیـږی نـو زهٔ درکـولې شم خـو شـامـلات مه تقسیمه وه ۔ دا زمونږ دَ تـربـورانـو دَ اتفاق او اتحاد یوه نښخه ده چی دَعمرونو نه چلیږی او دې سره مونږ ته دَ خپلو مشرانو خوږه رورولی رایادیږی ۔

سلیـم خان :۔ کاکا جی زهٔ ستاسو دَ ړومبۍ خبرے شکریه ادا کوم او دا ویـم چې که ضرورت شو نو خلاصیدې رانه نشې ځکه چی ټول دَ یو نـغـری خلق یو ، یوه مو وینه ده او یوه مو حیا ده خو دا شاملات به اخر تـقسیـمـږی چې زمونږ په ژوند تقسیم شی نو ښهٔ به وی چې کشرانو


www.pukhto.net



ته دَ جنګ جهګړې نوبت پیښ نشی ، شکریه ۔

مولانا صیب (ندیم خان ته ) ندیم خان ستا څهٔ راې ده ؟

ندیم خان :۔ زما سلیم خان لالا څخه اتفاق دې ۔ چې کوم تکلیف دهٔ ته دې نو هغه ماته هم دې ۔

مـولانـا صیـب ( حـکیـم خـان تـه ) خان جی دَ شاملات دَ تقسیم په باره کښې ستاسو څهٔ راې ده ؟

حکیم خان :۔ مولانا صیب ، زهٔ دَشاملات په تقسیم خوشحاله نه یم ۔ چې دا تقسیم شی نو زمونږ زمیدار به څهٔ کوی ؟ دوی به کینی پاڅی چرتـه ؟ دوی بـه خپـل درمـنـدونـه چرته اچوی ؟ دوی به غوبلې چرته کـوی ؟ دوی بـه بهـوسـاړې چرته تړی ؟ دَ دوی ماشومان به لوبې چرته کـوی ؟ پـه دې شاملات د دې غریبانانو رونق هم جوړ دې او کاروبار هم ۔ زهٔ دَ شـامـلات دَ تقسیـم په حق کښې نه یم خو لکه څنګه چې سلیم خـان او نـدیـم خان دا تـقسیـمـول او خرڅول غواړی نو خرڅ خو بغیر تـقسیـمـه هـم کیدیشی ۔ دا ټول شاملات څلورپنځوست جریبه دې ۔ اوویشـت جـریبه دَ عالمګیرخان دَ کورنۍ شو او اویشت جریبه زمونږ دَ کورنۍ ۔ زمونږ دَ هر رور نهه جریبه سرې سر رسی ۔ خبره ختمه ده۔

مولانا صیب ( سلیم خان او ندیم خان ته ) ستاسو څهٔ خیال دې ؟

سلیـم خان :۔ ډیـره ښـهٔ خبره ده ۔ زمـا برخـه کـه لالاجی اخلی او کـه کاکاجی زهٔ ورته تیار یم ۔

مولانا صیب :۔ ندیم خان ته څهٔ وایې ؟

سلیم خان :۔ زمونږ دواړو یوه خبره ده ۔ کہ لالاجی یې اخلی او که کاکاجی ۔

مولانا صیب:۔ خان جی ستاسو څهٔ خیال دې ۔

حکیم خان :۔ دَ عالمگیر خان دَ کورنۍ جائیداد به هغوی ته پاتې شی او زمونږ دَ کورنۍ به ماته ۔ که دَ شاملات په بدل کښې زرعی زمکه غواړی او که پیسې ، زهٔ دواړو ته تیاریم ۔ پاتې شو دَ شاملات دَ زمکے دَ قیمت تعین نو یو مشر به دې خوښ کړی یو به زهٔ خوښ کړم هغوی چې څهٔ جوړه کړه ماته منظوره ده ۔

مولانا صیب :۔ ډیره ښه خبره ده او ډیره دَ اصولو خبره ده ۔ اوس به یوه دعاے خیر اوکړو چې خداې دا مسله په خیر حل کړی "۔

د حکیم خان مشر ځوې راج ولی پاځی او مولانا صیب ته وائی " مولانا صیب دا فیصله خو اوشوه ، اوس زمونږ فیصله اوکړه "۔

مولانا صیب:۔ ستاسو څهٔ فیصله ؟ ستاسو خبره چا سره ده ؟

راج ولی خان :۔ زمونږ خبره خپل پلار سره ده ۔ په سړنو جریبه زمکه کښې یې مونږ له شل شل جریبه زمکه راکړې ده ۔ په دے زمونږ څهٔ کیږی ؟ په دې زمونږ وخت نه تیریږی ۔ مونږ په شته جائیداد کښې پولۍ په ډانگ لاړه وو۔ زمونږ خبره سپینه کړه مولانا صیب۔

مولانا صیب:۔ په دې باره کښې به زه خان جی سره خبره اوکړم ، بیا به تاسو پوهه کړم ۔

گل ولی :۔ مولانا صیب ، پلار مِ لرې نه دې ، دا دې ناست دې ۔ اوس



www.pukhto.net



ورسره خبره اوکړه او کار ختم کړه ۔

مولانا صیب :۔ گوره گل ولی خان ، دَ هر کار خپل خپل وخت او اصول وی ما درته اووې چې زهٔ به ورسره ځان له په ځان له خبره اوکړم او هر څهٔ به درته اووایم ۔

سیدولی خان :۔ مولانا صیب ، دا فیصله که اوس اونشی نو دې نه به روستو لویه لانجه جوړه شی ۔

خان ولی :۔ مونږ ته دا فیصله منظور نه ده ۔ مونږ دَ ټول جائیداد تقسیم غواړو ۔

شاه ولی خان :۔ راځئ چې ځو او خپل غم په خپله اوکړو ۔ دا مشران زمونږ فیصله نه کوی ۔ دَ حکیم خان پنځه واړه ځامن دَ جرگې نه پاځی او قهریدلی او غړمبیدلی روانیږی ۔

★★★★★

## دویمه برخه

حکیم خان ته دَ ځامنو په گستاخۍ سخته ذهنی او قلبی صدمه رسیدلې وه ۔ هم دغه وجه وه چې هغه درې ورځې پرله پسې په خپله کمره کښې ډب ، ډوب پروت وو ۔ زرغونے ته دَ هغهٔ دَخفگان دَ محرکاتو پته لگیدلې وه ۔ هغه هم یریده چی هسې نه دَ هغهٔ ځامن هغهٔ پسې کور ته راشی او په کور کښې یې بے عزته کړی ۔ اگر چه هغې په ځان څوک نه پوهول خو په خپل کور کښې به هر وخت بیدار وه ۔ دَ هغهٔ دَ ځامنو دَ یرې په وجه دَ هغه رونړه او اوریرونه هم دَ



Pukhto.Net

هغۀ تپوس له ورنه غلل ـ صرف یوه زرغونه وه چې دَ یوې تابعدارۍ او وفادارۍ بی بی په حیث ورته په یوه خپه ولاړه وه ـ او چې په ډډه به اوختو نو هغې به ورمنډه کړه او ورته به اودریده ـ

هلته دَ جرګے په مازیګر دَ هغۀ پنځه وانه ځامن دَ شاملات زمکې ته ورغلل او دَ دواړو بانډو زمیدارو ته یې اعلان اوکړو چې دَ شاملات زمکه ټوله دَ هغوی ده ـ هغوی پکښې دَ بل چا حق نه منی او ټول خپلی بهوساړې ، دَ پلالې او پوګ ټوپونه په دوه ورځو کښې دننه دننه لرې کړی ګینی دغه هر څه به ورله اوسیزی ـ خلقو ته دَ هغوی خبره هسې ټوقه ښکاره شوه او چا هم دَ هغوی په خبره غوږ نۀ ګره وو ـ په دریمه ورځ پنځه وانه رونړه سره دَ نورو ټوپک مارو او مزدورانو راغلل ـ ټوپک مارچاپیره اودریدل ، مزدوران غتې اونې ته اونختل او په دوه کسی اره یې دَ هغې تنه پریکول شروع کړل ـ او هغوی دَ پلالې او پوګ ټوپونو او دَ بهوسو ، بهوساړو ته اور ورته کړو ـ دَ سراج بانډے زمیدار عالمګیر خان پسې ورغلل او هغه ته یې خپله ژړا فریاد اوکړو ـ هغۀ یوه شیبه سوچ کوو ، بیا یې خپل ناظر هغوی سره اولیږو چې دَ حکیم خان ځامن پو هـ کړی ـ هغوی چې دَ عالمګیر خان ناظر اولیدو او دَ هغۀ خبرې یې واوریدې نو هغۀ یې راګیر کړو ښۀ تره یې اووهلو ـ بیا یې ورله خپې لاس اوتړل او په اور کښې یې غورځوو خو مولانا صیب په منډه ورغی او هغه یې ترینه خلاص کړو ـ هلته مزدوران دَ غټې اونې په ریبلو اړم وو او تر ډیره



www.pukhto.net



حده ریبلې شوې وه چې دَ طوری بانډې خلق حکیم خان او دَ هغۀ رونړو پسې ورغلل ـ حکیم خان ناجوړه وو او هم په دې وجه زرغونے دَ هغوی خبره هغه ته اونه رسوله چې دَ هغۀ نه ناامیده شو نو خلق سلیم خان او ندیم خان پسې ورغلل ـ ندیم خان چې دَ خلقو خبره واوریده نو جذباتی شو او کور ته یې ټوپک پسې منډه کړه ـ دَ هغۀ ښځه چې دَ هغۀ په نیت پو هـ شوه نو هغې ورپسې دَ کمرې ور پورې کړو او دَ بهر نه یې جرنده کړو ـ سلیم خان او دَ هغۀ ځامنو ټوپکې راواخستې او شاملات ته روان شو ـ هغوی سره دَ هغوی زمیدارو بلکه دَ طوری بانډې خلقو هم ټوپکې راواخستې او میدان ته اووتل ـ دَ حکیم خان ځامنو چې هغوی اولیدل نو هغوی پرې ډزې شروع کړې ـ دواړه طرفین ډزې شروع وې او چغې وهلې کیدې چې غټې اونې یو ترک اوکړو او لکې خرانګې په زمکه راپریوته ـ دَ عالمګیر خان سړو هم مورچې سمبالی کړې ـ دَ هر طرف نه باړونه چلیدل او ترق ، تروق شروع وو ـ حکیم خان چې ډزې واوریدې نو هغه دَ کټ نه پاڅیدو خو زرغونے دَ لاس نه اونیوو په کټ کښې واپس کینوو او ورته یې اووې " دلته سمله خان جی ، بهر اونه ځې ـ دا دَ دواړو کلو جنګ دې هسې نه چې ....( هغه چپ پاتې شی )ـ

حکیم خان :ـ زۀ ډزو له نه ورځم صرف دومره معلومات کوم چې دا ډزې څوک کوی او ولې یې کوی ؟

زرغونه :ـ دا ډزې ستا ځامن کوی ـ یو خوا ستا ځامن دی او بل خوا

دواړه کلی دی ـ بس دا خبره ده خان جی ـ ښه په قلاره سمله چی ډزې ختمې شی نو په خپله به خبر شې ـ

هغوی لا دا خبرې کولې چې په دیکښې دَ هغوی دَ کوټې ور اوډبیدو ـ حکیم خان چې دَ ور ډبیدو اواز واوریدو نو پاڅیدو خو زرغونے بیا کینوو او ورته یې " تهٔ سمله خان جی زهٔ ورځم " ـ دې سره هغه دَ کمرې نه اووته او دَ کوټې ورله ورغله ـ یوه شیبه پس چی واپس شوه او کمرې ته ورغله نو خاوند ترینه تپوس اوکړو " دا څوک وو"ـ

زرغونه :ـ مولانا صیب وو ـ ستاسو تپوس یې کوو خو ما ورته اووې چی هغه ناجوړه دې او راوتې نشی ـ

حکیم خان :ـ زهٔ ورځم چی هغه ماته څهٔ ویل غواړی ؟ دې سره هغه پاځی او دَ کمرې نه دَ وتو کوشش کوی ـ زرغونه هغه تلو ته نه پریږدی خو هغه دیکه ورکړی هغه یو خوا ته کړی او بهر اوځی ـ چې بهر اووتو نو مولانا صیب ورته ټوله خبره اوکړه او په اخره کښې یې ورته دا اووې " راځه چې دواړه ورشو او دا ډزې بندې کړو څهٔ خرابې پکښې اونشی "ـ

حکیم خان :ـ ډیره ښه خوښه ده ځه چی ورشو ، هغوی دواړه چې ډزبندۍ له روان شو نو خپل سپین څادرونه یې په ډانګو کښې اوچت کړل او چغے یې وهلې " ډزې بندې کړئ ... ډزې مهٔ کوئ "ـ په دې دې کښې دَ ډزو مینځ له ورغلل ـ په هغوی ډزې کیدې خو هغوی دَ ډزو نه پروا نه کوله او چغې یې وهلې " ډزې بندې کړئ ... ډزې مهٔ



www.pukhto.net



کوئ "ـ دَ هر طرف نه ډزې وې ، معلومه نه وه چی په هغوی دَ چا ګولۍ برابر شوې چې په یو وخت دواړه راپریوتل ـ هغوی لا لتې او سلګۍ وهلې چې پولیس هم را اورسیدو ـ خلقو چې پولیس اولیدو نو یو خوا بل خوا خوارهٔ شول البته دَ حکیم خان درې ځامن راج ولی خان ، ګل ولی خان او سید ولی په زخمی حالت کښې په موقعه اونیولی شو او خان ولی او شاه ولی خان اوتختیدل ـ دَ حکیم خان او دَ مولانا صیب دَ قتلونو دعویٰ دَ حکیم خان په پنځه وانړه ځامنو اوشوه ـ زرغونے چی دَ خاوند دَ مرګ واوریدل نو سرتور سر او خپې یبله خپې په یوه چغه وراورسیده خاوند یې په غیږ کښې اونیوو او کور ته یې اوړو خو پولیس هغه منعې کړه او دواړه لاشونه یې پوسټ مارټم دَ پاره اولیږل ـ په دواړو کلو دَ یرې ، ترهې خپسه خوره شوې وه ـ څهٔ خلق قبرونو ویستلو له هدیرې ته لاړل او څهٔ خلق په خپلو کورونو کښې په پورې ورونو غلی ناست وو ـ لارې کوڅې خوشې او تشې پرتې وې ـ په شاملات کښې پرتې دَ بهوسو بهوساړې ، دَ پلالې او پوګ تپونه څهٔ ایره شوی وو او څهٔ نه لا تر اوسه لوګې ختو ـ هغه غټه اونه چې دَ هغې دَ سیورې لاندې به دَ اوړی په غرمه کښې دَ دواړو کلو خلق کیناستل ، سملاستل ، او دَ خوند خوند خوږې خبرې به یې کولی ، هغه مړاوې څانګې په زمکه خوره وره پرته وه ، چې چا به ورته کتل نو ډکې سترګې به ترینه روانیدل ـ

دَ دواړو بانډو تپ اوختو او بے خونده او بے رونقه پاتې شوی

زرغونه په ځوانئ کښې يو ځل بيا کونډه شوه ـ يتيم عادل يو ځل بيا يتيم شو او دَ زرغونې راتلونکې ميلمه به هم يتيم پيدا شي۔

دَ خاوند دَ مرګ نه پس هغه ډيره بے اسرې پاتې شوه او هغه دَ خپل ځان ، عادل زيب او دَ راتلونکی اولاد دَ پاره سخته فکرمنده شوه ـ دَ خاوند دَ ځلوېښتئ پورې هغه په ماتم کښې وه ـ دَ ځلوېښتئ نه پس مشرانو دَ جوړے خوله واچوله خو زرغونه دَ عدت په وجه هغوی سره ملاويدې نشوه او نه هغې څوک ځان ته پريښودل ـ چې دَ هغې عدت ختم شو نو دَ حکيم خان رشته دارو دَ روغې جوړې دَ پاره هغې سره ملاقات کول غوښتل خو هغې دَ روغې نه بيخی انکار اوکړو او هيڅا سره دَ روغې جوړې په حقله خبرې کولو ته تياره نه وه ـ

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★

★★★★★★

★★★★

★★



www.pukhto.net



★

## دیارلسم باب

دَ سلمان مور چې هغه دَ لاس نه اونيوو او د خپل کور دَ کنډر نه وته نو په تلو کښې يې خپل ليور صنوبر او خپلې خوابښې ته صرف دومره اووې چې ، " دَ دې هلک دَ سبق دَ پاره يو څو ورځو له به پيښور ته مور کره لاړه شم "ـ دې نه علاوه نه يې ورته دا اووې چې دَ کور دَ سامان خيال ساتئ ، نه يې ترينه اخنه بخنه واخسته او نه يې ورته څۀ بله خبره اوکړه ـ هغوی هم ورسره اوږده نکړه ځکه چې يو دَ هغې ذهنی حالت ښۀ نه وو بله دا چې هغوی په خپل غم اخته وو ـ دَ صنوبر کور هم وران شوې وو او په ډاګه ډوګلۍ پراتۀ وو ـ دَ کور سامان يې هم مات ګوډ شوې وو ، ښځه يې هم مړه شوې وه او هغې سره په غيږ دَ دو مياشتو دَ تي لور هم مړه شوې وه البته دَ درې ، درې نيمو کالو يوه لور نسرين بچ پاتې شوې وه ـ هغې مور پسې هغه ژړا کوله چې شپه ورځ به يې خوله وازه وه او رينګه رينګه به يې کول ـ

کله چې صنوبر ته دَ حکومت له خوا خيمه ، کمبلې او نور امدادی سامان ورکړې شو نو هغه ترينه دَ هغوی دَ پاره هم واخستل ـ دَ هغوی خيمه يې دَ خپلې خيمې خوا کښې اولګوله ـ دَ هغوی دَ کور سامان او نور امدادی سامان يې پکښې کيښودو او مزې يې پرې راخکو ـ دَ هغه مور به وخت په وخت هغه سامان کتو او خپله تسلی به يې کوله ـ چې کله دَ حکومت له خوا دَ متاثرينو دَ کورونو په

جوړولو شروع اوشوه نو دَ صنوبر او دَ هغهٔ دَ مور په وینا دَ میمونے دَ کور په جوړولو هم شروع اوشوه ۔ چې دواړه کورونه تیار شو نو دَ صنوبر دَ کور چابی هغه له ورکړې شوه او دَ میمونے دَ کور چابی دَ صنوبر مور له ورکړې شوه ۔ چې کله حکومت دَ زلزلې دَ شهیدانو دَ ګور کفن دَ پاره مالی امداد ورکوو نو دَ خدای بخلی اختر بابو دَ ګور کفن پیسې دَ هغه مور له ورکړې شوې ۔ دے نه پس دَ ملکی او غیر ملکی این جی اوز له خوا به چې څهٔ امدادی سامان ملاویدو نو دَ صنوبر مور به دَ هغوی دَ پاره دَ هغوی په خیمه کښې سمبالوو۔ هر څهٔ ډیر تیروو خو نه دَ صنوبر ښځه وه نه دَ هغه ماشومه لور صدیقه وه اونه اختر بابو وو۔ دَ صنوبر مور به یوخوا دَ خپلې شهیدې اینګور او نوسی پسې ژړا کوله بل خوا به یې چې دَ میمونے خوشې کور ته کتل نو هغې پسې او خپل نوسی سلمان پسې به یې هم ژړل او په ژړا ژړا کښې به یې هغوی یادول ۔ چې څومره به وخت تیریدو هومره به دَ هغې خفګان کښې اضافه کیده ۔ صنوبر ، میمونے او سلمان پسې خفه هم وو خو په هغوی غصه هم ورتله ۔ د دې غصې اظهار هغه یو ځل دَ خپلې مور مخکښې هم اوکړو او دا یې اوویل چې " دَ یو څو ورځو په بهانه لاړل او څلور کاله یې تیر کړ ۔ عجیبه مخلوق دې هډو دا هم نه وائی چې خپل کلی او کور ته لاړ شی۔ هغې جواب ورکړو ، دَ مرګ او ژوند څهٔ پته لګی ځویه ۔ خدای مهٔ که چرته مړهٔ نه وی ۔ زما زړهٔ دوړیږی لکه چې هغوی ته څهٔ حادثه پیښه شوې وی "۔


www.pukhto.net



دَ مور په خبرو دَ هغه په زړهٔ کښې هم تلوسې او وسوسې پیدا شوې ۔ صنوبر هغوی پسې کوشش کوو خو مسله دا وه چې دَ میمونے دَ مور پلار کور ورته نه وو معلوم او کوم چې ورته معلوم وو دَ هغے کور نه هغوی ډیر مخکښې کډه اوړې وه او چرته تلی وو۔ اختر بابو سره دَ میمونے وادهٔ په مانسهره کښې شوې وو۔ په هغه وخت کښې دَ هغې پلار دَ مانسهرے په بازار کښې مزدوری کوله او بازار سره جخت په یو کواټر کښې ډیره وو۔ کلی ته دَ تلو نه مخکښې هغوی ښځه او خاوند میمونے کره ورغلی وو او هغې ته یې ویلی وو چې هغوی کډه ترلې ده او پیښور ته روان دی ۔ صنوبر او دَ هغهٔ مور ته صرف دومره معلومات وو۔ دې نه علاوه نور هیڅ نه ۔ هغه څو څو ځله دَ هغهٔ هغه زوړ کوارټر ته ورغی۔ او دَ هغهٔ دَ ګاونډیانو نه یې دَ هغه متعلق تپوسونه اوکړل ؟ خو چا هم زړه پورې جواب ورنکړو ۔ صنوبر ته چې دَ حکومت له خوا کومې پیسې ملاؤ شوې وې په هغې یې ځان له تیکسی واخستو ۔ هغه به یې دَ سوګړی او بالاکوټ ترمینځه چلوو او ښهٔ مزدوری به یې کوله ۔ یو ځل هغهٔ دَ بالاکوټ نه دَ پیښور سورلی کینولې ۔ دا دواړه ښځه او خاوند وو او د دے علاقے سیل له راغلی وو۔ صنوبر او میلمه خپلو کښې مختلف خبرې کولې ۔ په خبرو خبرو کښې ترینه هغه دَ زلزلے دَ تباهکاری په حقله تپوس اوکړو ۔ صنوبر دَ زلزلے دَ تباهکاری چشم دید واقعات په داسې انداز بیان کړل چې دَ هغوی په سترګو کښې اوښکې راغلې ۔ بیا یې ورته دَ

خپلې ښځې ، لور او رور دَ شهادت خبره اوکړه ـ په اخر کښې یې دَ اورندارې او اورارۀ خبره راغله او دَ هغوی متعلق یې ورته تهوله قیصه تیره کړه ـ په لږ ساعت کښې هغوی داسې محسوسه کړه چې هغوی دواړه دَ عمرونو پیژندګلو وی ـ چې پیښور ته اورسیدل نو هغه ځان سره کلی ته بوتلو ـ په کلی کښې یې ځاې په ځاې اعلانونه اوکړ ـ دې نه علاوه یې په خواؤ شا کلو کښې هم اعلانونه اوکړل ـ صنوبر هغه سره دوه ورځې تیرې کړې خو دَ هغوی هیڅ پته اونه لګیده ـ بیا ورله هغه ډبل کرایه هم ورکړه او دَ یو بل کلی دَ مشر په نوم یې یو خط هم ورکړو۔ چې هلته اورسیدو نو بیا دَ هغۀ میلمه شو۔ کلی په کلی اعلانونه اوشو خو دَ هغوی هیڅ معلومات اونشو۔ چې دَ هغۀ نه رخصتیدو نو هغۀ دَ بل کلی دَ یو دوست په نوم خط ورکړو ـ چې هلته اورسیدو نو هغه یې ډیر قدر اوکړو په خپل کلی او په خواؤ شا کلو کښې یې اعلانونه اوکړل خو خوند یې اونکړو ـ بیا به دغسې کړی په کړی لګیدې او زنځیر به ترینه جوړیدو۔ د دغه زنځیر اخری کړی سراج بانډې ته اورسیده ـ هغه چې سراج بانډې ته اورسیدو نو دَ یو هلک نه یې دَ سلمان په باره کښې تپوس اوکړو۔ سلمان په دغه دواړو کلو کښې چانه پیژندو؟ هغه ورسره ګاډی کښې کیناستو او دَ حکیم خان حجرے ته ورغلل ـ سلمان دَ حکیم خان په حجره کښې عادل زیب سره لوبې کولې ـ صنوبر چې ګاډې اودرو او دَ ګاډی نه کوزیدو نو هغه اوپیژندو ـ هغه عادل زیب په ځاې پریښودو،


www.pukhto.net



هغۀ له یې ورمنډه کړه او ورترغاړه وتو۔ هغه دومره خوشحاله وو چې په ځان نه پو هیدو او دَ هغه نه چاپیره تاویدو۔ بیا یې هغه دَ میلمنو په خاص کمره کښې کینوو او دَ چائے ، شربت دَ پاره یې کورته منډه کړه ـ هغه زرغونے ته په خندا خندا دَ ترۀ دَ راتلو خبره اوکړه ـ هغه هم ډیره خوشحاله شوه او دَ هغۀ دَ میلمستیا دَ پاره یې خدمتګارو ته هدایات ورکړل ـ دَ چائے ، شربت نه پس صنوبر ترینه دَ مور په حقله تپوس اوکړو۔ دے سره دَ سلمان سترګے ډکے شوے ، مخ یې ترینه واړه وو خو خپلې اوښکې یې ټینګې نه کړې شوې او لړی لړی اوښکې یې په مخ راماتې شوې ـ صنوبر پو هـ شو چې هغه مړه شوې ده ـ هغه دَ سلمان سرخپلې سینې پورې اونیوو۔ دَ صنوبر سترګې هم ډکې شوې ـ چې د دواړو زړونو تش شو نو بیا دواړه هدیرې ته روان شو۔ زیړې مازیګر وو چې هغوی دَ کلی په لویه هدیره کښې داخل شو۔ دَ خاموشه ښار مکین خاموش پراتۀ وو او دَ نمر زیړو پلوشو ورته زیړې ګلدستې پیش کولې ـ په دغه موسیدلې پلوشو کښې ښکلا هم وه ، ځلا هم وه ، مسکا هم وه او رڼا هم وه ـ چې دَ میمونے قبر ته اورسیدل نو دواړه ورته کیناستل او زړونو یې ښه تش کړل ـ په ژړا کښې یې ورته دعا اوکړه او چی کله هغوی ته د دعا دَ قبولیت یقین اوشو نو دواړه پاڅیدل او په درنو خپو دَ هدیرې نه روان شو۔ دَ هغوی په لاره کښې دَ حکیم خان او مولانا صیب قبرونه هم راغلل ـ دَ نورو قبرونو په نسبت هغه تازه هم وو او په هغوی دَ ګلونو اوچې سهرې هم پرتې

وی ۔ هغوی د دواړو قبرونو په مینځ کښې اودریدل او دواړو ته یې دعا اوکړه ۔ دَ صنوبر په تپوس سلمان هغه ته دَ هغوی دَ شهادت ټوله واقعه بیان کړه ۔ دې نه پس سلمان هغه سراج باندې ته بوتلو او هغه کور او کوټه یې ورته اوښودله په کومه کښې چې هغوی ډیره وو او کومه کښې چې دَ هغهٔ مور سترګے پټې کړې وې چی دَ جمالے ببو په کور تیریدل نو سلمان هغې کره هم سر دننه کړو او دَ هغې سلام یې اوکړو ۔ هغې ورته دَ چایو اوبوست اوکړو خو هغهٔ ترینه دَ میلمه په بهانه ځان خلاص کړو ۔ دې نه پس دَ شاملات زمکے ته لاړل چرته چی جنګ شوې وو او حکیم خان او مولانا صیب پکښې شهیدان شوی وو۔ هغه غټه اونه چې دَ هغې لاندې به دَ اوړی په غرمه کښې دَ کلی مشران کشران کیناستل او کومه چې دَ علم ، پوهے ، مشاهدو او تجربو مرکز وو ، هغه لا هغسې مړاوې ځانګې پرته وه ۔ دَ بهوسو بهوساړې او دَ پوګ او پلالې ټوپونه سوزیدلی او ایره شوی وو۔ ټوله زمکه ډاګه ، ډوګلې ، بے خونده ، بے رونقه او سپیرهٔ پرته وه ۔ دَ ډاګ بل سرته هلکانو دَ کرکټ لوبه کوله ، هغوی هم تماشې ته اودریدل او ماښام تیاره کورته واپس شو۔

★★★★★

## دویمه برخه

دَ حکیم خان پنځه وانه ځامنو باندې دَ خپل پلار او دَ مولانا صیب دَ قتلونو دعویٰ هم وه او دَ بهوساړو او دَ پلالې او پوګ دَ ټوپونو



www.pukhto.net

**سلمان لیونے** (پښتو ناول) **پرویز شیخ**

دَ سول دعویٰ هم وه ۔ راج ولی ، ګل ولی او سید ولی درې وانه په زخمی حالت کښې ګرفتار شوی وو او دَ هسپتال نه چې فارغ شو نو جیل ته اولیږلې شو۔ خان ولی او شاه ولی مفروران شوی وو او علاقه غیر ته تلی وو۔ دلته ترینه خپلې بنګلې پاتې شوې او هلته دَ ګل جان ملک دَ شاړے ګانې په یوه سورې کوټه کښې دواړه رونه ډیره وو۔ سړو به دَ ملکانو خدمت کوو ، دَ هغوی ښځو به دَ ملک صیب دَ بی بی او اینګیاندو خدمت کووا دَ هغوی بال بچ به دَ هغوی ښاروی هم سرول او واخهٔ به یې هم ورله کول۔ دَ هغوی نه دَ کلی خلق هم خفه وو، دَ مولانا صیب ځامن ، خپل ترونه او اوریرونه هم ۔ دَ هغوی په وجه سلیم خان دَ صوبائی اسمبلی نشست دَ نامزدګۍ نه پاتې شو ځکه چی هغهٔ لس لاکهه روپۍ پیدا نه کړې شوې ۔ په دې وجه ترینه شلوېښت لاکهه روپۍ هم لاړې او دَ پینۍ نه هم اووتو ۔ هغوی دَ عالمګیر خان په سترګو هم ښهٔ نه لګیدل او دَ کلی نه دَ هغوی په اورکه خوشحاله وو۔ هغوی په غیره کښې پوزے له راغلی وو او نور رونه یې په جیل کښې دَ پړسو پاتې شوی وو۔ ټول په توبو وو خو ګناه یې نه معاف کیده ۔ دَ هغوی په لار کښې لوی خنډ زرغونه وه ۔ دَ خان ولی او شاه ولی له خوا په هغې دَ روغے جوړې دَ پاره ډیرې جرګے اوشوې په خپله رورولۍ کښې یې دَ هغې دَ ځوی حصه هم اومنله او هغې له یې هم په جائیداد دَ برخې ورکولو وعدې اوکړې خو هغه هیڅ ته تیاره نه وه ۔ دَ حکیم خان خپلوانو دَ مولانا صیب ځامن هم

روغې ته تیار کړل ، سلیم خان او ندیم خان هم راضي شو خو زرغونے دَ روغے نه بیخي انکار اوکړو چې اونشوه نو بیا پرې هغوی دوړے دپکې شروع کړې خو هغے خپل ځان او خپل ځوې په مرګ شمیرلي وو ، نه یې دَ ځان پروا کوله ، نه یې دَ ځوی خودَ خپل خاوند خونِ ناحق معاف کولو ته تیاره نه وه ۔ په هغې دَ راج ولي ، سیدولي او ګل ولي دَ ښځو له خوا هم دَ ښځو جرګے اوشوې خو هغې نه منله ۔ چې اونشوه نو یوه ورځ ورپسې دواړه رونړه په دې غرض راکوز شو چې هغه هم دَ خاوند په لاره اولیږي او ځان ترینه خلاص کړي ۔ دَ هغوی دا خیال چې هغه دَ مینځ نه اوځي او مدعي پاتې نشي نو بیا به هغوی ته میدان صفاشي ۔ زرغونے ته دَ هغوی دَ راکوزیدو او دَ هغوی دَ خطرناکو ارادو پته اولګیده ۔ هغې ته دا هم اوویلې شو چې هغوی به ورله ځوی تښتوی او قطرې قطرې به یې ورله رالیږي ۔ هغې بیا هم دَ هغوی دَ دپکو پروا اونکړه البته خپل ځوې یې سکول ته دَ تلو نه بند کړو او دَ کور او حجرے نه به یې بهروتو ته نه پرېښودو۔ سلمان ته یې هم هدایات ورکړل چې په هغه خاص نظر ساتي خو کله نه چې دَ هغهٔ ترهٔ راغلي وو نو هغه به زیات وخت هغه سره بهر ګرځیدو او عادل زیب به په کور کښې بند وو۔ دَ هغې یو وفادار نوکر نورعلي چې حکیم خان سره ورکوټې لوې شوې وو او هغه ورله وادهٔ هم کړې وو ، ساعت په ساعت به یې دَ مور په خوله ورله خبر لیږو چې زړهٔ خکته پورته نه کړي ، هیڅ نیشته او که هغه غواړي نو دَ دواړو سرونه به ورله راؤړي۔


www.pukhto.net



دَ نورعلي مورته هغې په جواب کښې اوویې چې " زهٔ چا سره دشمني نه کوم ، زهٔ به ورسره قانوني جنګ کوم او هغه ته اووایه چې دا زمونږ کورنۍ معامله ده په دې کښې دې ځان نه راالړي ۔ دا دَ کور خبره ده او په کور کښې به حل شي "۔ دَ نورعلي مور دَ هغې په خبره ډیره خوشحاله شوه ۔ هغې ته یې ډیرې دعاګانے اوکړې او په دعا دعا کښې دَ کوره اووته ۔

زرغونے ته سخته کړمه پیښه وه ۔ یو خوا دَ خان ولي او شاه ولي له خوا دَ هغې په کور دَ حملے امکان وو ، بل خوا سلمان هم ترهٔ سره خپل کلي ته روان وو۔ په ټول کلي کښې یو سلمان وو چې دَ هغې په زړهٔ او خوله وو۔ دَ نوکر نه یې نوکر وو او دَ رور نه یې رور وو ۔ دَ هغهٔ دَ تلو خیال سره به دَ هغې زړهٔ لکه دَ شګو دَ کمر دوړیدو خو هغه یې منعې کولې هم نشو ۔ اخر دا چې هغې ورله ښهٔ ډیرې پیسې ورکړې او ورته یې اوویې " چې دَ تلو نه مخکښې دواړه ښار ته لاړ شۍ ، سیل به هم اوکړۍ او ځان له ، هغه له ، نیا او دَترهٔ لورله جوړې جامې ، پیزار او تحفې واخله چې ځان سره څهٔ یو څه چې سترګې دے ورته اوچتې شي ، د تلو نه مخکښې دَ سراج بانډې او طوری بانډې دَ ملګرو او مشرانو ، کشرانو نه اجازت او اخنه بخنه واخله اوپه دعا لاړ شه "۔ هغه په دې خبره ډیر خوشحاله شو او داسې یې محسوس کړه لکه چې بیخي دَ هغهٔ دَ زړهٔ خبره یې اوکړه ۔ په صبا هغه ترهٔ سره ګاډي کښې کیناستو او ښار ته لاړل ۔ ښه ډیره سودا

يې اوکړه او ټولو له يې جامې، پيزار او تحفې واخستې ـ ماښام چې دَ ښار نـه راغـلـل نو هر څۀ يې کور ته راؤړل او زرغونے ته يې اوښودل ـ هغه ډيره خوشحاله شوه او دَ خپل طرف نه يې هم ورله جوړې، پيزار او تـحـفـی ورکـړې ـ پـه صبا بيا ګاډی کښې کيناستل او دَ جان محمد استاذ ليدو دَ پاره هائی سکول ته ورغلل ـ استاذانو چې دَ هغه جامه، پيـزار او ډول سـنـګـار اوکړۀ اوړۀ اوليدل نو دَ هغوی پرې ګمان نه راتلو چې هـغـه هـغـه ليونی سلمان دې چې هغوی وهلې وو خو چې کله ورتـه پته اولګيده نو ټول ورته پاڅيدل، ورترغاړه وتل او هغوی يې په کـرسيـو کينول هغوی ټولو ترينه معافی اوغوښته او دَ هغوی يې ښه ميـلـمستيـا اوکـړه ـ هـغـه دَ جان محمد استاذ تپوس اوکړو خو دَ بده مـرغـه هـغـه نه وو راغلې ـ بهرحال هغه ورته سلام پريښودو او دواړه دَ سـکـول نـه اووتـل ـ چې پـه ګـاډی کښې کيناستل او کلی ته تلل نو خپـلـه اراده يې بدله کړه او دَجان محمد استاذ کلی ته يې مخه اوکړه۔ چـی هـلـتـه اورسيدل نو هغه ته يې ور اوډبوو۔ هغه ناجوړه وو، راوتې نشـو خـو چـې دَ ښـځـی لـه خـوا ورتـه دَ سـلـمـان اوويلې شو نو پـه زمزمبولی را اووتو ـ هغه چی سلمان دَ سرېتوب په جامه پيزار کښې اوليـدو نـو پـه ځان پـو هـ نشو هغه ته ورترغاړه وتو او څو څو ځله يې ښکل کړو ـ بيا ئې ورته بيټک لرې کړو او دواړه يې کينول ـ نه سلمان هـغـه تـه دَ کور نه دَ تلو خبره اوکړه او نه جان محمد استاذ ترينه تپوس اوکـړو ځـکـه چـې نـورې خـوږې خبـرې ميـنـځ ته راغلې چې هغې ته



www.pukhto.net



پـکښـې مـوقـعـه ملاؤ نشوه ـ هغوی لا خبرې کولې چې دَ بيټک ور اوډبـولـې شو۔ دې سره هغه پاڅيدو کور ته لاړو او ښۀ مکلفه چائے يې راؤړه او پـه ميز يې کيښوده ـ هغه پيالو کښې چائے اچوله خو سلمان هـغـه پـرې نښودو او چاے يې په خپله پيالو کښې واچوله ـ چې چائے اوڅـکـلـې شـوه نو بيا ترينه سلمان اخنه بخنه هم واخسته او کلی ته دَ تـلـو اجازت هـم ـ جان مـحـمـد استاذ ورته اخنه بخنه اوکړه خو دَ تلو اجازت يـې ورنـکـړو او په دې خبره يې زور راؤړو چې هغه سره به شپه کـوی ـ چـې سـلـمان ورته خپله مجبوری اوويله او بيا دَ راتلو وعده يې ورسـره اوکـړه نـو بيـا يـې اجازت ورکـړو ـ چـې هغوی ګـاډی کښـې کيناستل نو جان محمد استاذ په خندا شو او ورته يې اووې " يه هلکه سلمانه، دَ امّی نه دې اجازت نه اخلې "؟

سـلـمـان :ـ ولـی نـه استـاذ جی، دے سره هغه مسکې شو، دَ ګاډی نه اووتـو او هـغـه سره کور ته ورغیۓ، هغې، هغه ښکل کړو او هغې هم ورتـه دَ شپے کولو دَ پاره اووې خو هغه معذرت اوکړو او په راوتو کښې يې ورته اووې، " خوربی بی، خورجی منهّی او وصيف ته مِ سلامونه وایۓ . . .لاړم درنـه سـلام عـليکم " دې سره هغه دَ هغوی دَ کوره اووتو او جان محمد استاذ او ښځې يې اووې " وعليکم السلام "۔ چې کلی تـه اورسيـدل نـو مـازيـګـر وو۔ صـنوبر ګاډې په حجره کښې اودروو او سـلـمان کور ته لاړو ـ کور کښې يې عادل زيب سره لوبې هم اوکړې او زرغـونـے تـه يـې دَ نـنـې ورځې دَ مصروفياتو ټولې خبرې هم اوکړې ـ

هغې پـه مسکا مسکا دَ هغۀ خبرې اوریدې چې ټولے خبرې یې ورته اوکړې نو بیا پاڅیدو او هغې ته یې اووې، " اوس ورځم چې دَ خپلو ملګرو نه اجازت واخلم "۔

زرغونه :۔ اوس دمه اوکړه، ستړې شوې یې ۔ هغوی سره به صبا له ملاؤ شې ۔

سلمان :۔ نه کنه خورجې، زما خو زړۀ نه کیږی خو ترۀ مِ خفه کیږی او هغه وائی چې صبا له به سحر وختی کلی ته روانیږو ۔ اوس به زما ملګری پـه ډاګ کښې لوبې کوی ۔ صبا هغوی سره ځکه نشو ملاویدې چې هغوی به سکول ته ځی "۔

زرغونه :۔ ځه ټیک ده ورشه، دَ ملګرو نه علاوه دَ ټولو مشرانو نه اخنه بخنه هم واخله او اجازت هم "۔

سلمان چې دَ کور نه اووتو نو ترۀ یې ځان سره کړو او دواړه سراج بانډې ته لاړل ۔ مخکښے جمالے ببو کره ورغی۔ چې دَ هغې نه یې رخصت اخستو نو هغې ورته اووې " ځویه ستا لوبنی پراتۀ دی، دا ځان سره یوسه "۔ سلمان مسکې شو او ورته یې اووې " دا لوبنی زمانه دی ببو، دا زما دَ مور دی، هغې ماته پریښودل او ما تاته ۔ تۀ هم زما مور یې کنه "۔ دے سره دَ هغۀ سترګې ډکے شوې او په یو شغ دَ هغې دَ کوره اووتو ۔ دې نه پس بیا پـه لارو کښې چې مشر کشر به په مخه ورغی۔ نو دَ هغه نه به یې اخنه بخنه او اجازت اخستو ۔ په دې دې کښې ډاګ تـه اورسیدو ۔ هلتـه یې دَ خپلو ملګرو نـه یې اجازت



www.pukhto.net



واخستو چې هغوی ټولو په ډکو سترګو هغه له رخصت ورکړو نو بیا ډاکټر صیب لـه ورغی۔ چې دَ هغۀ نه یې اجازت اخستو نو هغۀ نه پریښودو او ورتـه یې اووې " بیګاه له به ما سره شپه کوی " خو چې هغه ورته خپله مجبوری اوویله نو اجازت یې ورکړو ۔

نمر پـه غر غره وو چې دواړه هدیرے ته لاړل ۔ هلته دواړو دَ میمونے قبر تـه پـه سلګو سلګو اوژړل ۔ دَ سلمان بے څوکه ژړا سره د اسمان سترګے هم ډکې شوې۔ دَ یو ګوټ نـه دَ تورې وریځی یوه غونډۍ راښکاره شوه او په لږ ساعت کښې په اسمان خوره شوه ۔ یو خوا دَ مابنام تیاره شوه، بل خوا تورے وریځې اسمان ګیپ اونیوو۔ هغه تیارۀ، ګړز، ګړوز او بریښنا شوه چې هغوی اوریدل او دَ هدیرې نه په منډه اووتل ۔

★★★★★

**دریمه برخه**

غـوټه نیمه شپه وه ټول ذی روح په خپلو کورونو، غارونو سوړو او جالو کښې ننوتی وو او خپل بچی یې دَ سینو لاندې کړی وو۔ باران خوله ورکړې وه او چې څومره به وخت تیریدو نو دَ هغۀ دَ قهر په شدّت کښې به اضافه کیده ۔ یخه هوا چلیده او په اسمان کښې دَ بریښنا یو پړق پړوق او ګړز، ګړوز وو۔ کله کله به ورسره دَ تندر یره ونکې او زړۀ بوګنونکې اواز هم راتلو ۔ ټوله دنیا په دروند خوب اوده وه خو یوه زرغونه وه چې دَ کمرې په لرې ور خپل ځوی سره پـه کټ کښې پرته وه ۔ دَ هوا چیچې سره به هغې

خپل ځوی ته برستن راغوندوله ۔ دَ کمرې بجلی مړه وه او بهر دَ رڼا دَ پاره یو بلب بلیدو۔ په دیکښې دَ تندر یو خوفناک او اوږد اواز دَ اسمان دَ یو سر نه اوچت شو او په کړاړې بل سر ته اورسیدۀ ۔ هغې ته داسے معلومه شوه چې تندر چرته پریوتو۔ دَ تندر دَ اواز سره بجلی هم لاړه ۔ او په کور او کمره کښې دَ تور لحد تیاره خوره شوه ۔ هغې باندې دَ یرې او یخنۍ په وجه رپندې لګیدلې او ګړګوزے یې کولې ۔

دَ هغې سترګے په باران لګیدلې وې چې په کور کښې به ځۀ ګړب ګړوب اوشو نو هغه به دَ کټ نه پاڅیده ، په دُرشل به غلې اودریده او چې تسلی به یې اوشوه نو بیا به لاړه او په کټ کښې به ځوی سره سملاسته ۔ یرې دَ هغې نه خوب تختولې وو خو بیا به یې هم کله کله سترګې مرغۍ مرغۍ شوې او خوب به جوته ورکړه: یو ځل خو یې سترګې ورغلې ، برستن یې په پټو سترګو راخکله چې ناګهانه یې دَ چا دَ درز ښکالو ووریده ۔ هغه په یره یره پاڅیده او چې دَ ور په درشل یې دَ بهر اندازه واخسته نو یو سړې یې په نظر راغۍ۔ هغه تربوزک وهلې وو او پیژندې نۀ شو ۔ هغه دَ کور لوی ګیټ له ورغۍ او دَ ګیټ کړکۍ یې کهلاؤ کړه ۔ دې سره دوکسان په کړکۍ کور ته دننه شو۔ هغوی لا دَ ګیټ په شیډ کښې ولاړ وو او په پس پسو کښې یې خپلو کښې ځۀ وې چې زرغونه غلې غوندې دَ کمرې نه اووته ۔ دَ کمرې ور یې دَ بهر نه پورې کړو او بهر دَ برنډې برجۍ سره غلې کیناسته هغوی سوری ټوپکې دَ هغې دَ کمرې په طرف غلی غلی روان وو۔ زرغونے چې دَ



www.pukhto.net



هغوی اندازه واخسته نو دَ تربوزک والا سړې یې اونه پیژندو او نور دواړه یې اوپیژندل ۔ په دغه دوو کښې یو خان ولی وو او بل شاه ولی وو۔

زرغونے ورته ساه راخکلې وه خو چې دَ هغې په رینج کښې راغلل نو هغې پرې ګوته راخکله ۔ ترق شو چې دَ تربوزک والا سړې په سر اولګیدو او دَ مخې سره لکې خرانګې په زمکه راپریوتو۔ چې خان ولی په هغې ډز کوو نو هغه پرې مخکښې شوه ۔ او چې ګوته یې پرې راټینګه کړه نو دواړه یې اوویشتل ۔ دَ تربوزک والا سړې خو په رومبی ډز مړ شوې وو او هغوی دواړو لالتې وهلې ۔ چې کله هغې ته پته اولګیده چې ټول مړ شو نو پاڅیده ، دَ ګیټ کړکۍ یې بند کړه او چې هغوی له راتله نو په دیکښې بجلی هم راغله او باران هم اودریدو ۔ چې دَ تربوزک والا سړی له ورغله نو هغه دَ هغے خپل وفادار نوکر نورعلی وو۔ هغې هغه دَ خپې نه اونیوو او په راخکلو راخکلو یې دَ شاه ولی خوا له بوتلو او دَ هغۀ دَ پاڅه یې واچوو۔ بیا یې خان ولی دَ خپې نه اونیوو او هغه یې دَ دواړو دَ پاڅه واچوو او دَ هغوی کلاشن کوفونه یې دَ هغوی دَ پاڅه کیښودل ۔ بیا یې اسمان ته سترګې اونیوے او وئیل "یاالله ستا ډیر ډیر شکر دې چې ما دَ خپل خاوند بدل واخستو "۔ هغه خپلې کمرې ته ورغله ، بجلی یې اولګوله او دَ خاوند تصویر دَ شوکیس نه راواخستو ۔ هغه یې ښکل کړو او ورته یې اووې " خان جی ما ستا دَ خون ناحق بدل واخستو ۔ زما دَ زړۀ ارمان پوره شو اوس پروا نیشته که زۀ یم او که نه یم "۔ بیا یې په واش روم کښې جامې بدلې کړې ، خپله سرخنه یې اوکړه او باورچی خانے ته لاړه ۔ ښۀ زبردسته ناشته

یې تیاره کړه ۔ په خپله یې هم اوکړه او دَ بهره دَ پاره یې کینبوده ۔ داسے معلومیده چې سلمان کلی ته دَ تلو په خوشحالۍ کښې خوب نه وو کړے ۔ زرغونه لا خپلې کمرې ته راغلې نه وه چې هغهٔ دَ حجرے او کور تر مینځه ورو کې ور اوډبوو، زرغونے چې ورته ورلړې کړو نو وے وئیل " ولے تهٔ جوړ بیګاه اودهٔ شوې نه یې "؟

سلمان :۔ اودهٔ شوې ووم خو دلته چرته نزدې ډزې کیدې ، هغې سره راویښ شوم ۔

زرغونه :۔ ډزے خو دلته ټوله شپه کیږی ، یریږه مه ، ښه ناشته تیاره ده ۔ تهٔ دلته کښې کینه زهٔ یې درله راوړم "۔ دې سره هغه باورچی خانے ته لاړه شی ، تیاره ناشته راواخلی او هغه له یې ورکړی ، چې سلمان بهر اوځی نو هغه خپله غاړه غوټه تیاره کړی ۔ سلمان چې لوښی راؤړی نو هغه تیاره ناسته وی ۔ سلمان چې هغې ته اوګوری نو مسکې شی او وائی " ولې خورجی ، چرته ځی "۔

زرغونه ( مسکې شی ) سلمانه چې تهٔ نهٔ پاتې کیږی او خامخا ځی نو بیا زهٔ او عادل هم دلته نشو پاتې کیدې ۔ څه دا ټول سامان واخله ګاډی کښې یې کیږده او زر راځه ۔ سلمان په ګاډی کښې سامان کینبودو او صنوبر ګاډې ستارټ کړو۔ سلمان چې کورته واپس راغی نو عادل یې اوچت کړو او زرغونے خاص غوټه په ترخ کښې اونیوه او پړونې په سر دَ کوره اووته چې هغه ګاډی کښې کیناسته نو سلمان ګیټ لرې کړو ۔ چې ګیټ لرې شو او ګاډی اووتو نو سلمان ګیټ بند کړو او دَ زرغونے په وینا یې ورته جرنده



www.pukhto.net



واچوله ۔ چې ګاډې دَ کلی نه وتو نو مُلیانو دَ سحر بانګونه شروع کړل۔

## شوارلسم باب

صنوبر خپلې مور ته دَ سلمان سره دَ ملاویدو او دَ میمونے دَ مرګ خبره په موبائیل کړې وه او دَ هغې په مرګ هغې په ژړا ژړا خپل زړهٔ تش کړې وو۔ په راتلو کښې ورته هغهٔ دَ سلمان نه علاوه دَ بی بی او عادل زیب دَ ورتلو پیغام هم ورکړې وو او هغه په کور کښې دَ هغوی په انتظار وه ۔ ماسپخین قضا وو چې صنوبر دَ خپل کور مخې ته ګاډې اودروو او هارن یې اووهو ۔ دَ هغهٔ مور چې دَ هارن اواز ووریدو نو سره دَ نوسې په یوه منډه دَ کوره را اووته او هغوی له راغله ۔ دَ زرغونے په راتلو باندې هغه ډیره خوشحاله شوه ۔ هغه لا ګاډی کښې وه چې هغې په زار وقربان را اوویستله ، ورترغاړه وته او څوځو ځله یې هغه او عادل زیب ښکل کړل ۔ بیا یې سلمان سینې پورې اونیوو او دَ هغهٔ برخه اوښکې یې دَ هغهٔ په مخ اوبهولې ۔ چې کورته دننه شول نو سلمان هغه ټول سامان راواخستو کوم چې هغهٔ دَ زرغونے په پیسو باندې اخستې وو۔ هغهٔ به یو یو ټوکې ، یوه یوه جوړه پیزار او بیلې بیلې تحفې راخستې او دَ متعلقه کس مخې ته به یې اینبودې چې دا تقسیم یې اوکړو نو بیا یې اووې ، " دا ټول سامان ما دَ خورجی په پیسو اخستې وو"۔ بیا یې هغه سامان راواخستو کوم چې ورله زرغونے دَ خپل طرفه ورکړې وو۔ دا ټول ټوکی غیر ملکی وو۔ هغه دومره خائسته وو چې دَ هغې په تقسیم

هغـه نـه پو هیدو نو هغه یې زرغونے ته حواله کړل او ورته یې اووې " خورجې دَ دې پـه تقسیم زهٔ نه پو هیږم دا په خپله تقسیم کړه "۔ هغه مسکـی شـوه هغـه ټول سامان یې دَ هغهٔ دَ نیا مخې ته کیښودو او ورتـه اووې " مـورجـی دا سـتـاسـو سـامـان دې او پـه خپله خوښخه یې تـقسیم کـړه "۔ کشـورې ابی۔ بـه یـو ټوکې راخستو ، هغې ته به یې کتل او ځان سره به یې وې " ډیر خائسته دې ، ډیر اعلیٰ دې "۔ سلمان هغـوی دلتـه پـریښـودل ، نسـریـن یې دَ لاس نه اونیوله او بهر اووتو ۔ زرغونه شوګیره هم وه او سترې شوې هم وه ۔ هغې په کټ کښې ډډه واچـولـه او سـمـلاسته هغې لا سترګې نه وې پټې کړې چې دیکښې صـنـوبـر دَ بهـر نه کورته راغی۔ هغې چې هغه اولیدو نو کټ کښې کیـناسته او دَ هغهٔ نه یې پړده اوکړه ۔ کشوره ابی۔ پو هـ شوه چې هغه سـتـړې شـوې هم ده او دَ صنوبر نه پړده هم کوی ۔ هغې لا څهٔ خبرې ته خوله جوړوله چې سلمان دَ بهر نه راغی۔ ، زرغونه یې دَ لاس نه اونیوه او ورته یې اووې " راځه خورجی چې زهٔ درته خپل کور اوښایم "۔ هغهٔ دَ هغـې غـاړه غـوټـه ځان سره واخسته او هغې سره خپل کور ته روان شـو۔ هغـوی پسې نسرین او کشوره ابی۔ هم روانې شوې ۔ زرغونه دَ سلـمـان په کور کښې ګرځیده ، خوشحالیده او هغهٔ له به یې مبارکی۔ پسـی مبارکی ورکـولـه ۔ کـور وړوکـې وو خـو دَ ژوند ټول سهولتونه پـکښـی موجود وو۔ کشورې ابی۔ هغه یوې کمرې ته بوتله او ورته یې اووې " لورې تهٔ سترې شوې یې ، دې کمره کښې لږ ارام اوکړه ۔ هغې



www.pukhto.net



پـکښـې هـډو ست اونه غوښتو او په کټ کښې سملاسته ۔ سلمان دَ هغـې غـاړه غـوټـه هغـې سره کیښوده ، وریې ورپسې پورې کړو او عـادل سره بهـر اووتـو ۔ هغـوی دَ کـلـی او محلت په ټولو لارو کوڅو کښـې اوګـرځیـدل خلقو چې هغه اولیدو نو ټول ترینه چاپیره شول ۔ هغـه سره پـه خـنـدا خندا ملاویدل او مختلف تپوسونه به یې ترینه کول ۔ هغه ته خپلو ملګرو دا هم اووې چې دَ هغوی سکول لا جوړ نه دې خـو دَ حـکـومت له خوا په خیمو کښې دَ سکول سرګرمی۔ چلیږی ۔ هغـه چې دا واوریـدل نـو ډیر خوشحاله شو۔ په صبا هغه سکول ته ورغـی ۔ دَ کـلـی ځینو استاذانو هغه پیژندو ۔ ټولو هغه سره په مینه راشـه درشـه اوکـړل او هـغـه تـه یې سکول ته د راتلو بلنه ورکړه ۔ هغه دومـره خـوشـحـالـه شـو چې هم په هغه وخت په اووم جماعت کښې کیـنـاستو او داخل شو ۔ هغه له کتابونه ، کاپی۔ بیګ او نور لوازمات ورکـړی شو ۔ هغه دومره خوشحاله شو لکه چې دَ قارون ټولې خزانې یې مـونـدلـی وی ۔ هـغـه ته دا هم اوویلی شو چې دَ حکومت له خوا یتـیـمـانانو او غریبانانو ته وظیفه هم ملاویږی او دَ سکول یونفیارم هم ۔ سـلـمـان هغه ورځ په سکول کښې تیره کړه ۔ په صبا یې عادل زیب هم سـکـول ته بوتلو او په پرائمری سکشن کښې یې په نرسری کښې کینوو۔ زرغونه هلته ښه په پخه ډیره شوه ۔ ځان له یې دَ خوراک ، څخاک خپل سامان راؤړو او لکه دَ خپل کور به یې خپل اخلې پخلې کوو۔

★★★★★

★★★

## دویمه برخه

دَ خان ولی ، شاه ولی او نور علی دَ قتل دعویٰ په زرغونے شوې وه او دا خبره بے شکه بے شبهې بلکه یقینی وه ځکه چې مړی دَ هغې په کور کښې شوی وو او دَ هغې دَ کور نه برامد شوی وو۔ په جنازه کښې نور سید کاکا ، دریخان بابا ته په ګنګوسی کښې اووی " په هغې ځکه دعویٰ اوشوه چې مړی دَ هغې کور کښې شوی وو ګینې دا کار دَ هغې د کولو نه دې ۔ څۀ به ښځه وی او څۀ به دَ هغې توره وی ۔ منم چې دَ هغې صلاح به پکښې وی خو دا کار هغې نه دې کړې "۔

دَ نور سید کاکا دَ غوږ خبره ، دَ یو غوږ نه بل غوږ ته او دَ بل نه بل غوږ ته اورسیده او اخر دا چې دَ راج ولی ځامنو ته اورسیده ۔ هغوی هم دا خبره اومنله چې دا کار بل چا کړې دې خو دا " بل " څوک کیدیشی ۔ په دې باره کښې به دَ هغوی په زړونو کښې مختلف خبرې راتلې او په مختلفو خلقو به یې شکونه کول ۔ دغه شکونه زیاتیدل او خوریدل آن چې دَ هغوی په نظر کښې دَ طوری باندې هر سړې مشکوک شو ۔ دَ راج ولی مشر ځوی شیرولی به چې چاته ګوته اونیوه نو هغه به دَ شپې پټ په پټه حجرے ته ورغی ، خپل سپیناوې به یې اوکړو او بل به یې خوله کښې ورکړو ۔ په دې دې کښې دَ طوری باندې هر سړې مشکوک هم شو او صفا هم شو ۔ په اخره کښې دَ نور سید





کاکا وار راغی ۔ چې هغه خپل ځان صفا کړو نو شیرولی ورته اووې " نه کاکا زمونږ په تا یا ستاپه ځامنو څه شک نیشته خو هسې تا نه مو مشوره اخسته چې دا څوک کیدیشی "۔

نور سید کاکا :۔ ګوره خانه ، دا هر څوک چې دی خو پردی نه دی ۔ هر څۀ چې دی نو هم ستاسو په کورنۍ کښې دی ۔ دلته بل څوک نشی راتلې ، دا خبره دې په دې ځاې وی او زما نوم به چاته نه اخلې خو چا راته وې چې هغه بله ورځ هم ستاسو دَ کورنۍ یو کس دَ بهادری په دوکان ښه په ډاګه اووې چې " زرغونے ډیر ښۀ اوکړل چې دَ خاوند بدل یې واخستو دوی کوم ښۀ کار کړې وو "۔

شیرولی :۔ دا چاوې ؟

نور سید کاکا :۔ نوم یې درته نه اخلم ، ما ملامته کښې ولې راولې؟ چې څۀ شوی دی هغه شوی دی نور ترینه ځان ساتی "۔ دے سره هغه پاڅیدو او روان شو ۔ دَ هغۀ دَ تلو نه پس شیرولی دَ خپلې کورنۍ ټول سړی په خیال کښې راوستل ۔ ځان ته یې مخکښې اودرول ، یو یو سړی ته به یې کتل او په خپل خیال کښې به یې دَ هغۀ متعلق خپله رائے قائموله "سلیم کاکاجی ؟ نه نه دې نشې کیدې ...ندیم کاکاجی؟ نه نه دې هم نشی کیدې ... دَ ندیم کاکاجی ځامن ؟ ...نه ، نه ... هغوی څۀ ګډې دی . دَ سلیم کاکا جی ځامن ؟ حلیم ؟ ...نعیم؟ نه په حلیم مِ شک نه راځی خو داسې معلومیږی چې دا کار نعیم کړې دې ۔ هاؤ ...هاؤ ...پوهـ شوم .. پوهـ شوم ، دا کار هم دۀ کړې دې ...



www.pukhto.net

دۀ کښې نشه شته خو دا نشه به یې دَ مرګه کړم ۔ دَ طورې خبره رشتیا ده ۔ زما په پلار ړومبې هم دۀ کړې دې ۔ هغه خو خدای بچ کړو نو دې به رانه بچ نه پاتې کیږي "۔

شیروالی ځان سره دَ سید ولی او ګل ولی ځامن هم غاړه کړل او هغوی له یې هم غوږونه ډک کړل ۔ هلته نور سید کاکا دَ سلیم خان ځوی نعیم په غوږ اووهو چې " شیرولی څۀ ګډې وډې خبرې کوی ۔ ځان ترینه ساته او مخې له ډیر مۀ ورځه "۔ دَ نعیم دَ پاره دومره خبره کافی وه ۔ په خپلو تربورانو کښې دَ هغۀ دَ چا نه هم سترګه نه سوزیده ځکه چې هغه چانه اوریدلی وو چې تربور دَ تربور نه کم وی نو غوږ یې دَ پریکولو دې ۔ بیا به هغه هم مسلح ګرځیدو او ځان سره به یې دوه ، څلور سړی هم ګرځول ۔

دَ سراج باندې او طوری باندې دَ مشرانو دَ ناستې پاستې ځای روک شوې وو۔ هغوی به اکثر خپلو پټو کښې او جنګیو کښې وو او چې دَ پټو نه به راغلل نو شیبه ، نیمه به په لارو ، کوځو او خټ موړو اودریدل او بیا به خپلو خپلو کورونو ته دننه شو ۔ دَ هر چا خولې سورې وې او دَ حکیم خان ځامنو ته به یې خبرې کولې اودا هم د دغه خیرو اثر وو چې خان ولی او شیرولی سره دَ یو سړی نورعلی دَ یوې ښځې دَ لاسه مړۀ شول او هغه ترینه صحی سلامته اووته او لاړه ۔ دا هم د دغه خیرو وجه وه چې راج ولی ، سید ولی او ګل ولی لا تراوسه په جیل کښې پراتۀ دی او دَ ځان نه مچان شړی ۔



www.pukhto.net



★★★★★

## دریمه برخه

سلمان چې څۀ غوښتل هغه خدای ورکړل ۔ دَ هغۀ یو ارمان په سکول کښې داخله وه ۔ دویم ارمان یې دَ شپې تیرولو ځای ، ځائیګې وو۔ هغه په سکول کښې داخل شو ، دَ خپل کور خاوند شو او دَ یوې خور رور شو ۔ هغه دَ هغۀ دَ خور نه خور وه ، دَ مور نه مور وه او دَ بی بی نه بی بی وه ۔ کوم خیال چې هغې دَ سلمان ساتو او کومه مینه چې ورسره هغې کوله دغسې ورسره شاید خپلې مور هم نه وه کړې ۔ دې نه علاوه دَ لوبو دَ پاره ورته عادل هم ملاؤ شو او نسرین۔

څۀ موده پس نسرین هم دَ سکول شوه ۔ بیا به درې واړه سکول ته یو ځای تلل او یو ځای به راتلل ۔ سحر به چې هغوی سکول ته روان شو نو زرغونه به ورته په مسکا مسکا ورکښې ولاړه ، دې به هم ورته دَ سلام لاس خوځوو او هغوی به هم په مخه تلل ، روستو به یې کتل او دَ سلام لاسونه به یې ورته خوځول ۔

سکول کښې دَ سلمان قابلیت ته استاذان ګوته په خوله وو۔ په لړو ورځو کښې هغه دَ نورو هلکانو نه ډیر مخکښې روان وو۔ هم دغه وجه وه چې کله دَ هغوی پوخ امتحان اوشو نو هغه په ټول کلاس کښې اول پوزیشن واخستو ۔ په دغه ورځ هغه دومره خوشحاله وو چې دَ ډیرې خوشحالۍ نه یې خپه په زمکه نه لګیده ۔ هغه په منډه کور ته روان شو او دا یې په زړۀ کښې وو چې ړومبی۔

مبارکی به خپلې خورجی له ورکوی ۔ دویمه به نیا له ورکوی او دریمه به صنوبر کاکا له ورکوی ۔ هم په دې اراده چی هغه کورته اورسیدو نو دَ کور په ور کښې یې په چغه اووې " او مبارک شه خورجی زۀ پاس شوم "۔ هغه لا دَ هغې کمرې ته ورتلو چی نیا ورپسې د زرغونے دَ کمری نه را اووته او ورته یې اووې " ۔ چغې مه وه ، څه بهر اوځه "، سلمان هغې ته په مسکا اوکتل او وې وئیل " نیا زه پاس شوم "۔

کشور ابی :۔ ښۀ اوشو ۔ څه بهر اوځه ۔

سلمان :۔ خورجی څۀ شوه زۀ هغې له اومبارکی ورکوم ۔ ( هغه دَ هغی کمرې ته دَ ورتلو کوشش کوی ) ۔

کشوره ابی :۔ کمرې ته مۀ ورځه هغه ناجوړه ده ۔

سلمان :۔ ناجوړه ده ؟ ( خفه شی ) . . . نیا ډاکټر راولم ؟

کشوره ابی :۔ څه تۀ بهر کینه ، که ضرورت شونو درته به اوویم۔

دے سره سلمان بهر اووتو او دَ ورمخکښې خفه کیناستو ۔ دَ هغه ټوله خوشحالی ګډوډه شوه ۔ هغه په زړه کښې دَ نیا نه هم خفه وو چې هغې دَ هغۀ په مبارکۍ دَخوشحالۍ اظهار اونکړو خو بیا یې زړۀ له په دې تسلی ورکړه چې شاید دَ خورجی دَ بیمارۍ په وجه هغه خفه وه او دَ هغۀ خوشحالی په هغې اونه لګیده ۔ هغه ډیره شیبه خفه ناست وو چې نیا ورپسې راغله او ورته یې اووې " سلمانه کورته راشه "۔

سلمان :۔ خورجی څنګه ده ؟ نیا هغه دَ لاس نه اونیوو، دَ زرغونے خوا له یې بوتلو او ورته یې اووې " سلمانه خورځه دې مبارک شه "۔



www.pukhto.net



سلمان :۔ خورځۀ ؟

کشوره ابی دَ ماشومې دَ مخ نه کپړا لرې کړی ، مسکی شی اوهغه ته وائی ، دا ستا خورځۀ ده "۔

سلمان ( خوشحاله شی ) اوه . . . دا خو سمه ګوډۍ ده ۔ " سلمان هغه ښکلوی ۔ زرغونه مسکی شی او مخ بل طرف ته اړوی" ۔ سلمان هغې ته وائی " خورجی او مبارک شه زۀ پاس شوم "۔

زرغونه ( مسکی شی ) ستا دې مبارک شی روکې ۔ خدای دې هر ځای او په هر چا پاس لره ۔

سلمان :۔ تا له څۀ راوړم خورجی ؟

زرغونه ما له هیڅ مۀ راوړه ۔ ما دَ پاره دا ډیره ده چې تۀ پاس شوې ۔

سلمان :۔ کاکی له څۀ راوړم ؟

کشوره ابی او زرغونه دواړه خاندی ۔ کشوره ابی په خندا کښې وائی "دا لا په هیڅ کښې نه ده ۔ زۀ تۀ بهر اوځه "۔ هغه دَ بهر تلو په ځای خپلې کمری ته ورشی ، خپل کتابونه کهلاوه وی چې کاکی له پکښې ښۀ غونډې نوم اوګوری ۔ لږه شیبه پس هغه دَ زرغونے کمرې ته بیا ورغی او ورته یې اووې " خورجی ماکاکی دَ پاره نوم اوموندو"

زرغونه :۔ څۀ نوم ؟

سلمان :۔ سیرت ۔

کشوره ابی او زرغونه دواړه خاندی او دواړه په یو وخت وائی " ډیر ښه نوم دې "۔ دَ سلمان په خوښخه دَ هغې نوم سیرت کیښودې

شو۔ چې څومره به وخت تیریدو هومره به دَ خورجی او سلمان مینه یو بل سره زیاتیده ۔ کومې پیسې چې صنوبر ته دَ سلمان دَ پاره ورکړې شوې وې ۔ هغه ټولې هغه زرغونے له ورکړې ، بله ورځ هغوی دواړه بینک ته لاړل ۔ زرغونے خپلې او دَ هغۀ پیسی په بینک کښې کینښودې او دَ ضرورت مطابق به یې ترینه دَ خرچے دَ پاره لږې لږې راویستلې ۔

سلمان اتهم جماعت کښې داخل شوی وو او ډیر ښه روان وو۔ دَ هغه دغه تعلیمی سرګرمۍ لا شروع وې چې دَ جرمنی یو وفد دَ زلزلې دَ متاثره سیمې په دوره راغی ۔ دَ هغوی اغراض ومقاصد دَ یتیم ، غریب او قابل طلباء مالی امداد وو۔ دې دَپاره به هغوی دَ هلکانو نه ټسټ او انټرویو اخسته او هغه چا له به یې مالی امداد ورکوو کوم به چی دَ هغوی په معیار پوره وو۔ دَ ټسټ او انټرویو نه پس نورو هلکانو له نغدې روپۍ ورکړې شوې او هغه له هیڅ ورنکړې شو۔ دَ هغۀ کوائف اولیکلی شو او دَ هغه انتخاب دَ تعلیم دَ پاره جرمنی ته اوشو۔ دَ کوائف لیکلو نه پس هغوی هغه سره لاس ملاؤ کړو او ورته یې اووې چې جرمنی ته دَ تلو دَ پاره خپله تیاری کوه ۔

چا رشتیا ویلی دی چې لعل په ایرو کښې نه پټیږی او نور په پړدو کښې نه پټیږی ۔ علم او قابلیت نور دی ۔ دا خپل ځان ضرور ښائی او چې وخت راغی نو دَ سلمان قابلیت هم ځان اوښودلو ۔ دغه وفد دَ کشمیر نه تر بالا کوټ پورې ټوله سیمه اولټوله خو د کومې ملغلرې لټون چې هغوی کوو هغه په یوه لرې پرته بانډه سوګړی


www.pukhto.net



کښې اوموندلې شوه ۔ هغه سلمان چې داخلې پسې سر وهلې ، بروهلې ګرځیدو خو داخله ورته نه ملاویده ، چې دَ سکول نه بهر ، کړکۍ سره اودریدو نو سکول ته بوتلې شو او په وهلو پرې چوکې ماتې کړې شوې ، هغه سلمان چې دَ لارو کوڅو او ډهیرانونه به یې کاغذونه راغونډول او دَ هغې په کتو به یې علمی تنده ماتوله ۔ هغه سلمان چې دَ دنیا په نظر کښې لیونې وو، چې وخت راغی او دَ هغۀ اندرونی صلاحیتونه اوکتلی شو نو هغه لیونی نه بلکه دَ علم تږې وو او دَ خپل عمر نه ډیر مخکښی روان وو۔

ټولو استاذانو هغه له مبارکی ورکړه او ورته یې اووې " اوس خو لاړې بچیه لوې سړې شوې "۔ سلمان واقعی ډیر خوشحاله وو۔ کله چې چُهټی شوه او هغه کور ته لاړو نو رومبې زیرې یې زرغونے له ورکړو او بیا یې نیا له ۔

کشوره ابۍ ډیره خوشحاله شوه ۔ هغه یې ښکل کړو او ورته یې اووې " ځه بچیه مبارک دې شه "۔ زرغونے هم هغه له مبارکی ورکړه خو هغه دَ هغۀ په تلو خوشحاله نه وه ځکه چې هغه دَ هغۀ نه بغیر نیمګړې وه ۔ دَ تلو نه مخکښې هغې هغه ځان سره بالاکوټ ته بوتلو او دَ جامو ، پیزار نه علاوه دَ ضرورت ټول څیزونه یې ورله واخستل ۔ چې کله دَ هغه پاسپورټ تیار شو ، ویزه پرې اولګیده او ټکټ کټ شو نو هغه اسلام اباد ته اوغوښتی شو۔ هغۀ چې زرغونے ته دَ اسلام اباد دَ تلو خبره اوکړه نو دَ هغې په سترګو کښې غټې

اوښکې راغلې او په مخ یې راماتې شوی ـ سلمان چې هغې ته اوکتل نو په یره یره یې ترینه تپوس اوکړو " خورجی تهٔ ژاړې ؟ که زما په تلو خوشحاله نه یې نو بیا به چرې هم لاړ نشم "ـ

زرغونے خپلې اوښکې اوچې کړې ، دَ ناخوالۍ مسکا یې په مخ خوره شوه او هغه ته یې اووې ، " نه سلمانه ستا په تلو خفه نه یم خو ستا په جُدائۍ خفه یم ، مونږ تا سره دومره بلد شوی یو چې ستا دَ جُدائۍ تصور هم نشو کولې "ـ

سلمان :ـ خورجی چی رشتیا خبره درته اوکړم نو تاسو نه بغیر زهٔ هلته په تلو خوشحاله نه یم خو نیا او ترهٔ مِ راته وائی چې لاړ شه او استاذان هم راته وایی چې لاړ شه خو که تهٔ زما په تلو خفه یې نو بیا نه ځم ـ

زرغونه :ـ نه سلمانه ، پاتې کیږه مه ـ ستا تلل ډیر ضروری دی ـ دا ستا دَ ژوند خبره ده ـ تهٔ به ځې او خامخا به ځې ـ زهٔ غواړم چې تهٔ لاړ شې او خپل ژوند جوړ کړې ـ

سلمان :ـ خورجی ، چې تهٔ خفه یې نو زهٔ به څنګه لاړ شم ، او که لاړ شم نو هلته به مِ زړه نه لګی ـ

زرغونه :ـ زهٔ خفه نه یم ، زهٔ ډیره خوشحاله یم ـ

سلمان :ـ ( مسکې شی ) چې خوشحاله یې نو اوخانده چې زما دربانديې یقین اوشی "ـ دے سره زرغونه اوخاندی خو سترګې یې بیا ډکې شی . " ستا سترګو کښې بیا اوښکې راغلې "ـ

زرغونه :ـ (خپلې اوښکی اوچوی )ـ" دا دَ خوشحالۍ اوښکې دی



www.pukhto.net



سلمانه "ـ دے سره دواړه په خندا شی ـ

## پنځلسم باب

دَشیرولی او نعیم تر مینځه دَ کړو سترګو کاتهٔ په ګواخ کښې بدل شو او چی کله خبره " ګورو به " ته اورسیده نو دَ دواړو زړونه پړسیدلی وو او نو صبر ترې نه کیدو ـ بله ورځ شیرولی ځان سره مزدوران او ټوپک مار واخستل او دَ هغهٔ اونې ، خاښونه یې پریکول کومه چې په میدان کښې وهلی شوې پرته وه ـ سلیم خان او ندیم خان چې خبر شو نو دَ هغوی دَ پو هولو دَ پاره هغوی پسې دواړه ورغلل چې هغوی ته دا اووائی چی دغه اونه یواځې دَ هغوی نه ده بلکه دَ هغوی دَ کورنۍ سره سره پکښې نیمه برخه دَ عالمګیر خان دَ کورنۍ هم ده ـ هغوی هم دغسې اوکړل او دَ هغوی دَ پو هولو کوشش یې کوو خو دَ هغوی خیالات ډیر اوچت وو او یوې خبرې منلو ته هم تیار نه وو ـ چې په خوږه اونشوه نو سوک سپیړه پکښې راغله ـ په سوک سپیړه کښې په سلیم خان او ندیم خان ګزارونه اوشو ـ نعیم چې خبر شو نو هغه سره دَ سړو ورغی ـ شیرولی چې هغه اولیدو نو هډو اوچ یې پرې اونه خوړل او ډزې یې پرې شروع کړې ـ چې دواړه طرفین ډزې شوې نو سلیم خان ، ندیم خان او حلیم خان په رومبو ډزو کښې اولګیدل ـ دَ شیرولی په ډله کښې دَ هغهٔ رور زرولی او دَ سیدولی ځوې عاصم اولګیدل ـ ډزې لا شروع وې چې پنځه وانړه زخمیان مړهٔ شول ـ دَ مړو دَ ښخیدو نه پس دواړه ډلې علاقه غیر ته

لاړې ـ دَ شیرولی ډلـه میـچـنـې ته لاړه او دَ نعیم ډله باړې ته لاړه ـ دَ شاملات او نـه لا پـه هغـه ځاې پرته وه چې لس مړی پرې برابر شو او درې کسـه لا په جیل کښې پراتۀ دی ـ عالمګیر خان ښه په ډاګه ناست وو او دَ خپلـو تـربـورانـو دَ تباهـۍ نـنداره یې کوله ، هلته سلمان دَ یو نیشـنـل هیـرو پـه حیث جرمـنـی ته رسیدلې وو ـ هغه په انټرنیشنل سکـول ایـنډ کـالـج کښـې داخـل شو او دَ متعلقه کالج سره جخت په هاسټـل نمبر 1 کښـې ورتـه کـمـره ورکـړې شـوه ـ په جرمنی کښې دَ سکولونو او کالجونو ذریعه تعلیم په جرمنۍ ژبه کښې دې ـ دَ هغۀ دَ تـعـلـیـمـی سرګرمیو شروع کیدو نه مخکښې هغۀ ته دَ جرمنۍ ژبې زده کـړه ورکـړې شـوه ـ دَ ژبـې دَ زده کـړې دا کورس څلور میاشتې وو خو پـه دریـو میـاشـتـو هغـه زده کـړه ـ او پـه څلورمه میاشت خو یې داسې روانـه جـرمـنـی ویله چې چا دافرق نشو کولې چې هغه جرمن دې او کـه غیـر مـلـکـی ـ دې نه پس دَ جدید ترین آلات په ذریعه دَ هغه ذهـنـی آزمـائـشـونـه اوشو او دَ هغۀ ذهنی میلات او رجحانات معلوم کـړې شـو ـ دَ ذهـنـی آزمائشونو نه پس معلومه شوه چې هغۀ کښې تـخـلـیـقـی مـاده ډیره زیـاتـه ده ـ هغـه یو کـامیـاب ډاکټر ، انجنیر ، سـائـنـسـدان او وکـیـل هـم جـوړیـدې شی او یـو لـوې فـلاسـفـر هـم جـوړیـدیشـی ـ دې دَ پـاره هـغـۀ لـه دَ خپـل کورس دَ کتابونو سره دَ آپشـنـل سبـجیکټ په طور (Metaphysics and logics) کتـابـونـه هم ورکړې شو او دَ هغه باقاعده کلاسونه شروع شو ـ


www.pukhto.net



★★★★★

## دویمه برخه

دَ سلمان دَ تلو نه پس زرغونه ډیره یوائځې پاتې شوه ـ اګر چه هغې سره خپـل ځـوی عـادل زیـب هم وو ، خپلـه لور سیرت هم وه ، نسـریـن بـه هـم هـغـوی کـره لوبولـه راتله ، کشوره ابۍ به هم وخت په وخت دَ هغې تپوس کوو او صنوبر به هم دَ مور په خوله دَ هغې ابښتنه پـوښـتـنـه کـولـه ، دَ ضـرورت سودا به یې ورله راوړه او لکه د یو وفادار نـوکـر بـه هـر وخت تابعدار وو خو دَ هغې خپل زړۀ خفه وو ـ هغې ته داسې مـحـسـوسیـده لـکـه چې دَ هغې نه چا دَ هغې دَ بدن یوه برخه شـوکـولـې وی ـ دَ هـغـې زړۀ داسې خویدو لکه څوک چې دَ لوړې نه جـورې تـه پـه مـنـډه روان وی او پـه هـر قدم یې زړۀ خوږېږی ـ هغې ته داسې مـعـلـومـیـده لـکـه چې څۀ کیدونکی وی ، څه راتلونکی وی ، لـکه چې څوک دَ هغې نه خپل اولاد شوکوی ، هغه ورته په غټو غټو ګـوری خو هیـڅ زور یـې پـری نـه رسـی ـ هم دغسې اوشوه ـ دَ هغې تـولـی تلوسـې او وسوسې هغه وخت رښتیا ثابت شوې کله چې سحر وختـی هغې ته دَ کوځی وراوډبیدو او چی هغه ورله ورغله او په چودو کښـې یـې ورتـه او کـتـل نـو کشوره ابۍ ورسره ولاړه وه ، هغې سره صـنـوبـر هـم ولاړ وو او درې کسـه پولیس هم ولاړ وو ـ هغې په یره یره ورلـرې کړو او لا په ورکښې ولاړه وه چې یو سپاهی رامخکښې شو ، دَ هـغـې شاتـه اودریدو او بل دَ هغې مخې ته اودریدو ـ هغې چې خپل

ځان دَ پولیس په ګیره کښې اولیدو نو رنګ یې تک زیړ شواو دَ یرې نه
پرې رچ راغې۔ هغې لا څۀ ویلو ته خوله جوړوله چې دَ پولیس اے
ایس آئی نثارخان دَ هغې نه تپوس اوکړو " ستا نوم زرغونه دې "؟

زرغونه :۔ هاؤ جی ۔

نثار خان :۔ ته دَ حکیم خان کنډه یې ؟

زرغونه :۔ هاؤ جی ۔

نثارخان :۔ تا باندې دَ دریو مړو دَ قتل دعوىٰ ده ۔ څه مخکښې شه
چې ځو ، صنوبر او دَ هغۀ مور یو بل ته په حیرانتیا ګوری ۔

زرغونه :۔ صیب ما سره دَ پنځو میاشتو لور او ورکوټې ځوې دې ۔
دوی ځان سره بوتلې شم ؟

نثارخان :۔ نه بی بی هغوی نشی تلې ۔

زرغونه :۔ دومره مهلت راکولې شې چې اودۀ لور دَ خوبه پاسوم ،
هغه صفا کړم او په پیو یې مړه کړم ۔

نثار خان :۔ نه بی بی نه ، مخکښې شه چې ځو ۔

زرغونه :۔ پړونې راخستې شم ؟

نثار خان :۔ پړونې به درله دا ابۍ راؤړی ( کشورې ابۍ ته ) ورشه ابۍ
دې له پړونې راؤړه "۔ کشوره ابۍ هغې له پړونی راؤړی ۔ هغه پړونې
په سر کړی او هغوی سره ګاډی ته خیژی ۔

صنوبر :۔ صیب ، بی بی سره زۀ تلی شم ؟

نثار خان :۔ هاؤ بالکل تلې شی ؟ څه خیژه ګاډی ته ۔



www.pukhto.net



چې هغوی ګاډی ته اوخیژی نو کشوره ابۍ په چغو چغو په ژړا شی
او په ژړا ژړا کښې وائی " د دې وړو به څۀ کیږی بی بی " ؟

زرغونه :۔ مورجی دَ وړو خیال ساته ، زما دَ مرګ او ژوند هیڅ پته نه
لګی ۔ دَ پولیس ګاډې روان وو ، کشوره ابۍ دَ زرغونے دَ کوځې ور
کښې ولاړه وه او هغوی ته یې کتل چې ګاډې دَ نظر نه پناه شو نو
هغه دَ زرغونے کور ته ورغله ، خفه کیناسته او په لوې سوچ کښې
ډوبه شوه ۔ هغه ډیر شیبه په خپلو سوچونو کښې مراقبه وه چې څۀ
ورته وریاد شو ۔ دې سره هغه پاڅیده او بهر اووته ۔ لږه شیبه پس چې
کور ته واپس شوه نو هغې سره په یو لاس کښې دَ پیو ډبلې وو او په
بل کښې فیډر ۔ دَ راتلو سره هغې زر زر سیرت دَ پاره فیډر تیار کړو۔
بیا یې دَ عادل او نسرین دَ پاره ناشته تیاره کړه ۔ چې ناشته تیاره شوه
نو عادل هم پاڅیدو ۔ هغۀ مور پسې چغې اووهلې خو کشورې ابۍ
ورته څۀ انه ، بهانه اوکړه ، هغه یې قلار کړو او ناشتې ته یې کینوو۔
هغه لا ناشته کوله چې نسرین هم نیا پسې راغله ۔ هغې هغه هم
عادل سره ناشتې ته کینوله ۔ چې هغوی ناشته اوکړه نو بیا یې دواړه
سکول دَ پاره تیاره کړل ۔ چې هغوی سکول ته روان شو نو دَ زرغونے
په ځاې ورته هغه دَ کوځې په ور کښې اودریده او هغوی یې رخصت
کړل ۔ هغه لا ولاړه وه او هغوی ته یې کتل چې دَ سیرت ژړا یې
ووریده ، هغې ور پورې کړو او په منډه هغې له راغله ۔ هغه یې صفا
کړه او دَ پیو فیډر یې ورله خوله کښې کېښودو ۔

چې هغه یې مړه کړه نو بیا یې په کټ کښې سملوله او دَ هغې زړوکی یې وینځل ۔ هغه لا په دغه کار کښې اخته وه چې دَ کوټې ور اوډبیدو ۔ چې هغه ورله ورغله نو یوه لفافه په زمکه پرته وه ۔ هغې لفافه راواخسته او ور یې لرې کړو خو ډاکې په سائیکل خپه واړوله او روان شو۔ هغې په زړهٔ اوخوړه چې دغه خط دَ سلمان دې ۔ هغې خط ښکل کړو او دَ زرغونے دَ کمرې په چتۍ کښې یې کیښودو۔

★★★★★

## دریمه برخه

زیړې مازیګر وو چې هغوی متعلقه تانې ته اورسیدل ۔ په تانه کښې ډیره هله ګوله وه ځکه چې شیرولی پارټی او نعیم پارټی دواړه راکوزې شوې وې او دواړه ډلې خپلو کښې انختې وې ۔ ډزې لا روانې وې او دَ مرګ ژوبلې لا پته نه لګیده ۔ دَ تانې پولیس دَ نفرۍ دَ کمی په وجه دَ کمک د پاره ایف ۔ سی راغوښتې وه ۔ هغوی ګاډو کښې کیناستل او هلته تلل چې هغوی په تانه ورننه وتل ۔ اے ایس آئی نثار خان ، ایس ایچ او له او ۔ کے رپورټ ورکړو ۔ ایس ایچ او هغه ته دَ هغې دَ بیان لیکلو حکم ورکړو او په خپله ډزبندۍ پسې لاړو ۔ چې هغوی دَ ګاډی نه کوز شو نو زرغونه په حوالات کښې بنده کړې شوه ۔ اے ایس آئی نثار خان صنوبر ته اووې " ځه ته اوس لاړ شه ، صبا له به د دې چالان کوو۔ صبا نهٔ بجې دلته راشه "۔

صنوبر :۔ ډیره ښه ده صیب ... صیب زهٔ بی بی سره ملاویدې شم "۔



www.pukhto.net

**سلمان لیونے** (پښتو ناول) **پرویز شیخ**

اے ایس آئی نثار خان :۔ " هاؤ ملاؤ شه ورسره ، ځه ورشه "۔

صنوبر چې هغې له ورغۍ نو یوه شیبه ورته چپ ولاړ وو۔ بیا یې ورته اووې ، " بی بی ، اے ایس آئی وې چې اوس لاړ شه او صبا له نهه بجې راشه ۔ کیدیشی تا صبا چالان کړی ... څهٔ ضرورت خو نیشته؟

زرغونه :۔ نه هیڅ ضرورت نشته ... خو ته به شپه کوم ځاې کوې؟

صنوبر :۔ زما غم مهٔ کوه بی بی ، چرته جمات کښې به ډډه شم ۔ شپه به تیره شی ۔

زرغونه :۔ طوری باندې ته یا سراج باندې ته لاړ نشې ، هلته تا خلق پیژنی ، هسې نه چې څوک درباندې په شک کښې دعوٰی اوکړی ۔

صنوبر:۔ نه بی بی ، زهٔ هلته نه ځم ۔ زما غم مه کوه ، زهٔ به انشاء اللّٰه صبا سحر راشم ۔

زرغونه :۔ نه صنوبره دلته مهٔ راځه ، دا کوم تکلیف چې دې اوکړو دا ډیر دې ... ته کلی ته لاړ شه او هلته دَ وړو خیال ساته ۔

صنوبر:۔ بی بی تا څنګه یوائې پریږدم ...

زرغونه :۔ یوائې خو زهٔ یم ۔ تهٔ خو ماسره حوالات کښې بندیدې نشې او نه ماسره جیل ته تلې شې ۔ ته دومره مهربانی اوکړه چې کلی ته لاړ شه او زما دَ وړو خیال ساته ۔ هغوی مِ په خداې او په تا سپارلی دی ۔ هغوی له په سر لاس کیږده دا ډیره ده ۔ ځه ورځه په خداې مِ سپارلې یې ۔

صنوبر:۔ بی بی زهٔ به صبا له کچهرۍ ته درشم چې ستا په حال احوال

پو هـ شم نو بیا به کلي ته لاړ شم ۔

زرغونه :۔ څـه ښـه ده ۔ دغسـی اوکړه ۔ دے سره صنوبر زوړنده سر دَ تانړې نه اووتو ۔ دَ هغهٔ دَ تلو نه پس زرغونه دَ حوالات نه را اوویستلې شوه او دَ نثار خان دفتر ته دَ بیان ورکولو دَ پاره بوتلې شوه ۔ چې هغه کیناسته نو نثار خان دَ هغې نه تپوس اوکړو " بی بی تا باندې دَ دریو مړو دعویٰ ده ۔ په دې باره کښې تهٔ څهٔ وائی " ؟

زرغونه :۔ صیب دا مړی کوم ځای شوی دی ؟

نثار خان :۔ ستا په کور کښې ۔

زرغونه :۔ صیب ، چې درې کسان په توره شپه زما او زما دَ ځوی وژلو پسې زما کور ته وسله په لاس راغلل نو ماله څهٔ کول پکار وو؟ ماله هغوی ته دَ ګلونو امیلونه اچول پکار وو او که خپل تحفظ ؟ آیا ماته دَ خپل تحفظ حق حاصل نه دې ؟

نثارخان :۔ دا قانونی نکتې دی بی بی ، په دې به عدالت کښې وکیل بحث کوی ۔ زهٔ صرف ستا بیان لیکل غواړم خو دَ بیان لیکلو نه مخکښې تانه یو تپوس کوم چې دغه مړی واقعی تا کړی دی او که په دې جرم کښې تا سره بل څوک شریک شته ؟

زرغونه :۔ ماسره هیڅوک نه وو دغه درې واړه ما ویشتلی دی ۔

نثارخان :۔ که ته په چا ګوته کیږدې نو په عدالت کښې بری کیدیشی او که ته دا ټول په خپل سر اخلی نو ستا سزا ، سزاې موت ده ۔ لږ سوچ اوکړه ، واړهٔ واړهٔ بچې لرې ، دَ هغوی په باره کښې سوچ اوکړه۔



www.pukhto.net



زرغونه :۔ زما دَ بچو مالک شته ، هغه به یې ساتی ۔ دَ هغوی دَ پاره او دَ خپل ځان دَ پاره په خپل جرم کښې څوک بے ګناه شریکوال نشم جوړلې ، دا هر څهٔ ما کړی دی او زهٔ هرې سزا ته تیاره یم ۔

نثارخان:۔ زهٔ تا له دَ سوچ یوه بله موقعه درکول غواړم ۔

زرغونه :۔ نه صیب ، ضرورت نیشته ، زما هم دغه بیان دې او دا به وی ۔

نثار خان :۔ ډیره ښهٔ ده ۔ چې ستا خوښه ده نو زهٔ به پکښې څهٔ اوویم ۔ دے نه پس نثارخان دَ هغې بیان اولیکو ، دَ لیکلو نه پس یې هغې ته ووره وو او دَ هغې نه پرې ګوته اولګوله ۔ بیا یې یو سپاهی ته اووې ، " راشه هلکه دا حوالات کښې بنده کړه "۔

*****

## څلورمه برخه

صبا سحر ، صنوبر دَ کلی او کور په ځاې کچهری ته لاړو۔ هغه په کچهری کښې یو خوا ته اودریدو او دَ هغې دَ راتلو انتظار یې کوو۔ شیبه پس هغه دَ پولیس په نګرانی کښې راوستې شوه ۔ دَ راوستو سره هغه دَ کچهری په یو وړوکی عارضی جیل کښې بنده کړې شوه ۔ هغه دا موقعه غنیمت اوګڼله ، دَ هغې خواله ورغی او روغ جوړ یې ورسره اوکړل ۔ هغې ترینه تپوس اوکړو ، "صنوبره کلی ته لانه ړی " ؟

صنوبر:۔ دَ کلی غم مه کوه بی بی ، هلته هر څهٔ ټیک ټاک دی ، بیګاه

م مور سره په موبائيل خبرې شوې دي ۔ هغه دَ ورو الله پالنه کوي ۔ ښه مطمئنه ده او ماله يې هم تسلي راکړه ۔ پرون يې هغوي سکول ته ليږلي وو او نن يې هم ليږلي دي ۔

زرغونه (په ډکو سترګو) چې سيرت به څنګه وي ؟ دَ هغې تپوس دې ترينه اونکړو ؟

صنوبر :۔ ولې نه بي بي ۔ ړومبې تپوس خو م ترينه دَ هغې په باره کښې اوکړو ۔ دَ سيرت په باره کښې هغې اووې چې دَ پيو ډک فيډر يې ورله خوله کښې ايښې دې او دَ هغې په غيږ کښې پرته ده ۔ او هن رشتيا ، ستا دَ پاره يو زيرې ، هغه دا چې پرون زمونږ دَ راتلو نه روستو دَ سلمان له خوا يو خط راغلې دې خو دا معلومه نه ده چې خط کښې يې څۀ ليکلي دي ځکه چې هغه ليک لوست نشي کولې ۔ دَ زرغونے په مخ دَ خوشحالۍ ځلا راشي ۔ هغۀ ته په غټو غټو ګوري او وائي " صنوبره که زما باره کښې يې څۀ ليکلي وي نو زما له خوا جواب ورکړه خو زما دَ کيس باره کښې ورته څۀ مه وايه ۔ زۀ نه غواړم چې زما په وجه هغه پريشان شي ۔ ته کلي ته لاړ شه ، هسې وخت مه ضائع کوه ۔ خپله مزدوري کوه او دَ ورو خيال ساته ۔

صنوبر :۔ کلي ته به ځم خو اوس نه ستا دَ پيشۍ نه پس ۔ چې ستا په پته پوهـ شم نو هله به ځم ۔

زرغونه :۔ زما په پته لا پوهـ نه يې ؟ صنوبره په ما دَ دريو مړو دعوې ده ۔ زۀ په ژوند دروتې نشم ۔



www.pukhto.net



صنوبر:۔ داسې مه وايه بي بي .. داسې دَ مايوسۍ خبرې مۀ کوه ۔ تۀ به انشاء الله ډيره زر روغه جوړه او صحي سلامته اوځې ... ما وکيل سره خبره کړې ده او هغه تسلي راکړې ده ۔

زرغونه:(دَ مايوسي مسکا) " صنوبره " هغه څۀ ويل غواړي خو پوليس راځي او هغه عدالت ته بوځي ۔ چې عدالت ته پيش شي نو جج دَ هغې فائل ته ګوري او هغې ته وائي " ستا نوم زرغونه دې " ؟

زرغونه :۔ هاؤ جي ۔

جج :۔ په تا دَ دريو مړو دعوې ده ؟

زرغونه :۔ هاؤ جي ماته پته ده ۔

جج :۔ تا په خپل بيان کښې دَ يوې قاتلې په حيث دا قتلونه تسليم کړي دي ۔

زرغونه :۔ هاؤ جي ۔

جج هغې ته يو نظر ګوري ... بيا لاندې فائل ته ګوري او په هغې دستخط کوي ۔فائل بند کړي يو خوا ته يې کيږدي او ريډر ته وائي" دې له دَ پيشۍ تاريخ ورکړه "۔ صنوبر ورمخکښې شي دَ ريډر نه دَ هغې دَ پيشۍ تاريخ اخلي ۔ هغې ته اوګوري او بيا يې هغې له ورکړي ۔ چې دَ عدالت نه اوځي نو پوليس هغه ګاډي کښې کينوي او جيل ته يې روانه کړي ۔ دَ جُدائۍ په وخت زرغونه او صنوبر يو بل ته په غټو غټو اوګوري خو په يو وخت دواړه دَ يو بل نه مخونه واړه وي۔

★★★★★



Pukhto.Net

★★★

## شپاړسم باب

دَ شپـې تـورې زلـفې دَ ژمـی دَ ماسخوتن په يخه شپه خورې شـوې وې ـ يـو خوا عادل زيب او نسرين دَ شپې دَ غلاف لاندې په ګرم لـحاف کښې پراتۀ وو بل خوا سيرت دَ کشورې ابۍ په ترښ کښې سر ورکـړې وو او لـکـه دَ کـانـګـرو دَ بچی دَ هغې سينی پورې انختې وه ـ عـادل او نسـرين اودۀ وو خو کشوره ابۍ لا ويښه وه ـ سر يې دَ بړستنې نـه بهـر کـړې وو او ګرم پشـمـی څادر يې دَ سرنه تاؤ کړې وو ـ پرته په بسـتـره کښـې وه ، سـتـرګـې يـې پـه مـخـامـخ ديوال لګيدلې وې او په خيـالـونو کښې ډيره لرې تلې وه ـ کله کله به يې دَ بړستنې پلو اوچت کـړو، سيـرت تـه بـه يـې يو نظر اوکتل او بيا به يې ديوال ته او په ديوال لـګيـدلـې بـلـب ته کتل ـ دَ بلب لوې ورې پلوشې ، دَ هغې په سترګو پـريـوتـې او لکه دَ بدرګو به دَ هغې نظر سره تر بلبه پورې تلې راتلې ـ هـغه لا په خپلو خيالونو کښې ډوبه وه چې دَ کوټې ور اوډبيدو ـ دې نـاګهانه اواز سره هغې په کټ کښې ټوپ کړو، بالکل داسې لکه په بې خيـالـۍ کښـې چې د چا پـه خـوا کښې دَ ټوپک ډز اوشی ـ دَ هغې دَ ټـوپ سـره سيـرت دَ هغې دَ سينې نه اوخويده ـ هغه ترينه غلې غلې پـاخيـده او دَ کـوټـې ورلـه ورغله ـ چې دَ اواز معلومات يې اوکړل نو هـغـه صنوبر وو ـ هغې ورته ورلرې کړو او چې هغه يې يو اځې اوليدو نـو تپـوس يـې تـرينه اوکړو ، " ولې بی بی درسره رانه غله " ؟ دې سره



www.pukhto.net



هغې ورپورې کړو او هغۀ پسې روستو روانه شوه ـ هغه ورته په روانه روانه کښې اووې ـ " دَ هغی قيصه اوږده ده مورې ـ دعا ورته کوه چې پـه خير راشی "ـ هغې يو سوړ اسويلې اوکړو او وې وئيل " خدائې دې مـل شـی بـچيـه او خدائې دې د دې ماشومانو دَ پاره دَ خيره راولی ـ دې سـرو قـطـرو ته چې زۀ ګورم نوزړۀ مې حلال حلال شی "ـ چې کمرې ته اورسيدل او صنوبر په کټ کښې کيناستو نو مور ترينه تپوس اوکړو ،

" تا خو به ډوډۍ نه وې خوړلې "؟

صـنـوبـر :ـ " نـه مـورې خوړلې مې ده ـ په روانه روانه کښې مې ځان موړ کړې دې . . .تۀ سمله مورې يخنی ده "ـ

کشـوره ابـۍ پـه کـټ کـښـې سـمـلـی ، سيرت ځان ته رانزدې کړی او دَ بړستنې ګوټونه ورته رامات کړی ـ

صنوبر :ـ وارۀ اودۀ دی ؟

کشـوره ابـۍ :ـ هـاؤ ځـويـه ، يخنی ده په زور مې سملول چې خوب يې پوره شی او صبا په وخت پاڅی ـ

صـنـوبـر دَ عـادل او نسرين کټ له ورځی ـ دَ بړستنی پلو اوچت کړی ، مسکې شی او بيا پرې بړستنه خوره کړی ، بيا دَ سيرت خواله ورځی ، دَ بړستنې په پلو کښې ورته مور او ځوې ګوری ـ صنوبر مسکې شی او دَ مـور نـه تپـوس کـوی " مـورې دا خو په خوب کښې کله مسکۍ شی او کله ژړغونې شی ، دا ولی مورې "؟

کشوره ابۍ :ـ ځويه ماشومان دَ خدائې نيازبين وی ـ ويلې کيږی چې



Pukhto.Net

کله دوی اودهٔ شی نو دوی سره دَ دوی په عمر غیب عالم لوبې کوی ۔ هغوی یې په لوبو لوبو کښې خاندوی او ژړوی ۔ کله ورته وائی مور دې مړه شوه ، کله ورته وائی پلار دې مړ شو ۔

صنوبر :۔ دا ولې ؟ زهٔ پوهـ نشوم مورې ۔

کشوره ابیہ :۔ چې کله ورته وائی ، مور دې مړه شوه نو هغه مسکیہ شی او هغوی ته وائی ، " دا څهٔ ده ، ماسره پرته ده۔ او چې کله ورته وائی پلار دې مړ شو نو شونډې بوسې کړی او ژړغونې شی ځکه چې پلار خو ترینه لرې پروت وی "۔ دې سره هغه په خندا شو او مور ته اووې ، مورې ، واړه خو به دی تنګوی "؟

کشوره ابیہ :۔ واړهٔ خووی دې دَ پاره ګینی بیا خو واړهٔ نشو ۔

صنوبر:۔ مورې ، ګزاره ورسره کوه ، چې مور یې راشی نو بیا به یې هغه سمبالوی ۔

کشوره ابیہ :۔ د دوی مور خو به دَ خیره راشی خو ستا دَ لور مور به کله راشی ۔ که چرې زما خبره دې منلې وې نو اوس به ...

صنوبر:۔ دغې سره به بیا ګورو خو اوس چې دا یوه لانجه دَ خیره سرته اورسی ۔

کشوره ابیہ :۔ هن رشتیا ، دَ بی بی څهٔ اوشو ؟

صنوبر :۔ بی بی جیل ته لاړه مورې ؟

کشوره ابیہ ( سینې له لاس راچوی ) هیّ هیّ عقربه ۔ دا به څهٔ کیږی څویه ؟



www.pukhto.net



صنوبر :۔ مورې دعا ورته کوه ۔ ویلې کیږی چې دعا سره تقدیر بدلیږی ۔

کشوره ابیہ :۔ که زما په دعا کیږی نو زه خو ویم چې خدای دې نوک هم ازار نکړی ۔ خدای دې ورسره دَ غیبو نه امداد اوکړی ، واړهٔ واړهٔ بچی یې دی ...خو صنوبره ځویه دې دا دومره غلط کار ولې کوو؟ دا خو ډیره اصیله ، اشرافه او بې خولې بے زبانه ده "۔

صنوبر:۔ کار یې غلط نه دې کړې مورې بلکه زهٔ خو ویم چې ښځهٔ دَ مړانې کار یې کړې دې او دَ سزا نه بلکه دَ انعام مستحقه ده ... مورې چې څوک دَ چا وژلو دَ پاره دَ چا کورته ورشی نو هغه به څهٔ کوی ؟ هغه به دَ خپل کور نه چرته تختی ؟

کشوره ابیہ :۔ چې دا خبره ده نو خدای دی یو وینښتهٔ هم ازار نه کړی۔

صنوبر:۔ هم داسی به کیږی انشاء الله ۔

کشوره ابیہ :۔ تا چاسره خبره کړې ده ؟

صنوبر :۔ هاؤ ۔ ما وکیل سره خبره کړې ده ۔ هغهٔ پوره تسلی راکړې ده او وې یې چې په دویمه ، دریمه پیشیہ کښې به چټ پټ خلاصیږی خو ... ( هغه څهٔ ویل غواړی خو جرأت اونکړې شی)۔

کشوره ابیہ :۔ خو څهٔ ؟ خبره دې پوره کړه کنه ۔

صنوبر :۔ هسې دَ وکیل خبره مِ کوله ۔ په یولاکهـ روپیہ مِ ورسره خبره اوکړه ۔

کشوره ابیہ :۔ په یولاکهـ روپیہ ؟ دومره ډیرې ؟

Pukhto.Net

صنوبر:۔ هغه خو درې لاکهه غوتښې ۔ هغه وې درې مړی دی او درې لاکهه روپۍ راکړه ۔ ډیر په منت او زاری م یو لاکهہ له راوستو۔

کشوره ابۍ :۔ تاسره یو لاکهہ روپۍ شته ؟

صنوبر:۔ ماسره نیشته خو څۀ به ورله کول غواړی ۔

کشوره ابۍ :۔ بی بی سره دې خبره کړې ده ؟

صنوبر :۔ بی بی ته مِ دَ وکیل اورونه کړې وه خو هغه وکیل نه منی، هغه وائی چی کوم کار هغې کړې دې ، دَ هغې نه ولې انکار اوکړی او دَ خپلې بے گناهی صفائی ولې پیش کړی ۔

کشوره ابۍ :۔ دومره روپۍ به تۀ څنگه پیدا کوی ؟

صنوبر :۔ مورې که ستا خوښخه وی نو گاډې به ورله خرڅ کړم۔

کشوره ابۍ :۔ دَ گاډی په مزدورۍ خو زمونږ هتې بتیاری او دَ کور تیل مالړه اوکتوی کیږی ۔ چی دا خرڅ کړې نو بیا به څه کوې ؟

صنوبر:۔ مورې چې دا اونکړم نو په شرمونو به اوشرمیږم ۔ خداې مۀ کـه که بی بی رانه قیده شوه نو چا سره به مِ دَ سترگو لگیدو شان پاتې نشی ۔ نور خو لا پریږده دا خپل عزیزان ، تربوران به راپورې خاندی ۔ پـه بی بی زمونږ ډیره رنگه ډنگه جوړه وه ۔ دا ډیره بے مناسبه خبره ده چی بی بی وه نو زمونږ وه او چې گیره شوه نو پردۍ شوه ۔ بله دا چې ډیر واړه بال بچ یې دی ۔ چې دې ساړې بوتې ماشومانو ته گورم نو ویم چې گاډی خو لاگاډې دې چې دا کور م هم ورله خرڅ کړې او هغه مِ دَ خپل بال بچ دَ پاره راوستې ۔ مورې ډیره بے پښتو خبره ده چې



www.pukhto.net



داسې بے څو که او بے نوا یې پریږدو ۔

کشوره ابۍ :۔ گاډی به درله څومره روپۍ اوکړی ؟

صنوبر :۔په درې لاکهه مِ بیعه کړې دې خو ستا " هاؤ نا " ته خبره بنددہ پاتې شوه خبره دَ کور دَ خرچې نو چرته دیاړی به کوم او وخت به تیریږی ۔

کشوره ابۍ :۔ څه بچې خداې دې دا پیسې په کار راوستې کړه او خداې دې متهو کښې برکت واچولې کړه ۔

صنوبر:۔ مورې ، هغې سلمان سره دومره ښۀ کړی دی چې هغه یې دَ سپو کوترو د کوتې نه اوچت کړو او په قالین یې سملوو ، دَ پردو کوځو نه یې خلاص کړو او ځان سره یې په یو تالی کینوو او دَ تولو نه لویه خبره دا ده چې هغه سره یې دَ خپل بال بچ نه زیاته مینه کوله ۔ که صبا سلمان خبر شی او زما نه گیله اوکړی نو زۀ به څۀ جواب ورکوم۔

کشوره ابۍ :۔ هن رشتیا ، دَ سلمان خبره دې اوکړه نو رایاد شو راته دَ هغۀ خط راغلې دی ۔

صنوبر:۔ هاؤ ، هاؤ ، هغه خط کوم ځاې دې ؟

کشوره ابۍ :۔ دغه پاس چتې کښې پروت دې ځویه ۔

صنوبر پاځی او دَ چتې نه خط راخلی ، چې دَ لفافې دَ پاسه پتې ته اوگوری نو خط کهلاؤ نکړی او یو خوا ته یې کیږدی ۔ کشوره ابۍ هغۀ ته په حیرانتیا گوری او وائی " تا خو خط واپس کیښودو، ولې"؟

صنوبر:۔ مورېې دا خط هغه دَ خپلی خورجی یعنی دَ بی بی په نوم رالیږلې

دې ۔ زۀ یې کهلاؤلې نشم ځکه چې پردې دی ۔ او پردې خط کهلاؤل او لوستل غلط کار دې ۔ دا به بی بی له ورکړم چې خوشحاله شی ۔

کشوره ابی :۔ " زۀ نه پوهیږم چې د دې دواړو خپلو کښې څومره مینه ده ۔ داسې به دَ سکه رور خور هم نه وی "۔

★★★★★

## دویمه برخه

په صباصنوبر بالا کوټ ته لاړو او ګاډې یې په درې لاکهه روپۍ خرڅ کړو ۔ دوه لاکهه روپۍ یې کور کیښودې او یو لاکهه روپۍ یې وکیل دَ پاره جیب کښې واچولې ۔ شپه یې کور اوکړه او دَ زرغونې دَ پاره یې دَ جامې پیزار او دَ ضرورت دَ نور سامان غاړه غوټه تیاره کړه او سحر په خړه دَ کوره اووتو ۔ دَ رسیدو سره کچهرۍ ته لاړو او وکیل سره یې خبره پخه کړه او یو لاکهه روپۍ یې ورکړې ۔ وکیل دَ منشی په ذریعه دَ زرغونې دَ کیس ټولو نقلونه واخستل او هغه یې فائل کړل ۔ بیا یې صنوبر ته اووې چې دَ پیشۍ دَ تاریخ نه دوه ورځې مخکښې هغه خبر کړی چې دَ کیس دَ پاره خپل تیارې اوکړی ۔ دې نه پس صنوبر دَ هغه نه رخصت واخستو او دَ زرغونے ملاقات له دَ جیل په لاره روان شو ۔ په ټلو ټلو کښې یې هغې له دَ خپل حیثیت مطابق څۀ میوه دانه هم واخسته ۔ زرغونه چې دَ هغۀ ملاقات له راغله او دَ هغه غاړه غوټه یې اولیده نو ورته یې اووې " صنوبره ، جامې دې ښۀ اوکړل چې دی راؤړې خو د دې نورو څیزونو ضرورت نه



www.pukhto.net



وو ۔ ستا خپله غریبی ده ۔ بیا دَ پاره داسې غلطی اونکړې "۔

صنوبر: ۔ بی بی ډیر څۀ ته مِ زړۀ کیدو خو ډیر په توندۍ کښې راغلم، ما سره دا یره وه چې هسی نه دَ ملاقات وخت رانه تیر شی ... بی بی یوه خبره کولې شم ۔

زرغونه :۔ هاؤ صنوبره ملاقات خو وی دَ خبرو دَ پاره ۔ وایه څۀ ویل غواړې ؟

صنوبر :۔ بی بی ستا دَ کیس په باره کښې ما وکیل سره خبره کړې ده ۔ هغه پوره تسلی راکړې ده او وې یې چې دوه ، درې پیشۍ کښې به کیس ستا په حق کښې فیصله شی انشاء الله ۔

زرغونه :۔ تا زما دَ اجازت نه بغیر وکیل سره خبره ولې کوله ؟ خپله خبره واپس واخله ، دَ وکیل ضرورت نیشته ۔

صنوبر: ۔ بی بی زۀ چې څۀ کوم نو دې کښې زمونږ دَ ټولو خیر دې ۔

زرغونه :۔ څۀ مطلب ؟

صنوبر: ۔ بی بی ، یو خو دا چې تۀ پولیس زمونږ دَ کوره بوتلې یې ۔ دا ډیره بے پښتو خبره ده چې تا داسې بے څوکه پریږدو ۔ دویمه دا چې تۀ خو ته یې ، زمونږ بی بی یې او مونږ ته دا پاس اسمان یې خو ستا بچی هم مونږ ته تانه کم خواږۀ نه دی ۔ که مونږ مور او څوې دَ هغوی هر څومره خدمت اوکړو خو دَ خپلې مور مینه دَ خپلې وینې مینه وی ۔ دَ ځان نه زیات دَ خپلو بچو فکر اوکړه بی بی "۔ زرغونه هغۀ ته په ډکو سترګو ګوری او وائی ، " سیرت څنګه وه صنوبره " ؟

صنوبر(مسکې شی ) بی بی ، سیرت خو مِ درنه مور واخسته ، هغې وائی چې سیرت دَ هغې لور ده ۔ ټوله ورځ دَ هغې په سینه پرته وی ، کله ترینه مخ راکاږی او کله ترینه ویښتهٔ "۔

زرغونه ( مسکی شی ) عادل څنګه دې "۔

صنوبر:۔ عادل او نسرین دواړه یو ځاې سکول ته ځی راځی ۔ چی دَ سکول نه راشی نو بیا لګیا وی ټوله ورځ لوبې کوی ۔ او هن، بی بی ستا په نامه دَ سلمان خط راغلې دې ۔

زرغونه :۔ خط کښې یې څهٔ لیکلی دی ؟

صنوبر:۔ ( هغی له خط ورکوی ) بی بی ، ماخط نه سپړدلې ، دا خط ستا په نامه راغلې دې نوځکه مِ اونه سپړدو ۔

زرغونه :۔ صنوبره ، زما او دَ هغه ترمینځه داسې کومه خبره ده چې تاسونه پته ده ؟

صنوبر:۔ نه بی بی داسې هیڅ خبره نیشته خو پردې خط لوستل ښه خبره نه ده ۔ دا واخله ، ځان سره یوسه او په خپله یې ښهٔ په قلاره اولوله ۔

زرغونه :۔ زهٔ لیک لوست نشم کولې ۔ که تهٔ لوست کولې شی نو دا خط ولاړ کړه ۔

صنوبر :۔ که ستا اجازت وی نو هله ۔

زرغونه :۔ اجازت دې ۔

صنوبر :۔ بی بی غوږ شه ورته ۔ دَ خط شروع داسې ده ۔

خوږې خورجی



www.pukhto.net



السلام علیکم ! هیله لرم چې تاسو به روغ رمټ او خوشحاله یئ ۔ خورجی تا ته ډیر ملامته یم چې ما تاسو ته په وخت خط اونه لیکلې شو او تاسو مِ دلته دَ راتلو او خپل حال احوال نه په وخت خبر نه کړی شوی۔ خو زهٔ امید کوم چې ستا جوره مینه او ګڼ شمیره احسانات به زما دَ طفلانه غفلت دا صدمه لکه دَ مخکښې غوندې په خندا بدله کړی او زما ټولې غلطۍ او کوتاهۍ به معاف کړی ۔

خورجی ، ډیره موده اوشوه چې تاسره مِ لیدل کتل نه دی شوې ۔ خدائیګو ډیره مِ یادیږې ، په زړهٔ مِ راوریږې ، دَ خیال سترګو ته مِ وړاندې روستو کیږې خو ډیر زر رانه غیبیږې ۔ خورجی زمونږ رشته خو دَ رور خور ده بلکه که زهٔ دا اویم چې دَ روح او بدن ده نو بده به نه وی ۔ نه داسې نه ده ، دا رشته د دې نه هم زیاته جوره دَ دوو روحونو رشته ده ۔ دا نه زړیدیشی ، نه ختمیدیشی او نه فنا کیدیشی ۔ دا به تل تر تله ژوندۍ ، مضبوطه او پائیداره وی ، خو په دې نه پو هیږم چې په پټو سترګو دې وینم خو په غړیدلو سترګو راته نه ښکارې . . .دا ولې خورجی ؟

خورجی ستا مینې دومره لیونۍ کړم چې خپلې خبرې رانه هیرې شوې او خپل حال احوال مِ درته اونه ویلې شو ۔ خورجی دلته زمونږ ټول سبق په جرمنۍ ژبه کښې دې ۔ دَ سبق شروع کیدو نه مخکښې ماله دَ جرمنۍ ژبې زده کړه راکړې شوه ۔ په شروع شروع کښې دا ژبه ما دَ پاره بیخی نوې وه او سختو کړمو سره مخ ووم ۔ په لیک لوست

کښې راته ډير تکليف وو خو دَ ستاسو ټولو په دعاګانو دا ټولې ګرانې راتـه اسانې شوې ۔ اوس ما دا ژبه زده کړې ده او خپل کار پرې چلولې شـم ۔ دې نــه عـلاوه زمـونـږ سبق هـم شـروع شوې دې او دَ ژوند ټول سهـولتونه راته حاصل دی ۔ دَ استوګنې دَ پاره راته سکول سره جخت په يو هاسټل کښې ښهٔ ښکلې کمره راکړې شوې ده او دَ سرکار له خوا راتـه ميـاشـت پـه ميـاشـت وظيـفـه هـم مـلاوېږی او ښه اعلیٰ خوراک څـښاک هم ۔ ما ځان دَ پاره خپل وخت تقسيم کړې دې ۔ چې دَ سکول نــه راشـم نـو ډوډۍ اوخـورم ، لږ آرام اوکــړم ، بيــا هوم ورک اوکـړم او مـازيـګـر خپـلـو مـلـګـرو سـره باسکټ بال کـوم ... خورجی دلتـه زما مـلګری ډير دی خو نه پکښې عادل شتـه ، نه پکښې نسرين شته او نه پکښې وړه سيرت شتـه ۔ دَ سيرت نوم ليکلو سره راته هغه مخکښې شـوه ، دغـه وړه ګوډۍ راپسې ټوپونه وهی او په مسکا مسکا راپسی هـڅه کوی ۔ ما دَ هغې دَ ښکلولو ډير کوشش اوکړو خو نه مِ لاس وررسی چې يې اوچتـه کړم او نه مِ خوله وررسی چې يې ښکل کړم ۔خورجی ته زمـا دَ پـاره هـغـه پـه مينه مينه داسې ښکل کړه چی ستا دَ ښکلولو " چپ " زهٔ دلتـه وورم ۔ دَ کاغذ دا سپينه برخه ما ښکل کړې ده ۔ په دې دَ هـغـې خـولـه اولګوه چی زما دَ زړهٔ تسکين اوشی او دَ هغې ټوپونه هم په قلار شی ۔

نورې خبرې به درسره په موبائيل اوکړم انشاء الله ۔

نيـاتـه ، کـاکـاجی تـه ، نسـرين او عادل ته زما له خوا ډير ډير سلامونه





اوخوږه مينه ۔

والسلام

ستا رور سلمان ، برلن جرمنی ۔

دَ زرغـونـې په مخ لړی لړی اوښکې را راونې وې ۔ په ديکښې يو جن کتـې راغـی او هـغـې تـه يــې اووې " دَ ملاقـات وخـت ختم شو "۔ زرغـونـې پـه تلو تلو کښې صنوبر ته اووې " صنوبره دا خط ځان سره واخلـه پـه دغـه سپـيـن ځـاې دَ سيـرت خـوله اولګوه چې دَ هغهٔ دَ زړهٔ ارمـان پـوره شـی ۔ دے سره هـغـه خپلې اوښکې اوچې کړی او ډير په تيزی سره جيل ته دننه شی "۔

★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★

★★★★★★

★★★★

★★★

★★

★



www.pukhto.net

## اوولسم باب

دَ یورپ معاشره دَ سلمان د پاره نوې تجربه وه ـ په شروع شروع کښې هغۀ ته داسې ښکاریده لکه چې هغه دَ خپلې دنیا نه ډیر لرې چرته بلې دنیا ته تلې وی ځکه چې هلته هغۀ څۀ لیدل هغه هر څۀ دَ هغۀ دنیا نه ډیره مختلف وو په کومه کښې چې هغۀ سترګې غړولې وې او په کومه کښې چی هغه لوې شوې وو. که حقیقت ته اوکتلی شی نو دَ هغۀ خیال صحی هم وو ځکه چې دَ هغه خلقو طرز معاشرت دَ پښتو دَ معاشرتی ژوند نه بیخی بیل دې ـ دَ هغوی ناسته ولاړه ، کړۀ اوړه ، غم ښادی ، دود دستور ، سوچ وفکر کلتور او تعلیم وتربیت دَ پښتو دَ معاشرتی ژوند نه بیخی جُدا دې ـ دَ صنف نازک په باره کښې دَ هغوی سینې فراخه او ذهنونه وسیع دی ـ کوم حقوق او اختیارات چې سړو ته حاصل دی نو دَ هغوی نه زیات دَ هغوی ښځو ته حاصل دی ـ که سړو ته دَ خپلی خوښخې مطابق دَ خپل ژوند تیرولو حق حاصل دې نو هغه حقوق دَ هغوی ښځو ته هم حاصل دی ـ دَ بلوغت نه پس دَ جینکو دَ کوره په وتو او خپل بواې فرینډ سره په ملاویدو یا دَ هغۀ کور ته په راوستو او مور پلار سره دَ هغۀ په متعارف کولو هیڅ پابندی نیشته ـ دغه بے جلبه ، خود اختیاره ، خود سره او خود واکه ژوند دَ حقوق نسوان یوه لازمی برخه ګڼلی شی ـ دَ هغوی ټول تعلیمی نظام Co. education دې ـ هلکان او جینکۍ



www.pukhto.net



په یو سکول او یو کلاس کښې څنګ په څنګ ناستې وی ـ په کلاس کښې استاذ یا استاذې ته دَ شاګردانو پاڅیدۀ ، آداب او سلام نیشته ـ نه دَ کلاس نه په وتو پابندی شته او نه یې په راتلو ـ استاذ دَ هلکانو دَ مزاج او خوښخې ناخوښخې مطابق چلیږی ـ دې نه علاوه نۀ دَ شاګر وهل شته ، نه په شاګر قهر شته او نه جبر ـ

وخت تیریدو سره سلمان هم په دغه معاشره کښې ګډ شو او دَ هغوی په رنګ کښې رنګ شو. دَ هغه په تعلقاتو کښې هم اضافه اوشوه او دَ هغه په دوستانو کښی هم ـ دَ هغه په ملګرو کښې هلکان هم وو او جینکۍ هم وې ـ په هغوی کښې دَ هغۀ کلاس فیلو هم وو او دَ کلاس نه بهر دَ لوبو ملګری هم ـ هندی نژاد ، افغان نژاد هم وو او پاکستانی نژاد او جرمن هم وو ـ دغه ټولو ملګرو به مازیګر دَ سکول په ګرونډ کښې دَ باسکټ بال لوبه هم کوله او ټیم په ټیم به مقابلې هم کیدې ـ دَ هغۀ په لوبغاړو ملګرو کښې جینکۍ ډیرې وې خو چا سره چې دَ هغۀ زیات تعلقات وو په هغوی کښې یوه زرمینه وه او بله لبنیٰ وه ـ زرمینه افغانۍ وه او لبنیٰ دَ پیښور پښتنه وه ـ دا دواړه دَ هغۀ کلاس فیلو هم وې او دَ باسکټ بال ملګرې هم ـ هغوی ټول به مازیګر په سپورټ سوټ کښې ملبوس دَسکول ګرونډ ته راغلل ، یو بل سره به یې " هیلو هاې " اوکړل او بیا به یې لوبه شروع کړه ، د دغه دواړو دَ زړونو محور دَ لوبی نه زیات دَ هغۀ ذات وو.

سلمان اوس هغه لیونې سلمان نه وو چې په خاؤرو ایرو کښې

به لوغړیدلې ، خپې یېله خپې او سرتور سر، سرو هلې برو هلې به ګرځیدو بلکه دَ هغهٔ په شخصیت کښې دَ نکهار او وقار نه علاوه دَ جنسِ نازک دَ پاره مقناطیسی کشش او طلسماتی اثر پیدا شوې وو۔ دَ لوبې په دوران کښې به چې هغه بال اونیوو او جال ته وکرې ته به یې دَ غورځولو دَ پاره ټوپ وهلو نو دَ هغهٔ دَ ټوپ سره به دَ هغوی زړونو هم ټوپونه وهل ۔ هغوی دواړه په ظاهره سهیلۍ وې خو په زړونو کښې دواړه رقیبانې وې ۔ دَ سلمان متعلق خپلې ذاتی خبری به هغوی دَ یوې بلې نه پټې ساتلې ۔ هرې یوې غوښتل چې هغه دَ هغې شی۔ دواړو ورله په خپل خپل زړهٔ کښې دَ خپلې پیرزونې مطابق بیل بیل شیش محل جوړ کړی وو او هرې یوې غوښتل چې په خپل شیش محل کښې یې دَ بلې نه پټ اوساتی ۔ هغوی دواړه په یو بل پوهـ وې خو سلمان د دې هر څهٔ نه ناخبره وو۔ چې کله به لوبه ختمه شوه نو هغه به واره په واره دواړو له لاس ورکړو ، دَ هغوی شکریه به یې ادا کړه او په خندا به رخصت شو ۔ دا کار یوائې سلمان نه کوو بلکه په لوبه کښې شریک نورو هلکانو به هم کوو ځکه چې دا دَ دغه مهذبه معاشرې دَ لوبې آداب دی ۔ کله کله به په لوبه کښې دَ هغوی ترمینځه تلخی هم راغله او تاؤ تریښ والې به هم پیدا شو خو دَ سوری په یوټکی به دغه ترخه فضا خوشګواره شوه ۔

★★★★★

★★★



www.pukhto.net



★

## دویمه برخه

دَ حکیم خان او مولانا مدثر شاه دَ قتلونو په سلسله کښې دَ هغوی کیس چلیدو ۔ پیشی په پیشی به کیدې او ملزمان به په هتکړو کښې عدالت ته راوستلې کیدل ۔ دَ مولانا صیب ځوې اجمل شاه به دَ مدعی په حیث پیش کیدو خو دَ حکیم خان له خوا دَ مدعی په طور هیڅ څوک نه پیش کیدل ۔ دَ راج ولی ، ګل ولی او سید ولی له خوا دَ کیس دَ پیروی دَ پاره هم څوک نه وو۔ کوم وکیل چې دَ هغوی له خوا مخکښې نیولې شوې وو هغه له هم ټول فیس نه وو ورکړې شوې ۔ دَ وکیل دَ عدم دلچسپی په وجه دغه کیس ډیره موده اوزانګیدو خو اخر یوه ورځ فیصله شو او درې واړه ملزمان شل شل کاله قید شو ۔

دې سره سره دَ زرغونې کیس هم چلیدو۔ صنوبر به هرې پیشی له تلو ، هغې سره به یې ملاقات هم کوو ، غاړه غوټه به یې ورله هم اوړه او وکیل سره به یې لیدل کتل هم کول ۔ دَ زرغونے په کیس کښې هم مدعیان نه پیش کیدل ځکه چې هغوی ټول مفروران وو۔ دَ هغې وکیل څو څو ځله په نوې نوې نکتو عدالت له دَ هغې دَ ضمانت درخواست ورکړو خو دَ هغې په ضمانت کښې لوې خنډ دَ هغې اقبال جرم وو۔ هم دغه وجه وه چې دَ هغې کیس په کالونو کالونو اوزانګیدو ۔ هلته دَ صنوبر مور ، ناجوړه هم او دَ وړونه هم

تنګه شوې وه ۔ هغې غوښتل چې دَ صنوبر کور ودان شی او دَ هغهٔ دَ کور کاروبار روان شی خو څنګه او څه رنګه ؟ هغهٔ سره دَ ځان نه زیات دَ زرغونے دَ کیس غم وو۔ هغه سره دَ مور دَ بیمارۍ غم هم وو او دَ ورو دَ النی پالنې او خصمانې هم ۔ هغه ته دا هم پته وه چې هغه سختو کړمو سره مخ ده ۔ هغه ته دَ هغې دَ بیمارۍ او تکلیف احساس وو خو دَ زرغونے بے څوکه ژوند سره یې څهٔ کړې وې ؟ هغه دَ چا په رحم وکرم پریږدی ؟ کشورې ابۍ هغه ته دَ وادهٔ اورونه کړې وه خو هر ځل به یې څهٔ انه ، بهانه اوکړه او دَ هغې خبره به یې اوزانګوله خو اخر ترکومه؟ چې اونشوه نو یو ځل یې ورته ښه په کلکه اووې " صنوبره ځویه ، زهٔ نوره دَ کار نه یم ، زما دَ مرګ او ژوند هیڅ پته نه لګی چې نن مرم او که صبا خو زهٔ غواړم چې په غړیدلو سترګو ستا کور ودان کړم۔ ګوره ځویه ، که زما سترګی پټې شوې نو بیا به درنه دا ټول خپل مین لاس واخلی او هیڅوک به دې په کار رانشی ۔

صنوبر:۔ مورې ، خپل ، خپلوان اوس کوم زمونږ په کار راغلل چې لا پاتې شوه بیا ، مورې ، دا مونږ سره او بی بی سره چې څهٔ کیږی نو دې کښې هم د هغوی لاس دې خو څه چې وخت راشی نو بیا به ګورو۔

کشوره ابۍ :۔ ځویه کتل راکتل پریږده ۔ چا چا سره به ګورې او چا چا سره به دشمنی کوې ؟ ماته پته ده چې دَ ټولو په زړونو کښې خیرې دې خو هغوی ګڼ دی او ته یو یې ۔ زهٔ ویم چې هغوی کښې درله وادهٔ اوکړم او متې دې مضبوطې شی ۔ ماله اجازت راکړه چې ستا کور



www.pukhto.net



ودان کړم ۔

صنوبر:۔ مورې لږ صبر اوکړه چې دَ بی بی دا کیس ختم شی نو بیا به وادهٔ سره ګورو ۔

کشوره ابۍ :۔ په دې صبر صبر خو دې راله زړهٔ شین او سترګې سپینې کړې ۔ اخر دا به کله ختمیږی ؟

صنوبر:۔ دا زما کار خو نه دې مورې ۔ زهٔ خو ویم چې نن ختم شی دَ خیره او زهٔ خپلې مزدورۍ ته اوزګار شم ۔

کشوره ابۍ :۔ چې ترڅو دا کیس نه وی ختم شوې نو تهٔ به وادهٔ نه کوې ؟

صنوبر:۔ وادهٔ په څهٔ اوکړم مورې ؟ په درې لاکهه روپۍ مِ ګاډې خرڅ کړو ، یو لاکهه مِ وکیل له ورکړې ، یو لاکهه په تلو راتلو او دَ کور په خرچه کښې لاړې اوس دا یو لاکهه پاتې دی او کیس لا په سرپروت دې

کشوره ابۍ :۔ دا به تر کومې چلیږی ځویه ؟ وکیل څهٔ وائی ۔

صنوبر:۔ وکیل وائی چې په کیس ډیره توندی مه کوه چې څومره وخت تیریږی نو کیس اسانیږی ۔ دعا ورته کوه مورې ، کیدیشی دا راتلونکې پیشی یې اخری شی ۔

کشوره ابۍ :۔ ته دَ دعا خبره کوې ځویه ۔ پوره پنځه کاله اوشو چې دَ ورځې پنځه واړه نمونځونو کښې ورته ، پنځه واړه ځله ، پنځه پنځه ځله دعا کوم ... دغه مِ وس دې ځویه ، نور څهٔ اوکړم ۔

صنوبر:۔ دغه ډیره ده ... مورې خفه کیږه مه چې دَ بی بی دا کیس

ختم شي نو بیا به درسره هغه اوګرځي او ستا دَ زړهٔ ارمان به پوره شي۔

کشوره ابۍ :۔ الله لوې بادشاه دې ځویه ۔

★★★★★

## دریمه برخه

بله ورځ زرغونه دَ پولیس په نګرانۍ کښې دَ سیشن جج عدالت ته پیش کړې شوه ۔ هغې پسې دَ هغې وکیل هم دَعدالت کمرې ته ورغۍ او صنوبر هم ۔ جج دَ هغې په فائل یو سر سری نظر واچوو، بیا یې هغې ته په ځیر ځیر اوکتل او تپوس یې ترینه اوکړو، ”زرغونه ستا نوم دې“۔

زرغونه :۔ هاؤ جی ۔

جج :۔ تا باندې د دریو مړو دعویٰ ده او تا اقرار جرم هم کړې دې ۔ تا دغه کسان ولې وژل ؟

زرغونه :۔ صیب دغه درې واړه ، زما او زما دَ ځوی وژلو پسې زما کور ته وسله په لاس راغلی وو۔ آیا ماته دَ خپل تحفظ حق حاصل نه دې ؟

سرکاری وکیل :۔ تاته دَ تحفظ حق حاصل دې خو صرف دَ تحفظ ، دَ چا د وژلو حق چاته هم حاصل نه دې ۔

وکیلِ صفائی :۔ جناب عالی ! په داسې حال کښې چې درې خونړی وسله په لاس ، زما دَ موکلې او دَ هغې دَ ماشوم ځوی وژلو پسې دَ شپې په توره تیاره کښې دَ هغې کورته ورغلی وو نو دَ ډز نه بغیر به هغې خپل تحفظ په کوم ډول کړې وې ؟ لږ وضاحت اوکړۍ ؟



www.pukhto.net



سرکاری وکیل :۔ وضاحت کول زما کار نه دې ۔ وضاحت به ملزمه کوی ۔

وکیلِ صفائی :۔ نه صیب ، زما مطلب دا دې چې دې به خپل تحفظ په کومه طریقه کوو ؟

سرکاری وکیل :۔ سوری ۔

جج :۔ تهٔ د دې په صفائی کښې څهٔ ویل غواړې ؟

وکیلِ صفائی :۔ هاؤ صیب ، جناب عالی ! زهٔ دَ خپلې موکلې ، زرغونے بی بی دَ اقبالِ جرم صفائی پیش کول نه غواړم او په اګر ، مګر ، چونکه ، چنانچه ستاسو وخت ضائع کول نه غواړم جناب عالی ! زهٔ خوشحاله په دې یم چې زما موکلې دَ عدالت نه څهٔ پټ اونه ساتل او هر څهٔ یې صفا صفا اووې ۔ زهٔ صرف په یوه نکته ستاسو په اجازت سره یو څو خبرې کول غواړم او هغه نکته ده د چا در اوچار دیوارۍ حرمت ۔ جناب عالی ! لکه څنګه چې تاسو ته پته ده چې انګریز سل کاله زمونږ په ملک حکومت اوکړو ۔ سل کاله ډیر لوې وخت دې جناب عالیٰ ۔ غالبًا دوه نسلونه پکښې دنیا ته راتلې اوتلې شی ۔ دا دومره موده حکومت هغوی ولې اوکړو ؟ دا ځکه چې هغوی کښې انصاف وو۔

جج :۔ Come to the point ۔

وکیل صفائی :۔ هم دغې له راځم جناب عالی ! هغوی چې دَ دې ملک دَ عوامو دَ پاره کوم قانون جوړ کړی وو هغه اوس هم نه صرف

چلیږی بلکه دَ هغې ستاینې هم کیږی ـ چې چا به دَ چا دَ کور دَ عزت او تقدس بے حرمتی اوکړه او دَ غلا ، قتل یا په بله څۀ غلطه اراده به دَ چا کور ته ورغی. او هلته به مړ شو نو مړې به توې شو او قاتل ته به انعام ملاویدو ـ صیب که تاسو سره وخت وی نو ما سره دا کتاب دَ هغه Decided کیسونو نه ډک دې کوم چې په برتش رول او دَ هغې نه روستو دسمبر 2012ء پورې فیصله شوی دی''۔ هغه جج له کتاب ورکوی ـ جج چی په کتاب یو سرسری نظر واچوی نو کتاب ځان سره کیږدی او سرکاری وکیل ته وائی '' تۀ څه ویل غواړې''؟

سرکاری وکیل :ـ هاؤ صیب ـ زما ړومبی تپوس دا دې چې ملزمې سره دَ مقتولینو څۀ دشمنی وه ؟ دویم سوال مِ دا دې چې دا ملزمه دومره ایمانداره وه نو دا دومره موده مفروره ولې پاتې شوه ـ دې ځان قانون ته ولې نه سپارلو ؟

وکیلِ صفائی :ـ جناب عالی ! دَ سرکاری وکیل دَ ړومبی سوال جواب دا دې چې مقتولین زما دَ موکلی دَ خاوند مرحوم حکیم خان قاتلان وو او دَ مفرورانو په حیث په علاقه غیر کښې میشته وو. هغوی به څو په څویمه زما موکلی له خبر رالیږو چې هغوی سره جوړه اوکړی ګینی دَ خپل ځوی او دَ خپل سر نه دې لاس اووینځی ـ زما موکله دَ هغوی دَ ظلم او بربریت په وجه هغوی سره جوړې ته تیاره نه وه ـ چې هغوی دَ جوړې نه ناامیده شو نو بیا یې هغه او دَ هغې ماشوم ځوې وژل غوښتل ځکه چې دَ مرحوم حکیم خان په کیس کښی هغه مدعی وه. دَ هغوی



www.pukhto.net



دا خیال وو چې دا دَ مینځ نه اوځی نو هغوی ته به میدان صفا شی ـ

جناب عالی ! دَ سرکاری وکیل دَ دویم سوال جواب دا دې چې زما موکّله دَ وارداتِ مذکوره په وخت حامله وه ... که هغې په دغه ګرما ګرمی. کښې پولیس له ګرفتاری ورکړې وې نو دَ پولیس دَ تشدد په وجه دَ هغې دَ حمل ضائع کیدو امکان وو او که داسې شوې وې نو دَ ملک وقوم یوه قیمتی سرمایه به دَ سترګو غړیدو نه مخکښې پټې سترګې دنیا نه تلې وه ـ جناب عالی ! هغه متوقع اولاد دَ یوې ښکلی ماشومې په شکل کښې پیدا شوې دې او اوس څۀ دَ پاسه دَ پنځو کالو ده خو دَ مور دَ سینې پیو پسې ډیره موده اوژړیده ـ

جناب عالی ! زما وضاحت ختم شو خو اخره کښې دومره عرض کوم چی که تاسو زما موکلی له دد دې مړانې په صله کښې انعام نشی. ورکولې نو دَ هغې دَ باعزته بری کولو کښې تاخیر اونکړی. ځکه چې واړۀ واړۀ بال بچ یې نن دَ کوځی ورته سترګې نیولی دی او په دې طمعه د مور لاره ساری چې درنګ ساعت له به دَ هغوی مور کورته راځی ـ پلیز '' That is all my lord ''

جج :ـ دَ وکیلِ صفائی دَ وضاحت نه معلومه شوه چې ملزمې څۀ کړی دی نو هغه یې دَ کور په چار دیواری. کښې دننه دَ بیرونی حمله آورو نه خپل ځان او دَ خپل اولاد دَ تحّفظ دَ پاره کړی دی ـ دَ برتش رول او دَ پاکستانی قوانین مطابق دَ کور په چاردیواری. کښې دننه هغې ته دَ خپل ځان او دَ خپل اولاد دَ تحفظ پوره پوره حق حاصل دې ـ دې دَ

پاره ملزمه زرغونه باعزته برى کيږى "۔

وکيل صفائى :۔ شکريه جناب عالى ۔

دے سره هغوى ټول په خوشحالۍ خوشحالۍ بهر اوځى ۔

★★★★★

## شلورمه برخه

چې دَ عدالت رسمى کار روائى ختمه شوه او منشيانو اردليانو او چپړاسيانو خپله خپله چاے شربت واخستو نو صنوبر دَزرغونې غاړه غوټه اوچته کړه او دواړه دَ کچهرۍ نه بهراووتل۔ بهر په رکشه کښې کيناستل او ډوډى خوړلو دَ پاره يو هوټل ته لاړل۔ چې هغه يې په پرده کښې کينوله نو هغه ترينه بهر اووتو او بيره له يې دَ ډوډۍ آرډر ورکړو۔ بيا هغې له راغۍ او ورته يې اووې ، " بى بى که تهٔ خفه کيږې نه نو زهٔ به ډوډۍ بهر اوخورم او تهٔ به دلته په پرده کښې اوخورى "۔

زرغونه :۔ ولې دلته سړو ته دَ ناستې اجازت نيشته ؟

صنوبر :۔ شته دې بى بى خو په پرده کښې تاته مخامخ کيناستل راته ښه نه ښکارى ۔

زرغونه ( مسکۍ شى ) کينه صنوبره ... پرده خو دغه پرده وه چې حالاتو او واقعاتو اوچته کړه ۔ اوس ستا او زما په مينځ کښې دَ ستر پردې څهٔ پاتې شو؟ صنوبره تا چې زما دَ پاره کومه قربانى ورکړه، دَ هغې دَ ستاينې دَ پاره ماسره الفاظ نيشته ۔



www.pukhto.net



صنوبر:۔ داسې مه وايه بى بى ۔ تهٔ زمونږ دَ ټولو بى بى يې ۔ مونږ ټول په تا فخر کوو، ناز کوو چې تا خپل دَ خانۍ کور پريښودو او زمونږ دَ جونګړې درغريبى دې قبوله کړه "۔ ( بيره راځى او هغوى ته ډوډۍ اړدى ۔ چې هغه بهر اوځى زرغونه وائى) " داسې مه وايه صنوبره ۔ ماته خوله هرې خوا راپيښه وه ۔ دَ تيختې او پنائۍ درک مې نه لګيدو ۔ تا مونږ مور او ځوې دَ دشمنانو دَ مينځ نه صحى ، سلامت اوو يستلو او مونږ له دې نه صرف په کور کښې پنائى راکړه بلکه ټول کور دې راته اوسپارلو ۔ دې نه علاوه زما کيس پسې دې تر هغې منډې وهلې چې زهٔ دې دَ جيل نه اوويستلم ۔ د دې نه لويه بله څهٔ نيکى کيديشى "۔

صنوبر:۔ بى بى چې رشتيا خبره درته اوکړم نو ستا خدمت زما ارمان وو۔ تا چې په خپل کور کښې مونږ له کومه ميلمستيا او عزت راکړې دې نو هغه زما دَ ټول عمر په خدمت هم ترسره کيدې نشى ۔ په دې دَ خدايه ډير شکرګزار يم چې ته په خير خيريت برى شوې او زه خپلو خپلوانو او تربورانو ته مخ تورن نه شوم ... بى بى که ستا خوښخه وى نو زهٔ به مې مور له ستا دَ برى کيدو خبر ورکړم ۔

زرغونه ( مسکۍ شى ) ډوډۍ اوخوره نو بيا به يې خبر کړې۔

صنوبر:۔ نه کنه بى بى ، زما دَ خوشحالۍ اندازه تهٔ نشى لګولې۔ زهٔ ويم چې په خپله خوشحالۍ کښې هغوى هم ځان سره شريک کړم۔ بله دا چې ما هغې ته ويلې وو چې کله کار اوشى نو زهٔ به هغې ته

رنګ اوکړم ۔

زرغونه :۔ چې ستا خوښخه ده نو زۀ به پکښې څۀ اوویم ۔

صنوبر موبائیل را اوباسی او مور له په خوشحالئ خوشحالئ دَ هغی دَ بری کیدو زیرې ورکوی ۔ هغوی چې ډوډی اوخوری نو تر سوګړی پوری سپیشل ګاډې اوکړی ۔ څان سره ورو له څۀ میوه دانه واخلی، هغه او خپل سامان پکښې کیږدی او په خندا خوشحالئ روان شی ۔ چې ګاډی روان شو او هغوی دَ پیښور نه اووتل نو دَ زرغونے په مخ څلا راغله څکه چې هغه څۀ دَ پاڅه پنځۀ کاله پس دَ جیل دَ تور تمبو نه اووته او په ازاده فضا کښې یې ساه واخسته ۔ دَ هغې دَ تولو نه لویه خوشحالی دا وه چې هغه خپل واړه بال بچ اووینی ۔ ماشوم عادل او دَ پیو ماشومه سیرت اووینی ۔

" سیرت دَ پیو ماشومه ؟ اوس خو به هغه دَ خیره لویه شوی وی "؟ ... اوس به څومره وی ؟ ... پاپلې به کولې شی ؟ ... نه ، نه هغه خو به دَ خیره منډې وهی ... اوس خو به دَ خیره سکول ته ځی راځی ... چی سکول ته به ځی او که نه ... ما خو دَصنوبر نه دَ هغې دَ سکول متعلق تپوس اونکړو ... اوه ... څه اوس دَ تپوس څۀ ضرورت دې ؟ په خپله به یې اووینم ... سیرت ... ماشومه سیرت چې هغې به ما پسې څومره ژړلی وی ... خفه کیږه مه بچې ... ما ستا دَ پلار په بدل کښې په تا سختې تیرې کړې ... عادله ته څنګه یې؟ ... اوس په څویم جماعت کښې یې ... ته هم ما پسې خفه وې ۔ تا هم ما پسې ژړل ... اوه ... خدایه ۔ خدایه ستا ډیر ډیر شکر دې چې



www.pukhto.net



د دې ماشومانو دَ دپاره دې زۀ دَ جیل دَ ګنده ماحول نه اوویستلم ۔ دا هر څۀ ...دا هر څۀ صنوبر اوکړل ۔ خپلی پیسې یې اولګولې او ماپسی یې څان ملنګ کړې وو۔ صنوبره زۀ بۀ ستا دا نیکی چرې هم هیره نکړم "۔ هغه د دغه خیالونو په ټال زانګیده او په ټیکسی کښی به تر کوره پورې په یوه جُوټه تله راتله ۔ هلته به یې دَ خیال په دریچو کښې خپلو ماشومانو ته کتل او څان سره به یې پټ پټ خاندل ۔ په دغه خیالونو او مسکا کښې هغه کور ته اورسیده ۔ هلته کشورې ابی او ورو چی دَ ګاډی غر واوریدو نو ټولو دَ کوټی ورته رامنډه کړې۔ زرغونه لا دَ ګاډی نه کوزه شوې نه وه چې ټول ترینه چاپیره شول۔ عادل ، نسرین ۔روستو دیکه کړه او په خپله ورمخکښی شو۔ زرغونے چې هغه ښکل کړو نو بیا ورته نسرین مخکښې شوه ۔ هغې لا هغه ښکلوله چې کشوره ابی ورله راغله او هغه یې په دواړه مخه ښکل کړه ۔ دَ هغوی دا ښکلول لا جاری وو چې دَ هغې نظر په سیرت اولګیدو۔ سیرت خپله مور نه پیژنده او حیران حیران یې ورته کتل۔ زرغونے چې هغې ته اوکتل نو خپلې اوښکې یې ټینګی نکړې شوې۔ په چغو چغو په ژړا شوه په ژړا ژړا کښې یې هغه په غیږ کښې اوچته واخسته ۔ کور ته یې بوتله او پاتې اوښکې یې هلته دَ هغې په مخ په ښکلولو ښکلولو اوبهولې ، سیرت حیرانه وه چې دا ښځه څوک ده او ولې ژاړی ؟ چې دَ زرغونے پام بدل شو نو هغه دَ هغې دَ غیږ نه اوخویده او دَ خپلې مور کشورې ابی غیږ له ورغله او

دَ هغې په غیږ کښې یې ځان پټ کړو ۔

## اتلسم باب

سلمان دَ دولسم جماعت امتحان ورکړې وو او دَ خپلې کامیابۍ نه مطمئن وو۔ دغه شان دَ هغۀ ملګرو هم امتحان ورکړې وو او ټول فری شوی وو۔ څوک خپلو خپلو ملکونو ته تلی وو، څوک دَ خپلو والدینو او یارانو دوستانو سره دَ یورپ په ټور تلی وو، څوک په کور پاتې شوی وو او دَ ازاد ژوند دغه شپې ورځې یې انجوائے کولې۔ سلمان هم یو څو ورځو له خپل ملک ته تلل غوښتل خو دَ زرغونے دَ قید په وجه دَ هغۀ زړۀ هلته تګ نه غوښتو۔ بله دا چې دَ هغۀ دَ علم تنده لا ختمه نه وه ۔ هغه هم لکه دَ نورو ملګرو فری شوې وو خو هغۀ خپل ځان فری نه ګڼلو بلکه دَ علم په دغه ښار کښې یې دَ علم خزانې لټولې او دَ خپل نالج امپرو کولو کوشش یې کوو۔ دې دَ پاره به هغه هره ورځ لائبریری ته تلو او دَ جنرل نالج ، انسائیکلوپیډیا، تاریخی او دَ نورو معلوماتی کتابونو نه واخله تر دَ ملټری جنرل نالج پورې به یې ټول کتابونه دَ لائبریری نه واره په واره اوړل او په خپله کمره کښې به یې هغه کتل ۔ دَ هغۀ یوه ملګرې زرمینه خپل مور پلار سره دَ اټلی په ټور تلې وه او بله ملګرې لبنیٰ خپل والدین سره فرانس ته تلې وه۔ دا دواړه دَ هغۀ هغه ملګرې وې چې هر مازیګر به هغه سره اورمرو ملاویدې ۔ چې هغه یواځې شو نو دا موقع یې غنیمت اوګڼله او خپلې مطالعې له یې زور ورکړو ۔ څۀ ورځې پس زرمینه واپس راغله



www.pukhto.net



او مور پلار یې هلته پاتې شو ۔ دَ راتلو سره هغې ړومبی کار دا اوکړو چې دَ سلمان لیدو دَ پاره دَ هغۀ کمرې ته په داسې حال کښې راغله چې هغه په خپل بیډ کښې بالخت ته ډډه وهلې وه او په خپله مطالعه کښې داسې بوخت وو چې دَ دنیا او مافیها نه خبره نه وو۔ هغې دَ هغۀ دَ کمرې ورلرې کړو او غلې غلې دَ هغۀ بیډ له ورغله۔ هغۀ سره غلې غوندې په ترخ کیناسته ، دَ هغۀ دَ لاس نه یې کتاب واخستو ، یوخوا ته یې کیښودو او هغۀ ته یې په مسکا مسکا اووې ”ډیره ستړی صحت دَ پاره ښه نه وی ، مائی ډیر“۔ دې سره هغۀ هغې ته په مسکا اوکتل او وې وئیل ”ته کله راغلې یې“ ؟

زرمینه :۔ اوس یوه شیبه مخکښې ۔

سلمان :۔ کال به دې کړې وې ، زۀ به ائیر پورټ ته استقبال له درغلې ووم او ګلدسته به مې درته پیش کړې وه ۔

زرمینه :۔ ته ؟ ... زۀ دومره کم عقله نه یم چې تاته به مې کال کوو۔

سلمان :۔ څۀ مطلب ؟

زرمینه :۔ که تاته مې کال کړې وې نو ستا راتلل خو لا لویه خبره ده چې خپله کمره به دې هم پرینښې وه او چرته به پټ شوې وې۔

سلمان :۔ تا خو به ازمینښت کړې وې که ...

زرمینه :۔ ازمینښت ؟ داسې ازمینښتونه خو ما څو څو ځله کړی دی ۔ چې کله مې تاته کال کړې دې او تاله راغلی یم نو تا کمره بنده کړې ده او چرته پټ شوې یې ۔

سلمان :۔ دَ دې نه خو دا معلومه شوه چې تهٔ زما په مینه شک منه یې، هغه زرمینی ته په ځیر ځیر ګوری ۔ زرمینه په سپین پتلون او سپین بنین کښې ملبوسه وه ۔ دَ هغې تورې زلفې دَ هغې په شانو دانه وانه پرتې وې ۔ سلمان چې دَ هغې پُرکشش شخصیت ته اوکتل نو مسکې شو او وې وئیل " ماشاء الله نن خو دَ کانو زړونه چوې "

زرمینه :۔ کانی به اوچوی خو په تا به هیڅ اثر اونشی ۔

سلمان :۔ دا اثر کم دې چی زړهٔ مِ ټوپونه وهی، زرمینه دَ هغهٔ په زړهٔ لاس اېږدی او په خندا کښې وائی " اوه نو ، بالکل نارمل پوزیشن کښې دې "۔

سلمان (خاندی) " دا هله قلار شو چې تا ورله لکه دَ یتیم ماشوم په سر لاس کیښودو او دلاسه دې ورکړه "۔

زرمینه ( خاندی ) شاعر خو نه یې ؟

سلمان :۔ شاعر نه یم خو ستا دَ حسن ناتارِ م شاعر کړی ۔

زرمینه :۔ او که شاعر نه شوې ؟

سلمان :۔ که شاعر نه شوم نو لیونی به شم ، دے سره دواړه خاندی ، خو دَ خندا نه پس زرمینه ځان سره غلی غوندې وائی " خدایِ مهٔ که" بیاوائی " سلمانه ، تا دا تپوس اونکړو چې زهٔ دَ اتلی نه ولې راغلم"

سلمان :۔ زما په خیال دَ تپوس ضرورت نیشته ۔ بس سیل سپاټه اوشوه ، ټور ختم شو او ټول راغلی "۔

زرمینه :۔ ټول نه دی راغلی ، صرف زهٔ ترینه دَ ستړی په بهانه راغلم۔



www.pukhto.net



سلمان :۔ دا خو دې ډیر ښه اوکړل ۔ ډیره ښهٔ موقع ده ۔ په دې کښې خپل نالج امپرو کړه ۔

زرمینه :۔ زهٔ ستړی له نه یم راغلی بلکه دَ ستړی په بهانه راغلی یم۔

سلمان :۔ ښه جناب پوهـ شوم خودَ بهانې په شادې څهٔ مقصد دې؟۔

زرمینه :۔ دَ بهانې په شا زما مقصد تا سره لیدل کتل وو۔

سلمان :۔ ډیره مهربانی چې زما لیدو دَ پاره دې خپل مصروفیات پریښودل او راغلی ۔ که څهٔ ضروری خبره وه نو ماسره دې په فون هم کولې شوه یا ګینې زهٔ به دې غوښتې وې ، زهٔ به درغلی وې ۔

زرمینه :۔ هاؤ خبره ضروری ده ۔ دا هلته نشوه کیدې ۔ دی دپاره زهٔ دلته راغلم ۔

سلمان :۔ جی جناب ، خدمت وایه ، زهٔ همه تن ګوش یم۔

زرمینه :۔ سلمانه ، زما مور پلار زما وادهٔ زما دَ ترهٔ ځوی سره کول غواړی "هغه دَ جواب په غرض هغه ته نیغ نیغ ګوری ۔

سلمان :۔ دا خو ډیره ښه خبره ده ۔ خپله کورنی ده ، خپله وینه ده ۔

زرمینه :۔ خپله وینه ده ځکه مِ ورسره زړهٔ وادهٔ کول نه غواړی ۔ سلمانه وادهٔ دَ خپلې وینې نه زیات دَ خپلې مینې پکار دې ۔

سلمان :۔ ستا مور پلار څه وائی ؟

زرمینه :۔ هغوی زمانه زما چوائس غواړی ۔ هغوی غواړی چې خپله ذمه واری ختمه کړی ۔

سلمان :۔ دغه هلک ستا چوائس نه دې ؟

زرمینه :۔ نه ، هغه زما سیکنډ چوائس دې یا داسې به اووایو چې الټرنیټ دې ۔

سلمان :۔ ستا په زړۀ کښې بل څوک شته ؟

زرمینه :۔ هاؤ شته ۔

سلمان :۔ هغه خوش قسمته څوک دې ؟

زرمینه :۔ هغه بدشکله زما اړخ کښې پروت دې ( سلمان اخوادیخوا ګوری ) ۔ "یوخوا ، بل خوا ولې ګورې، تاته ویم کنه "۔

سلمان :۔ تا ماته بد شکل اووې ، ( خاندی او هغه دَ غوږ نه نیسی) "که ماسره دَ حسن مقابله کوې نو راځه چې ائینې ته مقابل شو۔ راځه چې دواړه پکښې خپل خپل شکلونه اوګورو "۔

زرمینه :۔ زۀ سنجیده یم سلمانه ( سلمان دَ هغې غوږ پریږدی ) "ماله جواب راکړه " ؟

سلمان :۔ زرمینې ماته پته ده چې مونږ دواړه یو بل سره مینه کوو خو ...

زرمینه :۔ خو ، اګر مګر نه چلیږی ، سمه خبره اوکړه ۔ تۀ ماسره مینه کوې ؟

سلمان :۔ بے حده ، بے انتها ۔

زرمینه :۔ بیا یریږې ولې ؟ مینه خو دَ دار په سر هم دَ وفا چغې وهی ۔ دا شک شبهه پکښې دَ کومه راغله ۔

سلمان :۔ زرمینې زما حیثیت ستاسو دَ حیثیت جوګه نه دې ۔ زۀ یو



www.pukhto.net



بے موره ، بے پلاره او بے حیثیته سړې یم او تۀ دَ جرمنی دَیو لوی تاجر لور یې ۔ زۀ ستا سیالی نشم پوره کولې ۔ زه تاسره دا ظلم نشم کولې۔

زرمینه :۔ تۀ دَ څۀ نه یریږې ؟ زما دَ سیال نه ؟ سلمانه زۀ تاسره مینه کوم ، او ستا دَ پاره هرې قربانۍ ته تیاره یم۔ ستا سیالی به زۀ پوره کوم۔ ستا پیژندګلو به زما په مخ کیږی ۔ ستا عزت به زما په مخ کیږی۔ تۀ نور څه غواړی ؟۔

سلمان :۔ زۀ دا نه غواړم ۔ زۀ خپله پیژندګلو په خپل حیثیت کول غواړم او فی الحال دا ممکن نه دی ۔ زۀ یو داسې ستوډنټ یم چې دَ جرمنی سرکار په رحم وکرم یم۔ ترڅو چې زۀ په خپلو خپو ولاړ نه یم نو دا سوچ هم نشم کولې ۔ زۀ چې څۀ مقصد دَ پاره راغلې یم، هغه پوره کول غواړم ۔

زرمینه :۔ د دې مطلب خو دا شو چې زۀ تا مایوسه کړم ... سلمانه یو ځل بیا سوچ اوکړه ۔ مونږ دواړو ته پته ده چې مونږ دَیو بل نه بغیر نیمګړی یو۔

سلمان :۔ سوری زرمینې ۔ زۀ تا سره دا ټول عمری ظلم نشم کولې۔

زرمینه :۔ ستا دا ټول عمری سزا زما قبوله ده ۔ که تا انکار اوکړو نو شاید دا به زمونږ اخری ملاقات شی ۔

سلمان :۔ سوری زرمینې ۔ زما دَ طرفه تۀ ازاده یې ۔ زما دعا ده چې هر چرته یې خدای دې خوشحاله ساته ۔

زرمینه :۔ خپله دعا دې ځان سره سمبال کړه ۔ ستا به په کار راشی ۔

زۀ درنه لاړم ـ دې سره هغه پاڅی او په یو شغ دَ هغۀ دَ کمری نه بهر اوځی۔ دَ زرمینې په تلو باندې هغۀ ته داسې محسوسه شوه لکه چې دَ هغۀ دَ بدن نه روح اوتې وی او هغه یو بے روحه ډهانچه پاتې شوې وی ، لکه چی دَ هغې تلو سره دَ هغه دَ ژوند ټول امیدونه او ارمانونه ختم شو او هغه سره هیڅ پاتې نشو ، لکه چې دَ هغه دَ ژوند ټوله هنګامه او دَ ژوند سرود بے سُره شو ـ یو خوا دَ هغۀ په زړۀ دَ مایوسۍ تیرې خورې وې بل خوا دَ هاسټلونو په چاپیریال کښې مکمله خاموشی او چپه چپیاوه ـ البته دغه خاموشۍ به کله کله دَ جامن په اونه کښې دَ چنچڼو په چغار ، دَ څوکیدار په اخ تخ او دَ سلمان په ساړو اسویلو ماتیده او دَ ژوند دَ اثارو څۀ نښنخه پته به لګیده ـ سلمان باقی پاتې ټوله ورځ په خپله کمره کښې ایکی یوائې تیره کړه ـ هغه لا پروت وو چې دَ مازیګر زیړو پلوشو دَ کړکۍ په چودو کښې سرونه دننه کړل او هغۀ ته یې په مسکا مسکا دَ بهر دَ پُرکیفه موسم دَ کتو بلنه ورکړه ـ هغه دَ هغوی بلنه قبوله کړه ، په مزه مزه دَ کټ نه پاڅیدو ، دَ کمرې نه بهر اووتو ، په پوړو لاندې کوز شو او په چمن کښې په یوه کرسۍ کیناستو۔ دَ نمر دَ پلوشو طلائی جال په رومانی فضا خور شوې وو۔ اسمان لکه دَ شین رنګې شیشی بالکل صفا ښکاریدو البته چرته چرته پکښې دَ وریځې سرې ټاکۍ د سور ګلاب دَ شیندلې پاڼو غوندې ښکاریدې۔ دَ اسمان په لمنه کښې دَ وریځې زیرې ټوپنۍ لکه دَ سرو زرو دَ غونډارو ښکاریدې ـ پاس په فضا کښې



www.pukhto.net



ټپوسان خورې وزری لکه دَ جاسوسی طیارو ګرځیدل ، دَ هغوی نه لږ لاندې توتاکرکی ، سانتۍ په سانتۍ اوختل را اوختل او دَ هغوی نه لاندې دَ سپینو کونترو سیلونو دَ فضا په سمندر کښې مستۍ کولې ـ په چمن کښې دَ هغۀ په خواکښې رنګینې لولکۍ تنترکۍ او دَ رنګ وبو قافلې په ګډا او په مستۍ وې ـ داسې معلومیده چې فطرت دا ټوله ښودنه دَ هغه دَ پام بدلۍ او خوشحالۍ د پاره کړې ده ـ هغۀ به یو یو څیز ته کتل خو نه یې په خوله خندا راتله ، نه یې په مخ مسکا خوریده او نه یې په سترګو کښې ځلا راتله ـ هغه نه صرف دَ فطرت نه مرور وو بلکه دَ خپل قسمت نه هم ګیله من وو۔ هغه ډیره شیبه ناست وو۔ بیا غلې غوندې پاڅیدو او په درنو قدمونو او درونډ وجود خپلې کمرې ته روان شو۔

په صبا دَ معمول مطابق چې هغه لائبریری ته ورغۍ نو دَ کتابونو واپس کولو او اخستو نه مخکښې په میز پروت دَ اخبار په یو اشتهار یې نظر پریوتو ـ هغۀ چې اخبار راواخستو او اشتهار یې اوکتو نو په مخ یې دَ خوشحالۍ ځلا راغله ـ هغۀ دَ اشتهار ځینی نکات ځان سره نوټ کړل او لائبریرین له ورغۍ ـ زاړه کتابونه یې هغه له ورکړل او نورو پسې یې دَ شیلفونو او المارو لټول شروع کړل ـ لږه شیبه پس یې یو څو کتابونه لاس کښې اونیول ، لائبریرین سره یې دَ هغې اندراج اوکړو ، په میز پروت اخبار یې ځان سره واخستو او ډیر په تیزۍ سره دَ لائبریرۍ نه اووتو۔ چې خپلی کمرې ته اورسیدو

نـو اشتهـار یې یو ځل بیا اولوستلو ـ چې ښه مطمئن شو نو بیا یې دَ هغې ډکول شروع کړل ـ چې دَ اشتهار فارم یې ډک کړو نو بیا یې دَ اخبار نه اشتهار اوشلوو ، خپل فوټو یې ورسره نتی کړو، په لفافه کښې یې بند کړو او دَ خپلې کمرې مخی ته لګیدلې لیټر بکس کښې یې ورواچوو ـ بیا کمپیوټر ته کیناستو ، هغه فارم یې په کمپیوټر کښې جوړ کړو ، خپل کوائف یې پکښې اولیکل او دَ ای میل په ذریعه یې هغه اولیږلو ـ چې کله دې نه اوزګار شو نو بیا یې کتابونه راواخستل او خپله مطالعه یې شروع کړه ـ

★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★

★★★★★★

★★★★

★★★

★★

★



www.pukhto.net



## نورلسم باب

زرغونے ته پته لګیدلې وه چې صنوبر ګاډې لرې کړې دې او په دې هم شک منه وه چې کیدیشی دَ هغې دَ کیس دَ پاره یې خرڅ کړی وی ـ هغه به سحر لکه دَ عام مزدور دیاړی له تلو او مازیګر ماښام به کور ته راتلو ـ په راتلو کښې به یې دَ کور ماته ګوډه هم اوکړه او وړو له به یې دَ خوراک ، څخاک څیزونه هم راؤړل ـ چې څۀ به پاتې شوې نو هغه به یې مور ته په لاس کښې کینښودې او چې کله به دیاړی نه وه نو ټوله ورځ به دننه ، بهر کیدو او اخوا دیخوا به ګرځیدو ـ زرغونے چې دَ هغۀ پریشانۍ ته اوکتل نو یوه ورځ یې ترینه تپوس اوکړو ، " صنوبره ستا ګاډې خراب شوې دې اوکه دې خرڅ کړې دې " ؟

صنوبر :ـ هغه خراب شوې وو بی بی نو ځان م ترینه خلاص کړو ـ

زرغونه :ـ څومره تاوان دې پکښې اوکړو؟

صنوبر :ـ تاوان م نه دې کړې بی بی ـ په درې لاکهه م اخستې وو او په درې م خرڅ کړو ـ

زرغونه :ـ چې تاوان دې پکښې نه دې کړې نو دې نه معلومیږی چې ګاډی خراب نه وو خو دَ څۀ ضرورت دَ پاره دې خرڅ کړو ـ

صنوبر :ـ نه بی بی داسې هیڅ خبره نه ده ـ

زرغونه :ـ هغه روپۍ دې څۀ کړی ؟

صنوبر:۔ څۀ پرتې دی او څۀ اولګیدې ۔

زرغونه:۔ صنوبر که زما منې نو بل ګاډې پرې واخله ، هغه چلوه ، د دې دیاړې نه به ښۀ وی ۔

صنوبر:۔ دَ ګاډې مزدوری خو ډیره ښه وی بی بی ۔ چې اولګی نو ډیره واره وی پکښې خو ما سره دومره روپۍ نیشته چې ګاډې پرې واخلم او که په قسطونو اخلم نو هغه راته ګران پریوځی ۔

زرغونه:۔ په قسطونو ولې اخلې ؟ تۀ ګاډې بیعه کړه ۔ پیسې به زۀ درکړم ۔

صنوبر:۔ بی بی تۀ ؟ نه ، داسې چرې هم نشی کیدې ۔

زرغونه:۔ داسې ولې نشی کیدې ؟ څۀ چل دې ؟

صنوبر:۔ بی بی زۀ به ستا پیسو ته څنګه لاس اونیسم ؟ دا بے مناسبه ده ۔

زرغونه:۔ ماته پته ده صنوبره چې تا زما دَ کیس دَ پاره ګاډې خرڅ کړې دې ۔ داسې ده که نه ده ؟

صنوبر:۔ نه بی بی داسې هیڅ خبره نیشته ۔

زرغونه:۔ په دې دومره موده کښې دې په ړومبی ځل دروغ اووې او په هغې کښې هم اونیوې شوې (خاندی) داسې ده که نه ده ؟ رشتیا وایه؟

صنوبر:۔ ( خاندی ) هاؤ بی بی هم داسې ده ۔

زرغونه:۔ ستا څومره پیسی پکار دی ؟

صنوبر:۔ نه بی بی نه ۔ زۀ به ......



www.pukhto.net



زرغونه:۔ صنوبره اوس زۀ د دې کور یو بنده یم ۔ زما ژوند او مرګ ، غم ښادی او روغ رنځور دې کور سره تړلی شوی دی ۔ دا څۀ دَ شرم خبره نه ده ۔ صفا خبره اوکړه چې ستا څومره روپۍ پکار دی ؟

صنوبر:۔ بی بی چې صبریږی نه او خامخا راکوې نو بیا دولاکهـ راکړه ۔ څۀ دَ پاڅه یو لاکهـ ماسره شته ۔

زرغونه:۔ هغه مۀ چیړه ، هغه دې پرتې وی ۔ بیا به دې په کار راشی۔

صنوبر:۔ بی بی چې راکوې نو بیا درې لاکهه راکړه ۔ ښۀ دَ مزدورۍ ګاډی پری کیږی ۔

زرغونه:۔ زۀ تاله چیک درکوم ۔ دیکښې په خپله مرضۍ روپۍ اولیکه او اوس اوس لاړ شه ګاډې پرې راوله او ځان سره مورجې او تولو وړو له جامه پیزار هم راوړه او څۀ خواړه هم " هغه خپلې کمرې ته ورځی ۔ دَ خپل سوټ کیس نه چیک بُک راخلی ۔ دَ هغې نه یوه پاڼه کټ کړی او چیک بک واپس کیږدی ۔ چې دَ کمرې نه بهر اوځی نو صنوبر له چیک ورکوی او ورته وائی ۔ " هن صنوبره ، دا چیک واخله ، په دیکښې دَ خپل ضرورت مطابق روپۍ اولیکه "۔ صنوبر چې دَ هغې نه چیک واخلی نو هغه ډک کړی او هغې ته وائی " بی بی په دې پن ګوته توره کړه او په دې چیک یې په دې ځاې اولګوله"

زرغونه چې په چیک ګوته اولګوی نو دَ هغۀ نه تپوس کوی ، " څومره روپۍ دې پکښې اولیکلې "۔

صنوبر:۔ درې لاکهه مِ اولیکلې بی بی ۔

زرغونه :ـ په دې به کار اوشی ؟

صنوبر :ـ دا ډیر شې دې بی بی ـ زرغونه کمرې ته ورغله ـ دَ سوټ کیس نه یو موټې روپۍ راخلی ، دَ هغۀ خواله راشی او ورته وائی " دا روپۍ واخله صنوبره په دې ځان له ، مورجی او ټولو ورو له جامه پیزار راؤړه او که تیرې شوې نو کور له سود سودا هم پکښې راؤړه ـ

صنوبر :ـ دا ځان سره کیږده بی بی ـ د دې ضرورت نیشته ـ دغه ټول ځیزونه به په دې کښې اوباخو ـ

زرغونه :ـ نه ، داسې نشی کیدې ، دا واخله او شابه ځان رسوه ـ

صنوبر چیک په جیب کښې واچوو او دَ هغې دَ وینا مطابق ډیر په توندۍ دَ کوره اووتو ـ چې بالاکوټ ته اورسیدو نو بارګین ته ورغی ـ هلته یې ګاډې بیعه کړو ـ چې خبره جوړه شوه نو بیا یې چیک کیش کړو ـ مالک له یې خپلې پیسې ورکړې او باقی یې جیب کښې واچولې ـ بیا ګاډی کښې کیناستو او دَ زرغونے دَ وینا مطابق یې ټوله سودا اوکړه ـ سودا یې ګاډی کښې کیښوده او په خوشحالۍ خوشحالۍ کور ته روان شو ـ چې کور ته اورسیدو نو زرغونے له یې باقی پیسې ورکړې ـ دَ ګاډی په راتلو دَ هغۀ په کور کښې خوشحالی راغله ـ دې نه پس دا دَ صنوبر معمول شو چې هر سحر به یې ګاډې مزدورۍ له ویستلو او چې مازیګر ، ماښام به کور ته راغی نو ټوله مونۍ به یې دَ جیب نه را اوویستله او زرغونے ته به یې په لاس کښې کیښوده او ورته به یې اووې " بی بی دَ کور دَ سودا او دَ ګاډی دَ خرچې



www.pukhto.net

سلمان لیونے (پښتو ناول) پرویز شیخ

نه علاوه دا دَ ننۍ ورځې بچت مزدوری ده "ـ هغې څو څو ځله منعې کړو او ورته یې اووې ، " ماله یې مۀ راکوه ، مورجی شته ، هغې له یې ورکوه "ـ خو هغه نه منعې کیدو ـ هغې به هغه ټولې روپۍ راواخستې او کشورې ابۍ له به یې ورکړې ـ اوس هغوی ټول ښه مطمئن وو ـ ماښام به ټول په یو دسترخوان کیناستل او ښه په مړه خیټه به یې ډوډۍ خوړه ـ بیا به تر ناوخته پورې ناست وو ، خپلې خبرې به یې هم کولې او اوچه میوه به یې هم خوړه ـ ماسخوتن تیر به ترینه صنوبر پاڅیدو خپل کور ته به دَ دواړو کورونو په مینځ کښې په وړوکی ور لاړو ـ زرغونه به خپلې کمرې ته لاړه او کشورې ابۍ به ټول واړه ځان سره راغونډ کړل ، خوږې خوږې قیصې به یې ورته کولې او په دغه قیصو کښې به یې هغوی اوده کړل ـ

دَ دې دومره سکون ، ارام او خوشحالۍ باوجود هم کشوره ابۍ مطمئنه نه وه ـ د هغې په زړۀ ډیرې خبرې وې خو دَ ویلو جُرأت یې نشو کولې ـ هغې به چې دَ صنوبر ځوانۍ او دَ هغۀ نیمګړې ژوند ته کتل نو نیمه نه پاتی کیده کشوره ابۍ او زرغونه به ټوله ورځ په کور کښې لکه د مور او لور ناستې وې او دَ انګا بنګا خبرې به یې کولې ـ په دغه خبرو اترو کښې یو ځل دَ کشورې ابۍ دَ خولې نه دَ صنوبر دَ واده خبره اووته او زرغونے ته یې اووې " بی بی صنوبر زما خبره نه منی خو ستا منی ـ تۀ ورته په روګودر کښې دَ واده اورونه اوکړه ، خدای لوې بادشاه دې که په زړۀ یې دَ رحم اوبۀ توی شی او واده ته غاړه

کیږدی ـ

زرغونه :ـ مورجی یوه خبره درته اوکړم ، منی ؟

کشوره ابیۍ :ـ یـه بی بی چې ستا نه منم نو دَ چا به منم ؟ تهٔ خو ماته دا پاس اسمان یې ـ

زرغـونـه :ـ هغـه پریږده مورجی ، هغه به راضی شی ـ دا دومره لویه خبره نـه ده ـ تـهٔ ورلـه چرته درک اوکړه چې هغه په ځان پو هیږی چې مونږ ورله نیوکه کړی وی ـ

کشـوره ابیۍ :ـ نیوکه اسانه ده بی بی ، دې ټولو خپلو، خپلوانو راته دَ خپـلې یـانـدې ویـلـې دی او ځـو ځـو ځله ـ که اوس اووتم نو مازیګره پورې به درې څلور لاس نیولې راولم ـ

زرغـونه :ـ ( خاندی ) مورجی چې دومره په اسانه کیدیشی نو تهٔ ورته لا ګورې ـ اوس ورله یوه راوله ، دغه دوه ، درې به بیاشی ـ

کشوره ابیۍ :ـ یَـه بـی بـی ، پـه دې یـریږم چې بیا پکښې اخوا دیخوا اونکړی ـ

زرغـونـه :ـ هیـڅ نشـی ویلی مورجی ـ که هغه پوزه چونږوله نو ورته وایه چې دا هر څهٔ ما کړی دی ـ

کشـوره ابیۍ ( مسـکـۍ شـی ) کـه داسې اوشـی نو سـتـا دَ نیکۍ بـه ورنشم بی بی ـ

زرغـونـه :ـ واه مورجی ( خاندی ) دیکښې دَ نیکۍ څهٔ خبره ده ـ چې زما اونهٔ منی نو بیا به مِ دې کور کښې اونهٔ وینی ـ کډه به ترینه اوچته



www.pukhto.net



کړم او چرته په کرایه به اوسیږم ـ

کشوره ابیۍ :ـ داسې مه وایه بی بی ـ په دې خبره دې ډیره خفه کړم ـ

زرغـونـه ( خاندی ) په دې مهٔ خفه کیږه مورجی . دا خو مِ هسې ستا دَ زړهٔ دَ پاره اووې ـ دا هرڅهٔ په ما پریږده ، څه تهٔ خپل کارشروع کړه "ـ

★★★★★

## دریمه برخه

کشـورې ابیۍ چې دَ صنوبر رشته څومره اسانه ګڼله ، هومره ورته ګرانه شوه ـ هغه په ناجوړه ځان او مات ګوډ وجود ، خپلو خپلوانو ، عـزیـزانـو تـربـورانـو اوکـلـی محلت کښې ځو ځو ورځې اوګرځیده خو خونـد یـې اونـکـړو ـ هـغـه ښځو چې ورته یې خپلې لونړه ځوځو ځله سنـدلـې وې او پـه شـنو جامو کښې یې ورته دَ ورکولو اورونې کړې وې اوس ترینه ټولې روستو شوې ـ چابه ورته وې هغه کونډ دې ، چابه ورته وې هـغـه دَ پیـغـلې لور پلار دې او دَ هغې لور ماشومه جینۍ ده ـ چا به ورتـه وې دَ هغهٔ څهٔ دی ؟ نه سرکاری نوکر دې او نه یې څهٔ خپل کاروبار شتـه ، دغـه یـو ګاډې چلوی او هغـه هم پردې دې ـ یوې ښځې ورتـه عـکسـی اووې " یـه ادې چې دومـره ګـرځـی نو دغه په کور کښې چې درسره ښاپیرۍ ناسـتـه ده ، دغه ورله اوکړه کنه "ـ کشورې ابیۍ چې دَ هغې اغیږلې خبره وورېده نو څخیدلې اوښکې دَ هغې دَ کوره اووته او خفـه دلګیـره خپـل کـورتـه روانه شوه ـ چې هغه دَ صنوبر دَ رشتې نه نـاامیـده شوه نو په خپل کور کښې ښهٔ په پخه پریوته ـ هلته زرغونې دَ

هغې په وینا دَ صنوبر دَ وادهٔ دَ پاره جامې ، جوړې او نور دَ ګوتې ګوتې شې اخستو ، هغه به یې کشورې ابۍ ته ښودو او دَ هغهٔ دَ ناوې دَ پاره به یې سمبالوو، کشورې ابۍ دَ کلی محلت دَ ښځو خبرې دَ زرغونے نه پټې اوساتلې ۔ چې دَ ناوې جوړې جامې پیزار او نور نرې سامان مکمل شو نو کشورې ابۍ ته یې اووې " مورجی دَ ناوې سامان مکمل شو ۔ اوس لاړه شه یوه دَ لاس نه اونیسه او راې وله(خاندی)۔

کشوره ابۍ :۔ یَه بی بی زمانه خوناپوره شوه ۔ چا چې ماسره لوظونه کړی وو هغه ټولې روستو شوې۔

زرغونه :۔ مورجی ، مونږ چې ورله دا سامان اخستې دې ۔ دې سره به ځهٔ کوو؟

کشوره ابۍ :۔ زمانه خو ناپوره شوه بی بی ۔ ټولو جوابی کړم ، چې چا کره ورځم نو اغیړلې خبرې کوی ۔ زهٔ پکښې اونښوم بی بی۔

زرغونه :۔ داسی مه وایه مورجی چې ستانه ناپوره شوه نو زهٔ به درسره ګرځم خو هغه له به ناوې راولو او د دې ټولو دَ قصده به یې راولو ۔ که مونږ داسې چپه خوله کینو نو بیا به راپورې ټول خاندی۔ مورجی ځان تیار کړه چې اوځو او هغه له ځهٔ غم اوکړو ۔ دې نه پس کشوره ابۍ او زرغونه دَ صنوبر دَ رشتې دَ پاره اووتې ، څو څو ورځې اوګرځیدې او څو څو کورونه یې اوکتل خو خوند یې اونکړو ۔ اخر دا چې په دریم کلی بوړۍ کښې یوه پوخ عمره پیغله چې دَ صنوبر نه لس اتهه کاله خواؤ شا مشره ښکاریده ، هغه یې ورله اومیرله او


www.pukhto.net



هغوی ورته ښه اوکړل ۔ په صبا دَ هغوی له خوا دَ هلک او کور کتو دَ پاره زنانه راغلې ۔ هلک هم دَ هغوی خوښ شو، دَ هغهٔ کور هم او دَ هغهٔ کاروبار هم ۔ زرغونے دَ ناوې ټول سامان راواخستو او هغوی ته یې مخکښې کیښودو۔ هغوی چې دغه هرڅهٔ اولیدل نو ډیر خوشحاله شو۔ حلوا اوخوړې شوه ، دَ هغوی شونډې غوړې او ګیډې مړې شوې او په خوشحالۍ خوشحالۍ دَ هغوی دَ کوره اووتې ۔ صنوبر چې دَ خپلې نیوکی نه خبرشو نو دَ قهره جلبل شو او دَ غصی نه یې سترګی سرې شوې کشورې ابۍ چې دَ هغهٔ غصې ته اوکتل نو ورته یې اووې " ځویه دا نیوکه مانه ده کړې ۔ دا بی بی کړې ده ، دغه ده ناسته ده تپوس ترینه اوکړه "۔ صنوبر چې دَ بی بی نوم واوریدو نو یخې اوبه پرې توې شوې او یخ کیناستو۔ بله ورځ کشوره ابۍ او زرغونه دَ وادهٔ دَ نیټی دَ پاره خپلو ښیخانو کره لاړل ۔ دوی چې دَ نیټې خوله واچوله نو هغوی ورته اووې چې " سرې راولۍ چې خبره ورسره اوکړو "۔ زرغونے ورته اووې چې " زمونږ خو دغه یو سړې دې چې دَ وادهٔ زلمې دې او هغه په خپله نشی راتلې "۔ دَ هغوی ښځو او سړو ته چې دَ هغوی دَ مجبورۍ پته اولګیده نو نیټه یې ورکړه ۔ هغوی په خندا خوشحالۍ کورته راغلې او هغه کورونو کره یې خوارهٔ اولیږل چا چې دَ صنوبر دَ رشتې نه انکار کړې وو۔ هغوی چې دَ صنوبر دَ رشتې او دَ وادهٔ دَ نیټې نه خبر شو نو دَ مبارکۍ دَ پاره هغوی کره راماتې شوی او دَ هغوی نه به یې تپوسونه کول " دا

ښیخی مو کوم ځاې اوکړه ؟ کوم کلی کښې اوشوه ؟ په کومه کورنۍ کښې اوشوه " دوی به ورته یو غر او بل غر ویشتو او انګا بنګا به یې ورته وې خو دا خبره به یې ترینه پټه ساتله ۔ په کور کښې دَ خانک اویګچی ټنګ، ټکور شروع شو ۔ دَ محلت جینکۍ به هم راتلې او نسرین او سیرت به هم خپلې ګډاګانی کولې او لوبې به یې ویلې ۔ کله کله به ورته کشوری ابۍ هم ځانګونه اووهل او دَ زړې زمانې ګډا به یې کوله ۔ چې هغه به په ګډا ګډا ستړې شوه نو زرغونه به یې دَ لاس نه اونیوه او دَ ځان په ځاې به یې هغه میدان ته راکوزه کړه ۔ مخکښې خو هغه شرمیده خو چې دَ کشورې ابۍ ګډا ته یې اوکتل نو هغه هم ډاډه شوه ۔ په ګډا ګډا کښې به داسې سره شوه لکه چې چا پرې دَ ګولیهار پونه کړې وی ۔ چې هغه به ستړې شوه نو هغې به نسرین دَ لاس نه اونیوه او میدان ته به یې راکوزه کړه او چې نسرین به ستړې شوه نو هغې به سیرت راکوزه کړه ۔ یوه ورځ زرغونه ګډیده چې صنوبر پرې دَ پاځه راغی ، چې دَ دواړو سترګې اولګیدې نو زرغونه اوشرمیده، خپلې کمرې ته لاړه او صنوبر مسکی شو دَ لارې نه واپس شو ۔ دَ صنوبر دَ وادۀ ټوله خرچه زرغونې په خپل سر اخستې وه ۔ دَ وادۀ کارډونه چهاپ شوی وو روژې غوری راغلی وو ۔ قصاب سره دَ غوښې خبره شوې وه ، او کولالان خبر کړی شوی وو ۔ زرغونې غوښتل چې دَ صنوبر وادۀ په ټول کلی کښې یو مثالی وادۀ وی ، دَ هغې په دومره خرچه دَ هغې او صنوبر تر مینځه ځۀ خوړې



www.pukhto.net



ترخی هم راغلې خو صنوبر ته چې دَ هغې دَ خلوص احساس اوشو نو معافی یې ترینه اوغوښتله او ورته یې اووې " بی بی چې څنګه دې خوښخه وی هغسی اوکړه زۀ به چرې هم ستا مخې له درنشم "۔

زرغونه :۔ تۀ زما مخې له نشې راتلې ، پیسی زما لګی او زړۀ ستا خوږیږی ۔ دَ هغې په دې ستغه خبره دَ صنوبر ښه مړاوې شوه ۔ هغه پوهـ شوه چی صنوبر خفه شو ۔ دَ هغۀ خواله ورغله ، مسکۍ شوه او ورته یې اووې " صنوبره که زما په خبره خفه شوې یې نو زۀ درنه معافی غواړم "۔

صنوبر:۔ نه بی بی نه ، ستا په خبره به زۀ څنګه خفه شم ۔ تۀ چې څۀ کوې خو زمونږ دَ عزت دَ پاره یې کوی خو ستا خلوص دومره زیات دې چې زما دَ برداشت نه بهر دې ۔

زرغونه :۔ ګوره صنوبره ستا په خپلوانو او تربورانو کښې چا هم تا سره رشته اونکړه بلکه هغوی به څۀ نورې نورې خبرې کولې ۔ دغه ټول ستا په خوشحالۍ او ستا په کوروډانۍ خفه دی ۔ زۀ غواړم چې داسې ډوډۍ پرې ورکړې چې هغوی ورته حیران پاتې شی ۔ ته زما په مقصد پوهـ شوې ۔ دا خبره ده ۔

صنوبر :۔ بی بی زۀ په هر څۀ پوهـ یم خو ....

زرغونه :۔ چی پوهـ یې نو ځه ته ورشه خپل کار راغونډ کړه تۀ اوځه چې دا جینکۍ خپلۍ خندا خوشحالۍ اوکړی "۔ دې سره صنوبر مسکې شی او بهر اوځی ....دَ هغوی دَ وادۀ دغه هلی ځلی روانې

وی او نیتـه راروانـه وه ـ چې وادهٔ تـه دوه ورځـی پاتـې شـوې نو په یو طرف دَ وادهٔ پالنګونه او فرنیچر راغی۔ او په کور کښې کیښودو شو او پـه بـل طـرف دَ هـغـوی دَ ښـیـخـانـو لـه خوا یوه زنانه استاذې راغله او هـغـوی لـه یې دا پیـغام ورکړو چې دَ هغوی ښیخان دَ خپلې خبرې نه روستـو شـو او وجـه یـې دا اوښودله چې یو خوا هغه دَ پیغلی لور پلار دې ، بـل خوا هغه بے روزګار دې او چې کوم ګاډې هغه چلوی ، هغه دَ هغـه نـه دې بلکه دَ بل چا دې او هغه یې په مزدوری۔ چلوی ـ هغوی سره دهوکـه شـوې ده پـه دې وجـه هغوی دې رشتـه تـه تیار نـه دی ـ زرغـونـے چـې دا خبـره ووریده نو دَ هغې دَ سر نه لوخړه اوخته ، خپلې کـمرې ته لاړه او په خپل کټ کښې ډبه ډوبه پریوته ـ دَ کشورې ابی۔ دَ خپـو نـه دم اوختـو او پـه چغـو چغـو په ژړا شوه ـ هغه په زمکه خفه کیـنـاسته ، سرته لاس کیښودو او لړی لړی۔ اوښکې یې په مخ راماتې شوې ـ یـو خوا هغې ژړل بل خوا زرغونے ژړل او هلته جینکو خپلې ګډاګانی کولې ـ

چـی کـلـه دَ زرغـونـے زړهٔ تش شو او وجود یې سپک شو نو دَ کمرې نه بهـر را اووته او کشورې ابی۔ له یې تسلی ورکوله ـ مازیګر چې صنوبر کورته راغی۔ او دَ مور دَ خولې نه یې دَ ښیخانو پیغام ووریدو نو دَ قهره سره لـمبه شو ـ مور سره یې هغه والوځولې چې ډیر لرې لرې لاړو۔ دَ هغه غصه وار تر واره زیاتیده او دَ خولې نه یې دَ توکانو فواره ځخیده ـ هغـې ژړل او هغـهٔ ورپـوې انـختـې وو۔ چـې اونشوه نو هغې ورته



www.pukhto.net



اووې " دا مـا نـه دی کـړی ـ دا هـر څـهٔ بی بی کړی دی ، ورشـه تپوس ترینه اوکړه "۔

صـنـوبـر:ـ هـر چـا چې کړی دی خو ماته خو هم یو لار اوښایی۔ ـ زهٔ به اوس څـهٔ کـوم ـ زهٔ خـو دَ خلقو دَ خندا شوم ـ زهٔ به خپلو تربورانو سره سترګی څنګه لګوم ؟

زرغـونـے چې دَ هغهٔ قهریدلې خبرې ووریدې نو دَ خپلې کمرې نه بهر اووتـه ، دَ هـغـهٔ خـوا لـه راغله او ورته یې اووې " صنوبره ، دا رشته ستا مـور نـه ده کړې ، دا ماکړې ده او ما ستا پوره پوره ذمه واری اخستې ده ـ چې څهٔ وائې نو ماته وایه دا قصور زما دې دَ مورجی نه دې "۔

صـنـوبر:ـ بی بی زما ستا په خلوص شک نیشته خو زهٔ څهٔ اوکړم ؟ زهٔ خـو دَ خـلقو دَ خندا شوم ـ تاسو خو کور ناستې یې دَ بهر نه خبر نه یې خو زهٔ دَ بهر سړې یم او بهر ګرځم ـ زهٔ به دَ خلقو دَ خندا څهٔ جواب کوم مـا خـو دَ دنیـا میـلمانهٔ خبر کړی دی ، زهٔ به هغوی سره څنګه سترګی لـګـوم ، ښـه بـه دا وی چـې دَ نیتـې نـه مخکښې مخکښې زهٔ دا کلی پریږدم۔

زرغـونـه :ـ صـنـوبـره ، لږ سارهٔ خـوره ـ دا ستـا کـلی دې او کلی چاته پریږدې ؟

صـنوبر:ـ زهٔ چې دا غوړی ، روژی واپس اوړم نو دا خلق به څهٔ وائی ؟ـ زهٔ چې پالنګونه واپس اوړم نو خلق به څهٔ وائی ؟

زرغـونـه :ـ صـنـوبره ، پالنګونه او فرنیچر دَ کمرې ځیزونه دی او کمره

کښې به پراته وی ۔

صنوبر :۔ او دا غوړی روژې ؟ دا به واپس اوړم ؟

زرغونه :۔ نه ، دا به واپس نه اوړې ، دا به ستا په وادهٔ پخیږی او خوړلی کیږی ۔

صنوبر:۔ واه ، هسې به پخیږی او خوړلې کیږی ، او چ په او چه ؟

زرغونه :۔ دا به ستا په وادهٔ پخیږی او ستا وادهٔ به کیږی خو دَ بوړی کلی ناوې سره نه بلکه ستا بی بی سره ۔

صنوبر او کشوره ابۍ په حیرانتیا " بی بی تهٔ " ؟

زرغونه :۔ هاؤ مور جی زهٔ " دې سره هغه مسکۍ شی او خپلی کمرې ته ځی ۔ صنوبر هم مسکې شی او بهر اوځی ۔ کشوره ابۍ دَ اوښکو ډکې سترګې اسمان ته نیسی او وائی " یاالله ستا ډیر ډیر شکر دې"۔ هغه دومره خوشحاله وی چې دَ ډیرې خوشحالۍ نه نورځهٔ اونه ویلې شی ۔ پاځی زرغونې پسې دَ هغې کمرې ته ورځی ، هغه ښکلوی او ورته وائی ، بی بی زهٔ به ستا دَ دې نیکۍ ورنشم ،زرغونه مسکۍ شی او هغې ته وائی " مورجی اوس راته بی بی نه بلکه لور وایه "۔ دې سره کشوره ابۍ په خندا شی او یو ځل بیا هغه ښکل کړی۔

★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★



www.pukhto.net



★

## شلم باب

زرمینه چې دَ سلمان دَ کمرې نه اووته نو داسې غیبه شوه چې دَ مرې ژوندی پته یې نه لګیده ۔ سلمان ته دَ هغې دَ خفګان احساس شوې وو او دَ هغې دَ تلو نه پس یې هغې له ځوځو ځله رنګونه ورکړل خو دَ هغې له خوا ورته هیڅ جواب ورنکړې شو۔ څهٔ موده پس لبنیٰ هم دَ فرانس نه راغله او دَ هغهٔ لیدو کتو له دَ هغهٔ کمرې ته ورغله ۔ سلمان په خپله مطالعه کښې مصروف وو۔ هغې چې هغه مصروف اولیدو نو دَ ور په دُرشل اودریده او دَ هغهٔ دَ پام راګرځولو دَ پاره یې دَ ور په تمبه ناکنګ اوکړو۔ سلمان چې هغې ته اوکتل نو هغې ورته په مُسکا اووې " دننه درتلې شم " ۔ هغه مسکې شو او وې وئیل " ستا دَ راتلو نه مخکښې ستا دَ وړمو کاروان بغیر اجازته رارسیدلې دې او ستا دَ راتلو شفارس یې کړې دې "۔

لبنیٰ یو خائسته او نفیس بادامی سوټ اغوستې وو۔ دَ هغې زر زری زلفې دَ هغې په شانو خوری وری وی او په سترګو یې تورې چشمې پرتې وې ۔ دَ هغې هرې ادا چیچل او هرې مسکا خوړل کول۔ سلمان کتاب بند کړو ، یو خوا ته یې کیښودو او دَ هغې په خیر راغلی له پاځیدو، دَ روغ جوړ نه پس هغه دَ هغهٔ بیډ ته مخامخ په یوه کرسۍ کیناسته ۔ هغهٔ هغې ته یو ځل بیا په مسکا اوکتل ، مسکې شو خو په خوله یې هیڅ اونه وې ۔ دَ هغهٔ دَ مُسکا په جواب کښې لبنیٰ هم

مسکې شوه او ورته یې اووې " وایه په زړهٔ دې څهٔ دی "؟

سلمان :۔ هسې یو خواست مې کول غوښتل خو جرأت مې اونکړې شو ۔

لبنیٰ ( مسکې شی ) تهٔ او خواست ؟ ته خو همیشه حکم چلوې ۔ دَ خواست دا تکې مـا دَ پـاره نـوې دې . . .ښـه وایـه خپل خواست ، کیدیشی ستا په خواست غور اوشی او دا هم کیدیشی چی رد شی او دَ ردې تو کرې ته اوغورځولی شی ۔

سلمان :۔ مادا خواست کوو چې که خفه کیږی نه نو دې زلفو له دې یو څند ورکړه چې دا ټوله فضا معطره شی ۔

لبنیٰ ( مسکی شی ) اوه ، دا خبره ده ؟ تهٔ په ما طنز کوې ؟

سلمان :۔ دَ طنز جرأت دا غلام څنګه کولې شی ۔ صرف خواست کولې شی او هغه هم په یره یره ۔

لبنیٰ پـاځـی ، خپلې اوږدې خوری وری زلفې راغونډه وی ، په موټی کښې یې دَ ګلدستی په شکل کلکې نیسی او دَ هغه مخ له پرې یو شړق ورکوی ۔ سلمان دَ هغې زلفې په لاس کښې نیسی ، په مخ یې راکاږی ، سترګی پټې کړې او دَ وږمو پـه دغـه بحیرونو دَ خپل زړهٔ مړاوې ګلستان له دَ نوې ژوند احساس ورکوی ۔ لبنیٰ هغه ته یو شیبه په مُسکا ګوری او بیا وائی ، " دا د فرانس پرفیوم دی "۔ سلمان سترګی اوغړه وی ، هغې ته په نشیزو سترګو ګوری او وائی ، " چرې هم نه ، دا دَ فرانس پرفیوم نه دی بلکه ستا دَ ګل بدن فطرتی وږمې دی چې دَ ستا دَ زلفو دَ هر تار او ستا دَ رګ رګ نه دوړیږی او خوریږی۔



www.pukhto.net



لبنیٰ ( مسکې شی ) اوه ، دا مبالغه ده که په ما طنز کوې ؟

سلمان :۔ دا نه مبالغه ده او نه طنز دې بلکه دا حقیقت دې۔ دیکښی نشې دی او دیکښې وږمې دی ۔

لبنیٰ :۔ دا سترګی دې ولې سرې شوې ؟

سلمان :۔ چې نشه دَ حد نه زیاته شی نو سترګې سرې شی ۔

لبنیٰ ( خاندی ) خیر خدایه خیر دا هلک چرته لیونې نشې۔

سلمان :۔ که خفه کیږی نه نو دَ سترګو ستردې مات کړه او دَ چشمو دا نقاب ترینه لرې کړه چې زهٔ پکښې خپل عکس اووینم "۔

دې سره هغـه مسکې شی او دَ سترګو نه چشمې لرې کوی ۔ سلمان چې هغې ته اوګوری نو دَ هغې سترګی تکې سرې وی ، هغه ترینه په یره یره تپوس اوکړی ، " ستا سترګی سرې دی لبنیٰ ؟ دا ولی ؟ شوګیره دې کړی ده او که دې ژړلی دی "۔

لبنیٰ :۔ دواړه شوی دی ۔

سلمان :۔ اوه مائی ګاډ ، ولی څهٔ شوی دی ؟ زړوایه لبنیٰ څهٔ شوی دی ؟

لبنیٰ :۔ Don't worry ۔ اوس به ښهٔ شی ۔

سلمان :۔ ښه بـه شی انشاء الله خو زهٔ درنه دَ وجې تپوس کوم ۔ ولې څهٔ شوې دی ؟ ولی شوګیره وې او ولې دې ژړلی دی ؟

لبنیٰ :۔ دا تپوس مهٔ کوه دا زما ذاتی مسله ده ۔

سلمان :۔ اوه ، سوری ، بے شکه دا ستا ذاتی مسله ده ۔ ماله واقعی دا تپوس کول نـه وو پکار " But I'm sorry, really sorry " ۔ هغـه

خپل کتاب راخلی ، هغه پرانیزی او دَ هغې په لوسته کښې ځان مصروف ساتی ۔ لبنیٰ مسکے شی ، دَ هغهٔ دَ لاس نه کتاب اخلی ، یو خوا تـه یې اړدی او وائی " خفه شوې " ؟ ۔ سلمان په خړو روڅو هغې تـه ګوری او وائی " نـه ، تا خو څهٔ دَ خفګان خبره نه ده کړې البته مانه غلطی اوشوه چې تانه مِ ستا دَ ذاتی مسلې تپوس اوکړو ۔ But I am sorry for that one ، مالـه دا تپـوس کـول نـه وو پکار "۔ هغه بوټ سوټ ملاست وی او سترګی یې په مخامخ دیوال ښخې کړې وی۔

لبنیٰ ( په مُسکا ) دَ چائے ، شربت ست نه کوې ؟

سلمان :۔ چائے په تهرماس کښې په میز پرته ده او بوتل په فرج کښې دې چې څهٔ غواړې ځان له یې راواخله ۔

لبنیٰ :۔ داسې معلومیږی چې تهٔ زما په خبره خفه شوې یې ؟ چې تهٔ خفه یې نو زهٔ به درنه لاړه شم ( هغه پاڅی )

سلمان :۔ O.K ، په مخه دې ښه ۔

لبنیٰ (خپـه زمکی له راخلاصه کړی ) مائی فټ " هغه بیا کینی او دَ هغـهٔ ردِ عمل ته ګوری ۔ چې هغه پرې غم غرض اونکړی نو هغه بیا پاڅی ، دَ هغـه بیـډ تـه اودریږی او په یو درز دَ هغهٔ په بیډ کښې ځان غورځوی ۔ سلمان هغې ته شا کړی او مخ بل طرف ته واړه وی ۔ لبنیٰ دَ هغـهٔ مـخ ځـان ته راګرځوی خو هغه نیغ سملې او مخامخ دیوال ته ګوری ۔ دَ هغـه نظر په دیوال داسې لګیدلې وی او داسې په ځیر ځیر ورتـه ګوری لـکـه چې د دنیا په نقشه کښې یو وړوکې کلې او په کلی



www.pukhto.net



کښې محلت لټوی ۔ لبنیٰ دَ هغه په سینه لاس کیږدی او په مسواکه ګوتـه دَ هغـهٔ لانـدینـے شونډه راکاږی او بیا یې په شرق پریږدی ۔ دې سره دَ هغـهٔ لاندې شونډه بره شونډے سره لګی او دَ معصومانـه موسیقی سُر پیدا کیږی ۔ سلمان دغسې پریسیدلې پروت وی او دَ هیـڅ ردِ عمـل اظهار نـه کـوی ۔ چې دَ هغهٔ دَ برداشت لمحې ختمې شـوې نـو ناګهانه یې یو برق کړې او په خندا شو ۔ بیا پاڅیدو ، دَ فرج نـه یې یو بوتل راواخستو او هغې له یې ورکړو ۔ هغې په بوتل خوله کیښوده ۔ یو دوه غټ غټ ګوټه یې ترینه اوکړل او بوتل یې هغهٔ ته واپس کړو ۔ هغهٔ پاتې بوتل خولې ته اونیوو۔ لبنیٰ چې هغهٔ ته اوکتل نو وې وئیل ، "اوه نو نو ۔ دا ما جُوټه کړې دې ۔ دا مهٔ څکه ۔

سلمان :۔ دا زما ذاتی مسله ده ۔ دا تپوس مه کوه ۔

لبنیٰ ( مسکے شی ) بدل اخلی ؟

سلمان :۔ نه ، دا ستا دَ سوال جواب دې ۔

لبنیٰ :۔ For God sake sulman,forget it all. I am sorry.

سلمان :۔ O.K ، ټیک ده ۔ معاف شوې ۔

لبنیٰ :۔ اوس رانه بیا تپوس اوکړه نو ټول حال به درته اوویم ۔

سلمان :۔ نه لبنیٰ ، هیڅ ضرورت نیشته ، زهٔ دَ چانه دَ چا ذاتی تپوس نه کوم۔

لبنیٰ :۔ د دې مطلب دا دې چې تا زهٔ دَ زړهٔ نه معاف کړې نه یم۔

سلمان :۔ نه ، نه ، تهٔ معاف شوې یې خو ماته دا سبق ملاؤ شو چې دَ

چانه دَ چا ذاتي تپوس نه دې پکار ـ

لبنیٰ :ـ دې نه خو معلومه شوه چې مونږ عامے او غیر متعلقه خبرې کولې شو خو ذاتي نه ـ (هغه ته ګوری)

سلمان :ـ ماته څۀ له ګورې ـ د دې ابتدا خو تا اوکړه مانه ده کړې ـ

لبنیٰ :ـ چې مانه غلطي اوشوه او معافي مې اوغوښتله نو اوس مې هم نه معاف کوې ؟ چې زما دلته څۀ حیثیت نیشته نو زۀ بیا په دې بورکن ماحول کښې څه کوم ؟ زۀ دلته نوره نشم ایساریدی ( هغه روانیږی) ”زۀ درنه لاړم“ـ

سلمان :ـ په مخه دې ښه ، هغه چې ورته اورسی نو روستو ګوری خو چې سلمان پرې څۀ غرض اونکړی نو بیا واپس شی ـ هغۀ ته مخامخ اودریږی او په غصه ورته وائی ” تۀ یو سنګدل انسان یې . . .“

سلمان :ـ وایه ، وایه ، ولې چپ شوې ماکښې ډیرې خامۍ دی ـ

لبنیٰ :ـ تۀ په دومره پُوتې خبره خفه شوی ؟

سلمان :ـ مس لبنیٰ ، تۀ چې څۀ ته پوتې خبره وائی نو دا دومره وړه خبره نه ده ـ ما خو تۀ دَ خپل زړۀ . . .سوری “ـ

لبنیٰ :ـ خپله خبره پوره کړه ـ ولې دې نیمګ کښې پریښوده ـ

سلمان :ـ سوری لبنیٰ ، دا زما ذاتي خبره ده ـ دا تپوس مۀ کوه ـ

لبنیٰ ( په اوچت اواز ) فارګاډ سیک ما معاف کړه ـ

سلمان :ـ تۀ معاف یې، څه ګرځه ـ اوچې معاف دې نه کړم نو ستا به څۀ اوکړم ؟



www.pukhto.net



لبنیٰ ( په غصه ) سلمان ، سلمان ، ته به ډیره لویه تباهي اوکړی ـ ته به یو داسې معصوم زړۀ په خپل لاس پوتې پوتې کړې ـ کوم چې ستا دَ مینې کور دې، پلیز پلیز سلمان پلیز ، دے سره لبنیٰ هغه ته ورترغاړه وځی او په خپله غیږ کښې کلک زور ورکړی ـ هغه لکه دَ اوچې اونې بے حسه ، بے حرکته او بے حرارته ولاړ وی ـ هغې ترینه لاسونه تاؤ کړی او وار تر واره زور ورکوی خو په هغه هیڅ اثر نه کیږی ـ چې په دې اونشوه نو هغه یې پریښودو ـ دَ هغۀ په بیډ کښې نسکوره پریوته او په چغو چغو په ژړا شوه ـ هغۀ چې هغه په ژړا اولیده نو هغې سره کیناستو ـ دَ هغې مخ یې ځان ته راواړوو ـ دَ هغې سر یې په خپله غیږ کښې کیښودو او په ټشو پیپر باندې یې د هغې اوښکې اوچولې ـ چې دَ هغې زړۀ تش شو او په ژړا ژړا یې سترګې نورې هم سرې شوې نو هغۀ مسکې شو او غلی غوندې ورته اووې ” لبنیٰ دا سترګې دې ولې سرې دی ؟ دَ هغۀ په دې معصومانه تپوس لبنیٰ هم په خندا شوه او هغه هم “ـ په خندا خندا کښې ورته سلمان اووې ” مني که نه ، ځنګه مې اوژړولې ؟ هغې ورته په سرو سترګو اوکتل خو په خوله یې هیڅ اونه وی ـ سلمان سر ټیټ کړو او دَ هغې سرې سترګې یې بے واره بے واره ښکلولې ـ دَ هغۀ په ښکلولو کښې دومره خوند وو لکه دردیدلی پرهرونو له چې ټکور ورکړې کیږی ـ هغه دَ هغۀ په غیږ کښې پټې سترګې پرته وه او دَ هغۀ دَ ښکلولو خوندونه یې اخستل ـ چې کله دَ هغې سترګې اوغړیدې نو هغې دَ هغۀ دَ

غیرې نه سر اوچت کړو او په یره یې اووې " اوه ، سوری ، ته لا هغسې ناست یې ؟" سلمان هغې نه دَ همدردۍ په لهجه تپوس اوکړو ، "لبنیٰ اوس څنګه فیل کوې"۔ هغه مسکۍ شوه او وې وئیل "Better مخکښې نه بهتر" دې سره هغې په بالخت سر کیښودو او هغه ته یې اووی "سلمانه یو څو شپې مې پرله پسې تۀ په خوب کښې ګډوډ لیدلې وی ۔ دا دَ هغه خفګان وجه ده"۔

سلمان :۔ څنګه ګډوډ ؟

لبنیٰ :۔ سلمانه ما په خوب کښې داسې لیدلې وې چې ته زما په غیږ کښې پروت یې او څوک راځی ، تا زما دَ غیږنه شوکوی او ځان سره دې بوځی ۔ چې راویښه شوم نو تاته مې رنګ اوکړو خو ستا موبائیل بند وو۔ دَ هغې نه پس مې بیا څو څو ځله کوشش اوکړو خو هر ځل به ستا موبائیل بند راتلو ۔ یو خوا دَ خوب واقعه وه بل خوا ستا موبائیل بند وو نو زما په زړۀ کښې ډیر شکوک وشبهات پیدا شو۔

سلمان :۔ اوه یس ، ستا سترګی په دې وجه سرې شوی دی ، یریږه مه لبنیٰ ، د دنیا یو طاقت هم مونږ دَیو بل نه نشی بیلولې ۔

لبنیٰ ( مسکۍ شی ) ته رشتیا وائې سلمانه ؟

سلمان :۔ بالکل رشتیا ۔

لبنیٰ :۔ زما دا خوب دروغ وو که لږ ډیر حقیقت پکښې شته ؟

سلمان :۔ نه ، څۀ لږ ډیر حقیقت پکښې شته ۔

لبنیٰ :۔ هغه څنګه ؟



www.pukhto.net



سلمان :۔ یو څو ورځې مخکښې زرمینه راغلې وه او هغې واقعی داسې کوشش کړی وو۔

لبنیٰ :۔ څۀ مطلب ؟

سلمان :۔ ماته یې دَ وادۀ آفر کړې وو خو چې ما ورته انکار اوکړو نو هغه خفه لاړه ۔

لبنیٰ :۔ دَ هغې نه خبره یې ۔ ما سره یې په فون خبرې شوی دی ۔ دَ هغې وادۀ تیار دې او دې یو څو ورځو کښې به وادۀ شی ۔

سلمان:۔ څه شکر دې ۔ خدای دې په خیر وادۀ کړی او خدای دې په خپل کور خوشحاله ساتی ۔ لبنیٰ ( مسکۍ شی ) اوس خو بل څوک داسې نیشته چې زما ځای اونیسی ؟

سلمان :۔ نه ، فی الحال نیشته خو دَ حالاتو څه پته لګی (مسکې شی )۔

لبنیٰ ( غصه شی ) سلمان ، سلمان زۀ به تا شوټ کړم (هغه دَ بالخت نه سر اوچتوی او په هغۀ دَ بالخت ګزار کوی )۔

سلمان ( خاندی ) ته ولی غصه شوی ۔ ما خو درته حقیقت اووې ۔ انسان دَ خپل قسمت مالک خو نه دې۔ دا هر څه الله کوی ۔ دا فیصلے په اسمان کښې کیږی ۔

لبنیٰ :۔ چې دا فیصلے په اسمان کښې کیږی نو زمونږ څه حیثیت دې؟

سلمان :۔ هیڅ . . .دَ ګودۍ ګوډاګی بے اختیاره ، بے زبانه اوبے وسه۔ دا

تولې فیصلې الله کوی ۔

لبنیٰ :۔ چې الله یې کوی نو تاته دَ منت زاری ځهٔ ضرورت دې ( پاځی) زهٔ درنه ورځم چې الله ته زاری اوکړم او ستا راباندې ځهٔ احسان پاتې نشی ۔

سلمان:۔ بالکل بالکل۔ ډیره ښه خبره دې اوکړه زه هم دَ نمانځه تیارې کوم او ته هم لاړه شه او الله ته اوژاړه خو دَ سترګو خیال دې ساته ۔(مسکې شی )۔

لبنیٰ روانیږی خو چې دَ هغهٔ خبره ووری نو واپس شی او هغه ته په مصنوعی غصه وائی " څهٔ دې اووی "؟ ۔ سلمان مسکې شی او وائی ، هیڅ نه ، ګډ نائټ ۔

لبنیٰ :۔ ګډ نائټ " دې سره هغه په مسکا مسکا دَ هغهٔ دَ کمرې نه اوځی "۔

★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★

★★★



www.pukhto.net



★

## یویشتم باب

زرغونه او صنوبر لکه دَ خوږې ښځې او خوږ خاوند دَ یو بل په مینه نه مړیدل ۔ اوس هغه دَ صنوبر بی بی نه بلکه دَ هغهٔ ښځه وه خو هغه ورته دَ مینې په وجه لا هغسې بی بی وې ۔ دواړه دَ یو بل په خوله او په زړهٔ وو ۔ کله کله به دَصنوبر دا ګمان هم نه راتلو چې هغه ګینې دَ هغې خاوند دې ځکه چې څنګه ورته دَ واده نه مخکښې پاس اسمان ښکاریده دغه شان دَ وادهٔ نه روستو هم دَ هغې په قدرومنزلت کښې نوره هم اضافه اوشوه ۔ یو خودا چې هغې دَ هغهٔ دَ عزت ساتلو دَ پاره دومره قربانی ورکړه ۔ بله دا چې هغې ځان دومره خکته کړو چې دَ هغهٔ خپو له راغله ۔ عادل او سیرت اګر چې یو څو ورځې دَ مور په وادهٔ مړاوې وو خو هغوی داسې هیڅ قسمه خبره محسوس نه کړه چې دَ هغوی خاطر پرې دروند شی ۔ هغوی کشورې ابۍ لوې کړی وو او لا هغسې دَ هغې په کمره کښې راغونډ وو ۔ بله دا چې صنوبر دَ خپلې لور ، نسرین ، عادل او سیرت په مخکښې دانسته یا غیر دانسته طور باندې څهٔ داسې حرکت نه وو کړې چې دَ هغوی دَ بال بچ پرې دَ ښځی خاوند ګمان راشی ۔

کشوره ابۍ ډیره خوشحاله وه ځکه چې دَ زرغونې او صنوبر په وادهٔ باندې هغې ته ډیر سهولت ملاؤ شو ۔ هغه به په خپله مصله ناسته وه او نواسا نواسیو به یې دَ کور کار کوو ۔ البته چې کله به یې

سلـمـان پـه زړۀ راؤريـدو نـو پـه سـترګو کښې به يې اوښکې راغلې۔ هغې بـه پـه ځـان ځوک نه پوهول او خپلې اوښکې به يې پټ په پټه بهـولـې او اوچـولـې ـ دغه حال دَ زرغونے هم وو۔ هغې ته به چې هغه رايـاد شـو نـو دَ هغۀ په خيال کښې به لاړه او په خيال کښې به يې هغۀ سره خبرې کولې ـ يو ځل يې صنوبر ته اووې چې هغۀ ته فون اوکړي او دَ هغۀ حال احوال معلوم کړي ـ صنوبر هغې ته اووې، ''بی بی ځو ځـو ځـلـه مِ ورلـه دَ کـال ورکـولـو کـوشش اوکړو خو هغه موبائيل بند کړې دی''۔

زرغونه :۔ ستا خبرې ورسره چرې شوی دی ؟

صنوبر:۔ دوه ځله شوی دی ـ بيا نه دی شوی ـ

زرغونه :۔ څۀ وجه به پکښې وی ځکه خو هغه موبائيل بند کړې دې ـ

صنـوبـر:۔ وجه پکښې دا ده بی بی چې په ړومبی ځل يې کال اوکړو۔ نـو دَ نـورو نـه علاوه يې ستا تپوس اوکړو او وې چې موبائيل هغې له ورکـړه چې يو ځو خبرې ورسره اوکړم ـ ما ورته بهانه اوکړه چې هغه دَ ابنـتـنې پوښتنې دَ پاره کلی ته تلې ده ـ چې دا يې واوريدل نو موبائيل يې بند کړو ـ په دويم ځل يې چې بيا کال اوکړو نو او دَ مور مِ ورسره يو ځو خبرې اوشوې نو بيا يې ستا تپوس اوکړو ـ زما په زړۀ کښې راغله چې دا خبره بـه تـر کـومې پـورې دغسې پټـه ساتو نو ما ورته ستا دَ کيـس خبـره اوکړه او ورته مِ اووې چی هغه په جيل کښې ده ـ دې سره هغه په ژړا شو ـ يو ځو سلګۍ يې اووهلې او بيا يې موبائيل بند کړو



www.pukhto.net



ـ تـر هـغـې او تـرننه يې بيا نه کال کړې دې او نه مس کال ـ دې نه پس ورتـه مـا ځـو ځو ځله دَ کال کولو کوشش اوکړو خو دَ هغه موبائيل به بـنـد وو ـ اوس لږه شيبـه مـخـکښې مِ بيا دَ کال ورکولو کوشش اوکړو خو دَ هغۀ موبائيل بند دې ـ دا هم کيديشی چې سِم يې بدل کړی وی . . . دا خبره ده بی بی ـ

زرغونه :۔ ګوره تا ته ما ويلی وو چې زما دَ کيس خبره ورته مۀ کوه۔

صنـوبـر:۔ څۀ مِ کـړی بی بی ـ ددې بله لار نه وه ـ دا دَ اوښانو غلا به مونږ تر کومې پورې په ټيټه کوله ـ

زرغـونـه :۔ ځـه چې څۀ شوی دی هغه شوی دی ـ اوس ورته يو خط اوليکه او دَ ټول حال احوال نه يې خبر کړه ـ

صنوبر:۔ دا موجوده واقعات پکښې اوليکم ؟

زرغونه :۔ هاؤ، خبر يې کړه ـ خط ورته زما له خوا اوليکه ـ

صنـوبـر:۔ ډيره ښه ده بی بی ـ زۀ ورته دا دی خط ليکم، بيا به يې تاته واوروم ـ

زرغـونـه :۔ نـه داسـی نـه ـ تـه ورشه کاغذ قلم راواخله زۀ درځم ـ زۀ به يې درته ويم او ته به يې ليکې ـ

صنوبر :۔ ډيره ښۀ ده بی بی ـ

★★★★★

## دويمه برخه

سلـمـان دَ کالج په لائبريرۍ کښې ناست وو اخبار يې کتو چې

لبنیٰ راغـلـه ۔ دَ راتـلو سره یې هغه ته اووې " یار تهٔ دلته په لائبریرۍ کښې ناست یې او ما درپسې ټولې هاسټلې اوکتلې ۔ سلمان مسکې شو ، هغـی ته یې اوکتل او ورته یې " دَ " یار " دا ټکې دې څومره په اسانه په خولې راغی ۔

لبنیٰ :۔ ولې دا ټکې ویلو کښې ګران دې ؟

سلمان :۔ میل دَ پاره اسان دې خو فی میل دَ پاره ګران دی ۔

لبنیٰ :۔ څهٔ مطلب ؟

سلمان :۔ جینکو دَ پاره دا ټکی معیوب ګڼلې شی ۔ چی بیا دی خوله غلطه نشی ۔

لبنیٰ :۔ دَ یار مطلب دوست نه دې ؟

سـلـمـان :۔ بالـکل ستا خبره صحی ده ۔ دَ یار مطلب دوست دې خو دا ټکې کچه او بے حیا دې ۔

لبنیٰ :۔ ته رشتیا وایې سلمانه ؟

سلمان :۔ بالکل رشتیا ۔ بیا دَ پاره خیال کوه چی دَ چا مخکښې دې دَ خولی نه اونه ځی ۔

لبنیٰ :۔ o.k, ok پوهـ شوم ۔ ښه تهٔ دلته څهٔ کوی ؟

سلمان :۔ اخبار کتو له راغلی ووم ولی تا څهٔ ویل غوښتل ؟

لبنیٰ :۔ اخبار ځان سره راواخله ، څه چې ځو بهر ته په چکر ، په لانګ ډرائیو ۔

سـلـمـان :۔ نـه لـبنیٰ دا هفته زما مصروفه ده ۔ چکر له به انشاء الله په



www.pukhto.net



راتلونکی اتوار ځو ۔

لبنیٰ :۔ دَ هفتې نه سِتا څهٔ مطلب دې ؟

سـلـمـان :۔ لبـنـیٰ مـا د آرمی کمیشن دَ پاره یو فارم لیږلې وو۔ دَ هغې جـواب راغلې دې او دا راتلونکې پنځه ورځی زما ډیرې مصروفی دی ۔ ته ګوره کنه صبا له تحریری ټسټ دې ۔ که هغې کښې پاس شوم نو بـلـه ورځ وریـسـې میـډیـکـل او فیزیکل ټسټونه دی ۔ که هغې کښې پاس شوم نو بیا وریسی انټیلی جنس ټسټ دی ۔ که هغې کښې پاس شـوم نو وریسی ګروپ ډسکشن ټسټ دې۔ که هغې کښې پاس شوم نـو وریـسـې لـویـه انټرویو ده ۔ دا پنځه ورځی زما مصروفی دی ۔ چې دې نه اوزګار شم نو بیا به ګرځو۔

لبنیٰ:۔ او که رومبی ټسټ کښې فیل شوی نو بیا ؟

سلمان :۔ نو بیا دا چی په رومبی ورځ به فارغ شم ۔

لبـنـیٰ :۔ خـدای دې پـه رومبی ټسټ کښې فیـل کړه چی چکرو تـه اوزګار شو (مسکی شی )۔

سـلـمـان ( مـصـنـوعی غصه ) څه دې اووې ؟" سلمان دَ هغې دَ نیولو کوشش کوی خو هغه ترینه منډه کړی او بهر اوځی "۔

دَ هـغـې دَ تـلـو نـه پس چې سلمان خپلې کمرې ته ورغی۔ نو دَ هغهٔ دَ کـمـرې ورسـره یـو خـط پروت وو۔ هغهٔ چی خط اوچت کړو او پتې ته یـې اوکـتـل نو هغه دَ زرغونے دَ طرفه وو۔ هغه خط اوسپړدو ۔ په خپل بیـډ کښـې یـې ډډه واچوله او په خوند خوند یې دَ هغې خط لوستل

شروع کړل ۔ دَ خط شروع داسې وه ۔

خوږه سلمانه

السّلام علیکم!امید کوم چې روغ جوړ او خوشحاله به یې۔

سلمانه، دَ مودو مودو راسې مِ سترګې ستا خط ته نیولې دی او غوږونه مِ ستا له خوا دَ موبائیل کړنګ ته ۔ سترګې مِ سپینې شوی او غوږونه مِ سرۀ شو خو ستا له خوا څۀ خیر خبر رانه غی ۔ تانه ډیره ګیله منه یم خو ګیله هم درته نشم کولې ځکه چې تۀ دغلته مسافر یې او دَ مسافر زړۀ نرې وی ۔ سلمانه کیدیشی تا زۀ هیره کړې یم خو زۀ او زما اولاد تا چرې هم نشی هیرولې ۔ معلومه نه ده چې ته په کومه دنیا کښې یې خودَ خیال په دنیا کښې ته اوس هم ماته مخامخ ولاړ یې او ماسره خبرې کوې ۔ په خبره خبره کښې ماته وائې خورجې داسې ، خورجې هغسې ۔ سلمانه ، چې کله راته رایاد شې نو سترګې مِ ډکې شی او چې دَ ماښام په ډوډۍ کښې دې اونه وینم نو ډوډۍ راته زهر شی ۔ سلمانه ، ما څۀ دَ پاڅۀ پنځه کاله په جیل کښې تیر کړل خو ستا له اړخه دَ همدردۍ یو دوه ګوتې کاغذ هم راته رانه غی او نه دې په موبائیل یو مس کال راکړو ۔ که تۀ زما نه خفه یې نو دَ خپل خفګان وجه راته اوښایه او که تۀ لوې نظره شوې یې نو خداې دې درته هدایت اوکړی ۔ سلمانه ، هغه ورځ دې اوسوزی چې ته به زما دَ زړۀ نه اوتې یې ۔ هغه ماښام دې توره ایره شی چې دَ ماښام په ډوډۍ ستا ذکر نه کیږی ۔



www.pukhto.net



سلمانه ، چې عادل زما نه دَ خپل ماما تپوس کوی نو زۀ چپ پاتې شم ۔ چې سیرت زما نه ستا دَ شکل وصورت او قدوقامت تپوس کوی نو زۀ ورته په خیالونو کښې ستا څهره جوړوم خو اوس ستا څهره زما دَ خیال په دریچو کښې ماته تته ښکاری ۔ که زما نه په څۀ وجه خفه شوې یې نو منم ځکه چې دَ رور او خور ترمینځه ګیله مانه راځی خو دَ خپل خوریی او خورځۀ نه په څۀ وجه خفه یې ؟ بله خبره دا ده چې زما سزا ختمه شوې ده ، زۀ دَ جیل نه اوتې یم او اوس ستاسو په کور کښې دَ خپل بال بچ سره ښۀ په پخه ډیره یم ۔ اوس تا سره زما دوه رشتې دی یو خوا زۀ ستا خوریم او بل خوا زۀ ستا چاچې یم ...ډیر ډیر خوشحاله اوسی ۔

دَ مورجی ، کاکاجی ، عادل ، نسرین او سیرت له خوا تاته ډیر ډیر سلامونه او دعاګانې ۔ زما له خوا تاته ډیره ډیره مینه او یوه خوږه مسکا ۔ فقط والسلام ۔

ستا خورجی او چاچی ، زرغونه ۔، سوګری بالاکوټ ۔

سلمان چې دَ خط په لوستلو کښې دې ټکو له راشی چې "یو خوا زۀ ستا خوریم او بل خوا زۀ ستا چاچی یم" نو هغه انډر لائن کړی او په هغې سوچ کوی ۔ بیا ځان سره وائی " چاچی "؟ د دې مطلب دا دې چې هغې صنوبر کاکاجی سره وادۀ کړې دې ۔ اوه مائی ګاډ ، ماته پته هم نیشته او هغه وادۀ شوه ... هغه وادۀ شوه او زما نه تپوس قدرې هم اونشو ۔ خورجی دې ته وائی چې دومره لوې کار پټ په پټه او په

خپل مخ سر کوی ، چې وادهٔ شوه نو اوس ورته زهٔ رایاد شوم۔ د دې مطلب خو دا شو چې په دغه کور کښې زما هېڅ حیثیت پاتې نشو۔ زهٔ چې څنګه یواځې ووم نو هغسې یواځې پاتې شوم ۔ ډیره دَ افسوس خبره ده خورجې ... څه ښه ده چې ستا له خوا اوشو او زهٔ درته ملامته نشوم "۔ باقی پاتې ټوله ورځ هغه په خیال کښې خپلې خورجې سره په جنګ جهګړو تیره کړه ۔

★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★

★★★★★★★★

★★★★★★

★★★★

★★★

★★



www.pukhto.net



★

## دویشتم باب

په جرمن آرمی کښې دَ کمیشن دَ پاره دَ هغهٔ آزمائشونه ډیر ښه روان وو ۔ په ړومبۍ ورځ دَ آرمی په یو یونټ کښې دَ هغهٔ تحریری امتحان وو۔ کومه پرچه چې هغه له ورکړې شوه په هغې کښې سل Objective type سوالونه وو او دَ هغې دَ حل کولو دَ پاره یوه ګهنټه وخت وو۔ هغه له چې پرچه ورکړې شوه نو هغهٔ دَ ړومبی سوال نه شروع اوکړه او تر اخره پورې یې سل وانړه سوالونه اوکتل ۔ په دیکښې دَ هغهٔ لس منټه وخت ضائع شو ۔ دې نه پس یې پرچه یو ځل بیا اوکته او چې ځان یې پرې ښهٔ پوهـ کړو نو بیا مطمئن شو۔ هغهٔ چې ګهړی ته اوکتل نو دَ هغهٔ شل منټه وخت ضائع شوې وو او صرف څلویښت منټه ورسره پاتی وو۔ بیا یې پن را اوویستلو او دَ سوالونو حل کول یې شروع کړو۔ چې شل منټه تیریدل نو هغه دَ پرچې نه اوتې وو۔ اخری سوال یې حل کړو او پن یې جیب کښې واچوو۔ بیا یې پرچه یو فوجی افسر له ورکړه او په خپله لاړو په ویټنګ روم کښې کیناستو ۔ چې دَ پرچې وخت پوره شو او د امیدوارانو نه پرچې واخستې شوې نو هغوی هم پاڅیدل څوک ویټنګ روم ته لاړل، څوک ریکریشن روم ته لاړل او څوک کنټین ته لاړل ۔ دوه ګهنټې پس ټول راغونډ کړی شو او هغه امیدوارانو ته نتیجه اوروله شوه کوم چې په تحریر آزمائش کښې فیل شوی او آؤټ شوی وو۔ دَ هغوی دَ

آؤټ کیدو اعلان اوشو او نورو ته دَ بل آزمائش دَ پاره اوویلی شو۔ په دې امیدوارانو کښې سلمان هم شامل وو۔ په دې دې کښې دَ هغهٔ میډیکل او فیزیکل آزمائشونه هم اوشو او انټیلی جنس آزمائش هم ۔ چې ګروپ ډسکشن ته خبره رسیده نو دَ امیدوارانو تعداد دَ سړنو نه شلونو له راغلې وو او چې زبانی آزمائش یعنی انټرویو له خبره رسیده نو صرف څلویښت امیدواران پاتې وو ۔ په دغه څلویښتو کښې دَ نورو نه علاوه یو سلمان هم وو۔ هغه له چې دَ انټرویو کوم شیډول ورکړې شوې وو په هغې کښې دَ هغه دریم نمبر وو۔ هغه په ویټنګ روم کښې ناست وو او دَ خپل وار انتظاریې کوو۔ کوم امیدواران چې دَ هغهٔ نه مخکښې وو هغوی شل شل منټه پس اووتل او لاړل ۔ کله چې هغه ته دَ انټرویو دَ پاره اوویلی شو او هغه کمرې ته ورغی۔ نو شپږ فوجی افسران دَ انټرویورز په حیث ناست وو۔ په هغوی کښې یو د دې بورډ چیرمین بریګیډیر ډونو هو وو۔ دویم کرنل نلس وو۔ دریم کرنل هیګل ، څلورم کرنل هوو ، پنځم کرنل برائټ او شپږمه یوه لیډی ډاکټر میجر نینسی وه ۔ هغهٔ دَ ورتلو سره "السلام علیکم" اووې ۔ دَ هغهٔ په سلام نور پوهـ نشو البته یو بریګیډیر ډونو هو او بل کرنل نلسن پوهـ شو خو هغوی دَ سلام جواب ورنکړو ۔ سلمان کیناستو ۔ بریګیډیر ډونو هو او کرنل نلسن، دواړه دَ جرمن آرمی له خوا په افغانستان کښې دَ نیټو په اتحادی فوج کښې پاتې شوی وو۔ او ښه ډیر وخت یې پکښې تیر کړې وو ۔ هغوی



www.pukhto.net



په پښتو پو هیدل هم او لږه لږه یې ویلی هم شوه ۔ دے نه علاوه دَ پښتنو دَ رسم ورواج او کلتور نه هم خبر وو۔ چې سلمان کیناستو نو بریګیډیر صیب هغهٔ ته مخاطب شو او ورته یې اووې " ستا دَ دولسم جماعت ریزلټ به کله راځی "؟ ۔

سلمان :۔ دې راتلونکې هفته کښې سر۔

بریګیډیر ډونو هو ۔ تهٔ دَ خپلې کامیابۍ نه مطمئن یې ؟

سلمان :۔ Yes, sir

بریګیډیر ډونو هو:۔ که تهٔ دَ دولسم په امتحان کښې فیل شوې نو ستا دا محنت ضائع شو۔

سلمان :۔ Yes sir, I know it ۔

بریګیډیر :۔ تهٔ انټرویو ته تیار یې ؟

سلمان :۔ Yes sir

بریګیډیر ډونو هو :۔ تهٔ سلمان یې که مسلمان ؟

سلمان :۔ خلق راته سلمان وائی ، ځان ته مسلمان وایم ۔

کرنل نلسن:۔ هغه کوم ټکې دې چی هم ژبه ده هم عزت ۔

سلمان :۔ پښتو ۔

بریګیډیر ډونو هو:۔ که تاته اوویلې شی چې په "پښتون او مسلمان" کښې ځان دَ پاره دَ یو ټکی انتخاب اوکړه نو ستا انتخاب به څهٔ وی ؟

سلمان :۔ پښتون ۔

بریګیډیر ډونو هو:۔ ولې ته مسلمان نه یې ؟

سلمان :۔ هر پښتون ځان ته مسلمان وائی ۔

کرنل نلسن :۔ دَ پښتون مجموعی صفات څۀ دی ؟

سلمان :۔ پښتو ، پښتونولی ، ننگ او ناموس ښۀ زلمیتوب ،

دا ټول چی سره غونډ شی ، ترینه جوړشی یو پښتون ۔

کرنل هوو :۔ اوسنی پښتون په دې معیار پوره دی ؟

سلمان:۔ څوک چې په دې معیار پوره نه دې نو هغه نیمگړې دې۔

لیډی ډاکټر نینسی ( هغۀ کښې دَ غصې اشتغال پیدا کولودَ پاره)

"پښتون یو وحشی ، جاهل او غیر مهذبه قوم دې ۔ دا ولې ؟

سلمان :۔ (په سړه سینه ) دَ تعلیم دَ کمی په وجه ۔

کرنل هیگل (دَ هغۀ دَ غصه کولو دَ پاره ) " دا جاهل او وحشی قوم به

دَ جهالت دَ تیرو نه څنگه اوځی "؟

سلمان :۔ دَ تعلیم په رڼا۔

کرنل نلسن :۔ په مسلم او مسلمان کښې څۀ فرق دی ؟

سلمان :۔ دَ معنې په لحاظ هیڅ۔

کرنل برائټ :۔ دَ تور او سپین په الفاظو کښې څۀ فرق ؟

سلمان :۔ دَ رنگونو او ټکو ۔

کرنل برائټ :۔ په ورځ او شپه کښې څۀ فرق دی ؟

سلمان :۔ دَ رڼا او تیارۀ ۔

کرنل هوو:۔ دوځله دوه څو شو ۔

سلمان :۔ دویشت (22)



www.pukhto.net



کرنل برائټ :۔ هغه کوم څیز دې چې دَ هغې رفتار دَ برقی رفتار نه زیات دې ؟

سلمان :۔ انسانی تخیل ۔

کرنل هیگل :۔ دَ زمکی او اسمان په مینځ کښې څۀ دی ؟

سلمان :۔ مونږ ټول او مافیها۔

لیډی ډاکټر نیسی ( دَ غصه کولو دَ پاره ) په تا کښې او څناور کښې څۀ فرق دی ؟

سلمان :۔ دَ نطق ۔

کرنل هیگل :۔ فلسفه څۀ ته وائی ؟

سلمان :۔ The love of knowledge

بریگیډیر ډونو هو:۔ په Physics او Meta physics کښی څۀ فرق دی؟

سلمان :۔دَ فیزکس ادراک په حواس خمسه کیږی او میټافیزکس په تخیل ۔

بریگیډیر ډونو هو:۔ دَ میټا فیزکس دَ ادراک دَ پاره کوم آرټ استعمالیږی؟

سلمان :۔ Logic یعنی منطق ۔

کرنل هیگل :۔ What is logic

سلمان :۔ مدلل بحث ته لاجک ویلی شی ۔

کرنل هوو:۔ یو مثال پیش کړه او مونږ قائل کړه ۔

سلمان :۔ سر، دا وخت هم غواړی او تحریری شکل هم۔

کرنل هوو:۔ مونږ سره وخت هم شته او بورډ او مارکر هم شته۔ شروع کړه خپل مثال ۔

سلمان :۔ سر، دَ مثال دَ پاره به یوه ساده جمله واخلو ، بیا به هم هغه الفاظ وړاندې روستو کړو او نورې جملے به ترینه جوړې کړو۔ الفاظ به هم هغه وی خو معنې به یې بیلې بیلې وی لکه دا لاندینۍ جملے۔

(۱) زه سلمان یم (۲) سلمان ، زهٔ یم۔ (۳) سلمان؟ زهٔ یم (۴) زهٔ ؟سلمان یم۔ (۵) زهٔ سلمان یم ؟ (٦) سلمان! زهٔ یم۔ (۷) سه ۔ سه . .سلمان زهٔ یم (۸) ز . .ز . .زهٔ ؟ سلمان یم ؟ (۹) یم . . .زهٔ سلمان۔

هغه لالگیا وی چې کرنل هوو مسکې شی او ورته وائی "O.k سلمان O.k..."

سلمان :۔ سر د دې وړې جملې نه په شلونو نورې جملے هم جوړیدیشی او دَ هرې جملے معنیٰ به دَ بلې نه جُدا وی ۔

کرنل برائټ :۔ دَ کیټ څهٔ سپلنگ دې ؟

سلمان :۔ Cat ۔

کرنل هیگل :۔ یو ستوپډ۔

سلمان:۔You stupid

لیډی ډاکټر نیسی:پښتون دومره بے وقوف ولې دې۔

سلمان:۔ هر بے وقوف بل ته بے وقوف وائی۔

لیډی ډاکټرنیسی:شټ اپ (په غصه)

سلمان:۔ (په مسکا ) ما غصه کوې که په خپله غصه شوی(نیسی مسکی شی )۔

بریگیډیر ډونو هو:۔ یو اخری تپوس درنه کوم او هغه دا چې دَ پښتو



www.pukhto.net



یو داسې شعر اووایه چې یو خوا دَ ټولو پښتنو دَ ذهنیت ترجمانی کوی ، بل خوا زمونږ د آرمی دَ پاره یو سیمبل شی۔

سلمان مسکی شی او وائی :۔۔

په دنیا دَ ننگیالی دی دا دوه کاره۔ A brave has to do one of the two

یابه اوخوری ککری یابه کامیاب شی۔ To be a head or beheaded ۔

کرنل نلسن :۔ گڈ ۔ ویری گڈ۔

بریگیډیر ډونو هو:۔ او ۔ کے سلمان ۔ تا ډیره اعلیٰ او مثالی انټرویو ورکړه ۔ مونږ ستا په خداد قابلیت فخر کوو۔ مونږ دَ انتهائی کوشش باوجود هم ته زیر نه کړې شوې ۔ ستا انټرویو سل په سله صحی ده ۔ زهٔ ستا په قابلیت تاته خراج تحسین پیش کوم او تاله مبارکی درکوم congratulation ۔

سلمان (مسکې شی ) Thank you sir ۔

بریگیډیر ډونو هو:۔ سلمان ، ته دَ خپل طبعی عمر نه ډیر مخکښې روان یې ۔ دومره مخکښې چې دَ هغې تصور هم نشی کیدې ۔ ستا په قابلیت کښې هیڅ شک نیشته ۔ خو مونږ ته ډیر افسوس دې چې ستا قابلیت زمونږ دَ ټاکلی شوی معیار نه ډیر اوچت دې ۔ هم دغه وجه ده چې زمااو دَ بورډ دَ ټولو افسرانو په نظر کښې ته "اوور نالج" شوې او هم په دې وجه ستا دَ کمیشن امیدواری کینسل کړې شوه۔

Thank you ، دې سره ټول افسران پاڅی او سلمان یو اځې پاتې شی۔ هغه یوه شیبه ناست وی ، بیا پاڅی او په ستړې وجود او درنو قدمونو

زانګیدلې زانګیدلې روان شی ۔

## دویمه برخه

سلمان دَ ناامیدی او مایوسی په تیرو کښې خپلې کمرې ته اورسیدو ۔ هغه دومره پریشان وو چې دَ رسیدو سره هغه په ځان پوهـ نشو او په خپله بستره کښې ډب ډوب پریوتو او دَ پریوتو سره اودهٔ شو ۔ هغه لا اودهٔ پروت وو چې لبنیٰ دَ هغهٔ کمرې ته راغله ۔ هغې چې دَ سلمان حالت ته اوکتل نو اویریده او په زړهٔ یې اوخوړه چې ضرور څهٔ داسې واقعه پیښه شوې ده یا داسې څهٔ خبره راغلې ده چې دَ هغې په وجه هغهٔ ته خفګان رسیدلې دې ځکه چې هغهٔ نه بوټان ویستلی وو او نه یې جامې بدلې کړې وې ۔ دَ هغهٔ کوټ دَ هغه غاړه کښې وو البته دَ هغه ټائی لوز شوې وه او په سینه ورته پرته وه ۔ دَ هغه دَ شرټ ټنی هم پرانستې شوې دې او دَ قمیص په دغه پرانستې مخنی برخه کښې دَ هغهٔ دَ ټائی لاندې دَ هغهٔ دَ سپین بنین یوه برخه ښکاریده۔ هغه دَ هغهٔ بیډ سره اودریده او دَ هغهٔ دَ مخ په خړه کښې یې دَ هغهٔ دَصدمے پسِ منظر لټوو۔ دَ هغهٔ دَ سترګو په قوتو کښې دَ اوښکو دوه څاڅکی لکه دَ سپینو غمو ځلیدل ۔ دَ دغه غمو په ځلا کښې هغې ته ډیرې تیارې ښکاره شوې او په دغه تیرو کښې هغې ته دَ هغه دَ مایوسی نه علاوه نور څهٔ نه ښکاریدل ۔ هغه ورته ډیره شیبه دم ختلې ولاړه وه او دَ هغهٔ دَ پُرکشش ، ښکلې او هسکې ځوانی دانه وانه یو یو اندام ته یې په ځیر ځیر کتل ، دَ سترګو په کیمرو یې دَ



www.pukhto.net



هغې عکس بندی کولې او په خپل زړهٔ او ذهن کښې یې محفوظ کولې ۔ چې دَ هغې دَ سترګو کمیرې دَ هغهٔ خپو له اورسیدې او دَ هغهٔ په خپو کښې یې بوټان اولیدل او هغهٔ سره اودریده ، دَ هغهٔ دَ خپو نه یې بوټان او جرابې اوویستلې او یو خوا ته یې کیښودې ۔ بیا یې په مزه مزه دَ هغهٔ دَ خپو نه کمبل راخکله ، هغه یې یو خوا ته اوځنډله او په هغهٔ یې اوغوړوله۔ دَ کمبل غوړیدو سره هغه په خوب کښې اړخ بدل کړو۔ هغه ورته په کرسی مخامخ خفه کیناسته او دَ هغهٔ په سوچونو او خیالونو کښې ډوبه دَ هغهٔ دَ مخ په نندارہ شوه ۔ په سوچونو سوچونو کښې هغې ته دا اندازه اولګیده چې شاید هغهٔ دَ کمیشن په انټرویو کښې فیل شوې وی ۔ دې خیال سره دَ هغې وجود زِیګ او بنه نیغه شوه او دا یره ورسره ملګرې شوه چې که خدای مهٔ که داسې اوشی نو دا خوبه دَ هغې دَ پاره دَ ډیرې مایوسی خبره وی ۔ هغې ته خپله خبره هم وریاد شوه چې هغې ورته دَ هغهٔ دَ تحریری امتحان شروع کیدو نه یوه ورځ مخکښې کړې وه ، چې " خدای دې په رومبی ټیسټ کښې فیل کړه چې چکرو ته اوزګار شو"۔ یو خوا هغې خپل ژوند او دَ ژوند ارمانونه هغهٔ سره تړلی وو، بل خوا دَ هغهٔ مستقبل او دَ هغهٔ دَ مستقبل په ټولو خوشحالو کښې برابر شریکه وه ۔ دَ هغهٔ ناکامی دَ هغهٔ نه زیاته دَ هغی دَ ارمانونو او خوشحالو ناکامی وه ۔ هغې له په خپله خبره هم غصه ورتله او په خپل ځان هم اودا خیال به یې بیا بیا په زړهٔ کښې راتلو چې هغې دَ

بدشګونی دغه غلطه خبره ولې کړې وه ـ اګر چه دغه خبره هغې دَ زړهٔ نه وه کړې بلکه په هغه انداز يې کړې وه لکه څنګه چې دوه مئينو ته خپله مينه دَ دنيا دَ هرې کاميابۍ او خوشحالۍ نه بهتره ښکاري او په خپله مينه کښې دَ لوی نه لويه کاميابي او خوشحالي هم دَ خپلې لارې خنډګنی ـ دَ هغې په زړهٔ کښې دا راتله چې هسې نه سلمان دَ هغې خبره زړهٔ ته واچوی او هغې سره دَ هغهٔ مينه په نفرت کښې بدله شی ـ دَ هغې په زړهٔ کښې دا هم راغله چې هغه به دَ خپلې غلطۍ کفاره څنګه ادا کوی ـ دَ کفارې خيال سره دَ هغې په زړهٔ دَ کفارې دَ نوعيت مختلف شکلونه او قسمونه هم راغلل او ځان سره يې غلې غوندې اووې " کفاره ؟ زهٔ هر څهٔ ته تياره يم ـ زهٔ دَ سلمان ... دَ خوږو نه ډک سلمان دَ پاره هرې قربانۍ ته تياره يم ـ زهٔ په يو حالت کښې هم هغه مس کول نه غواړم ...زهٔ په هر قيمت دَ هغهٔ دَ مينې حصول غواړم "ـ دې خيال سره هغه دَ کرسۍ نه پاڅيده ، دَ هغهٔ بيډ سره اودريده او دَ هغهٔ په اوږو يې خپل پاستهٔ او دَ ځوانۍ دَ ګرمې وينې ګرم لاسونه کيښودل ـ دَ هغهٔ بدن داسې يخ وو لکه اوچ لرګی ، بے جان او بے حرارته ـ هغې په خپلو ګرمو لاسونو دَ هغهٔ په بدن کښې دَ حرارت پيدا کولو کوشش کوو او په مزه مزه يې دَ هغهٔ اوږې منډل شروع کړل ـ دَ هغې دَ لاسونو لمس دَ هغې مينې ته دَ جذباتو لمسه کوله ـ هغې دا غوښتل چې دَ خپل ګرم او دَ جذباتو نه ډک بدن ټول حرارت د هغهٔ يخ بدن ته منتقل کړی ـ هم په دې اراده هغې دَ هغهٔ دَ



www.pukhto.net



اوږو نه خپل لاسونه روستو کړل ، دَ هغهٔ دَ کټ اړخ له راغله ، دَ هغهٔ دَ کمبل پلوېې اوچت کړو او خپل خيالی اقدام له يې عملی شکل ورکوو چې دَ هغې په موبائيل رنګ راغی ـ هغې دَ هغهٔ دَ کمبل پلو په هغه واپس خور کړو ، موبائيل يې اوچت کړو ، دَ هغهٔ دَ کمرې درشل سره اودريده او وې وئيل ـ هيلو ممی ...زهٔ دلته په هاسټل نمبر 1 ، کمره نمبر 5 کښې يم ...ممی زما بوائې فرينډ ناجوړه دې زهٔ هغه اټينډ کوم ...نو نو سيريس نه دې ...نه دَ ډاکټر ضرورت نيشته ـ Don't worry ...زما څهٔ پته نه لګی ...کيديشی زهٔ دلته پاتې شم Ok. thank you mummy. ـ دَ لبنیٰ په خبرو دَ سلمان سترګی اوغړيدې ـ هغی چې هغه ته اوکتل نو وې وئيل "اوس څنګه يې سلمان" ـ دَ هغې دَ مسکا په جواب کښې هغه هم مسکې شو او وې وئيل "زهٔ بالکل ټيک ټاک يم خو تهٔ پريشانه غوندې ښکارې "؟

لبنیٰ :ـ هاؤ سلمانه نورې خبرې به بياکوو خو دا راته اووايه چې دَ انټرويو دې څهٔ اوشو ـ

سلمان :ـ ستا بدعا قبوله شوه لبنیٰ او زهٔ دَ کميشن نه پاتې شوم ـ

لبنیٰ :ـ اوه مائی ګاډ ..سوری سلمان ، ويری سوری ، ما خوداسې نه غوښتل چې تهٔ واقعی فيل شې .ماخو تاسره توقه کوله ـ

سلمان :ـ لبنیٰ ستا غوندې دَ ښکلو او نيازبينو توقه هم رشتيا کيږی او زمونږ غوندې دَ شاړوزارۍ هم نه قبليږی ـ ستا دَ توقې خبرې زما مستقبل دَ تيرو نه ډک کړو ـ

لبنیٰ :۔ سوری سلمان ... اوس څۀ کیدیشی ؟

سلمان :۔ اوس هیڅ نشی کیدې البته دا کیدیشی چی ستا او زما دَ ژوند لارې بیلې شی ۔

لبنیٰ:۔ څۀ مطلب ؟ زر وایه سلمانه ؟

سلمان :۔ په مطلب پو هـ نشوې ؟ مطلب دا چې ما دَ خپل زړۀ میلمنه دَ خپل کور کورښه جوړول غوښتل خو افسوس چې زما دَ زړۀ ارمان به پوره نشی ۔

لبنیٰ:۔ سلمان ، سلمان How you dare say ۔ تا د داسې ویلو جرأت ولې او څنګه اوکړو ؟ چې خوله دې ګوری بیا غلطه نشی ګینی۔

سلمان :۔ ګینې څۀ ۔

لبنیٰ:۔ ګینی خپل ځان به ستا په دې کمره کښې ، ستا په مخکښې شوټ کړم ۔

سلمان ( مسکې شی ) چې زما کمره کښې ځان شوټ کړې نو ستا دَ قتل دعویٰ به په ما اوشی ۔ تۀ به لاړه شی ګور له او زۀ به لاړ شم دَ سزا کور لـه ۔ کـه خامخا ځان وژنې نو کور ته لاړه شه ، په خپل بیډ کښې ښـه پـه ارام سملـه او بیا ځـان شـوټ کـړه ، او هو دَ خودکشۍ نـه مخکښې یودوه ګوتې کاغذ اولیکه او په هغې کښې خپله خودکشی تسلیم کړه چې په بل چا دعویٰ اونشی ۔

لبنیٰ :۔ سلمان ته ربیلی دا غوارې ؟ وایه . وایه ، وایه چپ ولې یې؟

سلمان :۔ نه لبنیٰ چرې هم نه ۔ ستا په حسین او نازک بدن خو زما دَ



www.pukhto.net



ګل ګزار هم پیرزو نشی ۔ ته خو دَ مالو چو نه جوړه شوې او په ریښمی تارونو تړلی شوې دَ قدرت یو حسین شاهکارې ...زۀ دا نه غوارم بلکه زۀ بل څۀ غوارم ۔

لبنیٰ :۔ بل څۀ غوارې ؟

سلمان :۔ زۀ بهتر مستقبل او دَ خپلو ارمانونو تکمیل غوارم. زما دَ ارمانونو تکمیل دَ بهتر مستقبل نه بغیر نشی کیدې ۔ بهتر مستقبل خو لاړو ختم شو او دَ کمیشن نه پاتې شوم ۔ دغه شان زما ارمانونه هم کچه په کچه او کلی په کلی مړاوې شو ، اوسوزیدل او ایره شو۔ اوس م نه دَ بهتر مستقبل امید پاتې شو ، نه دَ ارمانونو دَ تکمیل امید او نه دَ تعلیم دَ تکمیل امید۔ هاې ربه ...(خاموشی) ..لبنیٰ تا زمانه دا تپوس اونکړو چی زۀ په څۀ وجه په انټرویو کښې پاتې شوم ؟

لبنیٰ جی یو امیدوار چې سوال غلط کړی نو امتحان کښې فیل شی او ... او ما چې سوالونه هنډرډ پرسنټ ټیک کړل نو زۀ پاتې شوم ۔ لبنیٰ بی بی ماسره هغه کار اوشو چې " اُسے چھٹی نہ ملی جس نے سبق یاد کیا"۔ دې لوبې تـه اوګوره لبنیٰ بیګم ...زۀ په دې وجه پاتې شوم چی ما دَ ټولو سوالونو جوابونه صحی ولې ورکړل۔ زۀ په انټرویو کښې فیل شوې نه یم خو دَ کمیشن اخستو جوګه نه شوم ...زۀ ...زۀ په دې وجه پاتې شوم چی زما علمی معیار دَ هغوی دَ ټاکلی شوی معیار نه ډیر اوچت دې ...دومره اوچت دې ۔ چې دَ هغوی دَ وینا مطابق دَ هغې تصور هم نشی کیدې او زۀ دَ خپل طبعی عمر نه ډیر مخکښی روان یم ... لبنیٰ جی ،

ماله په ګرُه کښې زهر راکړی شو...دا خبره ده مس لبنیٰ ۔
لبنیٰ :۔ سلمان ، تهٔ په دې لږ وخت کښې ماته په "لبنیٰ جی ، لبنیٰ بی بی ، لبنیٰ بیګم اومس لبنیٰ مخاطب شوې ۔ دا په ما طنز کوې؟ زما او ستا په مینه کښې خو د داسې القابو ضرورت نیشته ؟
سلمان (خاندی) ۔ شته ... د دې ضرورت شته ۔ لبنیٰ بی بی ماته داسې محسوسیږی لکه څوک ستا لاس زما دَ لاس نه ځان ته راکاږی ، لکه زما او ستا په مینځ کښې فاصلې پیدا کیږی ۔ دا خبره اګر چه زما دَ پاره ناقابل برداشت ده خو ناقابل یقین نه ده .. لبنیٰ ، لکه څنګه چې زهٔ په انټرویو کښې اوورنالج (Over knowledge) شوم ۔ دغه رنګې زما په نظر کښې ته (Over glamorous) شوې ۔ زهٔ دَ علمیت په بنیاد اوشوم او ته دَ خپل حسن په بنیاد ۔ ستا حصول ماته صرف او صرف یو خوب ښکاری یو داسې خوب چې هغه چرې هم پوره کیدې نشی ۔ لبنیٰ ستا مثال دَ سرو انګورو دَ هغه غونچکی دې چی زه ورته په تږو سترګو ګورم ، په خوله کښې م اوبه راځی خو نه مِ خوله وررسی او نه لاس ، نه یې خپلولې شم او نه یې پرېښودې شم او کومې وسیلې چی دَ هغې دَ شو کولو دَ پاره استعمالیدیشی۔ هغه ټولې ختمې دی ۔ اوس ته په خپله فیصله اوکړه ... دا فاصلې به زیاتیږی نه ؟ لبنیٰ دا کوم سلمان چی ستا مخکښې ناست دی نو د دهٔ په شا یو بل سلمان دې ، هغه سلمان چی هغه یو بے حیثیته او غریب سلمان دی ۔
لبنیٰ :۔ Come on sulman ، دا څهٔ فلسفیانه او بورکن خبرې دې


www.pukhto.net



شروع کړی ۔ Be happy and enjoy life ، سلمانه ، ماته تهٔ په هر روپ په هر شکل او هر حیثیت کښې قبول یې ۔ تهٔ زما یې زهٔ ستا یم او دا فیصله ماخپلې مور ته هم اورولې ده ۔ او هغه ماسرایګری شوې ده ۔ هسی انی بهانې مه کوه ، تا زمانه څوک هم نشی اخستې ، ژوند خو لا ژوند دې چې په مرګ به هم زما روح ستا په سر لکه دَ خراړې چورلیږی او مستیږی ۔
سلمان :۔ ګوره ګوره ۔ یو تپوس درنه کوم ۔ ستا مور پلار ، رور، خور او کور شته ؟
لبنیٰ :۔ هاؤ شکر دې ۔ هرڅه شته ۔
سلمان :۔ ستا کور په پاکستان کښې چرته دې ؟
لبنیٰ :۔ په پېښور او سراج بانده کښې ۔ زهٔ دَ سراج باندې دَ عالمګیر خان او اورنګ زیب خان نوسی یم ... اوتهٔ ؟
سلمان :۔ زهٔ دَ بالاکوټ دَ زلزلې په متاثرینو کښې یو بے موره ، بے پلاره او بے کوره مسافر یم ۔ زهٔ دَ جرمن سرکار له خوا دَ انسانیت په بنیاد تعلیم دَ پاره منتخب شوې او راوستلې شوې یم۔ زما تعلیم وتربیت دَ جرمن سرکار دَ همدردی او دَ وظیفې مرهونِ مفت دې ۔ که اوس په څهٔ وجه جرمن سرکار زما وظیفه بنده کړی زما تعلیم به نامکمل پاتې شی او زهٔ به هغسې شم لکه څنګه چې مخکښې ووم ۔ ګوره ګوره .. زما دَ ارمانونو تکمیل ته وې او خپل بهتر مستقبل مِ ستادَ حصول او خوشحالیِ دَ پاره غوښتو ، اوس تهٔ په خپله فیصله اوکړه چې زما او ستا جوړښت ممکن دې ؟

لبنیٰ :۔ د دې هر څۀ باوجود هم زما قبول یې ۔
سلمان :۔ دروغ مۀ وایه لبنیٰ ۔ ته دَ عالمګیرخان او اورنګ زیب خان نوسې یې او دَ سجاد خان لور یې زما او ستا جوړښت څنګه کیدیشي۔
لبنیٰ :۔ ماخو تاته دَ ابو نوم نه دی اخستې ، تۀ هغه څنګه پیژنې؟
سلمان (خاندی) "لبنیٰ بی بی ، ستاسو دَ کورنۍ ټول خانان ، غریبانان ، مزدوران او کسب ګر زۀ پیژنم ۔ ستاسو دَ کورنۍ عالمګیرخان اورنګ زیب خان ، کرنل عالم خان ، شیردل خان ، سجاد خان پوری دا ټول زۀ پیژنم۔ دغه رنګې دَ طوری باندې حکیم خان ، سلیم خان ، ندیم خان او دَ هغوی بال بچ ، دا ټول زۀ ښه پیژنم . . . دې نه علاوه زما په نامه شریک سلمان لیونی هم پیژنم ۔
لبنیٰ ( مسکۍ شی ) تۀ سلمان لیونې پیژنې ؟
سلمان :۔ بالکل داسی لکه تا چې پیژنم ۔ خو تۀ هغه څنګه پیژنې؟
لبنیٰ (مسکۍ شی) ډیر موده مخکښې مونږ کلی ته تلی وو۔ زۀ لا وړه ووم چې هغه مې لیدلې وو ۔ ټوله ورځ به یې په خاؤرو کښې لوبې کولې ، خاؤرې به یې الوځولې او نورو وړو سره به یې دَ خاؤرې الوځولو مقابلې کولې ۔ هغه دَ ټولو وړو مشر وو او دومره ټک لاسکې وو چې چا ترینه سر نشو اوچتولې .
سلمان (مسکې شی ) بالکل بالکل ۔ خو هغه سره ستا څۀ واسطه وه؟
لبنیٰ:۔ زۀ یوه ورځ دَ فیض الله دوکان ته تلی ووم، ځان له مې چپس اخستل ۔ دَ چپسو ګوتۍ مې لاس کښې اونیوه ، یو یو مې ترینه خوړو او


www.pukhto.net



کور ته روانه ووم۔ په لاره کښې یو هلک مخې له راغی۔ او هغه راته وې چې ګوتۍ ماله راکړه ۔ مانه ورکوله او هغه رانه غوښته۔ چې اونشوه نو هغه رانه ګوتۍ په زور واخسته او منډه یې کړه ۔ زۀ په ژړا شوم او لا هلته ولاړه ووم چې دَ پاسه سلمان لیونی راغی۔ هغۀ چې زۀ په ژړا اولیدم نو زما خوا له راغی۔ او تپوس یې رانه اوکړو چې "بی بی ولې ژاړې ؟" ما ورته په سلګو سلګو کښې اووې چې هغه هلک رانه دَ چپسو ګوتۍ اوتختوله" هغه چې دا وورېدل نو لکه شاهین پرې ورغوټه شو۔ په یو څو ګامو کښې یې راواړه وو۔ یو څو ټکه یې په سر لاندې ، باندې اووهو ، ګوتۍ یې ترینه واخسته او ماله یې راؤړه۔ مالا هغسی ژړل چې هغه ګوتۍ راکړه او ماته یې اووې "بی بی ژاړه مه"۔ بیا تر کوره پورې ماسره جلب کښې لاړو او چې زۀ په کور دننه شوم نو هغه مسکې شو او واپس شو۔" دې سره سلمان هم مسکی شو او هغې ته یې اووې " لکه زما غوندی "۔
لبنیٰ :۔ په دویم ځل چې بیا کلی ته لاړم نو هغه په کلې کښې نه وو۔ چا وې هغه عدم پته دې او چا وې مړ شوې دې ۔
سلمان (مسکې شی ) نه بی بی نه ۔ هغه نه عدم پته دې او نه مړ شوې دې بلکه ستا په مخکښې روغ جوړ ناست دی ۔
لبنیٰ :۔ زما په مخکښی خو تۀ ناست یې ۔
سلمان :۔ هاؤ ، بی بی زۀ هغه سلمان لیونې یم۔
لبنیٰ :۔ تۀ سلمان لیونې یی ۔ اوه مائی ګاډ ۔ هغه پاڅی هغۀ ته په یره

یره برند برند ګوری ۔ په روستو روستو ځی په یره یره وائی " تۀ تۀ ، تۀ ..تۀ..

سلمان پاځی دَ هغې دَ نیوو کوشش کوی او هغې ته وائی "لبنیٰ پلیز، لبنیٰ پلیز ، یریږه مۀ ، زۀ ستا سلمان یم ... پلیز لبنیٰ پلیز۔

لبنیٰ :۔ Touch me not ، لاس مه راوړه ، تۀ ، تۀ " په دې تۀ تۀ کښې په روستو روستو ځی ۔ چی ورله اورسی نو هغۀ ته شا کړی ، په یو شغ اوځی او په منډه منډه په پوړو کوزیږی ۔

دَ هغې دَ تلو سره سلمان په بړق بړق په خندا شی ۔ په کمره کښې ګرځی او په بړق بړق خاندی ، په دغه خندا خندا کښې ځان خپل بیډ ته اورسی په هغې کښې ترپونه وهی او ځان سره وائی " سلمان لیونی ..اها ها ها ۔ سلمان لیونې ۔ دی سره په کټ کښې را اوغورځیږی په چغو چغو په ژړا شی ، په بیډ کښې نسکور سملی او په دواړه لاسه خپل مخ سره وهی ۔ لږه شیبه پس دَ هغۀ تپ اوخیژی او مکمله خاموشی ۔

★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★

★★★★★

★★



www.pukhto.net



★

## درویشتم باب

سلمان ته دَ هر طرف نه راپیښه وه ، یوخوا هغه دَ آرمی کمیشن نه پاتې شو او بل خوا دَ لبنیٰ دَ مینې نه محروم شو۔ هغه لبنیٰ چې دَ هغۀ دَ مینې او دَ هغۀ دَ حصول دَ پاره هرې قربانۍ ته تیاره وه ، هغه لبنی چې دَ هغۀ په مینه ژړیده او دَ هغۀ دَ جدائۍ دَ خدشے په وجه یې سترګې سرې شوې او شپې شوګیره شوې وې ، هغه لبنیٰ چې هغۀ یې خپل بواې فرینډ تسلیم کړې ، خپله فیصله یې خپلې مورته اورولې وه او هغې نالیدلې هغه خپل زوم قبول کړې وو، هغه په ډیرو لړو اوبو کښې ډوبه شوه او لاړه بے وفا شوه ۔ دَ هغې تړلې وعدې او دَ مینې رشتې ختمې شوی او دَ دواړو ترمینځه هیڅ پاتې نشو۔ موجوده سلمان دَ هغې دَ مینې شهزاده وو خو دَ ماضی سلمان لیونې اوکهوته وو۔ سلمان هغې ته خپل حیثیت او دَ ماضی جنونیت په دې وجه اوښودلو چې دَ هغوی په مینه کښې دَ شک شبهی ګنجائش پاتې نشی خو دَ هغۀ په یوه خبره چې " زۀ هغه سلمان لیونې یم "۔ دَ هغې مینه په نفرت او یره کښې بدله کړه ۔ او هغه یره او نفرت کښې چې دَ هغه ګوتې اوړل هم ورته قابل نفرت ښکاریدل ۔ او که حقیقت ته اوکتلې شی نو هغه سره څۀ پاتې وو؟ دَ هغه څه حیثیت وو ؟ یو خوا دَ هغۀ ماضی هغې ته قابل نفرت وه ، بل هغه خوا دَکمیشن نه محروم شو او دریمه دا چې دَ هغۀ تعلیم دَ

جرمن سرکار په رحم وکرم باندې وو او دَ سرکاري وظیفے نه علاوه دَ هغهٔ هیڅ بیک گرونډ نه وو۔

بل خوا هغه دَ خپلې خورجی نه هم خفه وو چې هغې دَ خپل واده نه مخکښې دَ هغهٔ نه تپوس ولې اونکړو ۔ په صبا چې هغه دَ خوب نه پاڅیدو نو په پروني واقعاتو يې سوچ کوو۔ نن دَ لبنیٰ هغه سره دَ چکر او لانگ ډرائیو وعده وه ۔ هغه وعده چې دَ هغې دَ پوره کولو دَ پاره دواړه بے قراره وو خو هغه هرڅهٔ داسې ختم شو لکه چې دغه هرڅهٔ دَ لیونو دَ خیالونو بے بنیاده او بے حقیقته قیصې وی ۔ هغه په دغه خیالونو کښې ډوب وو چې دَ خورجی په خط يې سترگې اولگیدې۔ دے سره هغه پاڅیدو ، خط يې راواخستو او څو څو ځله يې هغه اولوستلو ۔ چې څومره به هغه لوستلو هومره به دَ هغه دَ خفگان په شدت کښې کمې راتلو ۔ چې کله بنهٔ سوړ شو نو بیا يې زړهٔ نرې شو ۔ موبائیل يې راواخستو او هغې سره يې ښه ډیرې خبرې اوکړې ۔ په خبرو کښې هغې هم ژړل او دَ دهٔ خو دَ مخکښې نه زړهٔ ډک وو۔ چې زړهٔ يې تش شو نو بیا يې عادل، سیرت ، نسرین ، نیا او ترهٔ سره خبرې اوشوی ۔ اوس دَ هغهٔ زړهٔ سپک شوی وو، پاڅیدو او ناشتې له روان شو۔ چې ناشته يې اوکړه نو بیا يې جامې بدلې کړې بهر ته په چکر اووتو ۔ په چکر بازار ته لاړو، سپر مارکیټ ته لاړو ، نیشنل میوزیم او نیشنل پارک ته لاړو ۔ په اخره کښې دَ دیوار برلن په زړو بنیادونو يې یو چکر اووهو۔ غرمه خپلې



www.pukhto.net



کمرې ته راغی۔ او خپله مطالعه کښې بیا مصروف شو۔

هلته چې کله دَ کوالیفائډ امیدوارانو فهرست دَ فائنل دستخط دَ پاره ټریننگ کمانډر میجر جنرل ویکسی ته پیش کړې شو او هغه دَ هغې چیکنگ کوو نو هغه چې دَ سلمان نوم را اورسیدو او هغې ته اوکتل نو هغې ته اوورنالج لیکلی شوی وو۔ هغهٔ دَ سلمان نوم انډر لائن کړو او بریگیډیر ډونو هو ته يې اولیکل ۔ Discuss the nature of overknowledge candidate. دی سره هغه فائل ډونو هو ته واپس اولیږلو ۔ بریگیډیر ډونو هو چې فائل ته اوکتل نو دَ شروع نه واخله تر اخره پورې يې دَ سلمان ټول ریکارډ ځان سره واخستو او په خپله جنرل ویکسی له ورغی ۔

جنرل ویکسی :۔ بریگیډیر صیب دا یو هلک تا اورنالج کړې دې۔

ډونو هو:۔ دا هلک سلمان دَ خپل قابلیت په وجه اور نالج شوې دې۔

جنرل ویکسی:۔ د دې مطلب خو دا شو چې دَ هغه قابلیت دَ هغه دَ پاره وبال جان شو۔

بریگیډیر ۔ Yes sir یس سر ، خو دا زمونږ دَ آرمی رولز دی ۔

جنرل ویکسی :۔ Is this boy a being or super being ۔

بریگیډیر:۔ I think, he is a being ۔

جنرل:۔ ستا دَ خبرې نه معلومه شوه چې هغه خدای نه دی بلکه انسان دی ۔ چې انسان دې نو څنگه به اوورنالج شی ۔ آیا د دې هلک علمیت دَ خدای دَ علم هم پله دې ۔ په موجوده وخت کښې داسې

انسان نیشته چی هغه اوورنالج شی ـ

بریګیډیر ډونو هو:ـ سر، بیا خو دَ آرمی په رولز کښې ترمیم پکاردې۔

جنرل ویکسی:ـ No, not at all ـ رولز کښې ترمیم نه دی پکار۔ کیډیشی څوک اسمانی مخلوق دَ انسان په شکل کښې په جرمن آرمی کښې بهرتی کیدل غواړی نو دَ دغه رولز اطلاق به په هغهٔ اوکړو۔

ډونو هو:ـ سر دې هلک سره اوس څهٔ اوکړو؟

جنرل ویکسی :ـ دې راؤغواړه، دهٔ نه زهٔ په خپله انټرویو اخلم او دا معلومول غواړم چې څومره اوبو کښې دی ـ

ډونو هو:ـ o.k sir ـ

★★★★★

## دویمه برخه

ویلې کیږی چې کوم سړې ډیر خاندی نو هغهٔ ډیر غم ژن وی ـ دغه حال دَ سلمان هم وو۔ هغهٔ دَ خپل زړهٔ غمونه په خندا غولول۔ دَ هغه دا خندا به اکثر ځان له وه او چی کله به بهر چکر ته اووتو او څوک واقف یا کلاس فیلو به ورسره ملاؤ شو نو بیا به هغهٔ سره په ګهنټو ګهنټو ولاړ وو، هغه به یې هم په ولاړه ولاړه ستړی کړو او په خپله به هم ستړې شو ـ اوس دَ هغهٔ مثال دَ هغه ریټائرډ سړی وو چې دَ هر څهٔ او هرې پابندۍ غلامۍ او Yes sir, no sir، نه ازاد وی، چې نه ورته دَ هفتې ورځی معلومې، نه میاشتی او نه تاریخ او ټوله ورځ بے جلبه



www.pukhto.net



په ګرځیدو ګرځیدو تیره وی ـ

په دغه ګرځیدو، ګرځیدو کښې یوه ورځ هغه په نیشنل پارک کښې زرمینه او دَ هغې ینګ بلډ خاوند اولیدو، هغه ورته سلام اوکړو خو په رڼا ورځ هغې اونه پیژندو ـ بله ورځ یې په سپر مارکیټ کښې لبنیٰ او دَ هغی مور په شاپنګ کښې مصروفی اولیدې ـ چې دَ لبنیٰ او دَ هغهٔ سترګی اولګیدې نو هغه دَ مور په شا اودریده ـ دَ هغهٔ دَ تلو نه پس دواړو یو بل ته په شا اوکتل او دَ دواړو سترګی یو ځل بیا اولګیدې ـ سلمان مسکې شو او هغې ترینه مخ واړه وو۔دَ هغه دَ ازاد ژوند دغه سیل سپاټې لا شروع وې چې دَ بریګیډیر ډونو هو په آرډر کرنل نلسن هغه پسې کمرې ته ورغی۔ هغه په کمره کښې موجود نه وو نو صبا سحر ورپسې په داسې وخت ورغی۔ چې سلمان لا دَ بے غمۍ په خوب اودهٔ وو۔ هغه سلمان دَ خوب نه پاڅوو او هغهٔ ته یې ټوله خبره اوکړه ـ سلمان زر زر واش روم اټنډ کړو، ناشته یې اوکړه، بیا یې سوټ بدل کړو او هغه سره روان شو ـ کرنل نلسن هغه ځان سره ګاډی کښې کینوو او چې لږ ساعت تیریدونو په ټریننګ سنټر کښې یې ډراپ کړو او دَ بریګیډیر ډونو هو دفتر ته یې اورسوؤ هغه، هغهٔ سره ډیر په مینه ملاؤ شو۔ هغه یې خپل دفتر کښی کینوو او په خپله دَ جنرل ویکسی دفتر ته ورغی۔ او هغه له یې دَ هغهٔ دَ راتلو اطلاع ورکړه ـ هغهٔ اخبار کتو او په ډیر خوشګوار موډ کښې وو۔ ډونو هو هغه ته سلوټ اوکړو او دَ سلوټ په دوران کښې یې ورته اووې

" سر ستاسو دَ حکم مطابق سلمان راغلې دې او زما په دفتر کښې ستاسو دَ حکم انتظار کوی "۔

جنرل ویکسی مسکې شو او هغه ته یې اووې ۔ Bring him here ۔

ډونو هو:۔ O.k sir ، دے سره هغه بهر اووتو ۔ لږه شیبه پس یې سلمان دَ جنرل ویکسی دفتر ته راوستو او دَ هغهٔ ټول ریکارډ یې هم راؤړو ۔ سلمان هغه ته سلوټ اوکړو او ډونو هو دَ هغهٔ ریکارډ هغه ته په میز کیښودو ۔ جنرل ویکسی دواړو ته دَ کیناستو اشاره اوکړه ۔ ډونو هو په خپله کرسۍ کیناستو او سلمان دَ امیدوار په کرسۍ ۔ جنرل ویکسی ته مخامخ کیناستو ۔ جنرل ویکسی سلمان ته یو نظر اوکتل ، مسکی شو او تپوس یې ترینه اوکړو "ینګ بواې یو آر سلمان "؟

سلمان :۔ یس سر ۔

جنرل ویکسی :۔ ته ولی اوور نالج شوی ۔

سلمان :۔ سر دَ بورډ دَ چیرمین دَ وینا مطابق زما ټول سوالونه ټیک شوی وو په دې وجه زهٔ اوور نالج شوم۔

جنرل ویکسی :۔ Sulman, you are a being or super being

سلمان:۔ I am a being , not a super being sir.

جنرل ویکسی :۔دَ بینګ اوسپربینګ ترمینځه څهٔ رشته ده ؟

سلمان :۔ دَ خالق او مخلوق ۔

جنرل ویکسی ( مسکې شی ) تا په خپل کورس کښې فلسفه ویلی ده نو ځکه درنه دا تپوسونه کوم ۔ دَ کائنات راز څهٔ دې ؟



www.pukhto.net



سلمان :۔ سر په دې باره کښې زمونږ یو فلاسفر وائی ۔

هیڅ نبی ولی یې درست اسرار موندلې نه دې
لویه کارخانه ده که اوګورې کائنات ۔

۔ The mystery of the world, neither a prophet nor a saint has found
Oh, it is a cosmos quite big and sound.

جنرل ویکسی :۔ دا خو فلاسفر وائی ، ته څهٔ وائی ؟

سلمان :۔ سوری سر ۔ (جنرل ویکسی مسکې شی او بریګیډیر ډونو هو ته ګوری ) ۔

جنرل ویکسی :۔ په دنیا کښې دَ انسان حیثیت څهٔ دې ؟

سلمان :۔ سر ، د دې متعلق هم دغه فلسفی وائی چې :۔

حیران یم نه پوهیږم چې زهٔ څهٔ یم څهٔ به شم۔
له کومه یم راغلې بیا به کوم لوری ته ځم ۔
جهان یو کټوری دې زهٔ په مثل دَ میږی یم۔
حیران پکښې جاراوځم لاس او پښې پکښې وهم ۔

Strange! what am I and what may be
Whence I came and where will go
I am like an ant and a cup is she
۔I flounder in the world to and fro

جنرل ویکسی :۔ دا خیالات هم دَ فلاسفر دی ته خپله نظریه پیش کړه؟

سلمان:۔ سوری سر ،

Pukhto.Net

جنرل ویکسی :۔ او۔ کے ۔ بریګیډیر ډونو هو ۔ دے " اوورنالج " نه دې ۔ دې دَ جرمن آرمی سروس دَ پاره فټ دې ۔ جنرل ویکسی دَ سلمان په فائل لیکل کوی ۔ بیا یې ډونو هو له ورکوی او ورته وائی ۔ " O.k sir thank you ,"ډونو هو فائل اوچت کړی ۔ جنرل ویکسی ته سلوټ اوکړی او بهر اوځی ۔ جنرل ویکسی سلمان ته ګوری او وائی ۔ Congratulation ۔

سلمان (مسکې شی) Thank you sir ۔

جنرل ویکسی :۔ تا ننې اخبار کتلې دې ؟

سلمان :۔ نو سر ، لاِم نه دې کتلې ۔

جنرل ویکسی :۔ دَ دولسم ریزلټ اوتې دې ۔ تانه صرف اول پوزیشن اخستې دی بلکه دَ برلن بورډ تول زوړ ریکارډ دې مات کړو۔ بیا مسکې شی ، هغه ته ګوری او وائی "It means you are over knowledge "

سلمان (مسکې شی) No sir, please ۔

جنرل ویکسی هغه له اخبار ورکوی ۔ سلمان چی اخبار ته اوګوری نو دَ هغهٔ تصویر سره جخت دَ یوې جینۍ تصویر وی ۔ جنرل ویکسی هغه ته ګوری او وائی ؟ You know this girl ۔

سلمان :۔ سوری سر ۔

جنرل ویکسی (مسکې شی ) She is my daughter ۔

سلمان :۔ Sir Congratulation۔

جنرل ویکسی :۔ Meet her my child ۔



www.pukhto.net



سلمان :۔ O.k sir ۔

جنرل ویکسی:۔ O.k, you can go with the best of my wishes

جنرل ویکسی هغه له خپل یو کارډ ورکړی ، هغه ته یو ځل بیا اوګوری او مسکې شی ۔

سلمان :۔ Thank you sir ۔

دے سره هغه دَ جنرل ویکسی دَ دفتر نه بهر اوځی

★★★★★

## دریمه برخه

سلمان په خپلې کامیابۍ دومره خوشحاله وو چې دَ ډیرې خوشحالۍ نه یې خپه په زمکه نه لګیده ۔ هغه چې دَ جنرل ویکسی دَ دفتر نه اووتو نو رومبې کار یې دا اوکړو چې بازار ته لاړو ۔ هلته یو اخبار فروش چغې وهلې ۔ The second year result declared . Sulman stood first and sara weksy second.

سلمان چې دَ هغهٔ دَ خولې نه خپل نوم واوریدو نو نور هم خوشحاله شو۔ یو اخبار یې ځان سره واخستو او سپر مارکیټ ته لاړو ۔ هلته یې دَ سارا ویکسی دَ پاره یوه ګلدسته واخسته ، په ټیکسی کښې کیناستو او دَ سارا کور ته ورغی ۔ چې دَ ټیکسی نه کوز شو نو په ګیټ ولاړ ګارډ ته یې دَ جنرل ویکسی کارډ اوښودو او دَ هغهٔ کور ته وردننه شو ۔ چې دَ ملازمی نه یې دَ سارا تپوس اوکړو نو هغه په ګسټ روم کښې کینولې شو۔ لږه شیبه پس یوه نیم زالې ښځه په

خائستـه لباس کښې ملبوس خوږه مسکا په مخ خوره ،ګستې روم ته راغـلـه ـ سـلـمـان دَ هـغـې پـه تعظیم کښې اودریدو ـ دَ هغې په مخ دَ مسکا دَ پاڅۀ بله مسکا راغله او هغۀ سره یې روغ جوړ اوکړل۔ سلمان هـغـې سره دَ تـعـارف مـحـتـاج نه وو ځکه چې هغې په اخبار کښې دَ هـغـۀ تـصـویـر لیـدلې وو او دَ هغۀ نوم هم ورته معلوم وو البتـه هغې خپـل تـعـارف دَ سارا دَ مـور په حیث دَ زیلومه په نوم اوکړو ـ په خبرو خبـرو کښې هغه ته معلومه شوه چې سارا څۀ کار پسې بهر اوتی ده۔ هغوی لا دَ امتحان دَ ریزلټ او دَ کامیابۍ خبرې کولې چې یوه ملازمه راغـلـه او پـه ټرے کښـې یې هغه ته دَ شربت بوتل پیش کړو ـ دَ بوتل څـکـلـو نـه پـس سلمان زیلومه له دَ سارا دَ کامیابۍ مبارکی یو ځل بیا ورکـړه او دَ سارا ګـلـدسـتـه یـې هـغـې ته پیش کـړه ـ زیلومه په مسکا مسـکـا دَ هـغـۀ پیرزونه قبوله کړه او دَ هغۀ شکریه یې ادا کړه ـ دې نه پـس یـې دَ هـغـې نـه اجـازت واخـسـتـو او دَ هـغـې دَ کوره اووتو۔ چې هـاسټـل ته اورسیدو ـ نو هلته یو جدید ترین ماډل ګاډی ولاړ وو او یو فـوجـی ورسره ولاړ وو۔ سلمان هغۀ ته سلام اوکړو او ډیر په تیزۍ سره پـه پـوړو بـره اوخـتـو ـ هـغـه خـپـلـې کـمـرې تـه روان وو او یوه جینۍ ګـلـدسـتـه پـه لاس دَ هـغـۀ دَ کمرې له خوا دَ هغۀ طرف ته را روانه وه ـ دواړو چې یـو بـل تـه اوکـتـل نـو مـسـکـی شو ـ دَ هغې دَ خولې نه بے اختیاره اووتل ـ You are sulman ـ

سلمان :ـ Yes, and you are Sara ـ



www.pukhto.net



دے سره دواړه په خندا شو او یو بل له یې په ولاړه ولاړه مبارکی ورکړه۔ پـه مبارکـې کښـې هـغـې خپـلـه ګلدستـه هغۀ ته د پیرزونې په توګه پیـش کـړه ـ سـلـمـان هـغـه بوئې کړه او دَ هغې شکریه یې ادا کړه ـ او هـغـې ته یې دَ ناستې دَ پاره اووې ـ هغه مسکۍ شوه او دَ بیا راتلو په وعـده یـې دَ هغۀ نه رخصت واخستو ـ هغه هغې سره واپس کوز شو او تـر هـغـې ورتـه ولاړ وو چې هغه ګاډی کښې کیناسته او ګاډې روان شـو۔ هـغـوی دواړو دَ لاسونو په اشاره یو بل ته سلام اوکړو او په مسکا مسـکـا دَ یوبل نه رخصت شو ـ دَ هغې دَ تلو نه پس هغه خپلی کمرې تـه واپـس شو او په خپل بیډ کښې خوشحاله خوشحاله سملاستو۔ دَ مـلاسـتـې سره دَ هغه په زړۀ کښې دا خیال راغۍ چې دَ خوشحالی په دې مـوقـع د هـغـه ذات شـکـر ویستـل پکار دی چاچې هغه دَ تیرو نه اوویستـلـو او دَ عـزت مـقـام تـه یـې اورسـولـو ـ دې خیال سره پاسیدو، واش روم ته ورغۍ او دَ شکرانی دَ نمونځ د ادا کولو په غرض یې اودس اوکـړه ـ بیـا یـې جـانـمـاز راواخـسـتـو او نـمـانځـه ته اودریدو ـ هغه لا په سجده پروت وو چې په دیکښې دَ کالج پرنسپل او استاذان دَ ګروپ په شـکـل کښـې سـره دَ ګـل دسـتـو او تـحـفـو دَ هغـه مبارکۍ لـه راغلل۔ سـلـمـان چې دَ هغوی په راتلو پو هـ شو نو نمونځ یې مختصر کړو او دَ هـغـوی په خیر راغلی له پاسیدو ـ ټول هغه سره ډیر په مینه ملاؤ شو او څـو څـو ځـلـه یې مبارکی ورکړه ـ سلمان دَ بوتلو په ذریعه دَ هغوی میـلـمـسـتـیـا اوکـړه ـ دې نـه پـس هـغـوی پـه خندا خوشحالی دَ هغۀ دَ

کمرې نه اووتل ۔ دَ هغوی دَ تلو نه پس دَ ملک دَ یو لوئ اخبار The jerman times لـه خوا رپورټران ، کالم نګار او کیمره مین راغلل۔ هغه هغوی په عزت کینول او یوه لویه انټرویو یې ورکړه ۔ په انټرویو کښې هغهٔ هغه مشکلات په ګوته کړل دَ کومو تجربه چې هغه ته شوې وه ۔ دَ هغهٔ انټرویو سره په الیکټرانګ او پرنټ میډیا کښې لوئ انقلاب راغے ۔ دَ هغهٔ دغه انټرویو څو څو ځله نشر شوه۔ دې سره په جرمنی کښې دَ پاکستانی او بالخصوص دَ پښتونخوا دَ طلبا په عزت او وقار کښې نوره هم اضافه اوشوه ۔ دَ هغه دَ کامیابۍ خبر دَ پرنټ میډیا نه علاوه په الیکټرانک میډیا هم پاکستان ته اورسیدو او دَ شپې دَ نهو بجو د PTV په خبرنامه کښې هم داسې اوویلی شو چې،

"جرمنی میں ایک ہونہار پاکستانی طالب علم سلمان نے سیکنڈ ایر کے امتحان میں اول پوزیشن حاصل کی۔ کہا جاتا ہے کہ انھوں نے جرمنی کے تمام تعلیمی بورڈز کے سابقہ ریکارڈ توڑ ڈالے"۔

د PTV دا خبر دَ ملک ګوټ ګوټ ته اورسیدو چې هغې کښې بالاکوټ سوګړی ، هم شامل وو۔

صنوبر، خورجی ، کشورې ابۍ ، عادل زیب ، سیرت او نسرین ټولو دا خبر واوریدو ۔ په دې خبر هغوی ډیر خوشحاله شو خو په زړونو کښې یې شک وو چې آیا دا دَ هغوی سلمان دی او که بل سلمان دې ۔ دَ هغوی دَ زړونو شکونه هغه وخت ختم شو کله چې صنوبر سلمان ته فون اوکړو او دَ هغه نه یې معلومات اوکړل او هغهٔ یقین دهانی ورکړه چې دغه بل څوک نه بلکه هغه دې ۔ دې نه علاوه هغه ورته دَ خپل



www.pukhto.net

سلمان لیونے (پښتو ناول) پرویز شیخ

کمیشن په باره کښې هم خبره اوکړه ۔ هغوی چې دَ هغهٔ د دې لوئ کامیابۍ نه خبر شو نو بے اختره پری اختر شو۔

په دغه هفته کښې دننه دننه دَ جرمن منسټری آف ایجوکیشن له خوا دَ مبارکۍ کارډ هم راغے او دَ ګولډ میډل خوشخبری هم ورکړې شوه ۔ دې نه علاوه دَ ملک دَ اعلیٰ تعلیمی ادارو له خوا ورته دَ مفت تعلیم او دَ سکالر شپ پیشکشی هم اوشوې ۔ دی سره سره ورته په جرمنی کښې دَ پښتون کمیونټی له خوا دَمبارکۍ نه علاوه دَ دعوت بلنه ورکړې شوه ۔ دَ هغهٔ کلاس فیلو ، دَ کالج او باسکټ بال ملګری هم به روزانه راتلل او هغه سره به یې خندا خوشحالی کولې ۔ ټولو ورته دَ خپلې مینې پیرزونی پیش کړې خو دَ زرمینې او لبنیٰ له خوا نه کال راغے او نه مس کال ۔

سلمان ته خپله کامیابی ، عزت او شهرت دَ خوب واقعات ښکاریدل خو نه داسې نه وه ۔ دَ هغهٔ مثال دَ ریګستان دَ هغه مړاوی بوټی وو چې دَ سوکړې په وجه دَ هغهٔ ګلونه ، پانړی او څانګې مړاوې شوې وې خو چې کله پری دَ رحمت باران اوشو نو څانګې یې تازه شوې او دَ نوې پاڼو او ګلونو بهار پری راغے ۔

★★★★★

## څلورمه برخه

بله ورځ هغه ته دَ جرمن آرمی له خوا دَ ټریننګ دَ پاره کال لیټر هم ملاؤ شو او دَ سارا ویکسی له خوا په ډنر دَ بلنې پیغام هم۔

هغه چې دَ پروګرام مطابق دَ جنرل ویکسی بنګلی ته اورسیدو نو سارا او دَ هغې مور زیلومه دَ هغه استقبال ته ولاړې وې. هغه ډیر په عزت اودرانوی په ګسټ روم کښې کینولې شو. سارا هغه سره په ګسټ روم کښې کیناسته او دَ هغې مور باورچې خانې ته ورغله. دَ سور سپرلی دَ سمسور ګلونو ډکه هسکه ځوانی، دَ پیغلتوب دَ مستو وړمو فراوانی، زلفې طلائی روځې هلالی، په مخ فطرتی ښکلا، په خوله دلفریبه مسکا، دَ معجزاتی حسن شاهکار، عجوبه دَ فنکار، په سیمین بدن دَ رنګونو بهار، دَ فطرت دَ ښودنې مینه بازار، په خبرو کښې دَ شاتو خواږهٔ په سترګو دلفریبه کاتهٔ، دا وه سارا ویکسی چې دَ فطرت په نازک قلم جوړه شوې وه.

سلمان دَ هغې دَ حسن په تماشه کښې داسې ډوب شوې وو. چې نه دَ ځان نه خبر وو او نه دَ جهان نه. دَ حسن په دغه مینه بازار کښې دَ هغهٔ دَ مینې لټون لا شروع وو چې هغه یو ځل بیا مسکې شوه او دَ هغهٔ دَ راتلو یې شکریه ادا کړه. د دې دومره حسن ومرتبې باوجود هم نه په هغې کښې تکبر وو او نه شوخی. دومره عاجز طبیعته، خوش طبیعته او مهذبه وه چې په هره خبره کښې به یې دَ هغهٔ دلجوئی کوله. په لږ وخت کښې هغوی په ګڼو موضوعاتو خبرې اوکړې. دَ مستقبل دَ سرګرمیو په باره کښې دَ سلمان په تپوس باندې هغې اووې " سلمان زما پلار فوجی ملازم دې خو زمونږ کورنی بنیادی لحاظ سره سیاسی ده. زما مور دَ برلن ستې سابقه


www.pukhto.net



میئر ده او اوس وزارت داخله کښې دَ سیول سرونټ په طور کار کوی. زما یو تره دَ پارلیمنټ ممبر او بل په یو این او کښې سفیر دې. زما یو کزن دَ کیبنټ رکن دې او بل په فارن آفس کښې دې".

سلمان :. دَ نور تعلیم په باره کښې ستا څهٔ خیال دې؟

سارا ویکسی :. سلمان، زهٔ ډاکټر، انجنیر، وکیل او پروفیسر جوړیدل نه غواړم. زهٔ سیاسی لیډره جوړیدل غواړم خو فی الحال دا ممکن نه دی. دې دَ پاره به زهٔ په سیاسات کښې داخله اخلم او د دنیا دَ ټولو ملکونو سیاسات به سټډی کوم. ته ماسره په دې نظریه ایګری یې؟

سلمان مسکې شو او هغې ته یې اووې " دا خو ډیر ښکلی خیالات دی. خدای دې اوکړی چې تهٔ په خپله اراده کښې کامیابه شی".

سارا (مسکې شی) زهٔ ډیره خوشحاله شوم چې تا زما دَ نظریاتو تائید اوکړو. سلمان زهٔ غواړم چې لکه دَ موجوده فی میل چانسلر غوندې زهٔ هم چانسلره جوړه شم. ته ما سره ایګری یې؟

سلمان :. یس، بالکل، زهٔ هم دا غواړم چې تهٔ دَ جرمنی چانسلره شې.

سارا :. تینک یو سلمان، دې نه علاوه زه غواړم چې تهٔ او زهٔ همیشه همیشه دَ پاره یو شو ځکه چې زما په نظریات ستا اعتراض نیشته او دا توقع لرم چې تهٔ یو مثالی Husband ثابتیدیشې.

د سارا دې خبرې سره دَ هغهٔ دَ خپو نه زمکه اوتختی او هغه لل ګل شی. معلومه نه ده چې هغه به څهٔ جواب ورکوو چې په دیکښې یوه ملازمه راغله او هغوی ته یې ډائننګ روم ته دَ تلو خواست

اوکړو۔ چې ډائننګ روم ته ورغلل نو ټول میز دَ اعلیٰ قسم خوراکونو نه ډک وو۔ او هغوی ټول درې کسان وو۔ چې سلمان او سارا ډوډۍ ته کیناستل نو زیلومه مسکۍ شوه او سلمان ته یې اووې ۔ " سلمان، جنرل صیب هم دَ سارا له خوا مدعو شوې وو خو دَ څۀ مصروفیاتو په وجه هغه ګډون اونکړی شو۔ ډوډۍ شروع کړه پلیز "۔

دَ زیلومه دَ خبرې نه سلمان ته معلومه شوه چې دا دعوت دَ سارا دَ طرفه وو۔ سلمان ته دَ کانټې او چُری په استعمال کښې کړمې پیښې دې ځکه چې یورپین سره دا دَ هغۀ ړومبې خوراک وو خو سارا او زیلومه به دَ هغۀ رهنمائی کوله ۔ هغوی به ډوډۍ هم خوړه او خبرې به یې کولې ۔ په خبرو خبرو کښې ترینه هغه تپوس اوکړو " سارا ستا رونړه خویاندې نیشته " ؟ دې سره زیلومه هم مسکۍ شوه او سارا هم۔ سارا ورته په مسکا مسکا جواب ورکړو۔ No sulman, I am the only one female issue of my parents۔ چې ډوډۍ اوخوړې شوه نو سارا هغه په ټول کور کښې او دَ کور په شاپوړوکی باغ کښې اوګرځوو او بیا یې دَ ارام دَ پاره خپلې کمرې ته راوستو۔ هغې ورله دَ ارام مشوره ورکړه خو هغۀ خپلې کمری ته تلل غوښتل ځکه چې صبا له په ټریننګ سنټر کښې دَ هغۀ حاضری وه او دَ هغې دَ پاره تیارې کول وو ۔ دا معلومات سارا ته هم وو، دې دَ پاره هغې په خپله خبره ډیر زور وانه چوو۔

## څلورویشتم باب



www.pukhto.net



دَ سلمان ټریننګ شروع شوې وو او هغه خپلو سرګرمیو کښې بوخت وو۔ کوم کمال چې هغۀ دَ کمیشن په آزمائشونو کښې ښودلې وو۔ دَ هغې نه زیات کمال یې په فیزیکل مشقونو کښې اوښودو۔ هم دغه وجه چې په لږ ورځو کښې پلاټون لیډر جوړشو۔ دې نه پس دَ کمپنی لیډر دَ پاره دَ پلاټون لیډرانو ترمینځه یوه مقابله اوشوه ۔ په هغې کښې هغۀ اول پوزیشن واخستو او دَ ټولې کمپنۍ لیډر جوړ شو ۔ دغه رنګی په مارچ ، بینټ فائټنګ او په نورو مشقونو کښې یې هم خپله مړانه اوښودله ۔ بریګیډیر ډونوهو او جنرل ویکسی دَ هغه دَ کارکردګی نه ډیر مطمئن وو۔

هلته سارا ویکسی په برلن یونیورسټۍ کښې په سیاسیات کښې داخله اخستې وه او کلاسونه شروع شوی وو۔ سلمان به دَ سارا په خواهش دَ چُهټی په ورځ راتلو ، هلته به یې شپه اوکړه او بیا به هاسټل ته لاړو ۔ خپلو ملګرو سره به یې لیدل کتل هم اوشو او خندا خوشحالی هم ۔ یوه شپه به په خپل بېډ کښې سملاستو ، زړو یادونو ته به یې دَ خیال په دریچو کښې اوکتل ، شپېه ، نیمه به یې ارام اوکړو او بیا به ټریننګ سنټر ته روان شو ۔ یو خوا دَ هغه ټریننګ شروع وو بل خوا په کالج کښې دَ هغۀ په اعزاز کښې دَ یوې لوې پارټۍ او دَ ګولډ میډل ورکولو تیارې شروع وو۔ په دې دوران کښې دَ جنرل ویکسی سره هم دَ انتظامیې خبره اوشوه خو دَ هغۀ دَ ټریننګ په ختمیدو کښې لږ وخت وو نو دَ هغۀ په مشوره دَ ګولډ میډل

پروګرام یو څو ورځې اوزانګیدو ۔

چې کله دَ هغۀ ټریننګ مکمل شو او دَ پاسنګ آوټ وخت راغے نو دَ خپلې اعلیٰ کارکردګۍ په وجه دَ ' تورې " دَ اعزاز دَ پاره دَ هغۀ نامزدګی اوشوه ۔ دَ پاسنګ آوټ په ورځ اعلیٰ فوجی او سیول افسران دَ امیدوارانو والدین او دَ ښار نور سپین روبی راغلی وو۔ دَ پاسنګ آوټ نه پس هغه له اعزازی توره ورکړې شوه ۔ دَ پاسنګ آؤټ دعوت هغۀ ډیرو ملګرو له ورکړی وو خو په دغه ټولو کښې یوه سارا ویکسی راغلې وه ۔ د دې پروګرام په دریمه ورځ په کالج کښې دَ هغۀ په اعزاز کښې دَ ګولډ میډل پارټی وه ۔ دا پروګرام دَ منسټری آف ایجوکیشن له خوا وو او دَ هغې انتظام دَ کالج دَ پرنسپل په ذمه وارۍ وو۔ دې پروګرام له هم اعلیٰ سیول او فوجی افسران هم راغلی وو ، دَ سیول سوسائټی ارکان او سماجی شخصیات ، دَ برلن سیټی سابقه او موجوده مئیرز ، دَ تعلیم ماهرین او وزیر تعلیم هم راغلی وو۔ دَ ګولډ میډل پروګرام دَ کالج په کانو کیشن هال کښې او دَ ډوډۍ پروګرام دَ کالج په وسیع کمپونډ کښې په شامیانو کښې وو۔ دَ پروګرام شروع کیدو نه لږ مخکښې سلمان او سارا ویکسی هم راغلل او جنرل ویکسی او زیلومه سره خوا کښې په خپلو کرسیو کیناستل۔ دَ پروګرام شروع دَ پرنسپل صیب دَ تقریر نه اوشوه ۔ هغه په خپل تقریر کښې دَ میلمنو شکریه ادا کړه او سلمان ته یې زبردست خراج تحسین پیش کړو۔ دے نه علاوه چې کوم هاسټل کښی هغه اوسیدو نو دَ



www.pukhto.net



هغه هاسټل نوم یې " سلمان هاسټل " کیښودو ۔ او په کومه کمره کښې چې پاتې کیدو دَ هغې چابیانې یې ورته دَ لائف ټائم اچیومنټ " په طور پیش کړې ۔ دې سره یې ورته دَ خپل طرفه یوه ګلدسته او دَ کالج دَ طرفه یو ښکلی شیلډ پیش کړو ۔ دَ هغۀ نه پس وزیر تعلیم یو جامع تقریر اوکړو او هغې کښې دَ پښتون قوم دَ مړانی ، قابلیت او حب الوطنۍ ذکر اوکړو ۔ په اخر کښې دَ میډلز دَ پاره دَ هغۀ او دَ سارا ویکسی دَ نومونو اعلان اوشو ۔ چې هغوی سټیج ته اوختل نو دَ سلمان په غاړه کښې ګولډ میډل واچولی شو او دسارا ویکسې په غاړه کښې سلور میډل ۔ دے سره دَ هغوی په اعزاز کښې لاسونه اوپړقولی شو۔ سلمان خپل ګولډ میډل دَ غاړې نه اوویستلو ۔ په لاس کښې اونیوو بیا سارا ته مخاطب شو او وې وئیل :۔ Sara weksy, I Love this gold medal too much, but this too much love is lesser than your love. Accept it with . thanks as a token of love.

دې سره یې خپل ګولډ میډل دَ هغې په غاړه کښې واچوو۔ دَ هغه په حق کښې دَ لاسونو پړقار شروع شو ۔ جنرل ویکسی او زیلومه هم مسکی شول ۔ دې نه پس ټول دَ ډوډۍ دَ پاره شامیانو ته لاړل ۔

سارا ویکسی او سلمان دواړو یو بل دَ بوائې فرینډ او ګرل فرینډ په حیث قبول کړی وو۔ دَ سارا کمرې سره جخت هغه له یوه خائسته کمره ورکړې شوه ۔ دَ چهټی شپه به هغۀ اکثر خپله کمره کښې

تیرولہ۔ دَ وخت تیریدو سره دَ هغوی دَ مینې خوارۀ لکه دَ ګنی بند په بند زیاتیدۀ ۔ زیلومه او جنرل ویکسی غوښتل چې دَ هغوی وادۀ زر تر زره اوشی ۔ دې دَ پاره هغوی خپل تیارې شروع کړې وو۔ دَ یورپ دَ کلتور مطابق سارا غوښتل چې دَ وادۀ نه مخکښې هغه او سلمان دَ فارن یو تپور اوکړی ۔ هغې دَ سلمان دَ راې معلومولو کوشش کوو خو زړۀ پرې نشو کولې ۔

دَ سلمان دَ زړۀ ټول ارمانونه پوره شوی وو خو بیا هم چی کله به هغه ځان له شو نو په خپلو خیالونو کښې به ډیر لرې لاړو تر دې چې کله کله به دَ سارا دَ موجودګی دَ احساس نه هم غافل شو ۔ هغۀ دَ ډیر مودې نه سارا ته څۀ ویل غوښتل خو خوله یې ورته نشوه جوړیدې ۔ سارا دَ هغه په اراده پوهـ شوه چې هغه څۀ ویل غواړی خو ویلې نشی ۔ سارا څو څو ځله دَ هغه نه تپوسونه اوکړل خو هر ځل به دَ هغې په خبره مسکې شو او هغې له به یې جواب ورنکړو ۔ اخر یوه ورځ ترینه هغې ډیر په کلکه تپوس اوکړو " چې ستا هغه کوم ارمان دې چې پوره کیدې نشی "۔ سلمان هم هغه نوره په تجسس کښې ساتل نه غوښتل او په زړۀ کښې یې دا راغله چې هسې هغه دَ هغۀ په مینه شکی شی ۔ هغه مسکې شو او ورته یې اووې " سارا ما دَ خپل بیک ګروند متعلق تاته هرڅۀ ویلې دی ، خو د ویلو اولیدو کښې ډیر فرق دې ۔ زۀ ویم چې دَ وادۀ نه مخکښې زما حیثیت تۀ په خپله اووینې ۔ او زما او ستا ترمینځه دَ شک شبهې څۀ ګنجائش پاتې



www.pukhto.net



نشی۔ ماتاته دَ خپل ماضی ځینې خبرې کړی دی خو یوه خبره رانه پاتې شوې وه ۔ او هغه دا چې دَ خپلې مور دَ مرګ نه مخکښې ما هغې سره وعده کړې وه چې زۀ به نه جنګ جهګړې کوم ،نه به اورانې کوم او خپل سبق به وایم ... سارا ، ما هغې سره کړې خپله وعده پوره کړه خو د دې نه هغه خبر نه ده ... زۀ غواړم چې زۀ دَ هغې قبر له لاړې ، هغې ته مِ سلوټ اوکړې او دَ خپلې وعدې دَ تکمیل پیغام مِ ورکړې ۔ سارا ، د دې پیغام ورکولو دَ پاره زۀ د مور دَ قبر دیدار له پاکستان ته تلل غواړم ... دا خبره ده سارا ۔

سارا (مسکې شی ) واؤ پاکستان ۔ تاسره زۀ تلې شم ۔ سلمان پلیز ...

سلمان :۔ که ته ماسره تلل غواړې نو دا خو به زما خوش قسمتی وی۔

سارا:۔ تا خوبالکل زما دَ زړۀ خبره اوکړه ۔ سلمان ، دَ وادۀ نه مخکښې زما دَ فارن دَ یو تپور اراده وه خو تاته مِ اظهار نشو کولې ۔ اوس زۀ ډیره خوشحاله یم چې مونږ دواړه به یو ځای دَ فارن په تپور ځو۔ " I want to inform my parents "هغه په خوشحالی پاڅې او مور پلار سره مشوره کوی ۔ جنرل ویکسی چې دَ هغوی دَ ارادې نه خبر شی نو دواړه راغواړی او ورته وائی " فی الحال دَ پاکستان حالات ښۀ نه دی ۔ چې کله حالات ، ښۀ شی نو بیا به لاړ شی۔ " سلمان هغۀ له هیڅ جواب ورنکړو خو سارا ورپورې تر هغې انختې وه چې هغه یې راضی کړو ۔ دَ هغه په اجازت ورکولو دواړه خوشحاله شو او پاکستان ته یې دَ تلو تیارې یې شروع کړو ۔ دوی خپل تیارې کوو او جنرل

ويکسې په پاکستان کښې دَ جرمنی سفير سره رابطه اوکړه ـ چې هغه ګرين سنګل ورکړو نو بيا مطمئن شو۔

★★★★★

## دويمه برخه

سلمان او سارا چې دَ اسلام آباد په اير پورټ کوز شو نو دَ جرمن سفارت خانې له خوا ورته يو نمائنده دَ استقبال دَ پاره ولاړوو۔ چې کله دَ هغوی شناخت اوشو نو دواړه په يو اعلیٰ ګاډی کښې کيناستل چې دَ هغوی ګاډې روان شو نو دَ پوليس يو ګاډې ترينه مخکښې او بل ورپسې روستو روان شو۔ هغوی ته پته اولګيده چې دا پوليس دَ هغوی دَ حفاظت دَ پاره مقرر کړې شوې دې ـ هغوی دواړو خپلو کښې خبرې کولې او خبرو خبرو کښې به ورته سلمان يو يو ځاې په ګوته کوو او دَ هغې نوم به يې ورته اخستو ـ سارا ډيره خوشحاله وه خو چې کله دَ ايبټ آباد سيمې ته اورسيده او خائسته خائسته قدرتی نظارو ته يې اوکتل نو بيا خوبه يې هرې نوې نظارې ته اشاره کوله او سلمان ته به يې وی " دا اوګوره سلمانه " ، هغه اوګوره سلمانه پاکستان څومره خائسته وطن دې ، په دغه خندا خوشحالۍ کښې هغوی بالاکوټ ته اورسيدل ـ سلمان هغې ته په زلزله کښې دَ بالاکوټ او دَ خواؤ شا علاقو دَ تباهی ټولې خبرې اوکړې ـ په دغه خبرو خبرو هغوی دَ بالاکوټ او دَ خواؤ شا علاقو دَ تباهی ټولې خبرې اوکړې ـ په دغه خبرو خبرو هغوی سوګړې ته اورسيدل ـ زيږ مازيګر



www.pukhto.net



وو چې هغوی کور ته اورسيدل دَ رسيدو سره سلمان دَ ګاډی نه کوز شو او سارا ته يې وې ماپسې راځه ـ سلمان چې ور اوډبوو نو سيرت ورله رامنډه کړه ـ هغې ورلړې کړو خو چې پوليس يې اوليدو نو واپس يې کورته منډه کړه او مور ته يې اووې " پوليسان راغلی دی" سلمان هډو دَ چا انتظار اونکړو او کور ته ډير په تيزی سره ورننوتو۔ خو زرغونے او نسرين چې هغه اوليدو نو دواړو کوټې ته منډه کړه ـ سلمان له هم دَ شرارت موقع په لاس ورغله ـ چې زرغونه په ځان پوهيده نو هغه يې غيږ کښې نيولې وه ـ هغې ورته بدرد وې او هغه ورپورې خاندل ـ بيا يې په غيږ کښې اوچته کړه او بهر يې په کټ کښې کينوله ـ سارا ورپورې خاندل او په خندا خندا کښې يې ورته اووې " سلمان دا ستا خورجی دهٔ" ـ زرغونے چې دَ سلمان نوم وواريدو نو دَ ډيرې خوشحالۍ نه په ژړا شوه ـ په ژړا ژړا کښې هغه ته ورترغاړه وته او څو څو ځله يې هغه ښکل کړو ـ چې دَ ژړا دور ختم شو نو بيا خندا شروع شوه ـ سلمان ترينه په خندا کښې تپوس اوکړو " خورجی سئرت څهٔ شوه "ـ زرغونه مسکۍ شوه او ورته يې اووې " دا تاسره چې ولاړه ده ، نو دا سيرت ده "ـ سلمان هغه ځان ته رانزدې کړه او څو څو ځله يې ښکل کړه ـ بيا زرغونے ته وائی ، "خورجی زما يوه وړه خوروه ، نسرين ، هغه مِ اونه ليده " دے سره خورجی هم په خندا شی او نسرين هم "نسرين هغه له راځی ، سلمان هغه ښکل کړی او په سر ورله لاس کيږدی او وائی " اوه ، ته خو لويه شوې يې "۔

هلته کشوره ابیۍ دَ کلی محلت دَ روغ رنځور تپوس له اوتې وه ـ هغه لا هلته په پردی کور کښې وه چې خبر ورغی ۍ چی دَ هغوی په کور پولیس چهاپه اووهله ـ هغه هلته نه په منډه منډه وارخطا کور ته راروان شوه ـ چې کور ته را اورسیده او پولیس یې اولیدو نو دَ هغې شک په یقین کښې بدل شو او په یو شغ کور ته ورننه وته هغې چې سلمان په وردی کښې اولیدو نو یره یې نور هم زیاته شوه په هغې لا دَ یرې چیچې تلې راتلې چې سلمان هغې له ورپاځیدو او دَ هغې خپو ته تیتې شو ـ دَ هغې دَ یرې ختمولو دَ پاره زرغونے هغې ته اووې " یریره مه مورجی دا سلمان دې "ـ دې سره هغه په چغو چغو په ژړا شوه ـ هغه یې ځان ته رانزدې کړو او بے واره بے واره یې ښکلولو ـ هغوی لا دا ښکلول کول چې صنوبر هم دَ غصې نه پړسیدلې سپیږمی کور ته راغی ـ دَ هغهٔ دَ غصې ختمولو دَ پاره زرغونے هغهٔ ته په خندا اووې ، صنوبره دا سلمان دې ، هغه چې دا وریدل نو بے اختیاره یې هغه له رامنډه کړه او ورترغاړه وتو ـ هغوی لا خپلو کښې خبرې کولی چې دَ زانګو نه دَ یو ماشوم دَ ژړا اواز راغی ، سلمان چې دَ ماشوم ژړا ووریده نو زانګو ته یې اوکتل او وې وئیل "خورجی دا ماشوم څوک دې "؟ زرغونه اوشرمیده او مخ یې ترینه واړه وو ـ کشورې ابیۍ ماشوم راواخستو ، هغه له یې په غیږ کښې راوړو او ورته یې اووې "سلمانه ، دا ستا خوریی او زما نوسې دې "ـ دې سره هغه هم مسکې شو او هغه یې ښکل کړو صنوبر هم مسکې شو ، سترګې یې خکته کړې


www.pukhto.net



او ځان سره یې بوتلې واخستې بهر میلمنو له یې یوړې ـ هغوی چې شربت اوڅکو او صنوبر بوتلې کورته راؤړې نو سلمان ته یې اووې " سلمانه هغه پولیس والا وائی چې مونږ ته څهٔ حکم دې " ؟

دې سره سلمان پاځی او بهر ته ځی ـ هغهٔ پسې صنوبر هم اوځی ـ سلمان هغوی ته په خندا خندا وائی " خفه نشیۍ ما په کور کښې وخت واخستو ، سوری ـ خو تاسو ولې ولاړ یې ، په کټونو کښې ډډې واچوۍ ـ ښهٔ په ارام کینۍ ، چایی تیاریږی ، چې چاې اوڅکۍ نو بیا به ځی ـ

پولیس انچارج :ـ صیب جی مونږ سره نفری کمه ده ـ که تاسو ته ضرورت وی خو پاتې به شو او که ضرورت نه وی نو بیا مونږ له اجازت راکړۍ ـ

سلمان :ـ که دَ میلمنو په حیث پاتې کیږۍ خو ستاسو خپل کور دی او که تلل غواړۍ نو زما دَ طرفه فارغ یې "

دَ سفارت خانی ډرائیور :ـ صیب جی ماته څهٔ حکم دی ـ زهٔ پاتې شم که ګاډی پریږدم ؟

سلمان :ـ تاسو ټول دَ سفارتخانی نه راغلی یې ، نو بیا ټول ځی ـ

ډرائیور :ـ صیب جی ، که څهٔ خدمت وی خو پاتې به شم ـ

سلمان :ـ دا زما کور دې ـ دلته تاسو زما میلمانهٔ یې ـ خدمت به مو زه کوم ( دے سره ټول په خندا شی ) ښه ځی ورځی ستاسو ډیره مهربانی ـ سلمان او صنوبر دَ ګاډی نه سامان اوباځی چی هغوی

ګاډي روان کړي نو سلمان ورته دَ سلام لاس اوچتوي ۔ بیا هغه او صنوبر سامان اوچت کړي او کور ته یې اوړي ۔

نسرین سارا ته کټ سم کړې وو او هغه یې پکښې لکه دَ ناوې کینولې وه او سیرت ورسره جخته ناسته وه ۔ سارا به چې دَ هغوی مینې محبت او خندا خوشحالۍ ته کتل نو ځان سره به موسیده۔ دَ شربت نه پس دَ چایو دور شروع وو۔ زرغونے غلې غوندې صنوبر بیل کړو او هغه ته یې پس پسو کښې څۀ اووی ۔دې سره هغۀ ډیر په تیزۍ سره دَ کوره اووتو ، په ګاډي کښې کیناستو او بالاکوټ ته لاړو۔

دَ صنوبر دَ تلو نه پس زرغونه دَ سلمان کمرې ته ورغله او هلته یې سارا ته یو پالنګ سم کړو، په کمره او واش روم کښې یې دَ پرفیوم سپرے اوکړه ، نوې تولیه ، صابن ، اینه ګمنز ، ټوتھ پیسټ، کریم پوډر ، دَ پرفیوم سپرۍ ، دَ میک اپ سټ او دَ ضرورت نور سامان یې په واش روم کښې کیښودو ۔ بیا خپلې کمرې ته لاړه ۔ دَ الماري نه یې درې څلور ښه اعلیٰ نوې جامې یې راواخستې ، هغه یې استرې کړې او هینګر کښې یې دَ هغې په کمره کښې اویزانده کړې۔ دې نه پس سلمان پسې لاړه ، هغه یې دَ ډلې نه بیل کړو ، کمرې ته یې راوستو او ورته یې اووې " سلمانه دا جینۍ څوک ده "؟

سلمان (سنجیده وی) څوک ده ؟ څۀ مطلب ؟

زرغونه :۔ په مطلب پوهـ نشوې ؟

سلمان :۔ نه پوهـ م کړه ۔



www.pukhto.net



زرغونه :۔ زما مطلب دا دې چې دا ستا څۀ ده ۔

سلمان :۔ زما څۀ ده ؟ ... زما میلمنه ده ۔

زرغونه :۔ میلمنه خو ده ... خو زما مطلب دې چې ....۔

سلمان:۔ وایه وایه ... چپ ولې شوې ۔

زرغونه :۔ زما مطلب دې چې ستا ښځه خو نه ده ؟

سلمان (بناوټي غصه) زۀ ستا غوندې نه یم چې په پټه به واده کوم۔ تا سره زما خبرې شته خو اوس نه روستو به ګورو۔ داسې خو دې نه پریږدم چې ترڅو م ژړولې نه یې ...ښه اوس څۀ ویل غواړې ؟

زرغونه :۔ اوس دا ویل غواړم چې هغې ته م پالنګ سم کړو ، تاته دغه بل پالنګ جوړ کړم ۔

سلمان :۔ نه جي دغه ځان له جوړ کړه ۔ ته به دلته هغې سره سملې او زۀ به خپلې نیا سره سملم ۔

زرغونه :۔ دا جامې م ورله راخستې دی ۔ چې جامې بدلې کړي...

سلمان :۔ ته دلته انتظار اوکړه ، زۀ هغه تاله رالیږمه ۔

سارا چې جامې بدلې کړې او لوپټه په سر کړې نو ځان ورته بل بل رنګې ښکاري ، چې لوې اینے ته اوګوري نو ډیره شیبه ځان پوری خاندې بیا بهر اوځي او دَ هغوی په ډله کښې کیني ۔

صنوبر دَ بازار نه ډیره سودا راوړه ۔ دَ کټوۍ پخولو نه مخکښې سلمان زرغونے له دَ سارا دَ خوراک په باره کښې هدایات ورکړل ۔ بیا هغه او نسرین اخلې پخلي ته کیناستې او سلمان ، کشوره ابۍ ، عادل

Pukhto.Net

، سیرت او سارا ناست وو خپلو کښې یې خبرې کولې ـ سارا به دَ هغوی په خبرو دوه ځله خاندل ـ یو ځل دَ هغوی سره په ډله کښې او بیا چې کله به ورته سلمان دَ هغوی دَ خبرو ترجمه اوکړه ـ دَ ماښام ډوډۍ دَ پاره درۍ اوغوړولې شوه او ټولو په غونډه ډوډۍ اوخوړه ـ بیا دَ اوچې میوې او قهوې دور شروع شو ـ دغه دور لا چلیدو چې سلمان خپل سوټ کیس پرانستو او هغه ټولې تحفې یې ترینه را اوویستلې کومې چې هغه دَ هغوی دَ پاره اخستې وې ـ هغه ټولې یې راواخستې ، زرغونے ته یې مخکښې کیښودې او ورته یې اووې " خورجی دا په خپله تقسیم کړه "ـ

زرغونه :ـ نه سلمانه ، دا دَ مشرۍ کار به مورجی کوی ـ دا تحفې لا پرتې وې چې سارا هم خپل سوټ کیس پرانستو او ټولې تحفې یې ترینه را اوویستلې او دَ هغهٔ تحفو دَ پاسه یې کیښودې کومې چې لاپرتې وی ـ دا ټول سامان دَ کشورې ابۍ مخې ته پروت وو او هغې تقسیمو و ـ سلمان دغه تقسیم هغوی ته پرېښودو او سارا ته یې اووې " سارا راځه چې تا خپلې کمرې ته بوځم او لږ ارام اوکړې ـ دې سره هغوی دواړه پاسیدل او کمرې ته لاړل ـ سلمان هغه په هرڅه پوهـ کړه ـ بیا ترینه هغه اووتو او دَ هغهٔ په ځاې زرغونه دَ هغهٔ کمرے ته ورغله ـ هغې لا ملاستې ته ځان جوړه وو چې دَ هغې دَ مور کال راغی ـ هغې ورسره ټولې خبرې اوکړې او چې څهٔ ورته پیښې شوی وو هغه یې ورته په خندا خندا اووې ـ



www.pukhto.net



★★★★★

## دریمه برخه

سلمان په کلی کښې درې ورځې تیرې کړې ـ په دیکښې هغه سارا ته هغه ټول ځایونه اوښودل په کومه کښې چې زلزله راغلې وه ، خو شروع یې دَ خپل سکول نه اوکړه ـ دَ سکول استاذان چې دَ هغهٔ دَ راتلو نه خبر شو نو ټول دَ هغهٔ هرکلی له بهر را اووتل او هغهٔ سره په مینه مینه ملاؤ شو ـ چې کله هغوی ته معلومه شوه چې په جرمنی کښې په جرمن آرمی کښې لفټیننټ جوړ شوې دې نو بیا خو به یې دَ مبارکۍ دَ پاسه مبارکۍ ورکولې ـ چې دَ هغوی نه رخصت شو نو بیا یې سارا هغه ځایونو ته راوسته کوم چې شلیدلی وو او لاندې تلی وو ـ هغې دَ هغه ټولو ځایونو فوټو ګرافی اوکړه کوم چې لا تر اوسه کنډې ، کونډې پراتهٔ وو ـ چې دَ کلی او دَ دغه خواؤ شا سیمې ټوله تباهکاری یې ورته اوښودله نو بیا دَ صنوبر په ګاډی کښې دواړه کیناستل او بالاکوټ ته لاړل ـ هلته چې کومې تباهۍ شوې وی هغه ټولې یې ورته یوه په یوه اوښودلې ـ دې نه پس جهیل سیف الملوک ته لاړل ـ د دې جهیل په لیدو باندې سارا ډیره خوشحاله شوه ـ بیا یې د دغه ټولو ځایونو تصویرونه اوویستل ، چې دَ هغې تصویر کشی اوشوه نو بیا ورته د دې جهیل متعلق هغه ټوله فرضی قیصې او خبرې اوکړې کومې چې دې جهیل سره منسوبې دی ـ دَ شهزاده سیف الملوک او دَ بدری جمالې ښاپیرۍ رومانی داستان ئې ورته

اووې ۔ هغې په مسکا مسکا دغه ټولې خبرې اوریدې او خپله ډائرۍ کښې یې لیکلې ۔ دې نه پس دَ لولو سرپت جهیلونو ته لاړل ۔ دا جهیلونه دَ جهیل سیف الملوک نه هم زیات خائسته او دلکش وو۔ چې چکر ختمیدو نو ورځ هم ختمه وه ۔ نمر په غرغره وو چې هغوی په ګاډې کښې کیناستل او خپل کور ته لاړل ۔ دَ صبا دَ پاره یې دَ کاغان او ناران پروګرام جوړ کړو ۔ په صبا چې کاغان ته روان شو نو دَ سارا په خواهش باندې هغوی بیا جهیل سیف الملوک ته او دَ هغه ځائې نه لولو سرپت ته لاړل ۔ هغوی چې په دغه غرونو ، نظارو او ډنډونو ګرځیدل نو سارا ته خپل ځان بدری جماله ښکاریدو او هغه ورته شهزاده سیف الملوک ۔ ځو ځو ځایه هغوی دغه ډنډونو سره او دغه غرونو کښې ځانله ځانله په دوه په دوه فوټو ګرافي اوکړې۔ دا فوټو ګرافي په هر فوز کښې وې ۔ په ولاړه ، په ناسته ، په ملاسته ، په منډه ، په خوراک کښې ، په څکلو کښې او په خندا کښې ۔ دَ لولو سرپت دا نظارې دومره دلکشه وې چې دَ هغې زړۀ ترینه تلو ته نه کیده خو ورځ هم په ختمیدو وه او کاغان او ناران ته تلل هم ضروري وو ۔ نو هغوی په ګاډي کښې کیناستل او کاغان ته روان شو۔ یوه موقع داسې راغله چې ګاډي دَ سلمان نه بے قابو شوې وو خو سارا سټیرنګ تاؤ کړو او ګاډي یې قابو کړو۔ دې سره هغه دَ سلمان په ډرائیونګ اویریده هغه یې په خپل سیټ کینوو او ډرائیونګ ته هغه کیناسته ۔ دا نظارې دومره دلکشه وې چې هغوی به ځای په


www.pukhto.net



ځای اودریدل او نظاروته به یې کتل ۔ هغوی چې کاغان ته رسیدل نو ماښام تیارۀ وو، ګاډې یې یو هوټل ته ستون کړو او دَ شپې په نیت په هوټل کښې پاتې شو ۔ چې ډوډۍ یې اوخوړه او کمرې ته ورغلل نو جنرل ویکسی ورته کال اوکړو ۔ هغې پلار او مور سره دومره په جذباتی انداز خبرې اوکړې او داسې په خندا خندا لکه یو بانډه چې ماشوم چی دَ ښار میلې ته لاړ شی او بیا خپل جذبات خپل مور پلار ته بیانوی ، یوه خبره پریږدی ، بله نیسی او بله پریږدی بله شروع کوی ۔ جنرل ویکسی او زیلومه ډیر خوشحاله شو۔ دې نه پس یې سلمان سره هم خبرې اوشوې او چې هغوی مطمئن شو نو بیا دواړو یو بل ته ګډ نائټ اووې او کال ختم شو۔ صبا سحر هغوی دَ کاغان ، ناران او دَ ملحقه علاقو په سیل اووتل ۔ هغوی ټوله ورځ په دغه رومانی غرونو او دَ غرونو په نظارو کښې اوګرځیدل ۔ دَ فوټو ګرافي نه علاوه سارا دَ دغې علاقو دَ اوسیدونکو نه په مختلفو موضوعاتو انټرویوز هم واخستې ، او هغه یې خپل ډائرۍ کښې اولیکلې تر ناوخته پورې هغوی سیل سپاټه کوله ۔ بیا یې ځان له د دې علاقی خاص پیداوار یعنی اوچی خرمانۍ ، بادام ، غوزان او نوره میوه هم واخسته او مور پلار له یې دَ ورۍ واسکټ او مور له یې شال هم واخستو۔ دې نه پس په ګاډی کښې کیناستل او کلی ته روان شو ۔ چې کلی ته رسیدل نو تیاره وه ۔

په صبا دَ هغوی دَ سراج بانډې پروګرام وو۔ سلمان خپلې عام

جامی اوويستلی او خپله فوجی وردی يې وا چوله چې هغه دَ خپلې مور قبر ته په دغه وردی کښې اودريږی او هغې ته فوجی سلوټ اوکړی ځکه چې دا دَ مودو مودو نه دَ هغه دَ زړهٔ ارمان وو۔ سارا هم د دې علاقی دَ روايت مطابق دَ زرغونے جامې واغوستې ، لوپټه يې په سر کړه او دَ پاسه پری پړونی په سر کړو ، سلمان سره په ګاډی کښې کيناسته او په مسکا مسکا روان شو۔ چې پيښور ته اورسيدل نو هلته سلمان دګلونو دوه سهرې واخستې ، په ګاډی کښې يې کيښودی او دَ سراج باندې هديرې ته روان شو۔ چې سراج باندې ته نزدې شو نو سلمان هغې ته هغه تول ځايونه اوښودل په کومو کښې چې هغه په هلکانه کښې لکه دَ ليونو ګرځيدلې وو او منډې ترې يې پکښې وهلې وی ۔ لوړ مازيګر وو چی دَ هغوی ګاډې دَ هديری دَ سړک په اخری بريد اودريدو او هغوی ترينه کوز شو۔ هغوی ګاډی هلته پريښودو او هديرې ته پياده روان شو ځکه چې مخکښې دَګاډی لار نه وه ۔ چې څهٔ تهوته مخکښې لاړل نو دوه زنانه يې په پړونی کښې اوليدې چې يو قبر ته ناستې وی او دعا يې ورته کوله۔ سلمان او سارا په هغوی تير شو او مخکښې لاړل ۔ هلته سلمان دَ خپلې مور قبر سره اودريدو او دَګلونو سهره يې پرے اوغوړوله ۔ دَ هغه نه پس پرې سارا سهره اوغوړوله او په هوشيار پوزيشن کښې خاموشه اودريده ۔ سلمان هم په هوشيار پوزيشن کښې اودريدو او هغې ته يې فوجی سلوټ اوکړو ۔ دَ سلوټ نه پس هغه هم قبر سره کيناستو او


www.pukhto.net



سارا هم ـ سلمان ژړل او په ژړا ژړا کښې يې وې ، "مورې ما خپله وعده پوره کړه ـ زهٔ اوس اورانی هم نه کوم ، جنګ جهګړې هم نه کوم او ... او خپل سبق مې هم پوره کړو "۔ دا خبرې هغهٔ په ژړا ژړا کښې په دردناکه لهجه کولې او دَ اوښکو لړی يې په مخ روانې وی ـ دَ هغه ژړا سره دَ سارا سترګی هم ډکې شوې وې ـ دَ ژړا نه پس هغه يوه لويه دعا اوکړه ، بيا اودريدو او دَ رخصتی يو سلوټ يې ورته اوکړو۔ سارا په خپله لوپټه خپلې اوښکی هم او چې کړې او دَ سلمان هم۔ بيا دواړه په هغه لار روان شو په کومه چې راغلی وو۔ په لار کښې ورله دَ قبر نه يوه جينی راپاڅيده او هغهٔ ته يې اووې "سلمان صيب سلام عليکم "۔ سلمان چې ورته اوکتل نو هغه لبنیٰ وه ـ هغهٔ دَ سلام جواب ورکړو خو چې هغې لاس ورکوو نو هغه ورته اووې " نه ، نه ، لاس مهٔ راؤړه ګوريی لاس به دې پليت شی "۔

لبنیٰ ( مسکی شی ) بدل اخلې ؟

سلمان :۔ نه ، بدل ولې اخلم ـ دا حقيقت دی (مسکې شی ) ...ښه دلته څهٔ کوی ؟

لبنیٰ :۔ دا خو زمونږ کلې دې سلمان صيب ـ

سلمان :۔ نه ، زما مطلب دې چې هديره کښې څهٔ کوی ؟ ...اوه سوری . دا قبر نوی دې ...دا دَ چا دې ؟

لبنیٰ :۔ دا زما دَ نيکهٔ عالمګيربابا ...(دی سره دَ هغې سترګې دَ اوښکو نه ډکې شی )

سلمان :۔ اوه سوری ...کله مړ شوې دې ؟

لبنیٰ :۔ نن یې دریمه ورځ ده ۔

سلمان قبر ته اودریږی او دَ هغهٔ په حق کښې لویه دعا کوی ۔ بیا لبنیٰ ته وائی "لبنیٰ زهٔ او سارا په دې افسوس کښې ستا ډیړې سره ملاویدل غواړو ۔ که تاسو مونږ سره ځی نو مونږ سره ګاډی شته"۔

دې سره هغوی دواړه هغوی سره روان شی ۔ لبنیٰ سارا ته په حیرانتیا ګوری او وائی " سلمان ، دا جینۍ څوک ده " ؟

سلمان (مسکې شی) دا زما ګرل فرینډ ده ۔

لبنیٰ :۔ دا سارا ویکسی ده ...اوه "Strange"لبنیٰ هغه ښکلوی۔ بیا وائی " سلمانه ته به زما نه خفه یې ...سوری سلمان ۔ ما په تا کبر کړې دې "۔

سلمان :۔ نه لبنیٰ ۔ دا دَ قسمت فیصلې دی ۔ ماتاته مخکښې ویلې وو چې دا فیصلې په اسمان کښې کیږی ۔ دیکښې انسان بے وسه دې ۔ چې هغوی ګاډی کښې کینی او سلمان ګاډی روان کړی نو په هغه کچه سړک روان شی چرته چې دَ هغوی کور وو۔ هغه سړک پریږدی او ګاډی هغه کوټې له بوځی چرته چې هغه او دَ هغهٔ مور دَ ژوند یوه برخه تیره کړې وه ۔ هغه چې ګاډې اودروی او کوټې ته اوګوری نو په هغې کښې خرهٔ ولاړ وی ۔ سلمان سنجیده شی ، سارا ته ګوری او ورته وائی " سارا دا هغه کوټه ده چې ما او زما مور پکښې دَ ژوند یوه لویه برخه تیره کړې ده "۔ بیا یې سترګې ډکې شی او هغې ته وائی " دا



www.pukhto.net



هغه کوټه ده چې زما مور پکښې زما په مخکښې ساه ورکړې ده "۔

دې سره هغه خپلې اوښکې اوچې کړی او ګاډی سړک ته اوباسی ۔ چې دَ جمالې ببو کور ته اورسی نو دَ هغې تپوس اوکړی خو هغهٔ ته اوویلې شی چې هغه څلور کاله مخکښې مړه شوې ده ۔ دې نه پس چې بیا ګاډې روان کړی او لږ مخکښې لاړ شی نو هلته ګاډی اودروی او لبنیٰ ته وائی " لبنیٰ دا هغه ځاې دې چې دلته یوه وړه بی بی لوټ شوې وه او په چغو چغویې ژړل ...یو لیونی راغلې دَ هغې لوټ شوې مال یې هغې له ورکړو او بیا تر کوره پورې هغې سره په جلب کښې لاړو ...لبنیٰ تا دا تپوس اونکړو چې هغه جینۍ څوک وه او هغه لیونې څوک وو۔

لبنیٰ :۔ سلمانه پلیز ...ولې مِ په لمبو سیزې ؟

په دغه خبرو خبرو هغوی دَ عالمګیرخان حجرې ته اورسیدل ۔ سلمان دَ کور ګیټ سره ګاډې اودروو۔ چې هغوی ترینه کوزې شوې نو سلمان سارا ته اووې " سارا ډیره مه ایساریږه ۔ دوی ته دعا اوکړه او بیا زر راځه "۔

لبنیٰ :۔ دا به مونږ سره شپه کوی او تهٔ چې چرته ځې نو ځه (مسکې شی)

سلمان :۔ نه لبنیٰ پلیز ۔ زمونږ دَ شپې پروګرام په انټرکانټ کښې دې"۔ چې هغوی په کور دننه شی نو سلمان ګاډی هلته پریږدی او دَ حجرې په ګیټ دننه شی ۔ په حجره کښې ډیره ګڼه ګونه وه ۔ دَ کلې

خلقو نه علاوه دَ لرې لرې ځایونو میلمانه دَ عالمګیر خان دَ مرګ په دریمه دعا له راغلي وو۔ چې خلقو هغه په بدله جامه کښې اولیدو نو ټول ببر شو او په هغهٔ یې سترګې ښخې کړې۔ اورنګ زیب خان ، عالم خان ، سجاد خان او دَ هغوی رونړو بال بچ چې دَ هغهٔ وردی، ستړارو او فوجی ټوپۍ ته اوکتل نو ټول ورله راپاڅیدل ، هغهٔ سره یې روغ جوړ اوکړل او دَ عزت ځاې کښې یې کینوو۔ کسب ګرو چې هغه اولیدو نو یو ورله پیالۍ کښې چاې راؤړه او هغهٔ ته یې اونیوه ۔ اورنګ زیب خان چې هغه ته اوکتل نو کسب ګر ته یې اووې " نه نه، دغه پیالۍ مهٔ ورکوه "۔ بیا یې خپل نوسی جنید ته اووې " جنیده بچی ، کور ته ورشه او صیب له بیله چاې تیاره کړه ۔ شابه ورځه "۔ دې سره هغه په منډه کور ته لاړو ۔ ټولو میلمنو او کورښو دَ هغهٔ نه سترګې نه ویستلې ۔ یوه شیبه پس هغه په اوچت اواز اووې " یوه اجتماعی دعا به اوکړو ۔ خداې دې اوبښې او خداې دې ورله اتهه وانړه جنتونه ورکړی ۔ عالمګیر خان زمونږ دَ ټولو مشر وو او ډیر نیک او رحم دل انسان وو۔ دَ دعا نه پس سجاد خان ته وائی " زهٔ خداې شته هدیره کښې خبر شو نو هم دَ هغه ځای نه راروان شوم "۔

سجاد خان (مسکې شی ) خفه نشۍ جی ۔ ما اونه پیژندۍ ( په حجره کښې مکمله خاموشی وه او ټول په دې تجسس کښې وو چې هغه خپله پیژندګلو ځنګه کوی )۔

سلمان (مسکې شی ) خان جی تاسو اونه پیژندم خو ما تاسو ټول په



www.pukhto.net



ړومبی نظر او پیژندۍ ۔ سجاد خان (مسکې شی ) هم دغه خو زهٔ ویم چې پیژندګلو اوشی نو ښه به وی ۔ څو څو ځله مِ لیدلې یې خو دَ خیال نه مِ اوتې یې ۔

سلمان :۔ که پیژندګلومِ درسره اوکړه نو بیا به په خپل سترګی مشی هم پښیمانه شۍ ۔

سجادخان:۔ نه جی نه ، دا تاسو څهٔ وائی ؟ نه جی دا خبره نیشته ۔

سلمان :۔ ښهٔ نو زهٔ سلمان یم ۔

سجادخان:۔ سلمان، تاسو دَ کوم ځاې نه تشریف راؤړې دې۔

سلمان :۔ فی الحال خو زهٔ دَ بل ځاې نه راغلې یم خو دلته ستاسو په مینه کښې ما او زما مور ډیر وخت تیر کړې دې ۔ هغه بیا دلته وفات شوه او عالمګیرخان پرې کفن واچوو۔

اورنګ زیب خان ( خاندی ) یَه هلکه ته سلمان یې او که سلمان لیونی؟

سلمان :۔ خان جی ، یمه سلمان خو تاسو چې راته څهٔ وایۍ ، ماته قبول دی ۔

اورنګ زیب خان (خاندی ) یَه هلکه لیونیه مونږ خو دې تجسس کښې اچولی وو۔ ( په خندا ) ما وې چې خر هغه دې او کته یې بدله ده (دَ حجره خلق خاندی ) "دا دومره موده چرته روک وی .چاوې چی هغه مړ دې "؟

سلمان:۔ نه خان جی لا حاضری ژوندې یم ۔

اورنګ زیب خان غلې غوندی بل نوسی ته وائی " ته ورشه جنید ته

وایـه چای پریږده " دَ اورنګ زیب خان دغه پټه خبره سلمان هم واوریده او نزدې ناست ټولو میلمنو هم ۔ سلمان لیونې په دغه خواؤ شا سیمو کښې هـر چاپېژندو ۔ چې خلقو دَ هغه نوم واوریدو نو ټولو یو بل سره پس پسې او ګنګوسی شروع کړو هغوی به پټ پټ خاندل او هغه ته به یې ګوته نیوه ۔ اورنګ زیب خان سره جخت ناست یو میلمه دَ هغهٔ نه تپوس اوکړو ، " دا زلمې څوک دې چې دا ټول ورپورې خاندی "۔

اورنګ زیب خان ( غلی غوندې ) دا لیونې دی ۔

میلمه :۔ ماته خو لیونې نه ښکاری ، ښه په ادب او سړی توب ناست دی ،ماته خو پکښې هیڅ خرابي نه ښکاری ۔

اورنګ زیب خان ( غلې غوندې ) ته وار اوکړه ، زه ترینه خبرې اوباخم په خپله به درته پته اولګی ۔

اورنګ زیب خان ( په اوچت اواز ) " یه هلکه سلمانه دا وردی دې ډیره خائسته ده ۔ ماله یې نه راکوې ؟

سلمان :۔ نه خان جی ، دا مِ ډیر په ګرانه پیدا کړې ده ۔ داتاله نشم درکولې

اورنګ زیب خان :۔ (خانـدی ) وَه ، لیـونیـه ، کـه پـه دې وردۍ کښې پـولیـس اولیـدې نو د بهوسو څخې به درنه جوړ کړی۔ دا خو دَ جرمن فوجیانو وردی ده ۔

سلمان :۔ خان جی ، ماله هم جرمن سرکار راکړې ده ۔

اورنګ زیب خان ( خانـدی ) هلکه دا ستاړونه درسره ډیر خوند کوی سم لفټین پکښې ښکارې ؟



www.pukhto.net



سـلـمـان :۔ لِفټیـن نـه خان جی لیـفټیـننټ ۔ تاسو به زما نوم شاید دَ جرمنی په مشهور اخبار The national times کښې لیدلی وی۔

اورنګ زیـب خـان ارِخ بـدل کړی او سنجیده شی " تهٔ هغه سلمان خو نه یې چې په کمیشن کښې اوورنالج شوې وو۔

سلمان :۔ بالکل خان جی ۔

اورنګ زیـب خـان :۔ هـغـه خـو دومـره قابل وو چې په دولسم جماعت کښې یې دَ برلن بورډ ټول زوړ ریکارډ مات کړې وو۔

سـلـمـان :۔ جی ، جی ، کیدیشی تاسوزما دَ ګولډ میډل فنکشن له هم راغلی یې ۔

اورنګ زیـب خان :۔ نه ، فنکشن له خو زهٔ نه ووم تلې خو لبنیٰ تلې وه دا ټوله قیصه راته هغې کړې ده ۔

سلمان:۔ هغې بالکل صحی ویلې دی ۔ هم دغسې ده ۔

اورنګ زیـب:۔ دَ هغـه متعلق خو ما یوه خبره بله هم اوریدلې ده چې جنرل ویکسی ورته خپله لور هم ویلی ده ۔

سـلـمـان :۔ تاسو بالکل صحی اوریدلې ده جی ۔ تاسو دَ سارا ویکسی خبره کوئ ؟هغه ماسره راغلې ده او تاسو کره دعاله ورغلې ده ۔

اورنګ زیب خان یو ټوپ اووهی پاڅی او په جذباتی انداز کښې وائی " تهٔ خو زمونږ خپل سړی یې "۔

سلمان :۔ ( غلې غوندی ) دَ کوم طرفه خان جی "۔

اورنګ زیب خان هـغهٔ ته ورترغاړوځی ، ښکلوی یې او په چغه وائی

تۀ څه شوې هلکه ... هغه هلک څۀ شو .. په هلکه چرته لاړې ۔ یې یې ، تاته ویم مړه " ته ورشه هغه جنید پسې "۔

جنید په منډه راغی او وائی " تاسو ماته څۀ ویل غواړې جی "؟

اورنګ زیب خان :۔ وَه بے وقوفه ماتاته دَ صیب دَ پاره چاې ویلې وه۔

جنید :۔ هغه خو ... هغه خو

اورنګ زیب خان :۔ وَه بے وقوفه ، شابه منډه کړه چاې راوړه ۔

سلمان:۔ (جنید ته) جنیده خبره ووره ، دلته راشه ( اورنګ زیب خان ته ) خان جی دې غریب ته ولې غصه کیږې ۔ دۀ پسې خو تا په خپله بل نوسې اولیږو او ورته دې اووې چې چاې پریږده ۔" ستا پته خبره ما هم وورېده او دې ناستو میلمنو هم "۔ په دیکښې دَ سلمان په موبائیل کال راغی هغه موبائیل اوچتوی او وائی " ته ګاډی سره اودریږه زۀ درغلم "۔

اورنګ زیب خان :۔ خفه نشی سلمان صیب ۔ تۀ خو زمونږ خپل سړې یې ۔

سلمان :۔ نه جی ، نه ۔ مونږ ټول دَ یو الله بندیان یو۔ دَ یو الله پیدا یو۔ ښه جی ډیره مهربانی ۔ زۀ به درنه لاړ شم ۔

اورنګ زیب خان :۔ نه جی تلې نشې ، شپه به کوې ، داسې دې چرته پریږدم ؟۔

سلمان :۔ ډیره مهربانی خان جی ۔ تاسو چې ماله کوم عزت راکړو دا به ټول عمر یاد ساتم ۔ (بیا په اوچت اواز وائی ) " زما مشرانو ،



www.pukhto.net



کشرانو ، همځولو ، کوربنو او میلمنو! په دې لږ ساعت زما دَ حیثیت تاسو پوره اندازه واخسته ۔ دا فیصله په تاسو پریږدم چی زۀ لیونې یم او که دا خلق لیونی دی ؟ ... اورنګ زیب خان ! زۀ دَ غم په دې موقع ستاسو په غم کښې شرکت او افسوس له راغلی ووم ۔ دا موقع زمونږ ټولو دَ پاره دَ ژړا وه خو تا زۀ دَ خندا کړم ۔ اورنګ زیب خان! ځوک چې ستا غم له راغی نو هغه په تا خفه کیږی ځکه راغی او ستا غوندې یو باشعوره سړې چې هغۀ پورې خندا اوکړی نو په دې مهذبه خلق هم خفه کیږی او الله پری هم ناراضه کیږی ۔ لاړم درنه ، دې سره هغه په تیزی سره دَ حجرې نه اوځی ۔ هغه پسې اورنګ زیب خان ، سجاد خان ، کرنل عالم او دَ هغوی بال بچ هم اوځی ۔ سلمان په ګاډی کښې کینی ، اورنګ زیب خان ، سجاد خان او کرنل عالم خان هغۀ ته دَ پاتیکیدو منتونه کوی خو هغه نه منی ۔ بیا هغوی سارا ویکسی سره علیک سلیک کوی او هغې ته دَ پاتیکیدو ستونه کوی ۔ هغه ورتــه وائی ۔ I am in the disposal of sulman . sulman are you agree to stay.

سلمان (سنجیده وی) . come on sara, we are getting late . I have much work to do.

دے سره سارا مسکی شی او هغه سره ګاډی کښې کینی ۔ اورنګ زیب خان هغې پسې ډیر په ادب کړکی بنده وی ۔ چی هغه په ګاډی کښې کینی نو هغوی ټول ورته دَ سلام دَ پاره لاسونه اوچت کړی خو

سلمان هډو څۀ جواب ورنکړی او په یو شغ دَ هغه ځاې نه اوځی۔ چې دَ شاملات زمکې ته اورسی او پریکړی شوې اونی ته اوګوری نو ډیره شیبه ورته ولاړ وی ۔ هغه لا هغسې په زمکه پرته وه ۔ سلمان اونې ته کتل او سارا سلمان ته ۔ بیا یې سارا ته اووې " سارا د دې اونې یو تصویر اوباځه "۔ سارا هم داسې اوکړل ۔ بیا یې ګاډې روان کړو او په لاره یې هغې ته دَ دغه اونی او هغې سره تړلې شوې تولې سرګرمی۔ یې ورته یوه په یوه اووې ۔ چې دَ سراج بانډې دَ سړک نه ووختل او څۀ توته مخکښی لاړو نو یو بابا په سړک روان وو۔ سلمان دَ هغۀ خوا کښې ګاډې اودرو او ورته یې اووې " بابا چرته ځی "۔ هغۀ ورته په چشمو کښې اوکتل او وې وئیل " زۀ خو بچیه انځرکلی ته ځم "۔ سلمان ورته کړکی لرې کړه او ورته یې وی " راخیژه بابا " چی ګاډې دَ جان محمد استاذ کور له اورسیدو نو بابا ورته اووې " بس دلته ګاډی اودروه بچیه " سلمان چې ګاډی اودروو نو هغه ترینه کوز شو او دَ جان محمد استاذ په کور ورننه وتو۔ سلمان او سارا هم دَ ګاډی نه کوزشو۔ سلمان دَ جان محمد استاذ دَ کور ور اوډبوو۔ یوه شیبه پس ترینه هغه بابا بیا را اووتو او هغه ته یې اووی ۔

"بچې چا سره دې کار دې ""؟

سلمان :۔ تاسو سره استاذ جی ۔

بابا:۔ ته څوک یې بچې ما اونه پیژندی ۔

سلمان :۔ استاذ جی ، زۀ ستا ځوی سلمان یم ، سلمان هغه ته ورترغاړه



www.pukhto.net



وتو او ورته یې اووې " سلام ټیچر "

جان محمد :۔ اوه ، سلمان ، زما بچې ، سلمانه ، بچې څنګه یې۔ راځه راځه چې څو کورته ۔دے سره سلمان او سارا هغه سره کورته ورغلل ۔ جان محمد استاذ په کور کښې ښځی ته اووی " دَ شازیی مورې راشه کنه سلمان بچې م راغلې دی "۔

ماه جبینه چی دَ سلمان نوم ووری نو دَ هغه خوا له راځی او هغه ښکلوی ۔ جان محمد استاذ دَ خپلې مینې په وجه دومره جذباتی شوې وو چې یو کټ کښې به یې هغوی کینول نو بیا به یې اووی "نه بچې دغه م نه دې خوښ ته دلته کینه "۔ په دې دې کښې یې په هغوی درې کټونه بدل کړل ۔ چې په دې یې سود اونشو نو بیا یې دَ کوټې نه دوه پالنګونه راویستل ، هغې کښې ورته تولایانې او بالختونه واچول او بیا یې دواړه پاځول په هغې کښې کینول ۔ سارا دَ هغۀ په ژبه نه پو هیده خو دَ هغۀ دَ مینې په جذباتو پو هیده۔ هغې خوله په پړونی کښې پټه کړې وه او ځان سره موسیده ۔ چې دَ جان محمد استاذ تسلی اوشوه نو بیا هغوی سره کیناستو او خبرې یې شروع کړل ۔په خبرو خبرو کښې ترینه سلمان تپوس اوکړو " استاذجی تاسو جوړ ریټائرډ شوی یې "۔

جان محمد :۔ هاؤ سلمانه بچې ، پنځه ، شپږ کاله اوشو چې اوږې م سپکی شوی دی ۔

سلمان :۔ خور بی بی ، خورجی ، منّهی او بهیّا م اونه لیدو۔

جان محمد استاذ:۔ سلمانه بچې هغوی ټولې وادۀ شوی دی او په خپلو خپلو کورونو کښې دی ۔ وصیف له مې وادۀ کړې دی ۔ دَ وادۀ په دویمه میاشت بیل شو کله یې یوړه سخر کره ډیره شو ۔ اوس هم هغۀ پسې ورغلی ووم ، ډیر منت مې ورته اوکړو چې زما دَ مرګ او ژوند پته نه لګی ، خپل کور ته راځه خو هغه اونه منله ۔ دا حال دې سلمانه بچې ۔ مونږ ښځه او خاوند په ګڼ اولاد کښې یوائې پاتی شو۔

سلمان :۔ وصیف څه کاروبار کوی ۔

جان محمد استاذ :۔ سلمانه بچې ، هغه نیازبین لوې شوې وو۔ سبق یې اونه وې ۔ اوس یو ګاډی والا سره کلینر دې۔

سلمان :۔ اوه ، سوری ۔

جان محمد :۔ څه دغه به کیږی بچې ، دغه زما دَ عمر نول دې ۔ خپل حال وایه ۔ چې تانه څۀ جوړ شو ۔

سلمان :۔ زۀ خو استاذ جی ستاسو په دعا سره په جرمن آرمی کښې لیفټیننټ یم ۔

جان محمد استاذ هغه ښکلوی ۔ وَه دَ نر بچیه شاباش ، شاباش ...

سلمان :۔ دې نه علاوه په دولسم کښې مې ستاسو په دعا دَ برلن بورډ ټول سابقه ریکارډ مات کړو او ګولډ میډل مې واخستو ۔

جان محمد استاذ هغه بیا ښکلوی او وائی " سلمانه بچی ، ما چې تاته اوکتل نو ستا په تندی کښې دَ بهتر مستقبل او قابلیت نښنخې وې ... دا جینی څوک ده بچې "۔



www.pukhto.net



سلمان (مسکې شی ) استاذ جی دا زما چنغله ده دامِ دَ وادۀ نه مخکښې ستاسو سلام له راوستې ده ، جان محمد استاذ دومره خوشحاله شی چې پاځی او دَ هغې په سر لاس اړدی ۔ او هغې ته وائی تۀ ښه یې بچې ؟ خدای دې حیا اوکړه ۔

سلمان (مسکې شی ) " استاذ جی دا په پښتو نه پو هیږی دا جرمنی ده ۔

جان محمد استاذ :۔ ښه ښه بچې ۔

سلمان :۔ دا زمونږ دَ میجر جنرل لور ده ۔

جان محمد :۔ وی ته دَ نر بچیه ، هغه پاځی او یو ځل بیا دَ هغې په سر لاس اړدی ۔ دَ هغوی دغه خبری لا شروع وې چې ماه جبینې چای او حلوا راؤړه او هغوی ته یې په میز کیښوده ۔ چې هغوی چای اوڅکله نو بیا جان محمد استاذ اووې " یه هلکه سلمانه ، ما سره ستا یو امانت دی ... ته اودریږه چې راؤړ م ۔

چی هغه پاڅیدو نو سلمان هم پاڅیدو ، بهر ته اووتو او دَ ګاډی نه هغه تحفې راواخستې ، کومې چې هغۀ دَ جان محمد استاذ او دَ هغۀ دَ بال بچ دَ پاره اخستې وی ۔ جان محمد استاذ دَ کپړی یوه غوټه ځان سره راؤړه ۔ هغه یې پرانسته او څلور فائلونه یې ترینه را اوویستل او هغه ته یې اووی " سلمانه بچې دا ستاامانت دی "

سلمان :۔ دا څۀ دی استاذ جی ؟

جان محمد استاذ:۔ سلمانه بچې ، دا هغه کاغذونه دی چې تا دَ لارو

کوځو نه راغونډ کړی وو او دَ کتاب په ځای به دې دا کتل ـ دا ټول ما ستا دَ کوټې نه راؤړی دی او دَ ژبو په لحاظ ِم ترینه څلور فائلونه جوړ کړی دی ـ دا ځان سره سمبال کړه بچې ، دیکښې ډیر قیمتی مواد دی ـ سلمان مسکی شی او هغه ته وائی " استاذ جی ډیره شکریه "ـ هغه فائلونه لاس کښې اونیسی او هغه ته وائی " استاذ جی مونږ به درنه لاړ شو "ـ

جان محمد :ـ چرته ځی ؟ نشی تلې ـ شپه به کوی " په دیکښې ماه جینه هم راشی او هغه ته وائی "بچی شپه اوکړی "ـ سلمان دَ هغوی شکریه ادا کړی او دَ هغوی نه اجازت اخلی او روانیږی ـ چې روان شی نو جان محمد استاذ ورته وائی " په سلمانه بچې دا غوټه درنه پاتې شوه " سلمان مسکې شو او ورته یې اووی " استاذ جی مائنډ نه کړی دا زما او سارا دَ طرفه ستاسو او ستاسو دَ بال بچ تحفې دی "ـ

دے سره ترینه هغوی په خندا خوشحالی بهر اوځی ـ جان محمد استاذ ورسره بهر اوځی او ماه جینه ورته ورکښې اودریږی ـ چې دَ هغوی ګاډی روان شی نو هغوی هم دَ سلام لاسونه اوچت کړی او دوی هم ـ چې هغوی دَ انځر کلی نه اووتل او پوخ سړک ته ووختل نو دَ نمر سترګه لکه دَ نوک دَ اوری دَ تور غر په سر ښکاریده ـ هغوی لا دغه تماشه کوله چې دَ پاس نه پری ډاکټرسهیل په موټر سائیکل سور راغی سلمان چې هغه اولیدو نو دَ اودریدو اشاره یې ورکړه ، هغه چې موټر سائیکل اودروو نو سلمان هم دَ ګاډی نه کوز شو او دَ


www.pukhto.net



پیژندګلو کولو نه مخکښې ورترغاړه وتو ـ چې خپله پیژندګلو یې ورسره اوکړه نو بیا هغه نه پریښودو او ورته وې چی هغه سره به خامخا کلی ته ځی خو سلمان ترینه دَ سارا په بهانه ځان خلاص کړو ـ دَ هغهٔ په تپوس باندې سلمان هغه ته دَ خپل ژوند سرسری خبرې اوکړی او بیا یې ترینه رخصت واخستو ـ

ماسخوتن تیر وو چې هغوی دَ پیښور انټر کانټ هوټل ته اورسیدل ـ چې ګاډې یې په کارپارک کښې اودرو نو استقبالیې ته ورغلل او دَ کمرې تپوس یې اوکړو ـ دَ استقبالیې بابو هغوی سره یو ملازم اولیږو او کمره یې ورته کهلاؤ کړه ـ هغوی په کمره کښې خپل سامان کیښودو او دَ ډوډی آرډر یې ورکړو ـ چې ډوډی یې اوخوړه ـ نو بیا سارا خپله ډائری کهلاؤ کړه او دَ ننی ورځی ټول واقعات یې پکښې اولیکل ـ بیایې سلمان ته اووې " سلمان مونږ چې دَ لبنیٰ دَ کوره راوتو نو داسې معلومیده چې ستا موډ آف دې ـ ولې څهٔ داسې خبره شوې وه چې هغه تا فیل کړی وی "ـ

سلمان :ـ تهٔ زما په موډ څنګه پو هـ شوې چې آف دې ؟

سارا :ـ سلمان زهٔ ستا ګرل فرینډ یم ـ ما خپل مستقبل او خپل امیدونه تا سره شیر کړی دی ـ زهٔ هر وخت ستاموډ او ستا سترګو ته ګورم ـ زمانه زیات به ستا په احساساتو څوک پو هیږی ؟

سلمان :ـ نه سارا څهٔ داسې خبره نیشته خو البته دا کورنی لوې نظره او متکبره ده ـ

سارا :۔ اوه یس ، یس ۔ دا خبره ما هم فیل کړې ده ۔

سلمان :۔ تا څنګه فیل کړې ده ؟ ولې تاسره دَ هغوی ډیلنګ صحی نه وو۔

سارا :۔ نه ، ماسره دَ هغوی ډیلنګ صحی وو خو دَ لبنیٰ دَ خبرونه ما دا اندازه اولګوله چې دا ښهٔ خلق نه دی ۔

سلمان :۔ زهٔ پو هـ نشوم ۔ څنګه ښهٔ خلق نه دی ؟

سارا:۔ سلمان ، ستا په باره کښې دَ لبنیٰ نظریه ښه نه ده ۔

سلمان :۔ هغې څه وې ؟

سارا:۔ سلمان هغه ستادَ ماضی نه متنفره ده ۔

سلمان:۔ اوه یس ، دا نظریه یواځې دَ هغې نه ده بلکه دَ هغوئ دَ سړو هم ده ۔

سارا :۔ سلمان ، یوه خبره درته اوکړم ...منې ؟

سلمان :۔ سارا ، چې ستا نه منم نو دَ چا به منم ؟

سارا:۔ مائنډ کوې خو به نه ؟

سلمان :۔ نه سارا ، ستا هرې خبرې اوریدو ته زهٔ ذهنی طور تیاریم۔ وایه څه ویل غواړې ؟

سارا:۔ زهٔ دا ویل غواړم چې دا کورنۍ خو تهٔ دَ مخکښې نه پیژنې۔ تهٔ دوی سره دومره تعلقات ولې ساتې ؟

سلمان :۔ زما ورسره صرف دومره تعلقات دی چې زهٔ په دغه کلی کښې پاتی شوې یم ۔ بل دا چې لبنیٰ ماسره په برلن کښې په سکول



www.pukhto.net



او کالج کښې کلاس فیلو پاتې شوې ده ۔ دې نه علاوه څهٔ موده زمونږ Love affairs هم چلیدل خو بیا روستو دغه خبره هغې په خپله ختمه کړه ۔

سارا :۔ دې نه معلومه شوه چې ستا او دَ لبنیٰ ترمینځه Love affairs وو۔

سلمان :۔ هاؤ بالکل وو خو هغه هغی په خپله .....۔

سارا:۔ سلمان ، تازهٔ داسې جینۍ سره ولی ملاؤ کړم چې هغه ستا Be Loved پاتې شوې ده ۔

سلمان :۔ سارا ما خپله ماضی او دَ خپلې ماضۍ یوه واقعه هم تا نه پټه نه ده ساتلی ۔ ماتهٔ په دې وجه هغې سره اولیږلې چې بیا روستو خبرېږې نو مخکښې خبر ښهٔ یې ۔ ماتاته هغه کوټه هم اوښودله کومې کښې مونږ وخت تیر کړې وو، دا دې دَ پاره چې تاته زما ټول پوزیشن کلیر شی او زما او ستا مینځ کښې دَ شک شبې ګنجائش پاتی نشی ۔ دا هر څهٔ ما دې دَ پاره اوکړل چې ما سره دَ وادهٔ نه مخکښې تهٔ ښه مطمئنه شې او دَ واده فیصله دَ زړهٔ نه زیات په سوچ، فکر او د دماغ نه اوکړې ۔

سارا:۔ اوه یس ، تا خپل ښهٔ کوشش اوکړو او زهٔ ستا ډیره مشکوره یم۔ چې تا هر څهٔ کلیر کړل ... سلمانه زه تاسره ایګری یم چې دَ وادهٔ فیصله دَ زړهٔ نه بلکه دَ دماغ نه پکار ده ... هم دغه وجه ده چې ما خپله فیصله بدله کړه ۔

سلمان :۔ څۀ مطلب ؟

سارا:۔ سلمان ، زما مور، پلار غواړی چې زۀ خپل تور مختصر کړم او هلتـه دَ واده دَ پاره زر تر زره لاړه شم خو زۀ دا نه غواړم ۔ زۀ دَ هغوی دَ فیصلې نه انکار کوم ۔ تۀ خفه خو نه یې ؟

سلمان:۔ سارا تۀ په خپله فیصله کښې ازاده یې ۔ تا باندې هیڅ جبر نیشته ۔ که تۀ دَ مور پلار دَ فیصلی نه انکار کوې نو هغه ستا او دَ هغوی ذاتی مسله ده ۔ په دیکښې زۀ مداخلت نشم کولې ۔ بهرحال تۀ زما میلمنه یې ، زما دَ زړۀ ملکه یې ۔ او زما دَ باس لور یې ۔ ستا په عزت او قدر کښې به هیڅ کمی نه راځی ، تاسره زما وعده ده ۔ او دا ډیر ښۀ اوشو چې دَ وادۀ نه مخکښې دې انکار اوکړو ۔

سارا:۔ اوه نو نو ، ما دَ مور پلار دَ فیصلې نه انکار کړې دې ۔

سلمان :۔ خبره یوه ده ، که دَ هغوی دَ فیصلی نه انکار کوې او که زما۔

سارا:۔ اوه نو نو ، تۀ پوهـ نشوې سلمان ، هغوی زما وادۀ هلته کول غواړی ۔

سلمان :۔ او تۀ څۀ غواړې ؟

سارا:۔ زۀ غواړم چې زما نکاح دلته اوشی او دَ وادۀ رسم هلته ۔

سلمان ( یوه لویه ساه واخلی ) اوه مائی ګاډ ، سارا تا خو په ما دَ مرګ چپې تیرې کړی ۔

سارا (مسکی شی )۔ Was it not a good joke?

سلمان :۔ Yes, it was a joke but too serious



www.pukhto.net



خو ستا نکاح دلته نشی کیدی سارا ، هلته به کیږی

سارا (جذباتی شی ) ولې نشی کیدی ؟ هم دلته به کیږی ۔

سلمان :۔ دلته نشی کیدې سارا ، دلته ناممکن ده ۔

سارا:۔ ولې نشی کیدی ، څۀ وجه ده ۔ هم دلته به کیږی ۔ دا زما فیصله ده ۔

سلمان :۔ ته ولې نه پوهیږې ، دلته نشی کیدې پلیز۔

سارا :۔ دلته ولې نشی کیدې سلمان تۀ داس ولې وایې ؟

سلمان :۔ ستا نکاح دلته نشی کیدی سارا ، ستا نکاح به هلته کیږی دا زما فیصله ده ۔

سارا :۔ هلته ، چرته ؟

سلمان :۔ هلته زمونږ کور کښې ۔

سارا ( یوه لویه ساه اخلی ) اوه مائی ګاډ ... بدل دې واخستو (مسکی شی )۔

سلمان (مسکی شی ) زۀ خو خپل بدل چری هم چاته نه پریږدم۔

سارا:۔ سلمان ، تا دا تپوس اونکړو چې خپله اراده دې ولې بدله کړه۔

سلمان(مسکې شی) ښه جناب ولې دې بدله کړه ؟

سارا:۔ دا ځکه چې لبنیٰ ماله چیلنج راکړې وو چې سلمان زما دې او زۀ دَ سلمان یم۔

سلمان :۔ او تا څۀ جواب ورکړې وو؟

سارا:۔ ماورته ویلی وو هغه زما دې او دَ دنیا یو طاقت هم هغه زمانه

نشی اخستې ۔

سلمان :۔ تا ورته داسې ولې وې ، کیدیشی زۀ تاسره دَ وادۀ نه انکار اوکړم ؟

سارا (غصه شی) سلمان ، سلمان ۔ (هغۀ پسی پاسی او هغۀ دَ غوږ نه نیسی ) "بیا به داسې وائی " ؟

سلمان :۔ توبه توبه ، بیا به داسې نه وایم ۔ ماته ستا هره فیصله ، هر وخت او هر ځاې منظوره ده "۔ دې سره سارا دَ هغۀ غوږ پریږدی او دواړه په خندا شی ۔

★★★★★

## شلورمه برخه

سحر چې هغوی دَ انټرکانټ نه اووتل نو دَ پیښور ښار چکر له لاړل او شروع یې دَ جناح پارک نه اوکړه چې هغې کښې یې ځاې په ځاې فوټو ګرافی اوکړی نو دَ قلعه بالاحصار دَ کتودَ پاره هغوی بهر استقبالیی ته ورغلل خو دَ استقبالیی ګارډ هغوی ته دَ دننه تلو اجازت ورنکړو ۔ چې اونشوه نو بیا سلمان ورته خپل فوجی کارډ اوښودلو او سارا ورته دَ جنرل ویکسی کارډ اوښودلو ۔ ګارډ چی دَ هغوی کارډونه اوکتل نو په فون یې په قلعه کښې دننه صوبه دار میجر سره خبره اوکړه او هغه خپل C.O صیب ته دغه پیغام وړاندې کړو ۔ لږه شیبه پس دَ C.O صیب دَ دفتر نه یو (رنرراغی ) دَ هغوی کارډونه یې ځان سره واخستل او C.O صیب له یې یوړل ۔ دَ هغۀ دَ





رسیدو سره دَ استقبالیې ګارډ ته فون اوشو چی " دغه کسان راپریږده ۔ سلمان خپل ګاډې په کار پارک کښې اودرو او بیا دواړه پیاده روان شو۔ چې دننه ورغلل او کوارټر ګارډ ته ورنزدې شو نو دَ صوبه دار میجر صیب په نګرانۍ کښې هغوی ته یوه زبردسته سلامی ورکړې شوه۔ سلمان دَ هغوی سلامی واخسته او دَ صوبه دار میجر صیب شکریه یې ادا کړه ۔ دې سره C.O صیب هم دَ خپل دفتر نه رااووتو ، هغوی سره یې روغ جوړ هم اوکړل او کارډونه یې هم ورته واپس کړل ۔ بیا ورسره C.O صیب او صوبه دار میجر صیب په خپله اوګرځیدل او دَ قلعے ګوټ ګوټ یې ورته اوښودلو ۔ دی سره سره ورته هغۀ د دې قلعه زوړ تاریخ اووې ۔ سارا ځاې په ځاې فوټو ګرافی اوکړه ۔ چې دَ هغوی چکر ختم شو نو بیا C.O صیب خپل دفتر ته بوتلل او په یخ، ګرم یې دَ هغوی تواضع اوکړه ۔ په خبرو خبرو کښې هغوی دومره خواږۀ شو چې بیا هغه نه پریښودل او ډوډۍ ته یې ایسارول غوښتل خو چې هغۀ ورته دَ سارا دَ شاپنګ په باره کښې خبره اوکړه نو بیا هغه خپل سرکاری ګاډې راؤغوښتو ، ډرائیور له یې هدایات ورکړل او دوه ګارډز یې ورسره اولیږل او هغوی یې په خندا خندا رخصت کړل هغوی دَ خیبر بازار نه شروع اوکړه ، قیصه خوانی ، کوچی بازار او شاهین مارکیټ کښې یې ځاې په ځای شاپنګ کوو او ګارډز ته به یې حواله کوو۔ دَ شاهین مارکیټ نه بیا مینه بازار ته لاړل ۔ هغوی چې شاپنګ اوکړو او دوکاندار له یې پیسې ورکولې نو دغه وخت کښې



www.pukhto.net

يې لبنئ اوليده چې يوه كسب ګره ورسره او دَ كاسميټك دوكان ته ولاړه وه ـ لبنئ چې هغوى اوليدل نو دَ هغوى خوا له په مسكا مسكا راغله ـ هغوى سره يې روغ جوړ اوكړل ـ دَ عليك سليك نه پس سلمان يې دَ لاس نه اونيوو او دَ چاې ، شربت ست يې ورته اوكړو ـ سلمان لاس له ځنډ وركړو ، سارا يې دَ لاس نه اونيوه او ورته يې اووې ، "Come on my love " هغه اندرشهر كښې سارا دَ پاره جيولرى اخستل غوښتل ـ په تلو تلو كښې لبنئ سلمان ته اووې "سلمان صيب ، تانه مِ ډيره ګيله كيږى ، ګوره داسى مه كوه پليز "ـ هغه دَ هغې دَ خواست هډو څۀ پروا اونكړه او دواړه لاس تر لاسه روان شو ـ دَ هغوى نه مخكښې روستو مسلح ګارډز وو او دَ ټولو خلقو سترګې په هغوى لګيدلې وى ـ چې هغوى دَ چوک يادګار نه اووتل او اندرشهر ته ورتلل نو لبنئ او دَ هغې ملګرې هم ورپسې غلې غلې روان وو ـ چې هغوى يو دوكان ته ورننوتل نو هغوى دَ اندازې اخستو دَ پاره مخامخ بل دوكان ته ورننوتل ـ سلمان سارا دَ پاره جيولرى ښو خوله او هغې فوټو ګرافى كوله چې هغه دَ فوټو ګرافۍ نه اوزګاره شوه نو سلمان ورته هغه سيټونه اوښودل كوم چې هغه خوښ كړى وو ـ هغې دَ هغۀ په سيټونو كښې يو سيټ خوښ كړو او هغه ته يې اووى ، دا سيټ زما خوښ دې خو دا راته قيمتى ښكارى "ـ
سلمان مسكې شو او هغې ته يې اووې " دا سيټ كه هرڅومره قيمتى وى خو د دې قيمت ستا يوه مسكا ته هم نه رسى "ـ سارا



www.pukhto.net



مسكې شوه او هغۀ ته يې اووى ، " تينک يو " ـ چې هغوى خپله سودا اوكړه او دَ دوكان نه بهر وتل نو لبنئ هم دَ مخامخ دوكان نه راكوزه شوه ـ هغه مسكې شوه او سارا ته يې اووې " سارا ستا جيولرى زۀ كتى شم "ـ هغې هډو دَ هغې دَ جواب انتظار اونكړو ، دَ هغې دَ لاس نه يې ډبلې واخستو او چې كهلاؤ يې كړو نو په وازه خوله يې اووې ، " واؤ ، دومره ښكلى ، خائسته او دلكش "ـ بيا يې سارا ته اووې " سارا زما دَ لارې نه لرې شه پليز "ـ سارا دَ هغې دَ لاس نه ډبلې واخستو ګارډ له يې وركړو او سلمان ته يې اووې " Come on my love " هغې سلمان دَ لاس نه اونيوو او چوک يادګار ته واپس روان شو ـ چې هغوى ګاډى كښې كيناستل نو هغوى هم ورپسې وو ـ لبنئ هغوى ته څۀ ويل غوښتل ـ خو ګاډى روان شو او دَ هغې دَ خولې خبره په خوله او دَ زړۀ خبره په زړه پاتې شوه ـ چې لږه شيبه تيريده نو هغوى دَ بالاحصار كار پارک ته رسيدلى وو ـ ګارډز دَ هغوى سامان دَ خپل ګاډى نه كوز كړو او دَ هغۀ په موټر كښې يې كيښودو ـ چې سلمان او سارا په ګاډى كښې كيناستل او روانيدل نو ګارډز ورله دَ رخصتۍ سلامى وركړه ـ

هغوى په خوشحالۍ خوشحالۍ دَ ښار نه اووتل ـ كله چې دَ هغوى ګاډې په موټروې اوختو نو سارا دَ اطمينان يوه لويه ساه واخسته ـ هغه ډيره خوشحاله وه دَ هغې په مخ خوشحالۍ او مُسكا ګډا كوله او هغې په موټر ګډا كوله ـ څو څو ځله ورته سلمان دَ

وارننګ په طور اوکتل خو دَ هغې په سپينه کښې کمی نه راتلو بلکه دَ هغه په کتو به مسکئ شوه او دَ هغۀ دَ قصده به يې سپينه نور هم زيات کړو ـ چې اونشوه نو سلمان هغه خپلی مخې ته پرېښوده او دَ هغې په کيمره يې فوټو ګرافی شروع کړه ـ په لاره هغوی دَ ريفرشمنټ او سيل دَ پاره څو څو ځله دمې اوکړی او چې زړونه به يې ښه مطمئن شو نو بيا به روان شو ـ سلمان په دې دومره موده کښې هغه چرې هم داسې خوشحاله نه وه ليدلې ـ دَ هغې په مخ ، سترګو ، زلفو او شونډو دَ خائست سپرلو اداګانې کولې او هرې ادا کښې هغه مقناطيسی کشش ووچی سلمان ترينه سترګی نيشوې ويستلې ـ دې کشش هغه ځان ته دومره راخکو چې دَ قربت ټولې فاصلې ختمې شوې ـ يوه موقع داسې راغله چې دَ هغې دَ شونډو ښکلولو دَ پاره دَ هغه خوله خود بخود ورنزدې شوه ـ چې هغه پرې پوهـ شوه نو هغه روستو شوه ، مسکئ شوه او هغه ته يې په مسکا اووې ـ No,no, not know but after nikah. ـ دَ هغې په انکار سلمان خفه شو او دَ فرنټ سيټ نه روستو سيټ ته ووختو ـ هغه مسکئ شوه او ورته يې اووې ـ ولی خفه شوی ؟ "Come on sulman" سلمان هغې له هيڅ جواب ورنکړو او بوټ سوټ ناست وو ـ هغې ورته بيا په مسکا اووی ـ

"Sulman, I am your property but after Nikah" سلمان زۀ ستا يم خو پليز ، سلمان ته ولې نه پو هيږی پليز ، پليز "Don,t mind it



www.pukhto.net



"چی په منت اونشوه نو هغې ګاډې يو خوا ته اودروو، دَ ګاډی نه کوزه شوه ، هغۀ سره په روستی سيټ کښې کيناسته او ورته يې اووی ، سلمان ، پليز سلمان ـ

Are you o.k. Don't mind it please. come on sulman.

I love you sulman, but try to understand.

سلمان پړسيدلی ناست وو او دَ خولی نه يې چوڼ نه وتو ـ چې اونشوه نو هغه په چغو چغو په ژړا شوه ـ هغې ډير شيبه ژړل نو دَ هغې په ژړا دَ هغۀ هډو پروا نه وه ـ چې اونشوه نو هغه دَ ګاډی نه کوزه شوه، خپل پړونې يې دَ ځان نه تاؤ کړو او دَ بس په انتظار کښې دَ سړک په غاړه اودريده ـ سلمان هغې پسې ورغی او ورته يې اووی . Com on sara.

سارا ( په غصه ) No and never ـ

سلمان :ـ سوری سارا ، دې سره هغۀ ، هغه دَ لاس نه نيسی او ځان سره يې په ژړا ژړا روانه وی ـ سلمان هغه په سيټ کينوی ، په مسکا ورته ګوری او وائی ، "Are you o.k" دَ هغې دَ سترګو نه اوښکې بهيږی او سلګئ وهی ـ سلمان يو ځل بيا هغې ته په مسکا ګوری او دَ هغې دَ خوشحالولو کوشش کوی ـ خو هغه ځان په پړونی کښې انغاړی او دَ هغۀ دَ مُسکا هډو څه پروا اونکړی ـ سلمان وائی " سارا ته په دومره پوټې خبره خفه شوی . پليز خفګان خو ماله پکار وو چی ..." ,Oh my God, I feel giddy " هغه نه ګاډې بے قابو شی ـ سارا وارخطا شی

او هغۀ ته په یره وائی " ستهاپ سلمان ، ستهاپ " سلمان ګاډی اودروی او خپل سر په دواړه لاسه نیسی ـ سارا په یره یره دَ هغۀ نه تپوس کوی " ولې سلمان ، څۀ دربانډی اوشو؟ "ـ

سلمان :ـ سارا ګاډی ته کینه ـ په ما سترګی تورې شوې او سر رابانډی ګرځی ـ

سارا :ـ o.k ، زما سیټ له راشه ، سلمان دَ هغې په سیټ کینی او سارا ډرائیونګ ته کینی ـ سلمان ډېره واچوله او سترګی یې پټې کړې ـ سارا په مزه مزه ګاډې روان کړو ـ هغه ګاډی هم چلوی او هغه ته هم ګوری ـ هغه اویریږی او په زړۀ کښې وائی " شاید دا دَ هغه صدمې رد عمل دې چی هغه ته دَ هغې دَ انکار په وجه رسیدلې ده "ـ سلمان ډېر وخت په سیټ باندې خاموشه پروت وی ـ یوه شیبه پس هغه ګاډی اودروی او هغۀ له ورځی ، هغه په ټشو پیپر باندی دَ هغۀ خوله او سترګې صفا کوی او بیا روغوندې دَ هغۀ شونډی ښکلوی ـ دی سره سلمان سترګی اوغړوی او هغې ته ګوری ـ سارا مسکۍ شی او هغه ته وائی " سلمان ، څنګه یې " ؟

سلمان :ـ اوۀ یس زۀ بالکل ښه یم سارا ډونټ وری "ـ

سارا :ـ تینک ګاډ ، دې سره هغه مسکۍ شی او یو ځل بیا هغه ښکلوی ـ

سلمان :ـاوه نو نو ـ تا داسې ولې اوکړل ـ سارا خپل سیټ له ورځی او ګاډی روانوی ـ

سلمان :ـ سارا تا ډېر زیاتی اوکړو ـ تا داسې ولې اوکړل ـ

سارا :ـ ډېرمِ ښه اوکړل ـ ولې ته څه ویلې شې ؟

سلمان :ـ زۀ به تا چرې هم معاف نه کړم ـ زۀ به تانه خپل بدل خامخا اخلم ـ



www.pukhto.net



سارا :ـ چی وخت راشی بیا به ګورو ـ

سلمان :ـ په خپله خو دومره کنجوسه یې چی .... "

سارا :ـ ستا خبره ټیک ده ـ زۀ په داسی معامله کښې واقعی کنجوسه یم ( خاندی )

سلمان :ـ خانده ، خانده ـ دا بدل به درنه اخلم ـ

سارا :ـ په سر سترګو خو چی وخت راشی (خاندی)

سلمان :ـ تۀ یوه سنګ دله جینی یې ، تا زۀ څومره خفه کړم ـ

سارا:ـ تۀ یو ظالم هلک یې ، تا زۀ څومره اوژړولم ( مسکۍ شی) سلمان:ـ تۀ زما په ژړا خفه وې که خوشحاله ـ

سلمان :ـ خوشحاله ـ

سارا :ـ ولې ؟

سلمان :ـ ما غوښتل چې تا دَ ژړا په روپ کښې اووینم ـماله دا جوک (Joke) ډېره مزه راکوی اوتۀ چې دَ ګاډی نه کوزه شوې اودَ سړک په غاړه اودریدې نو تا واقعی بس کښې تلل غوښتل ـ

سارا (خاندی ) ـ نه چری هم نه ، دا خو مِ ته خفه کولې ـ ماته پته وه چې تۀ زمانه بغیر نشې تلې ـ

سلمان :ـ اوه ، دا خبره ده ـ

سارا :ـ سلمانۀ چې رشتیا خبره درته اوکړم نو زۀ تانه ډېره خوشحاله یم ـ

سلمان :ـ خیر خدایه خیر ... زما نه په څۀ خوشحاله یې ـ

سارا:ـ تا چې په بازار کښې لبنیٰ له لفټ ورنکړو نو زۀ ډېره خوشحاله شوم ـ

سلمان :ـ نه سارا نه ، چرې هم نه ـ زما او دَ هغې تعلقات ختم شوی دی ـ

Pukhto.Net

او دا تعلقات هغې په خپله ختم کړی دی ۔ هغې ما باندې کبر کړې دې ۔ او دا دَ هغه کبر نتیجه ده چې هغه لا تر اوسه پریشانه ګرځی او ماله خدای دَ هغې نه ښکلی راکړه ، اګر چې کنجوسه ده (مسکې شی )

سارا :۔ سلمانه ، دَ نکاح نه به مخکښې زما نه به دا ګیله نه کړې (خاندی)

سلمان :۔ خانده ، اوس خانده خو بیا به ژاړې ، که دا سرې شونډې مې اونه زبیښلې نو زۀ به سلمان نه یم ۔

سارا :۔ په هلکه ، که جنګ ته دې زړۀ کیږی نو هغه بیله خبره ده خو مادرته مخکښې ویلی دی چې وخت راشی نو بیا به ګورو۔

سلمان ( غلې غوندې ) هغه وخت به کله راځی خدایه ۔

سارا :۔ څۀ دی اوویې ؟

سلمان :۔ هیڅ نه ، هیڅ نه ۔

سارا :۔ سلمانه ، یوه خبره درته اوکړم ؟ ...څه یره نه کوم ۔

سلمان :۔ دا څۀ دَ ماشومانو غوندې په ګېو وېو سر شوې "اوکړم اونه کوم "

سارا :۔ هسی نه چې بیا درنه ځان روک شی ؟

سلمان :۔ چې روک شی نو تۀ به مې رانیسی کنه ۔

سارا:۔ سلمانه ، زۀ دَ خدای ډیره شکر ګزاره یم ځکه چې ما څنګه خاوند غوښتو هغسې یې راکړو ۔ سلمانه ، ستا هر روپ او بهروپ په ما ښه لګی ۔ تۀ یو مینه ناک ، همدرد ، وفادار او قابلِ اعتماد دوست یې

سلمان :۔ او ته یوه پُرکشش حسینه جادوګره یې او ترخه ، خود سره او سرتیزه محبوبه یې او ماته په هر رنګ کښې قبوله یې ۔ دې سره دواړه په خندا شی ۔ سلمان ورته په خندا خندا کښې وائی " سارا ته ګوره ښه چې


www.pukhto.net



کور ته اورسو نو خورجی به درله ژړوم "۔

سارا :۔ نه سلمان نه ، داسې مه کوه ۔

سلمان :۔ نه سارا ، بیا به یې پخلا کوم خو یو ځل به یې ژړوم ۔

سارا:۔ زۀ به هغه دَ مخکښې نه پوهـ کړم چې ته به ورسره داسې کوی۔

سلمان :۔ هغه ستا په ژبه نه پو هیږی او تۀ دَ هغې په ژبه ، ته به هغه څنګه پو هـ کړی ۔

سارا:۔ اوه یس ۔ بهرحال زۀ هغه ژړیدلې لیدل نه غواړم ۔

سلمان :۔ خو زۀ یو ځل دغسی غواړم ۔

په دغه ژړا ، خندا او خبرو اترو کښې هغوی کلی ته اورسیدل ۔ سلمان چې دَ کور مخې ته ګاډې اودروو او هارن یې اووهو او دَ کور ورلړې شو نو ټول هغوی پسې را اووتل ۔ سلمان او سارا کور ته لاړل او صنوبر دَ ګاډی نه سامان راویستو او سیرت او عادل کورته اوړو ۔ چې سلمان او سارا کیناستل نو زرغونې دَ جامو غوټه اوسپړدله او دَ هغې یې جوړې را اوویستلې ۔ هغې او کشوری ابی به یوې یوې جوړې ته کتل او یو بل ته به موسیدې ۔ زرغونه په خندا خندا وائی " سلمانه تاسو خو ځان سره پوره بازار راوړو "۔

سلمان :۔ منې او که نه ، سیل مې پرې سیل اوکړو او سامان پرې تیرې شو۔ خورجی جامې دې خوښې شوې ۔

زرغونه :۔ ډیرې خائسته دی ، او مبارک دې شه ۔

سلمان :۔ ماله ولې او مبارکی راکوی ، هغی له ورکړه چې دَ چادی۔

زرغونه :۔ سلمانه ، دې ډبلو کښې څۀ دی ؟ دا کتې شو۔

سلمان :۔ هاؤ خورجی دا هر څه کتی شی۔ دیکښې څۀ پټ څیز نیشته ۔ زرغونه چې بله غوټه اوسپړی نو دَ هغې نه دَ میک اپ سیټ او دَ کاسټمیټک نور سامان راؤباسی ، هغه سارا ته ښائی ، په خپله ژبه هغې له مبارکی ورکړی خو هغه پرې پوهـ نشی ۔ بیا مسکی۔ شی او په مُسکا مُسکا بله غوټه پرانیزی ۔ هغه هغه چې ډبلې کھلاؤ کړی نو په اوچت اواز وائی " واؤ ، څومره خائسته دی ، هغه دَ ډبلی نه امیل را اوباسی تولو ته یې ښائی او وائی "دیکښی خو به سمه ښاپیری۔ ښکاری "صنوبر چی کالی اووینی نو سلمان ته وائی " سلمان تا جوړ دَ وادۀ تیارې مکمل کړو اومبارک شه "۔

سلمان :۔ خوشحاله اوسی کاکاجی ، دا سارا اخستی دی ، دا به ځان سره اوړی ۔ زرغونه دَ سارا نه لوپټه لرې کړی او امیل ورته په غاړه کښې واچوی تول ورته اوګوری او مسکی شی ۔ بیا دَ بل ډبلی نه دَ سرو بنګړی را اوباسی چې تول ورته اوګوری نو د حیرانتیا او خوشحالی۔ نه یې خولې وازی اوتختی ۔ تول یو بل له مبارکی ورکړی ۔ زرغونه دَ هغې لستونی اوچت کړی او بنګړی ورته واچوی ۔ چی دا اوکړی نو دَ بل ډبلی نه ګتمې را اوباخی او هغه ورته په خوند خوند اچوی ۔ دی نه پس یو سور شال راخلی ، هغه پری واچوی او ورته وایی " سلمانه ، ناوې دې مبارک شه "۔ سلمان ورته وائی " ستا دې کاکاجی مبارک شی "۔ دې سره زرغونه مسکی۔ شی او سترګی خکته کړی ۔ صنوبر او کشوره ابی۔ هم دَ هغۀ په شرارت مسکی شی ۔ بیا ورته زرغونه وائی "سلمانه ، یوه خبره مِ منې " ؟

سلمان :۔ که جائز وی نو ولی نه ۔



www.pukhto.net



زرغونه :۔ جائز ده ۔ ښه جائزه او زمونږ دَ تولو دَ خوشحالی۔ ده ۔

سلمان :۔ ښه وایه په زړۀ دې څۀ دی ؟

زرغونه :۔ سلمانه ، زۀ ویم کنه ، بلکه مونږ تول غواړو چې ستا وادۀ دلته اوشی ۔ ګوره هرڅۀ تیار دی ۔ مونږ تول غواړو چې ستا په واده خپله خوشحالی اوکړو که ما خوشحالول غواړې نو دا خبره مِ اومنه۔

سلمان:۔ نه جی نه ۔ تا زما خبره منلې ده ؟ په خپله خو دې پټ په پټه وادۀ اوکړو او زمانه دې تپوس قدرې هم اونکړو ۔ زما په وادۀ کښې مشری مۀ کوه ۔

زرغونه :۔ رورِ مِ نه یې ؟

سلمان :۔ زماخورجی روکه شوې ده ، تۀ مِ چاچی یې ۔

زرغونه :۔ سلمانه ، تا خو لا وادۀ نه دې کړې او بیا دې سترګې بدلې کړې ؟

سلمان :۔ دا سترګی بدلولی مِ تانه زده کړی دی ۔ زۀ ستا رور ووم، تا زما نه یو خوله تپوس کړې دې ؟ وایه وایه وایه شابه ۔

زرغونه :۔ سلمانه ، زما تانه دَ دومره بے عزتی۔ امید نه وو۔

سلمان :۔ دیکښی ستا دَ بے عزتی۔ څۀ خبره ده ۔ دا خو حقیقت دې ۔ دې که نه دې ۔ وایه وایه وایه ، تا زۀ ژړولې یم او چې ژړولې مِ نه یې نو نه دې پریږدم ۔

زرغونه ( په ډکو سترګو ) تاته زۀ بے اسرې ښکارم ځکه مِ ژړوې ؟

سلمان :۔ بے اسرې ولې یې ۔ یو دې غټ پټ خاوند دی ، درې دې بال بچ دی ۔ بے اسرې خو زۀ یم چې یوه خورجی مِ وه ، هغه هم لاړه چاچې شوه ۔دې سره هغه په غصه پاڅی ، خپلې کمرې ته ځی ۔ جامی بدلې کړی او په

کټ کښې سملی ۔ دَ هغه دَ تلو نه پس هغه په چغو چغو ژاړی ۔ هغې سره خپل بال بچ هم ژاړی ۔ صنوبر هغې له تسلی ورکوی او ورته وائی " توقی درسره کوی ۔ ته په توقو هم نه پوهیږی" چې دَ هغهٔ نه ناپوره شوه نو هغه سلمان پسې کمرې ته ورغی ۔ هغه سره کیناستو او ورته یې اووې " ورشه سلمانه ، هغه خورجی دې پخلا کړه ، هغه هم ژاړی او بال بچ هم ورسره ژاړی ۔ ورشه پاڅه ، مورِ هم خفه ده او سارا هم خفه ده ۔

سلمان (مسکې شی ) تهٔ مخې له مهٔ راځه کاکاجی ۔ ماهم دا غوښتل چې هغه اوژاړی ۔

کشوره ابیۍ هم هغه پسې کمرې ته ورشی او ورته وائی " سلمانه بچې ! داسې هم څوک کوی لکه تا چې اوکړل ۔ دَ مور په ځاې خور دې خفه کړه "۔

سلمان :۔ ولی ما څهٔ کړی دی ؟

کشوره ابیۍ :۔ تا څهٔ کړی دی ؟ تا ورته څهٔ څه اونه وی ۔ هغه خو ستا دَ خور نه خور او دَ مور نه مور ده ۔ هغه ستا په نوم ځان وژنی او تا هغې ته داسې خبرې اوکړی ، سپین سترګیه ۔ ورشه بچې پخلا یې کړه ۔ هغه بال بچ هم ورسره ژاړی "۔ سارا دَ زرغونے دَ پُخلا کولو کوشش کوو او په خپله ژبه کښې یې ورته وې چې هغه درسره توقې کوی خو هغه دَ هغې په ژبه نه پوهیده ۔ چې اونشوه نو هغه یې هلته په ځاې پریښوه او سلمان پسی په غصه راغله " سلمان تا خورجی ولې په ژړا کړه ویری شیم فاریو ،شی اِزی یور سسټر۔

“Go and reconcile her”


www.pukhto.net



سلمان :۔ دا ستا حکم دې که خواست ؟

سارا :۔ چې کوم تاته بهتر ښکاری ، پلیز ۔

سلمان :۔ نه سارا نه ، تاته پته ده چې هغه څه غواړی ؟

سارا :۔ نه ، ماته پته نیشته ۔

سلمان :۔ هغه غواړی چې وادهٔ دلته اوکړه ۔ او یوائې هغه نه دا ټول غواړی ۔ نیا مِ غواړی ، کاکاجی مِ غواړی ، نسرین ، عادل او سیرت غواړی ۔ داسې معلومیږی چې دې ټولو مونږ ته مصلحت کړې دې او ټول یوه خولهٔ شوی دی ۔ دا خبره ده سارا جی "۔

سارا یوه شیبه خاموش وی بیا وائی " سلمان ، ما او تا دا فیصله کړې ده چې وادهٔ خو به مونږ په هر حال کوو، هلته زما مور ، پلار دی او دلته ستا نیا ، ترهٔ ، خورجی او نور رشته دار دی ۔ دوی زمونږ خوشحالی غواړی او مونږ دَ ښځې او خاوند په روپ کښې لیدل غواړی ۔ دا هم بے مناسبه ده چې مونږ دوی دلته خفه پریږدو او خپله خوشحالی هلته یوسو۔ تهٔ خو لږ سوچ اوکړه ، د دوی په زړونو به څهٔ تیریږی ۔ اوس ماته دَ هغه کور نه زیات خوږ دا کور دې۔ دَ دوی دَ خوشحالۍ دَ پاره زهٔ هرې قربانۍ ته تیاره یم۔

سلمان :۔ چې ته تیاره یې نو زهٔ به پکښې څهٔ اوویم ۔ (کشوری ابیۍ او صنوبر ته ) "نیا ، کاکاجی ، سارا وائی چې هغې ته دَ خورجی او ستاسو ټولو فیصله منظوره ده سارا دلته په واده راضی شوه "۔ کشوره ابیۍ چې دَ سلمان خبره ووری نو مسکۍ شی ۔ هغه هم ښکلوی او سارا هم۔ صنوبر هم مسکې شی او سلمان ته په مسکا وائی " یره سلمانه ، ما ستا قابلیت اومنلو "۔

سلمان ( مسکې شی ) هغه څنګه کاکاجی ؟

صنوبر:۔ په یو غشی دې دوه ښکاره اوکړل ۔ تا دَ خپلې خورجی نه بدل اخستل غوښتل ، هغه دې هم اوکړو او په دغه بهانه دی سارا هم وادهٔ ته مجبوره کړه "۔

سلمان :۔ منې که نه کاکاجی ۔

صنوبر :۔ منم ولې نه ، شاباش ، ډیر ښهٔ ۔

سارا (سلمان ته Come on sulman ) راځه خورجی پخلا کړه۔

سلمان تلل غواړی خو ټال مټول کوی ۔ سارا هغه دَ غوږ نه نیسی، زرغونے له یې بوځی ۔ سلمان چې هلته اورسی نو زرغونے ته وائی "چاچی تهٔ رشتیا خفه شوې یې ... تهٔ دې ناوې ته اوګوره کنه، دومره سرتیزه او بے ادبه ده چې خپل خاوند یې تاله غوږ نیولې راوستو"۔

سارا (سلمان ته) سلمان ، توبه اوباسی چې بیا به داسې ګستاخی نه کوې ۔

سلمان :۔ توبه ، توبه (زرغونه چی ورته اوګوری نو په خندا شی ) " خاندې ولې راشه دې نه مِ خلاص کړه "۔ دے سره ټول په خندا شی ۔ زرغونه دَ هغه غوږ دَ سارا دَ ګرفت نه خلاصوی ۔ سلمان په خندا خندا کښې زرغونے ته وائی " منې او که نه څنګه مِ اوژړولې" ؟

زرغونه (په خندا ) "منې او که نه ، څنګه توبې مِ دریاندې اوویستلې"۔

دے سره بیا ټول په خندا شی ۔

★★★★★

## پنځمه برخه

دَ پروګرام مطابق دَ سلمان او سارا دَ نکاح تقریب ډیر ساده وو خو



www.pukhto.net



واړه او زنانه چرته صبریدیشی ۔ هغوی خانک او دیګچې راواخستل او خپلې لوبې او ګداګانی یې شروع کړې ۔ دَ هغوی په وادهٔ ټول دَ یو بل نه زیات خوشحاله وو خو زرغونه دَ ډیرې خوشحالی نه په جامو کښې نه ځائیده۔ په صبا هغه او کشوره ابی ، صنوبر سره بالاکوټ ته لاړل ، هلته نه یې دَ وادهٔ جوړه ، بنارسی ، پیزار او نور نرې سامان راؤړو۔ دَ شپې یې سارا له په خپو ، لاسونو نکریزې پورې کړې او خپل دود ، دستور یې اوکړو ، سحر چې هغه دَ واش روم نه را اووته او خپل سرو لاسونو او خپو ته یې اوکتل نو په خندا شوه او لکه دَ ماشومانو به یې خپل لاس خپی ټولو ته په خندا خندا ښودل۔

نن دَمازیګر دَ نمانځه ، نه پس دَ سلمان او سارا نکاح وه ۔ زرغونه دَ ډیرې خوشحالی نه نه په ځان پوهیده او نه یې خپه په زمکه لګیده۔ په خپله یې هم په ګډا ګډا ځان سترې کړو او کشوره ابی ، نسرین او سیرت یې هم دَ لاده ، باده اوغورځول ۔ سارا په کټ کښې لکه دَ ناوې ناسته وه او دَ هغوی خندا خوشحالی او لوبو اوګډا ته یې کتل او ځان سره موسیده ۔ زرغونے چې دَ هغې مُسکا ته اوکتل نو هغه یې هم پرې ښوه ۔ دَ لاس نه یې اونیوه او میدان ته یې کوزه کړه ۔ هغهٔ د زرغونے دَ خاطره کوزه شوه خو هغه د دې علاقې په ګډا نه پوهیده ۔ زرغونے دَ هغې دواړه لاسونه په خپلو لاسو کښې اونیول او هغې ته یې دَ ګډا چل ښودو ۔ په دغه چل چل کښې دواړه په ګډا شوې ۔ هغوی لا ګډیدې چې دَ بهر نه پرې صنوبر اوسلمان راغلل ۔ هغوی چې هغوی ته اوکتل نو مسکی شو او دواړه کمرې ته لاړل ۔ زرغونه او سارا هم مسکی شوې ، اوشرمیدې او کمرې ته

لاړی ـ چې میدان تش پاتې شو نو سیرت میدان ته توپ کړې او نسرین لا هغسې خانک او دیګچې وهو ـ دوی خپل تړنګ ټکور کوو او صنوبر او سلمان دواړه په کمره کښې ناست وو او څۀ خاص موضوع باندې یې خبری کولې ـ هغوی لا خبرې کولې چې سارا دَ څۀ کار دَ پاره کمرې ته راغله ـ صنوبر چی هغه اولیده نو پاسیده او دَ کمرې نه بهر اووتو خو سلمان لا هغسې ناست وو او په لوې سوچ کښې ډوب وو ـ سارا چې هغه فکر مند اولیدو نو دَ هغۀ خوا له راغله ، مسکې شوه او هغه ته یې اووې ، سلمان ، دَ خوشحالۍ په دې موقع ته خفه غوندی ښکارې ـ ولې ؟

سلمان :ـ سارا زما قسمت داسې دې چی کله دَ خوشحالۍ څۀ موقع راشی نو دَ پاسه پرې څۀ ناګهانی صدمه راشی یا دَ صدمے دَ راتلو اثار ښکاره شی ـ

سارا :ـ ولې څۀ چل دې ؟ زۀ ستا مدد کولې شم ؟

سلمان :ـ سارا ټول چل تا کښې دې خو زۀ نه پوهیږم چې تا څنګه پوهـ کړم ـ

سارا (مسکې شی ) وایه سلمانه ، زما او ستا مینځ کښې هیڅ خبره دَ یو بل نه پټه نه ده خبره کوه پلیز ـ

سلمان :ـ سارا که خبره مِ درته اوکړه نو لوې طوفان به راشی او په سترګه رپ کښې به زمونږ دَ مینې کائنات دړې وړې کړی ، او هر څۀ، هرڅۀ به ختم شی ـ هیڅ به پاتې نشی ...بیا به تۀ هم خفه یې او زۀ هم ، سارا ښه به دا وی چې ....اوه مائی ګاډ ـ

سارا :ـ سلمان ، خبره کوه پلیز ـ زۀ ستا هرې خبرې اوریدو ته تیاره یم ـ



www.pukhto.net



سلمان :ـ سارا که تۀ تیاره یې خو زۀ تیار نه یم ـ کومه صدمه چې زۀ نشم برداشت کولې ، هغه به تۀ څنګه برداشت کړې... ښه به دا وی چې ...چې ...چی دَ نکاح دا تقریب ختم کړو او په چپه خوله ....ـ

سارا:ـ فارګاډ سیک سلمان ، تۀ چې څۀ ویل غواړې نو صفا صفا اوایه زۀ دا سپنس نور نشم برداشت کولې ـ

سلمان :ـ سوری سارا ، ویری سوری ـ زما او ستا په مینه کښې یو داسې خنډ را اووتو چې دَ هغې په لرې کولو نه ستا زور رسی او نه زما ـ سارا ، مائی ډیر سارا ، زما مذهب اسلام دې او ستا مذهب عیسائیت ، (دَ سارا په مخ خړه راشی ، هغه سلمان ته په مړو سترګو ګوری او وائی " سلمان ، ته زما دَ مینې دَ پاره دَ خپل مذهب قربانی نشی ورکولې ؟" ( هغه دَ امید په سترګو هغه ته ګوری )ـ

سلمان :ـ سوری سارا ، داسی نشی کیدې ـ

سارا (په غصه ) Coward ، بُزدل ، دا ستا مینه ده ؟ زما خو په تا ډیر اعتبار وو ـ د دې مطلب دا دې چې دَ مذهب په بنیاد زمونږ مینه ختمه شوه ؟ زمونږ ارمانونه ، خواهشات ، دَ مستقبل خوشحالۍ او رڼا ختمه شوه ـ هر څۀ ختم شو ، سلمان په ډکو سترګو هغې ته ګوری خو هیڅ جواب نه ورکوی ـ دَ هغۀ رنګ لکه دَ کرکمان تک زیړ شوې وی ، او ټول بدن یې لکه دَ زیړی پاڼی دَ مایوسۍ په باد رپیږی ـ په دیکښی صنوبر راځی او یو خوا ته غلې غوندې خفه دلګیر او وار خطا اودریږی ـ هغۀ پسې زرغونه هم راشی او زرغونې پسې کشوره ابۍ ـ سارا لا هغسې په جذباتی انداز لګیا وی او وائی " هر څۀ ختم شو ... ویری سوری فاریو سلمان ... سلمان ته

یو ځل بیا سوچ اوکړه ۔ مونږ دواړو ته پته ده چې مونږ یو بل سره بے کچه مینه کوو۔ مونږ دَ یو بل نه بغیر نیمګړې یو ۔ سلمان مینه قربانی غواړی خو ستا مینه ....سوری "۔

سلمان :۔ سارا زۀ ستا دَ پاره دَ مال وجان قربانی ورکولې شم خو دَ مذهب نه ، سوری Don't mind it ...سارا ، داسې اوګڼه چې مونږ دواړه ښه دوستان یو خو لائف پارټنر نشو جوړیدی ۔

سارا :۔ دا سوچ تا مخکښې ولې نه کوو ؟

سلمان :۔ سوری سارا ، ستا مینې دومره لیونې کړې ووم چې دَ سوچ موقع یې رانکړه ۔سوری سارا ، زۀ ستا دَ مینې مجرم یم۔

سارا :۔ ستا په مینه کښې زۀ ستانه زیاته لیونۍ ووم خو سره د دې لیونتوب هم زۀ پوره هوش وحواس کښې ووم ...(خاموشی) ... سلمان ډیر سلمان ، ماستا دَ مینې دَ پاره ډیر مخکښې هغه دین قبول کړې دې کوم چې ستا دې ( مسکۍ شی )۔

سلمان دَ خوشحالۍ نه یو ټوپ اووهی اودریږی ، جذباتی شی او هغه ښکلول غواړی نو هغه ورته مسکۍ شی او وائی No,no,but after nikah ۔

سلمان په جذباتی انداز وائی " سارا ،مائی ډیر سارا ، آئی لویو سارا، هغه مسکۍ شی او ورته وائی " ماته ستا مینه معلومه شوه ، هسی مورې په توره مه وهه "...سلمان ماپته وه چې ته مسلمان یې۔ ستا دَ حصول دَ پاره ما په خپل زړۀ کښې ډیر مخکښی اسلام قبول کړې دې خو کلمه مِ لانه ده ویلې ۔ زۀ شا ورته ورځم او تاسو ټول بهر اوځۍ او زما انتظار کوئ "۔



www.pukhto.net



سلمان ټولو ته په خوشحالۍ اوکتل ټولو له یې دَ سارا دَ مسلمانیدو مبارکی ورکړه او په خوشحالۍ خوشحالۍ دَ کمرې نه بهر اووتل۔

هغوی بهر په غولی کښې لوې پوړ او غوړه وو ۔ جانمازونه یې پری خوارۀ کړل ،خوارۀ یې ورسره کیښودل او دَ سارا دَ راوتو انتظار یې کوو۔ یوه شیبه پس ورپسې زرغونه کمرې ته ورغله ۔ سارا چې دَ واش روم نه رااووته نو زرغونه ورسره کیناسته ، سر یې ورله ګمنز کړو، خړې سترګې یې ورله په رانجو تورې کړی ، میک اپ یې ورله اوکړو، دَ وادۀ جوړه یې ورته واغوستوله ، کالی یې ورته واچول ، بنارسۍ یې ورته په سر کړه ، دَ لاس نه یې اونیوه او په مزه مزه یې دَ کمرې نه بهر کړه او دَ پوړ خوا له یې راوسته ۔ هغه په پوړ کیناسته او دَ مولا نا صیب دَ راتلو انتظار یې کوو۔ په کور کښې مکمله خاموشی وه داسې معلومیده چې دَ هوا دَ مارغانو نه علاوه نمر اوهوا هم دَ هغې دَ رسم قبولیت اسلام په دې تقریب کښې دَ شرکت لیواله دی ۔ داسې معلومیده لکه چې په دې کور دَ رحمتونو او نور باران وریږی ۔ دَ ټولو زړونه نری شوی او سپک شوی وو۔ دَ روحانیت او تسکین سلسلې شروع وې ۔ دَ نمر زیړو پلوشو په خپلو نازکو نازکو غنچو دَ هغې بدن تبنئوو او هغې کښې یې دَ روحانیت سرایت پیدا کوو۔ په دیکښې صنوبر دَ بهر نه کور ته راغۍ او زرغونے ته یې اووې " مولانا صیب راغلې دې او بهر ولاړ دې "۔

زرغونه :۔ (غلی غوندې ) راځی دی "زنانه پردې ته شوې ، دَ مولانا صیب راتلو سره سلمان هم دَ وادۀ په جوړه کښې راغۍ او سارا سره جخت کیناستو ۔ صنوبر دکمرې نه قرآن شریف راواخستو او دَ سارا مخې ته یې

په ادب کیښودو ـ مولانا صیب یو لوې سورت تلاوت کړو او بیا یې سارا ته اووې " بی بی تهٔ په خپله خوښخه اسلام قبلول غواړې او که په جبر "ـ سلمان چی دَ مولانا دَ الفاظو ترجمه هغې ته اوکړه نو هغې اووې " په خپله خوښخه " بیا ورته مولانا صیب اووې "زهٔ چې څهٔ وایم نو تهٔ هغه وایه "ـ سلمان دَ مولانا صیب په خبره هغه پوهـ کړه ـ مولانا صیب دَ کلمه طیبه نه شروع اوکړه او شپږوانه کلمے یې اووې ـ بیا یې دَ ایمان مجمل او ایمان مفصل ورد اوکړو۔ په اخره کښې یې ورته اووې " دا قرآن شریف چې اسمانی کتاب دې دا زمونږ د دین اسلام مکمل احکام دی ـ دا قبول کړه او ښکل کړه "ـ سارا قرآن شریف اوچت کړو ، هغه یې په بنارسۍ کښې دننه ښکل کړو او خپل مخ او سترګې یې ورپورې اومږلې ـ دې سره مولا صیب مسکې شو او ټولو له یې دَ هغې دَ اسلام دَ قبولیت مبارکی ورکړه۔ دې نه پس دَ هغوی نکاح اوتړلې شوه او مولانا صیب ټولو له مبارکی ورکړه ـ په اخره کښې مولانا صیب دَ هغوی دَ خوشحاله ژوند دَ پاره لویه دعا اوکړه ، دَ میهټائی یوه دانه یې اوخوړه او په خوشحالۍ خوشحالۍ پاڅیدو ـ په تلو تلو کښې صنوبر هغه له دَ میهټائۍ ډبلې ورکړه او هغه په خندا رخصت شو ـ دَ مولانا صیب دَ تلو نه پس ټولې زنانه دَ پړدې نه را اوتې او سارا او سلمان له یې مبارکۍ ورکړې ـ سلمان دَ میهټائی یوه دانه اوچته کړه او په مُسکا مُسکا یې سارا له خوله کښې ورکړه سارا هم دَ میهټائی یوه دانه راواخسته او هغه له یې خوله کښې ورکړه ـ
دې نه پس سلمان زرغونې ته اووې " خورجی دَ مازیګر وخت دی ، ټول په دې پوړ نمونځ اوکړی ، بیا یې سارا ته اووې " سارا ته خورجی ته ګوره دا



www.pukhto.net



چی څنګه نمونځ کوی هغسې ته هم کوه "ـ

★★★★★

## شپږمه برخه

سارا ډیره خوشحاله وه ـ یو خوا هغه دَ جهالت دَ تیرو نه اووته او دَ اسلام په نور منوره شوه ، بل خوا هغې ته دَ خپلو خوبونو شهزاده دَ یو مینه ناک خاوند په شکل کښې ملاؤ شو۔ دې سره سره هغه دَ ټول کور سرداره شوه ـ دَ کشورې ابۍ نه واخله تر سیرت او دَ صنوبر او عادل نه واخله تر سلمان پورې ټول به ورته په یوه خپه ولاړ وو۔ دَ ټولو نه لویه خبره دا ده چې دَ هغې په زړهٔ کښې دَ اسلام نور او سترګو کښې دَ تسکین او اطمینان ځلا راغله ـ دې نه علاوه دَ هغې په مخ کښې دومره خواږه او دومره کشش راغۍ چی چا ترینه سترګی نشوی ویستلې ـ سلمان ټول نمونځ او کلمے په رومن انګلش کښې اولیکلې او هغې له یې ورکړې ـ دې سره سره یې هغه اسلامی کتابونه هم راؤړل چی هغه په انګریزی یا جرمنۍ کښې ترجمه شوی وو۔ دَ وادهٔ نه پس هغوی پوره لس ورځی کلی کښې تیرې کړی۔ په دې دوران کښې هغوی دَ زلزلې دغه متاثره کرښه یو ځل بیا اوکتـه او تر ازاد کشمیره پوری لاړل ـ دَ سارا خواهش باندې یو ځل بیا جهیل سیف الملوک اولولوسرپت ته لاړل او خپله تنده یې یو ځل بیا ماته کړه ـ په اخری ورځ یې دَ خپل کور سره نزدې دَ هغه دوو ګټانو تصویرونه هم اوویستل په کومو کښې چې دَ سلمان مور ګیره شوې وه او تر یو کم څلویښت ورځو پورې پکښې بندی وه ـ سلمان دَ مور دَ واقعی متعلق هغې ته سرسری ذکر اوکړو ـ هغې چې دَ سلمان دَ مور دا قیصه

ووریده نو حیرانه پاتې شوه ځکه چې ډیر موده مخکښې هغې په یوه جرمن مجلـه کښې دا واقعه لوستلې وه خو د دې ستورۍ په حقیقت یې دَ شکوک وشبهات اظهار کړې ووخو اوس یې چې دَ سلمان دَ خولې د هغې متعلق دا خبره ووریده نو دَ دې واقعې په حقیقت یې یقین پیدا شو ۔ سارا دَ هغې متعلق څۀ نکات ځان سره په ډائرۍ کښې لیکل غوښتل خو سلمان په خندا شو او هغې ته یې اووې ، "دَ لیکلو ضرورت نیشته ، تا سره پوره کتاب روان دې "دَ سلمان په کور کښې او دَ کور خلقو سره دَ هغې زړۀ داسې لګیدلې وو چې خپل وطن ته یې تلل نه غوښتل خو یو خوا هغې دَ مور پلار دَ خفګان په وجه خپل تور مختصر کړو ، بل دَ سلمان دَ نوکرۍ په وجه هغه دلته نوره ایساریدی نشوه ۔ چې کله هغوی دَ تلو تیارې شروع کړو نو په ټول کور او دَ کور په خلقو دَ خفګان خپسه کیناسه ۔ هغوی دومره خفه وو چې په ژوندون ترینه مړی جوړ شوې وو۔ چې کله دَ هغوی دَ تلو تیارې مکمل شو او دَ هغوی سامان بند شو نو صنوبر اوچت کړو او ګاډی کښې یې کیښودو ۔ چې کله هغه دَ بهر نه راغی او سلمان ته یې اووې ، " سلمانه دوی نه رخصت واخله ، ګاډې تیار دې " ۔ دې اواز سره په کور دَ غم شړق راپریوتو ۔ هغه ژړا ، انګولا جوړه شوه چې دَ هنګامی شکل یې اختیار کړو ۔ زرغونه دَ سلمان په خپو پریوته او په ژړا ژړا کښې ورته اووې "یه روره ته مه ځه ، منت درته کوم ، زاری درته کوم چې مه ځه "۔ سلمان هغه په دواړه لاسه دَ زمکې نه اوچته کړه ، او ورته یې اووې "ګوره خورجی مونږ څۀ همیشه دَ پاره خو نه ځو ، دا زمونږ کلی دې ، دا زمونږ کور دې ، بیا به راشو او ښه ډیرې ورځې به درسره تیرې کړو ۔ اوس ځکه


www.pukhto.net



ځو چې دَ سارا مور، پلار غواړی چې هلته د دې دَ وادۀ رسم ادا کړی "۔

زرغونه :۔ نه روره ، هغه ته فون اوکړه او ورته اووایه چې دَ واده رسم دلته ادا شو او هغه هلته درتلل نه غواړی ۔

سلمان :۔ ګوره خورجی هلته زما نوکری ده او سارا په کالج کښې داخله اخستی ده ۔

زرغونه :۔ چې ته ځې نو لاړ شه خو ناوې زۀ چرې هم نه پریږدم۔ دا به دلته ماسره وی ته ځه لاړ شه ، ټولو سارا کلکه نیولی وی او هغه تلو ته نه پریږدی ، چې سلمان دَ زرغونې دَ ګرفت نه ازاد شو نو هغه په یو شغ بهر اووتو ، دَ هغۀ دَ بهروتو نه پس صنوبر راغی۔ هغوی یې ټول په کوټه کښې بند کړل او چې سارا یې دَ کوره اوویستله او هغه یې په ګاډی کښې کینوله نو هغوی پسې ورغی۔ او ورې ورته لرې کړو۔ بیا ګاډی له ورغی۔ ۔ چې ګاډې روان شو نو هغوی ټول ورته په ور کښې ولاړ وو او په چغو چغو یې ژړل ۔

★★★

★

Pukhto.Net پښتو